# آدابِ طعام (پښتو)

شَيخِ طَرِيقَت، اَمِيرِ اَهلِسُنَّت، بانيِ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال
**مُحمّد اِلياس عَطّار قادِري رَضَوي**
دامت برکاتهم العالية

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

## د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اِسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندې دُعا اولولئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

**ترجمه:** اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا!

(مستطرف ج 1 ص 40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالبِ غم مدینہ بقیع و مغفرت

١٣ شوال المکرم ١٤٢٨


د رسالې نوم: آدابِ طعام

اول ځل: رمضان المبارک ١٤٣٧ھ، جون 2016ء

تعداد: .........

ناشِر: مکتبةُ المَدينه، عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچې.



مَدَني عرض: بل چا ته د دې کتاب د چاپ کولو اجازت نشته


### کتاب اخستونکې تَوَجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښ وروسته لګيدلې وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.


www.dawateislami.net

# آدابِ طعام

د فَیضانِ سُنَّت جلد اَوَّل دا باب "آدابِ طعام" شیخِ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنَّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت عَلّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمَّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه په اردو ژبه کښ لیکلي دي.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې باب په آسانه پښتو ژبه کښ د وَس مناسب د ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجَمه کښ څه غَلَطي یا کمې، زیاتي اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښ عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

## پیشکش: مَجلِسِ تَراجِم دعوتِ اِسلامي

برائے رابطہ:


عالمی مَدَنی مرکز فیضانِ مدینہ محلّہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# آدابِ طعام

شیطان مو که هر څومره منع کوي خو دا باب پوره اولولئ. شاید چه تاسو ته احساس اوشي چه تر اوسه پورې ما ته "طعام خوړل" نه وو زده!

## کمالي فرښته

زمونږه د خوږ نبي، د مدينې د تاجدار **مُحَمَّدِ** مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "**بیشکه اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ یوه فرښته زما په قبر مقرره کړې ده او هغې ته ئې د ټول مخلوق د آوازونو اوریدو طاقت ورکړې دې، پس د قیامته پورې چه څوك په ما باندې درود شریف لوَلي نو هغه ما ته د هغه او د هغه د پلار نوم وړاندې کوي. وائي، فلاني بن فلاني په تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاك لوستلې دې."

(مجمعُ الزَّوائِد ج ۱۰ ص ۲۵۱ حديث ۱۷۲۹۱)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! دُرُود شریف لوستونکي څومره بختور دې چه د هغه نوم د پلار د نوم سره د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې وړاندې کیږي. دلته دا ټکې هم ډیر زیات اِیمان تازه کوونکې دې چه په قبرِ مُنوَّر باندې مقررې فرښتې ته دومره زیات د اوریدو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

**طاقت** ورکړې شوې دې چه هغه د دُنيا په ګوټ ګوټ کښې په يو وخت کښې دننه دننه د درود شريف لوستونکو لکونو مسلمانانو ډير په قلاره آواز هُم اوري او هغې ته **عِلم غيب** هُم ورکړې شوې دې چه هغه د دُرُود شريف لوستونکو نومونه بلکه د هغوئي د پلارانو نومونه هم پيژني، نو چه د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دربار د خِدمت ګارې فرښتې د **عِلمِ غيب** دا حال دې نو د مدينې د تاجدار، د دواړو جهانو د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اختياراتو او د **عِلمِ غيب** به څومره اوچت شان وي او هغوئي به ولې خپل غُلامان نه پيژني او ولې به د هغوئي فرياد نه اوري او ولې به په اِذن د اللّٰه **تعالٰی** د هغوئي امداد نه کوي!

میں قُرباں اِس ادائے دَستْ گیری پر مِرے آقا
مدد کو آگئے جب بھی پُکارا یارسول اللہ

زه قُربان شم ستاسو د مدد په دې ادا خوږه آقا
مدد مو اوکړو زما چه کله ما ياد کړئ يا رَسُولَ الله

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## طعام خوړل هم عِبادت دې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** طعام د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ډير ښکلې نعمت دې، په دې کښې زمونږ د پاره قِسم قِسم خوندونه هم ايښودې شوي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

دي. د ښو ښو نِيَّتونو سره د شريعت او سُنَّت مطابق حلال طعام خوړل د ثواب كار هُم دي، **مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "طعام خوړل هم د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ عِبادت دي د مُؤمِن د پاره." نور فرمائي، "كوړئ **نِكاح** كول د انبياءِ كِرام عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام سُنَّت دي خو حضرتِ سيِّدُنا **يَحْيٰي** عَلَيْهِ السَّلَام او حضرتِ سَيِّدُنا **عِيسىٰ** رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام نكاح نه وه كړي خو طعام خوړل هغه سُنَّت دي چه د حضرتِ سيِّدُنا **آدم صَفِيُّ الله** عَلَيْهِ السَّلَام نه د حضرتِ سيِّدُنا **مُحَمَّدٌ رَّسُولُ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوري ټولو انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام ضرور خوړلي دي. ځوك چه د لَوَږي هړتال اوكړي او د لَوَږي ځان مړ كړي هغه په حرام مرګ مړ شو. (تفسيرِ نعيمی ج۸ ص۵۱) د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد مبارك دي: "**د خوړولو والا شُكر ګزار داسي دي لكه صبر كوونكي روژه دار.**"

(تِرمِذی شریف ج٤ ص٢١٩ حديث٢٤٩٤)

## د حلالي نوَړئ فضيلت

كه مونږه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سُنّت مطابق طعام خورو نو په دي كښ زمونږ د پاره ډير زيات بَرَكتونه دي. حضرتِ سيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د اِحياءُ الْعُلُوم په دويم جِلد كښ د يو بُزُرګ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ قول نقل كوي: **مسلمان چه كله د**

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

**حلال طعام وړومبئ نوړئ اوخوري نو د هغه تير شوي ګناهونه معاف کړې شي.** او څوك چه د حلالو ګټلو د پاره د رُسوائې مقام ته ځي نو د هغه ګناهونه د وَنو د پاڼړو په شان رژيږي. (اِحیاءُ عُلوم الدِّین، ج۲، ص۱۱٦)

## د طعام خوړلو نِيَّت ښه ګڼل پکار دي

**د طعام خوړلو په وخت کښې لوَړه** سُنّت ده [يعني د طعام خوړلو يو سُنّت دا دي چه بنده اوړي وي] د طعام خوړلو دا نِيَّت اوكړئ چه **د اللّٰه رَبُّ العِزَّت** عَزَّوَجَلَّ **د عِبادت د پاره قُوَّت** [يعني طاقت] **حاصلولو د پاره ئې خورم.** د طعام خوړلو مقصد چه صرف مزه اخستل نه وي. حضرتِ سيِّدُنا اِبراهِيم بِن شَيبان رَحمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "ما د اتياؤ كالو نه يو څيز هم صِرف د نفس د مزې د پاره نه دې خوړلې." (اِحیاءُ الْعُلوم، ج۲، ص٥)

او د كم طعام خوړلو نِيَّت هم اوكړئ نو هله به د عِبادت د پاره د قُوَّت حاصلولو د رِښتياؤ نِيَّت وي ځكه چه په مړه خيټه خوراك كولو سره په عِبادت كښې رُكاوټ راځي! كم خوراك كول د صِحّت د پاره فائِده مند دي او د داسې كس ډاكټر ته ډير كم ضرورت پيښيږي.

## طعام څومره خوړل پكار دي

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ **محبوب** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارَك دې:

اِنسان د خپلې خيټې نه زيات بَد لوښي نه ډكوي، د انسان د پاره يو **څو نوړئ** كافي دي چه هغه د هغه ملا نيغه اوساتي، كه داسې اُو نه كړې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

شي نو دريمه حِصّه دِ د خوراك د پاره، دريمه حِصّه دِ د اوبو د پاره او دريمه حِصّه دِ د ساه د پاره وي." (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج٤ ص٤٨، حديث٣٣٤٩)

## د نِيَّت اَهَمِّيَّت

د بُخاري شريف د ټولو نه اولنې حديثِ پاك دې، اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ يعني د اعمالو دار و مدار په نِيَّتونو دې. (صحيحُ البُخاری ج۱، ص۵، حديث۱) کوم عمل چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره اوکړې شي د هغې ثواب حاصليږي، د رِياکارئ يعني که د ښودَنې د پاره اوکړې شي نو هُم هغه عمل د ګناه باعِث جوړ شي او که هيڅ نِيَّت هم نه وي نو نه به ثواب کيږي او نه ګناه، هله چه هغه عمل پخپله مُباح (يعني جائِز) وي، مَثَلًا چا خه حلال خيز لکه آئِس کريم يا متهائي يا ډوډئ اوخوړه او په هغې کښې ئې هيڅ نِيَّت هم اُو نه کړو نو نه به ثواب کيږي او نه ګناه. البتّه د قيامت په ورځ به ئې حِساب کيږي څنګه چه د سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد دې: حَلَالُهَا حِسَابٌ وَّحَرَامُهَا عَذَابٌ يعني د هغې د حلالو حِساب دې او په حرامو عذاب [دې].

(فردوس بماثور الخطاب ج۵ ص۲۸۳، حديث۸۱۹۲)

## رانجه دِ ولې پورې کړې وو

د رَسُولِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې: بيشکه د قِيامَت په ورځ به د اِنسان نه د هغه د هر هر کار تر دې چه د سترګې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

د رانجو په باره کښې هم تپوس کيږي. (حِلْيَةُ الْاَوْلِياء ج١٠ ص٣١، حديث١٤٤٠٤)

لِهٰذا! خير په دې کښې دې چه په خپل هر هر مُباح کار کښې ښه ښه نِيَّتونه شامِل کړې شي. چنانچه يو بُزُرګ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: زه په هر کار کښې نِيَّت کول خوښووم تر دې چه د خوراك، څښاك، اوده کيدو او بيتُ الخلا ته د داخليدو د پاره هم. (اِحياءُ الْعُلوم، ج٤، ص١٢٦) د نبيانو سردار، خوږ مصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "**د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر [يعني غوره] دې.**" (طبرانى، مُعجَم کَبير ج٦ ص١٨٥ حديث٥٩٤٢)

نِيَّت د زړه اِرادې ته وائي، په ژبه وئيل شرط نه دې، بلکه که په ژبه ئې د نِيَّت الفاظ اووئيل او په زړه کښې ئې نِيَّت نه وو نو نِيَّت اُو نه شو او ثواب به هم نه کيږي. **د طعام درې خلويښت نِيَّتونه** ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کووم په دې کښې چه کوم نِيَّتونه د حال مطابق وي او کيدې شي نو کول پکار دي. دا عرض هم کووم چه دا نِيَّتونه پوره نه دي، د نِيَّتونو عِلم لرونکې د دې په ذريعه په دې کښې نور نِيَّتونه هم شاملولې شي. چه نِيَّتونه څومره زيات وي هغه همره به ثواب هم زيات کيږي.

## د طعام درې خلويښت نِيَّتونه

﴿٢،١﴾ د طعام نه مخکښې او وروستو به اودس کووم (يعني لاسونه او د خُلې مخکښنئ حِصّه او خُله به وينځم) ﴿٣﴾ د طعام خوړلو په ذريعه به

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

د عِبادت ﴿٤﴾ تِلاوت ﴿٥﴾ د مور و پلار د خِدمت ﴿٦﴾ د عِلم حاصلولو ﴿٧﴾ د سُنّتو د تربِيَّت د پاره په مَدَني قافِله کښې د سفر ﴿٨﴾ د نيکئ د دعوت په علاقائي دوره کښې د شِرکت ﴿٩﴾ د آخِرت د کارونو او ﴿١٠﴾ د ضرورت مطابق د کَسبِ حلال د پاره د منډې ترړې د پاره قُوَّت [يعني طاقت] حاصلووم (دا نِيَّتونه به هله فائِده مند وي چه ځان پوره موړ نه کړي ځکه چه د ډېر خوراك کولو سره په عِبادت کښې سستي پيدا کيږي، د ګناهونو طرف ته خيال پيدا کيږي او خيټه ورسره خرابيږي) ﴿١١﴾ په زمکه ﴿١٢﴾ د سُنَّتو د تابعدارئ په نِيَّت په دسترخوان باندې ﴿١٣﴾ (د څادر يا د کُرتې د لمَن په ذريعه به) په پرده کښې پرده کووم او ﴿١٤﴾ د سُنّت مطابِق په ناسته ﴿١٥﴾ د خوراك شروع کولو نه مخکښې به بِسۡمِ اللّٰه او ﴿١٦﴾ نورې دُعاګانې لوَلم ﴿١٧﴾ په درې ګوتو او ﴿١٨﴾ او وړې وړې نوَړئ ﴿١٩﴾ او په خُله کښې به ئې صحيح ميده کووم ﴿٢٠﴾ په هره نوَړئ به يَا وَاجِدُ وايم (يا به د هرې نوَړئ په خيتدو اَلۡحَمۡدُلِلّٰه او د هرې نوَړئ په شروع کښې يَا وَاجِدُ او بِسۡمِ اللّٰه وايم) ﴿٢١﴾ د خوراك څه دانه [د ډوډئ ټُکرې] وغيره که اوغورزيده نو هغه به راپورته کووم او خورم به ئې ﴿٢٢﴾ د ډوډئ هره نوَړئ به د اِنګولې د لوښي د پاسه ماتووم (چه د ډوډئ ذرّې په لوښي کښې پريوځي) ﴿٢٣﴾ هډوکې او ګرمه مَصَالَه وغيره به صحيح خَتَم او صفا کووم

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

[چه د خوراك يوه ذرّه هم ضائع نه شي] ﴿۲٤﴾ ځان به پوره نه مړووم ﴿۲٥﴾ په آخِره كښې به د سُنَّتو د ادا كولو په نِيَّت لوښې څَتَم ﴿۲٦﴾ درې درې ځله به ګوتې څَتَم ﴿۲۷﴾ د خوراك لوښې به وِينځم او څښم به ئې چه د يو غُلام د ازادولو حقدار جوړشم [طريقه: د خوراك په ككړ لوښي كښې لږې غوندې اوبه واچولې شي او د لوښي د ډډو نه په ګوته د خوراك ذرّات را صفا كړې شي او اوڅښلې شي] ﴿۲۸﴾ تر څو چه دسترخوان اوچت نه كړې شي تر هغې به بې ضرورته نه پاڅم (ځكه چه دا هُم سُنّت دي) ﴿۲۹﴾ د طعام نه پس به د اوّل او آخِر دُرُود شريف سره سُنَّت دُعاګانې لوَلم ﴿۳۰﴾ [د غاښونو] خِلال به كووم.

## د يو ځائ طعام خوړلو نور نِيَّتونه

﴿۳۱﴾ كه طعام ته راسره يو دسترخوان ته يو عالِم يا بُزُرګ وغيره موجود وو نو د هغوئې نه مخكښې به خوراك نه شروع كووم ﴿۳۲﴾ د مسلمانانو د نزديكت بَرَكتونه به حاصلووم ﴿۳۳﴾ د هغوئې د زړه د خوشحالولو د پاره به هغوئې ته پوټې، كدُو مبارك او اوبه وغيره وړاندې كووم (د چا په ركيبئ كښې په خپل لاس څه وراچول د ادب خِلاف دي، كيدې شي چه كوم څيز مونږه ور اچوو هغه وخت هغه د هغې خواهِش نه لري) ﴿۳٤﴾ هغوئې ته به د صَدَقې د ثواب ګټلو د پاره مُسكې كيږم ﴿۳٥﴾ چه څوك مُسكې اووِينم نو د هغې سُنّت دُعا به لوَلَم (څوك چه مُسكې اووِينئ نو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

د هغې سُنّت دُعا دا ده: اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ يعني الله عَزَّوَجَلَّ دِ تا هميشه خنديدلې لري. (صحيح البُخاری ج٤، ص٤٠٣، حديث٣٢٩٤) ﴿٣٦﴾ د طعام خوړلو نِيَّتونه او ﴿٣٧﴾ سُنَّتونه به ورته ښَايم ﴿٣٨﴾ كه موقع مې اوموندله نو د طعام د شروعِ كولو او ﴿٣٩﴾ او د طعام نه پس والا دُعاګانې به ورته وايم ﴿٤٠﴾ د حِرص نه به ځان ساتم او د خوراك ښه حِصّه مَثَلًا بوټې وغيره به د نورو د پاره اِيثار كووم [يعني قُربانووم]. (د مدينې د تاجدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دې: څوك چه هُغه خيز چه هغې ته ځپله د هغه حاجت وي، بل ته وركړي، الله عَزَّوَجَلَّ هغه اوبخښي.") (اتحاف السادة المتقين ج٩ ص٧٧٩) ﴿٤١﴾ هغوئې ته به د خِلال ډكې او ﴿٤٢﴾ په درې ګوټو باندې د خوراك د مَشق [يعني طريقه ښودلو] د پاره د ربړ تِيلۍ وراندې كووم ﴿٤٣﴾ كه كيدې شو نو د طعام په هره نوَړۍ به په دې نِيَّت په اوچت آواز يَا وَاجِدُ وايم چه نورو ته هم ور ياد شي.

## د طعام اودس مُحتاجي لرې كوي

د حضرتِ سيِّدُنا عبدُ الله بِن عبّاس رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا نه رِوايت دې چه د دواړو جهانو د سردار، د مدينې د تاجدار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د رَحمت نه ډك فرمان دې: "د طعام نه مخكښې او وروستو اودس كول مُحتاجي لرې كوي او دا د مُرسَلِين (عَلَيْهِمُ السَّلَام) د سُنّتو نه دي.

(اَلْمُعْجَمُ الْاَوسط ج٥ ص٢٣١ حديث٧١٦٦)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

## د طعام اودس په كور كښې خير زياتوي

د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه دا خوښوي چه اللّٰه تَعَالٰی د هغه په كور كښې خير زيات كړي نو چه كله طعام حاضِر كړې شي، اودس دِ اوكړي او چه كله اوچت كړې شي هغه وخت دِ هم اودس اوكړي." (اِبنِ ماجه شريف ج٤ ص٩ حديث٣٢٦٠)

## د طعام د اودس نيكئ

د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنَا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دې چه سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد اوفرمائيلو: "د طعام نه مخكښې اودس كول يوه نيكي او د طعام نه پس [اودس] كول دوه نيكئ دي." (جَامِعِ صغير ص٥٧٤ حديث٩٦٨٢)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د طعام نه مخكښې او وروستو لاس وغيره وِينځلو كښې سستي كول نه دي پكار. قَسَم په خُدائے عَزَّوَجَلَّ! د "يوې نيكئ" اصل حقيقت به د قيامت په ورځ معلوميږي چه كله به د چا سره صرف يوه نيكي كمه وي او هغه به د خپلو عزيزانو نه صرف د يوې نيكئ سوال كوي خو هيڅ څوك به هم وركولو ته تيار نه وي.

فرمَانِ مُصطَفٰیﷺ: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو كالو ګناهونه به مُعاف شي. (كَنزُالعُمّال)

## د شيطان نه حِفاظت

د سركارِ نامدار، د مدينې د تاجدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بَرَكت نه ډك فرمان دې: د طعام نه مخكښې او وروستو اودس كول (يعني لاسونه او خُله وِينځل) په رِزق كښې فراخي راولي او شيطان لرې كوي.

## د بيمارو نه د حِفاظت نُسخې

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! د طعام د اوداسه نه د نمانځه والا اودس مُراد نه دې بلكه په دې كښې دواړه لاسونه د ګيټو [يعني د مړوندونو د جوړه] پورې او د خُلې بَهَرنۍ حِصّه او دننه خُله وِينځل دي. **مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: په تورات شريف كښې دوه ځله د لاسونو او خُلې وِينځلو حُكم وو، د طعام نه مخكښې او د طعام نه پس، خو يهوديانو صرف وروستو وِينځل ليكلي پريښودل او د مخكښې وِينځلو ذِكر ئې وران كړو. د طعام نه مخكښې وروستو د لاس وِينځلو ترغِيب ځكه دې چه عام طور د كار روزګار په وجه لاسونه خِيرن شي، غاښونه خِيرن شي، او په خوراك كولو لاس او خُله غوړ شي لِهٰذا! دواړه ځل دِ صفائي اوكړې شي. د طعام خوړلو نه پس د خُلې وِينځلو والا به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د غاښونو د خطرناك مرض پائِريا (PHYORRHEA) [په دې مرض كښې وريځ خپل ځائ پرېږدي او د غاښونو نه جُدا كيږي، د دې مَرَض] نه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذی)

به **محفوظه** اوسي، په اوداسه کښې د مِسواك عادت لرونکې د غاښونو او د معدې د مَرَضونو نه بچ اوسي. **د طعام خوړلو نه فوراً پس د تشو بَولو** [يعني د مِتيازو] **کولو عادت جوړ کړئ په داسې کولو د پښتوَرګو** [يعني د ګُردو] **او د مثانې د مَرَضونو نه حِفاظت کيږي.ډير مُجَرَّب** (يعني ازمائيلې شوې عمل) **دې.**" (مِراٰۃ شرح مشکوٰۃ ج٦ ص٣٢)

## د ډرائيور عجيبه مرګ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** يقيناً په سُنَّتو باندې عمل کول عظيم کار دې، ځنګه چه په سُنَّتو باندې عمل کولو کښې ثواب دې دغسې د دې دُنياوي فائِدې هُم وي. د طعام نه **مخکښې** دواړه لاسونه د ګِيټو پورې وِينځل سُنَّت دي. د خُلې **مخکښنئ** حِصّه او دننه خُله هم وِينځل پکار دي. ولې چه په لاسونو **مُختلِف** کارونه کيږي او دا د **مُختلِفو** ځيزونو سره لګي رالګي، ځکه ورپورې ځيرې او قِسم قِسم جراثِيم نښلي. د طعام نه **مخکښې** وِينځلو سره د لاسونو صفائي کيږي او د دې سُنَّت په بَرَکت مونږه د ډيرو بيمارو نه هم بچ کيږو. د طعام نه **مخکښې** وِينځلي لاسونه اوچول نه دي پکار ځکه چه د توليه وغيره جراثِيم په لاسونو پورې نښتي شي. وائي چه يو **ټرك ډرائيور** په هوټل کښې طعام اوخوړو او د خوراك نه فوراً پس په ارغښتو ارغښتو مړ شو. نورو ډيرو خلقو هم په هغه هوټل کښې طعام خوړلې وو خو په بل چا هيڅ هم اُو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

نه شو. تحقيقات شروع شو نو چا اووئيل چه د طعام خوړلو نه مخکښ دې ډرائيور د هوټل خوا ته د ټرک ټائرونه چيک کړي وو او بيا ئې د لاسو وِينځلو نه بغير طعام اوخوړلو، چه د ټرک ټائرونه چيک کړې شو نو معلومه شوه چه ټائر چرې په يو زهرژن مار د پاسه ختلې وو او د هغه زهر په ټائر باندې خواره شوي وو او بيا هغه د ډرائيور په لاسو پورې نښتي وو، **د لاسونو نه وِينځلو په وجه د خوراك سره هغه زهر د ډرائيور خيټې ته لاړل او د هغه د سمدستي مرګ سبب جوړ شو.**

اللہ کی رَحمت سے سُنّت میں شَرافت ہے
سرکار کی سنّت میں ہم سب کی حفاظت ہے
د الله رَحمت دې په سنَّت کښ شرافت دې
د حُضور په سُنّت کښ زمونږ د ټولو حِفاظت دې

## په بازار کښ خوراك كول

د **حضرتِ** سيِّدُنا اَبُو اُمامه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه نبی کريم، رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلې دې: ”په بازار کښ خوراك کول بد دي.“ (جَامع صغير ص۱۸٤ حديث۳۰۸۳)

صَدرُ الشَّرِيعه، حضرتِ علّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ”په لاره کښ او په بازار کښ خوراك كول مکروه دي.“ (بهارِ شريعت ج ۳ حصّه ۱٦ ص ۳۷۸)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

## د بازار ډوډۍ

**حضرتِ** سيِّدُنا اِمام بُرهانُ الدِّين زرنوجي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: امامِ جليل **حضرتِ** سيِّدُنا محمّد بِن فَضَل رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د عِلم حاصلولو په دوران كښې كله هم د بازار طعام نه وو خوړلې د هغوئي والِد صاحِب به هره جُمُعه د خپل كلي نه د هغوئي د پاره طعام راوړلو. يو ځل چه كله هغوئي طعام راوړلو او د دوئي په كوټه كښې ئې **د بازار ډوډۍ** پرته اوليدله نو سخت خفه شو او د خپل ځوئ سره ئې د سره خبرې اُونكړې. ځوئ ورته خپل عُذر وړاندې كړو چه محترمه بابا جانه! دا ډوډۍ ما د بازار نه نه ده راوړې، زما ملګرې زما د رضامندئ نه بغير راوړې وه. والِد صاحِب اورېدلو او ورته ئې اووئيل چه كه په تا كښې تقویٰ وه نو ستا دوست به كله هم دا جُرأت نه وو كړې.

(تَعْلِيْمُ الْمُتَعَلِّمِ طَرِيْقُ التَّعَلُّم ص٦٧، بابُ المدينه كراچي)

## بازاري طعام بې بَرَكته وي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده چه زمونږه بُزُرګانِ دِين به د تقویٰ څومره خيال ساتلو او د خپل اولاد څومره زبرست تربِيَّت به ئې كولو چه هغوئي به ئې د هوټل او د بازاري طعام خوړلو نه منع كول. حضرت اِمام زرنوجي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ”كه كيدې شي نو د بې فائِده او بازاري طعام خوړلو نه پرهيز كول پكار دي ځكه چه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

بازاري طعام اِنسان خيانت او ګندګۍ ته نِزدې کوي او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ذِکر نه ئې لرې کوي، د دې وجه دا ده چه د بازار په طعامونو باندې د غريبانو او فقيرانو سترګې هم لګې او چه کله هغوئي د خپلې غريبۍ او تنګدستۍ په وجه دا خوراکونه نه شي اخستې نو د هغوئي زړونه خفه شي او دغسې د هغه طعام نه بَرَکت اوچت شي.“ (ايضاً ص۸۸)

## په هوټل کښې خوراك کول څنګه دي؟

په بازارونو کښې په ريړو وغيره باندې موجودو د قِسماقِسم تړُوشو خوراکونو خوندونو اغستو والا دِ د دې نه د عِبرت درس واخلي. چه په بازار کښې صرف خوراك کول بد دي نو بيا د فِلمي سندرو په آوازونو کښې په هوټلو کښې وخت بې وخته خوراکونه کول، چائے څښل او يخې بوتلې وغيره څښل به څومره د عيب خبره وي! که سندرې نه غږيږي نو هم د هوټلو ماحول اکثر د غفلتونو نه ډك وي، په دې کښې ناسته د شريفانو او باشرع خلقو د شان سره نه ښائي. لِهٰذا که ضرورت وي او څوك ئې واخلي نو هم په څه محفوظه مقام کښې خوړلو کښې خير دې. خو چه څوك مجبوره وي نو هغه معذوره وي [يعني د هغه عُذر وي]. خو که په هوټل کښې د فِلمونو، ډرامو يا سندرو او سازونو سلسله وي نو بيا هلته تلل نه دي پکار ځکه چه قصداً د موسيقۍ اواز اوريدل ګناه ده. چنانچه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، څوک چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او گواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

## د موسيقئ د آواز نه بچ کيدل واجِب دی

**حضرتِ** سيِّدُنا علّامه شامي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: "کډا کول، په چا پورې ټوقې کول، لاسونه ټقول، سِتار، ډول، ډُپړئ [يعني ډُکړئ]، رباب، ټُرړئ، شپيلئ، [وغيره] وهل او ګونګري شنړول مکروهِ تَحرِيمي (يعني حرامو ته نِژدې) دي ځکه چه دا ټولې د کُفارو نښې دي. دغسې د شپيلئ او (د موسيقئ) د نورو سازونو اوريدل هُم حرام دي، که ناڅاپه ئې واوريدل نو معذوره دي او پرې واجِب دي چه د نه اوريدو پوره کوشش اوکړي." (رَدُّالمحتار ج۹ ص ٥٦٦)

## په غوږونو کښې ګوتې اينښودل

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** خوش نصيبه دي هغه مسلمانان څوک چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ کلام، د حُضُورِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نعتونه او د سُنّتو نه ډك بيانونه اوري او که چرې د فِلمي [او يا د غير فِلمي] سندرو او د موسيقئ آواز راشي نو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د يَرې په وجه د هغې د نه اوريدو پوره کوشش کوي او په غوږونو کښې ګوتې کيږدي او د هغه ځائ نه فوراً لرې لاړ شي. چنانچه **حضرتِ** سيِّدُنا نافِع رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه زه په وړوکوالي کښې د **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا سره چرته روان ووم چه په لاره کښې د مِزمار (يعني د باجې) غږيدلو آواز

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

راغې. اِبنِ عُمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا **په خپلو غوږونو کښې ګوتې کېښودې** او د لارې نه بل طرف ته جُدا شو او چه لږې لاړو نو تپوس ئې اوکړو: نافِع! آواز راځي؟ ما ورته عرض اوکړو چه اوس نه راځي. نو بيا ئې د غوږونو نه ګوتې لرې کړې او ارشاد ئې اوفرمائيلو: يو ځل زه د مدينې د سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره چرته روان ووم، حُضُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم دغسې کړي وو څنګه چه ما اوکړل." (اَبُوداؤد ج٤ ص٣٠٧ الحديث٤٩٢٤)

## که د موسيقۍ آواز راځي نو لرې دِ شي

**معلومه** شوه چه څنګه د موسيقۍ آواز راشي نو فوراً په غوږونو کښې ګوتې ايښودل او د هغه ځائ نه لرې کېدل پکار دي ځکه چه که په غوږونو کښې ګوتې خو کېږدي خو هم هلته ولاړ يا ناست وي يا لږ غوندې جُدا شي نو د موسيقۍ د آواز نه نه شي بچ کېدې. که څوک په غوږونو کښې ګوتې کېږدي او که نه خو په هره طريقه باندې د موسيقۍ د آواز نه د بچ کېدلو کوشش کول واجِب دي. آه! آه! آه! نن صبا خو په سيّارو، جهازونو، کورونو، دُکانونو، کوڅو او بازارونو کښې، بلکه چه کوم طرف ته ځې نو د سندرو او سازونو آوازونه راځي او که چرې يو عاشِقِ رسول په غوږونو کښې ګوتې کېږدي نو په هغه پورې خندا ګاني کېږي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

وہ دور آیا کہ دیوانۂ نبی کیلئے
ہر ایک ہاتھ میں پتّھر دکھائی دیتا ہے
هغه وخت راغي چه په عاشقِ رسول پسې
هر يو راغستي دې په لاس کښې کاڼړې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره د تړون په وجه ژوند په داسې عجيبه طريقه بدليږي چه ډير ځله مو د اسلامي ورونړو نه اوريدلي دي چه کاش! مونږ ته ډير مخکښې د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** نصيب شوې وې، د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول د بَرَکتونو نه ډك يو مَدَني سپرلې واورئ، چنانچه

## د "کور درس" د بَرَکت حِکايت

د **آکوله** (مهاراشټر،اَلهِند) يو اسلامي ورور څه داسې بيان اوکړو چه د بد مذهبو سره د تَعلُّقاتو په وجه زمونږه کورنئ د بدعملئ سره سره د بدعقيدګئ طرف ته هم روانه وه، يوه ورځ مونږ د کور ټول کسان د ټي وي په کتلو کښې مشغول وو چه د ووِلّسو کالو زما کشر ورور چه هغه د **دعوتِ اسلامي** د سُنّتو نه ډکه اجتِماع ته تګ را تګ شروع کړې وو، هغه راغي ټي وي ته ئې شا کړه او شا کړې راروان کوټې ته راننوتو او خپل څه څيز ئې د الَمارئ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

نه را واغستو او په هم هغه طريقه بيرته اووتلو، د هغه دا عجيبه کار چه ما اوليدو نو ما ورته په غُصّه کښې په زوره اووئيل چه "ولې، ستا دِماغ خراب شوي دي چه دا د ماشومانو په شان کار دِ اوکړو." هغه هيڅ څه جواب را نکړو او بلې کوټې ته لاړو! زمونږ مور صاحِبې اووئيل چه ده ما ته وئيلي وو چه بيا به کله د تِې وي طرف ته ګورمه هم نه! ما د ډيرې غُصّې نه د هغه کشر ورور سره خبرې اترې کول پريښودل. هغه به د کور ټول کسان را جمع کړل او د **فيضانِ سُنّت** درس به ئې ورته کولو. زه به په درس کښې نه کښيناستم، يوه ورځ ورته زه هسې لږ نزدې کښيناستم چه ګورم دا په درس کښې څه وائي، چه مې واوريدو نو ډير ښه را باندې اولګيدو، ځکه بيا ما هره ورځ په "**کور درس**" کښې شرکت کول شروع کړل، په قلاره قلاره زما د زړه نه زنګ لرې کيدو، تر دې چه د دعوتِ اسلامي په "**هفته واره سُنّتو نه ډکه اجتِماع**" کښې مې شرکت کول شروع کړل. اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ عقل مې ځائ له راغلو، د بدمذهبو د صُحبت نه مې ځان خلاص کړو او ګيره مې پريښوده او د کوم بدعقيده مُولا ګمراه کوونکې کيستې چه ما به په ډير شوق اوريدلې، اوس د هغې په ځائ د مَکْتَبَۃُ الْمَدِیْنَہ نه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

جاري شوي د سُنّتو نه د ډکو بيانونو کيستې اورم. زمونږ د کور په خلورو کوټو کښې تې ويان لګيدلي وو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په خپل مينځ کښې مو مشوره اوکړه او د کور نه مو خلور واړه تې ويان اوويستل.

بُری صحبتوں سے کَنارہ کشی کر اور اچھوں کے پاس آکے پا مَدَنی ماحول
تمہیں لطف آجائیگا زندگی کا قریب آکے دیکھو ذرا مَدَنی ماحول

د شعرونو ترجَمه: اوکړه ډډه له بدو صُحبتونو
راشه د ښو خوا له، ښه دې دا مَدَني ماحول
ته به پوهه شې د ژوند په خوند
راشه او وِينه له نزدې دا مَدَني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اِيمان د حفاظت ذريعه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! په "**کور درس**" کښې د کور د کسانو د اِيمان د حِفاظت او د اعمالو د اِصلاح اسباب موجود دي. هم دغسې د اسلامي ورونړو او د اسلامي خويندو د اخلاقي تربِيَّت د پاره د فِکرِ مدينه په ذريعه هره ورځ د **مَدَني اِنعاماتو** د رِسالې د ډکولو هم ترکيب شته دې. او په دې رِساله کښې د يوولسم مَدَني اِنعام مطابق هر يو ته د **فيضانِ سُنّت** نه د **دوه درسونو** د ورکولو يا اوريدلو ترغيب

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

هم موجود دي. په دې دوه درسونو کښې يو ''**کور درس**'' ضروري دې. ستاسو د ټولو په خِدمت کښې د کور درس جاري کولو **مَدَني عرض** دې.

عمل کا ہو جذبہ عطا یا الٰہی گناہوں سے مجھ کو بچا یا الٰہی
سعادت ملے درسِ فیضانِ سنّت کی روزانہ دو مرتبہ یا الٰہی

**د شعرونو ترجَمه:**

د عمل راکړې جذبه يا اِلٰهي ګناهونو نه بچ کړه ما اِلٰهي
راکړې توفيق د درسِ فيضانِ سُنَّت په ورځ کښې دوه ځله يا اِلٰهي

**اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د قبر رڼرا

**د درس** و بيان د ثواب به څه وائي! حضرتِ علّامه جلالُ الدِّين سُيوطي الشّافعي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په ''شرحُ الصُّدور'' کښې نقل کوي: اللّٰه **تَبَارَكَ وَتَعَالٰی حضرتِ** سيِّدُنا مُوسیٰ کليمُ الله عَلَیْہِ السَّلَام ته وحي اوفرمائيله: ''**د خير** [يعني د نيکۍ] **خبرې پخپله هم زده کړه او نورو ته ئې هم زده کړه، زه به د نيکۍ زده کوونکو او نورو ته د ښودونکو قبرونه روښانه کړم چه هغوئي ته د هيڅ قِسمه يَره نه وي.**'' (حِليةُ الاولياء ج٦ ص ٥ حديث ٧٦٢٢)

## قبرونه به ئې ځليږي

**د دې** رِوايت نه د نيکۍ د خبرې د زده کولو او نورو ته د ښودلو اجر و ثواب معلوم شو، د سُنّتو نه د ډك بيان کوونکو يا د درس ورکوونکو او اوريدونکو خو به مزې شي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغوئي

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

قبرونه به د دننه ځليږي او هغوئي ته به د هيڅ قِسم يَره نه محسوس کيږي. د اِنفِرادي کوشش په ذريعه د نيکئ د دعوت ورکوونکو، په مَدَني قافله کښې د سفر کوونکو او د فِکرِمَدينه په ذريعه د مَدَني اِنعاماتو رساله هره ورځ د ډکولو ترغيب ورکوونکو او د سُنّتو نه ډکه اجتماع کښې د شِرکت دعوت ورکوونکو او د مُبَلِّغِينو د نيکئ د دعوت د اوريدونکو قبرونه به هم اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور په خاطر نُورٌ عَلٰی نُور وي.

قبر میں لہرائیں گے تا حشر چشمے نُور کے
جلوہ فرما ہوگی جب طَلعت رسولُ اللہ کی (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم)

د شعرونو ترجَمه: تر قيامته به په قبر کښې رنړا وي
ښکلې مخ چه د آقا پکښې ښکاره شي

## د کور د کسانو اصلاح ضروري ده

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د خپل ځان او د خپل کور د کسانو اصلاح په مونږه لازمه ده. چنانچه په اته ويشتمه سيپاره کښې د سُوْرَةُ التَّحْرِيم په شپږم آيت کښې اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی اِرشاد فرمائي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِيْكُمْ نَارًا وَّقُوْدُهَا النَّاسُ وَ الْحِجَارَةُ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: اے اِيمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د [هغه] اور نه بچ کړئ چه د هغې خشاك انسانان او کاڼړي دي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د "كور درس" په ذريعه به په دې آيت هم عمل كول آسان شي او په دې حقله په كور كښې د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه نه جاري شوي د سُنّتو نه ډكې رِسالې لوستل او د سُنّتو نه د ډكو بيانونو كيسټې [او وي سي ډيانې] چلوَل هم فائِده مند دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! د سُنّتو نه ډكو رِسالو او كيسټو په ذريعه هم د ډيرو خلقو د اِصلاح واقعات شته دي، چنانچه

## د مَكتَبَةُ المَدِينَه د رِسالې مَدَني سپرلې

د ضلع بهاولپور (پنجاب، پاكستان) د يو اسلامي ورور بيان دې چه زه په اسكول كښې د غلط ماحول په وجه د ليونتوب د حده پورې د فِلمونو شوقي شوې ووم. صِرف د فلمونو كتلو د پاره به نورو ښارونو مَثَلاً لاهور، اوكاړه وغيره تر دې چه كراچئ ته تلم. د فِلمونو د بې حيا منظرونو د سپيره والي په وجه مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د كالجه پورې په بې حيا جينكو پسې وروستو وروستو تلل او هره ورځ كِيره خَرَئيل زما عادت وو. د سپيره والي د پاسه سپيره والې دا چه زما په زړه كښې په تهيټر [يعني استيج ډرامو] كښې او د مرګ په كوهي [هغه موټر سائيكل چه پكښې د تماشې د پاره تاوهي په هغې] كښې د كار كولو شوق پيدا شو. د كوركسان مې ډير خفه وو، يوه ورځ مې والِد صاحِب د دعوتِ اسلامي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

د ذِمّه دارانو سره خبره اوكړه او زه ئې د علاقې د عاشقانِ رسول سره په مَدَني قافله كښې په سفر اوليږلم، په آخِرئ ورځ اميرِ قافله ما ته (د مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه چاپ شوي) رِساله **کالے بچھو** د لوستلو د پاره راكړه ما چه اولوستله نو بدن مې په لړزان شو، سمدستي مې د ګناهونو نه توبه اوكړه او د يو موټي ګيرې پريښودو نِيَّت مې اوكړو، چه بيرته راغلم نو بيا مې د دعوتِ اسلامي په هفته واره د **سُنَّتو نه ډكه اِجتِماع** كښې شِركت اوكړو او د **مَكۡتَبَةُ الۡمَدِيۡنَه** نه جاري شوې د بيان كيسټ "**ڈھل جائے گی یہ جوانی**" مې واخستو او چه كله كور ته راغلم او بيان مې واوريدو نو د زړه دُنيا مې بدله شوه او اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په پابندئ سره مې نمونځونه كول شروع كړل او د دعوتِ اسلامي مَدَني كارونه مې شروع كړل. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! اوس (د دې بيان وركولو په وخت كښې) زه د خپل ښار د **مَدَني قافِلَه ذِمّه دار** په حَيثِيَّت د **دعوتِ اسلامي** مَدَني كارونه كووم.

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په شريكه خوراك كولو كښې بَرَكت دې

**دويم خليفه اميرُ الۡمُؤۡمِنِين حضرتِ** سيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ روايت كوي چه د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بَرَكت نه ډك فرمان

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

دي چه: په شريکه خوراك کوئ بيل بيل خوراك مه کوئ ځکه چه بَرَکت د ډلي سره دي. (اِبنِ ماجه شريف ج٤ ص٢١ حديث ٣٢٨٧)

## د مړيدو نُسخه

**حضرتِ** سيِّدُنا وَحشي بِن حرب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د خپل نيکه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه روايت کوي چه صحابهٔ کِرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم په بارګاهِ رِسالت کښ عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مونږه طعام خو خورو خو **مړيږو** نه؟ د دوارو جهانو سردار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته اوفرمائيل: تاسو به بيَل بيَل خوراك کوئ؟ عرض ئې اوکړو: "آو جي". ورته اوئې فرمائيل: يو ځائ کښينئ او طعام خورئ او **بِسمِ الله** لولئ، ستاسو د پاره به په طعام کښ بَرَکت درکولې شي. (اَبُوداؤد شريف ج٣ ص٤٨٦ حديث ٣٧٦٤)

## په شريکه د خوړلو فضيلت

په **يو** دسترخوان باندې شريك خوراك کولو والؤ ته دِ مبارك شي ځکه چه د **حضرتِ** سيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دي چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ته دا خبره د ټولو نه زياته خوښه ده چه هغه مؤمِن بنده د خپلي ښځې او بچو سره دسترخوان ته ناست په خوراك اووِيني. ځکه چه کله ټول دسترخوان ته جمع شي نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي ته د **رَحمت** په نظر ګوري او د جُدا کيدو نه مخکښ مخکښ هغه ټول اوبخښي. (تَنبِيه الغافِلِين ص٣٤٣)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

## په شريكه طعام خوړلو كښ د معدې عِلاج

د **پِتهالوجی** يو افسر دا خبره معلومه كړې ده چه كله ټول په شريكه خوراك كوي نو د ټولو خوراك كوونكو جراثِيم په خوراك كښ يو ځائ شي او هغه د نورو مَرَضونو جراثِيم وژني او كله كله [د شريك خوراك په وجه] په طعام كښ د **شِفاء** جراثِيم شامِل شي او هغه **د معدې د مَرَضونو** د پاره فائِده مند وي.

## د يو كس خوراك د دوو د پاره كافي دې

**حضرتِ** سيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه ما د نبـی كريم رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه فرمان اوريدلي دې چه: ”د يو طعام د دوو د پاره كافي دې او د دوو طعام د څلورو د پاره او د څلورو طعام اته [كسانو] ته كفايت كوي. (صحيح مُسلِم ص١١٤٠ حديث ٢٠٥٩)

**د خوږ خوږ** مَدَنِي آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دې: د دوو طعام د درې د پاره او د دريو طعام د څلورو د پاره كافي دې.

(بُخارى شريف ج٣ ص٣٤٦ حديث ٥٣٩٢)

## د قَناعت تعلِيم

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الْاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: كه طعام كم وي او خوراك كولو

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

والا زيات نو د دوو کسانو په خوراك دِ درې کسان او د درې کسانو په خوراك دِ څلور کسان ګُزاره کوي اګر چه ماړه به پرې نه شي خو د دومره خوراك کولو سره به نه کمزوري کيږي. او عِبادتونه به هم په ښه شان ادا کولې شي. په دې مبارك فرمان کښې د قَناعت [يعني په لږ خيز صبر] او د نورو د لِحاظ او د سخاوت اعلٰی تعليم ورکړې شوې دې.

(مِرأة جِلد٦ ص١٦)

## خپله تنخوائې کمه کړه

د حُضورِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **خليفه حضرتِ** سَيِّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خِلافت د زمانې واقِعه ده چه يو ځل د **حضرتِ** سَيِّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ بي بي **مُحترمه** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا ته د حلوا خوړلو خواهِش پيدا شو نو صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: "زمونږ سره دومره رقم نشته چه په هغې حلوا واخلو." هغې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا عرض اوکړو چه "زه به د کور د خرچې نه په لږو ورځو کښې لږې لږې پيسې بچت کړم او څه رقم به جمع کړم، په هم هغې به حلوا واخلو." اوئې فرمائيل: هم دغسې اوکړه. نو د هغوئې بي بي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا رقم جمع کول شروع کړل. په يو څو ورځو کښې لږ شان رقم جمع شو. چه کله هغې صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته [د رقم د جمعَ کيدو] خبره د حلوا د راوړلو د پاره اوکړه نو هغوئې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ هغه رقم يوړو او بيرته ئې بَيتُ المَال کښې ورکړو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

او اوئې فرمائيل چه دا زمونږه د خرچې نه زيات دي. د هغې نه پس هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د آئِنده د پاره د بيتُ المَال نه راتلو والا خپلې وَظِيفې [يعني تنخوا] نه هغه همره رقم کم کړو. (الکامِل فی التاریخ، ج۲ ص۲۷۱)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د دې حِکايت په اوريدو باندې صرف د خوشحاليدو او د واه واه د نعرو وهلو په ځائ مونږ ته د تقوىٰ او د قَناعت درس حاصلول پکار دي. خُصُوصاً د اقتدار [يعني بادشاهي، وزيري] لرونکو او حُکومتي افسرانو او د جُماتونو اِمامانو، د دِيني مدرسو اُستاذانو او د مختِلفو اسلامي شُعبو سره تړلو اسلامي ورونړو د پاره په دې حِکايت کښې د قَناعت [يعني په لږ څيز باندې د صبر] او د خود دارئ او د حِرص او طمعې نه د ځان ساتلو او د خپل آخِرت د بهتر کولو د پاره ډير ډير او ډير زيات د عِبرت سامان دې. کاش! چه مونږه صرف د نفس په راپارَوَلو باندې د تنخواه د کمئ او زياتئ (يعني د هغه تنخواه دومره زياته او زما دومره کمه) د خبرو په معاملاتو کښې د اخته کيدو په ځائ په لږه آمَدَنئ باندې قَناعت [يعني صبر] کول اِختيار کړو او د نيکو د زيات والي خواهِش مند جوړ شو. د **سَيِّدُنا صِدِّيقِ اکبر** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د پرهيزګارئ او د دُنياوي دولت نه د بې رغبَتئ [يعني د ډېره کولو] په باره کښې يو بل حِکايت واورئ، چنانچه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

## د وَقْف د څيزونو په باره کښې اِحتياط

**اِمامِ عالي مقام، حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام حسن **مُجتَبٰی** رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: د رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خليفه حضرتِ سيِّدُنا صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خپل وفات په وخت کښې اُمُّ المُؤمِنِين **حضرتِ** سيِّدَتُنَا عائِشه صِدّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا ته اوفرمائيل، اوګوره! دا اُوښه د کومې چه مونږه يې څښو او دا غټه **پياله** چه مونږه پکښې خوراك څښاك کوو او دا **څادر** چه ما اغوستې دې دا ټول د بيتُ المَال نه اغستې شوي دي. مونږ د دې نه د هغه وخته پورې فائِده اغستې شوه تر څو پورې چه ما د مسلمانانو د خِلافت اُمور [يعني کارونه] کول. چه زه کوم وخت وفات شم نو دا ټول سامان **حضرتِ** سيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته ورکړئ. چه کله حضرتِ سيِّدُنا صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ وفات شو نو اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنَا عائِشه صِدّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا د وصِيَّت مطابق دا ټول څيزونه بيرته ورکړل.

حضرتِ سيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ (ته چه دا څيزونه بيرته ور اورسيدل نو اوئې) فرمائيل: اَللّٰه تَعَالٰی دِ په هغوئي رحم اوفرمائي ولې چه هغوئي د ځان نه پس راتلونکي ستړي کړل. (تارِيخُ الخُلَفاء ص٦٠)

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

## د خوراك كوونكي د بخښني يو صُورت

هر يو د شان لائِق كار شروع كولو نه مخكښ بِسۡمِ الله شريف ضرور لوستل پكار دي ځكه چه دا سُنّت دې او د دې ډير بَرَكتونه دي. چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه رِوايت دې چه مَكِّي مَدَني سُلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دې: ”د اِنسان مخې ته طعام كيښودې شي او د [بيرته] اوچتولو نه مخكښ د هغه بخښنه اوكړې شي، د دې طريقه دا ده چه كله [طعام] كيښودې شي نو بِسۡمِ الله دِ اووائي او چه كله اوچتولې كيږي نو اَلۡحَمۡدُ لِله دِ اووائي.“

(الجامعُ الصغير ص ١٢٢ حديث ١٩٧٤)

## په ميز او كُرسۍ باندې طعام خوړل سُنَّت نه دي

په صحيح بُخارى كښې د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه رِوايت دې: نبيءِ آخِرُ الزَّمان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه په خوان (يعني ميز) باندې طعام خوړلې دې او نه ئې په وړو وړو پيالو كښې خوړلې دې او نه د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره نَرۍ نَرۍ دوډۍ [يعني چپاتۍ] پخې كړې شوې دي. د حضرتِ سَيِّدُنا قَتاده رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ نه چه كله تپوس اوكړې شو چه هُغه حَضَراتو به په څه [څيز د پاسه] خوراك كولو؟ اوئې فرمائيل: په دسترخوان باندې. (صحيح الْبُخارى ج٣ ص ٥٣٢ حديث ٥٤١٥)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كَنزُ العُمّال)

## صَدرُ الشَّرِيعه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي

خوړو خوړو اسلامي وروڼړو! په ميز كُرسۍ باندې خوراك كول اګر چه ګناه نه ده خو سُنَّت هم نه دي. **صَدرُ الشَّرِيعه**، حضرت مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د بهارِ شريعت په شپاړسمه حِصّه كښې فرمائي: "خوان د ټيپۍ (يا ميز) غوندې اوچت څيز وي او په هغې باندې مالدارانو خلقو كره طعام ايښودې شي، د دې د پاره چه د خوراك په وخت كښې سر ټيټول نه غواړي، په هغې باندې خوراك كول د مُتَكَبِّرِين [يعني د كبرژنو خلقو] طريقه وه، څنګه چه څيني خلق په ميز باندې خوراك كوي، په وړو وړو پيالو كښې خوراك كول د اُمرا [يعني مالدارانو] طريقه ده، د هغوئي كره **مختلِف** قِسمه خوراكونه په وړو وړو پيالو كښې اچولې شي. (بهارِ شريعت ج۳ حِصّه ۱۶ ص ۳۶۹)

## كوم يو دسترخوان سُنَّت دي؟

**مُفَسّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: "سُنَّت دا دي چه د طعام طرف ته لړ غوندې ټيټ [يعني سر ښكته كړې] كښيني. دسترخوان به د **ټوكي** [يعني كپړې] **يا د څرمني يا د كجورو د پاڼړو** وو. دې درې قِسمه دسترخوانونو باندې حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم طعام خوړلې دې، دسترخوان به هم په زمكه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښ په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښ وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

لاندې خوريدو او بخپله حُضُورِ اقدس صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هم په زمكه باندې تشريف فرما كيدلو.'' (مِراٰة ج٦ ص١٣)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په ميز او كُرسئ طعام خوړل اګر چه ګناه نه ده خو په زمكه په دسترخوان باندې خوړل سُنّت دي، او په سُنّت كښ عَظَمت [يعني عِزَّت] دې. افسوس نن صبا مسلمانانو د كافي حَده پورې دا سُنَّت پريښودې دې، په مَذهبي كورنو كښ هم اوس په ميز او كُرسئ باندې د طعام خوړلو رواج دې. په وَدُونو كښ هم په ميز او كُرسئ باندې، بلكه اوس خو كُرسئ هم لرې كړې شوې دي، خلق د ميز نه ګير چاپيره تاويږي او په روانه خوراك كوي. آه! د سُنَّتو نه ډك هغه دَوَر به بيا كله راځي!

سنّتیں عام کریں دین کا ہم کام کریں
نیک ہوجائیں مسلمان مدینے والے

چه كوو د دِين كارونه او عام كړو سُنَّتونه
اوكړئ نظر چه شي نيك مسلمانان، يا نبي

## په هره نوَړئ د اللّٰه ذِكر

د **حضرتِ** سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه بنده نه راضي كيږي [څوك] چه كله نوَړى خوري نو په هغې باندې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ حَمْدُ كوي او چه اوبه څښي نو په هغې باندې د هغه حَمْدُ كوي. (صحيح مُسلِم ص١٤٦٣ الحديث ٢٧٣٤)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

# په هره نوَړئ باندې د لوستلو طريقه

سُبحٰنَ الله عَزَّوَجَلَّ! د اللّٰه تعالٰی د رضا موندلو خومره آسانه نُسخه ده. قَسَم په خُدائے عَزَّوَجَلَّ! د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا نه بل اوچت سعادت نشته. د چا نه چه هغه راضي وي هُم هغه ته به خپل دِيدار نصيب كوي، هُم هغه به جَنَّتُ الفِردوس ته داخِلوي. په هره يوه نوَړئ خوړلو او په هر كُوټ خښلو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نوم اغستو او د نوَړئ خوړلو او د كُوټ خښلو نه پس د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيلو د عادت جوړولو كوشش كوئ چه د خوراك خښاك وخت هم په غفلت كښې نه تيريږي. كه كيدې شي نو د هرو دوو نوَړو په مينځ كښې د اَلْحَمْدُ لِلّٰه، يَا وَاجِدُ او بِسْمِ الله وئيلو عادت جوړ كړئ نو دغسې به هره نوَړئ د بِسْمِ الله او د يَا وَاجِدُ د ذِكر نه شروع كيږي او په حَمْد به ختميږي، نو اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نيكو انبارونه او د ثواب انوار [يعني رنړاګاني] به حاصليږي. د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه چاپ شوي د جيبي سائِز رِسالې **خلويښت روحاني عِلاج** په صفحه ١١[1] كښې دي. خوك چه د طعام په هره نوَړئ يَا وَاجِدُ لولي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه خوراك به د هغه په خيټه كښې نُور جوړ شي او مَرَضونه به ئې لرې كيږي.

---

[1] دا د ٢١ صفحو د رحمتونو او بَرَكتونو نه ډكه رِساله د مكتبةُ المَدينه د يو شاخ نه هديةً طلب كړئ. **مجلس مكتبةُ المَدينه**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو گناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمّال)

کر اُلفت میں اپنی فنا یا الٰہی
عطا کر دے اپنی رِضا یا الٰہی

کړې مې ستا محبّت کښې فنا يَا اِلٰهي ... را عطا کړې ستا رضا يَا اِلٰهي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره **د عاشقانِ رسول** سره د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني قافلو کښې د سفر ترکيب جوړوئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ عَمَلي طور به مو د طعام خوړلو د سُنّتو نه ډېر تربِيَّت کيږي او اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ کله خو به درته داسې طعام نصيب شي چه په مزو به مو سر شي چنانچه د اسلامي ورونړو سره پيښيدونکې **مَدَني واقِعه** په خپل انداز کښې د وړاندې کولو کوشش کووم.

## د داتا صاحِب رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه د طرف نه د مَدَني قافلې ميلمستيا

زمونږه مَدَني قافِله په مرکزُ الاولياء لاهور کښې د **داتا صاحِب** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه د **درباريه** جُمات کښې د درې ورځو د پاره موجوده وه. مونږ د مَدَني قافِلې د جَدوَل مطابق د سُنّتو تربِيَّت حاصلولو کښې مصروف وو، د حلقې په دوران کښې يو صاحِب تشريف راوړو، هغوئي د عاشقانِ رسول سره په ډير **محبَّت** ملاقات اوکړو بيا ئې اووئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! نن شپه زما د قِسمت ستورې روښانه شو او **حضرت داتا علي هجويري** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْه زما گنهگار په خوب کښې

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې یو ځل دُرُود شریف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را لیږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نیکۍ لیکي. (ترمذی)

تشریف راوړو او څه داسې ئې را ته اوفرمائیل: د **دعوتِ اسلامي** د **مَدَني قافلې والا عاشقانِ رسول د درې ورځو د پاره زما جُمات ته راغلي دي لِهٰذا ته د هغوئې د پاره د طعام انتِظام اوکړه.**" لِهٰذا ما د مَدَني قافِلې والؤ د میلمستیا د پاره طعام راوړې دې تاسو ئې قبول کړئ.

کیا غرض در در پھروں میں بھیک لینے کیلئے | ہے سلامت آستانہ آپکا داتا پیا
جھولیاں بھر بھر کے لے جاتے ہیں منگتے رات دن | ہو مری امید کا گلشن ہرا داتا پیا
څه غَرَض چه غواړمه خیرات زه په در در | آستانه چه شته ستا داتا صاحِب
شپه او ورځ غوښتونکي وړي ځولۍ ډکې | کړئ پوره اُمّید زما داتا صاحِب

صَــلُّــوْا عَــلَى الْــحَــبِــيْــب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مزار خاوند مدد اوکړو

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ! اولیاءِ کِرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی په خپلو مزاراتو کښې د اوسیدو باوجود هم د خپلو میلمنو میلمستیا فرمائي: چنانچه **حُجَّةُ الْاِسلام** اِمام **محمّد غزالي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه څه داسې نقل کوي چه د مَکَّهٔ مُکَرَّمه د یو شافِعي منجَوَر وینا ده، چه په مِصر کښې د یو غریب کس په کور کښې ماشوم پیدا شو هغه د یو سماجي خدمت ګار سره رابطه اوکړه، هغه د ځان سره هغه د ماشوم پلار په ډیرو کسانو اوګرځولو خو هیڅ چا هم د هغه مالي امداد اُو نه کړو. آخِر دا چه یو مزار ته حاضِر شو او هغه سماجي خِدمتګار څه داسې **فریاد** اوکړو، "یا سَیِّدی! اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په تاسو رحم اوفرمائي، تاسو به په خپل **ظاهري ژوند** کښې ډیره ورکړه

کوله، نن مې د ډيرو خلقو نه د يو **نوي** پيدا شوي **ماشوم** د پاره غوښتنه اوکړه خو چا هيڅ هم را نه کړل." د دې وئيلو نه پس هغه سماجي خِدمتګار د خپل طرف نه نِيم دِينار د هغه ماشوم پلار ته قرض ورکړو او ورته ئې اووئيل: "چه کله تاسو سره د پيسو څه ترکيب اوشو نو بيا ئې ما ته بيرته راکړئ." او دواړه په خپله خپله لار روان شو، هغه سماجي خِدمتګار د شپې په خوب کښې **د هغه مزار د بُزُرګ** ديدار اوکړو، ورته اوئې فرمائيل: تا چه ما ته څه وئيلي وو هغه ما اوريدلي وو خو هغه وخت د جواب ورکولو اِجازت نه وو، لاړ شئ او زما د کور کسانو ته اووائې چه د **انګيټهئ** [يعني نَغَري] نه لاندې ځائ را اوکنئ، يو مَشك به را اوخيژي او په هغې کښې به پينځه سوه دِيناره وي هغه ټول رقم د هغه ماشوم پلار ته ورانديې کړئ." هغه د هغه بُزرګ د کور د کسانو خوا ته ورغلو او ټوله قِصّه ئې ورته اوکړه، هغوئي هغه ښودلې ځائ را اوکنستو نو پينځه سوه دِيناره را اوختل او هغه ته ئې ورکړل، هغه سماجي خِدمتګار ورته اووئيل چه دا ټول رقم ستاسو دې، زما د خوب څه اعتِبار دې! **هغوئي اووئيل: چه زمونږه بُزُرګ د دُنيا نه د پرده کولو نه پس هم سخاوت کوي نو مونږ به ولې اسره کوو!** او هغوئي هغه دِينارُونه په ډيرو زارو هغه سماجي خِدمتګار ته ورکړل، هغه لاړو او هغه دِينارونه ئې د هغه ماشوم پلار ته وراندې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰی)

كړل. هٰغه غريب كس په نِيم دِينار باندې خپل قرض خلاص كړو او نِيم دِينار ئې د ځان سره كيښودو او اوئې وئيل چه زما د پاره هم دا كافي دې." باقي ټول ئې هم هغه سماجي خِدمتګار ته وركړل او ورته اوئې وئيل چه باقي ټول دِينارونه په غريبانو او بې اَسره خلقو باندې تقسيم كړئ، روايت كوونكې وائي چه زه نه پوهيږم چه په دې ټولو كښې زيات سخي څوك دې. (اِحياءُ عُلومُ الدِّين،ج٣،ص٣٠٩) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

خالی کبھی پھیرا ہی نہیں اپنے گدا کو
اے سائلو مانگو تو ذرا ہاتھ بڑھا کر
خود اپنے بھکاری کی بھرا کرتے ہیں جھولی
خود کہتے ہیں یاربّ! مرے منگتا کا بھلا کر

كله نه ليږي سوالګر هغوئي تش لاس
لاس خواره كړه سوال د پاره اے سوالي
ځولئ وړډكوي هغوئي سوالګر ته
او وائي يا الله! مراد پوره كړې د سوالي

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## اولياء د وفات نه پس هم فائِده رَسَوي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** پخوانو خلقو به د بُزُرګانو په باره كښې څومره ښه عقيده لرله او د ضرورت په وخت كښې به ئې د هغوئي نه د خپلو حاجتونو سوال كولو. د هغوئي دا سوچ جوړ شوې وو چه اللّٰه والا د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په وركړه مدد كوي. بهرحال اولياءُ اللّٰه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د اللّٰه تَعَالٰی په كَرم په خپلو قبرونو كښې ژوندي وي، د تلونكو

www.dawateislami.net

راتلونکو خلقو خبرې اورې، لار ښودنه او اِمداد کوي او د خپلو کورونو د مُعامَلاتو خبر هم لري، ځکه خو د هغه مزار بُزُګ رَحمَۃُ اللہِ تعالٰی علیہ د هغه سماجي خِدمتګار په خوب کښې تشريف راوړو او هغه ته ئې لار اوښودله او د هغه ماشوم د غريب پلار حاجت ئې پوره کړو او د هغه مالي اِمداد ئې اوکړو. **حضرتِ** عَلّامه اِبنِ عابِدِين شامي رَحمَۃُ اللہِ تعالٰی علیہ فرمائي: اولِياءُالله رَحِمَهُمُ اللہُ تعالٰی د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې **مختلِف** درجات لري او زيارت کوونکو ته د خپل عِلم او فَضَل او طاقت مطابق خير رسوي. (رَدُّالمُحتار ج۱ ص٦٠٤)

ہم کو سارے اولیا سے پیار ہے ان شاءَاللہ اپنا بیڑا پار ہے
هر ولي سره لرو مونږ محبّت زمونږ بيړئ به پوريوَځي په راحَت

## کوم خوراك بيماري ده

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عُقبه بِن عامِر رَضِیَ اللہُ تعالٰی عنہُ نه رِوايت دې چه د الله عَزَّوَجَلَّ د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلّم مبارك فرمان دې: "په کوم خوراك چه د الله عَزَّوَجَلَّ نوم نه وي اخستې شوې هغه **بيماري** ده او په هغې کښې بَرَکت نشته دې او د هغې کَفّاره دا ده چه که لا تر اوسه دسترخوان نه وي اوچت کړې شوې نو بِسمِ الله دِ اووائي او څه دِ اوخوري او که دسترخوان اوچت کړې شوې وي نو بِسمِ الله دِ اووائي او ګوتې دِ اوڅټي." (الجامِعُ الصَّغِير ص٣٩٤ حديث٦٣٢٧)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

## د شيطان د پاره خوراك حلال

**حضرتِ** سيِّدُنا حُذَيفه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ رِوايت كوي چه د مدينې تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "په كوم طعام چه بِسۡمِ الله اُو نه وئيله شي هغه طعام د شيطان د پاره حلال شي." (يعني د بِسۡمِ الله نه وئيلو په وجه شيطان په هغه طعام كښې شريك شي) (صحيح مُسلِم ص ۱۱۱٦ حديث ۲۰۱۷)

## طعام د شيطان نه بچ كړئ

د **طعام** نه مخكښې د بِسۡمِ الله نه وئيلو په وجه په طعام كښې بې بَرَكتي راځي. حضرتِ سيِّدُنا ابُو اَيُّوب اَنصاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: "مونږ د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمتِ اقدس كښې حاضِر وو. طعام وړاندې كړې شو، په شروع كښې دومره بَرَكت مونږه په بل طعام كښې نه وو ليدلې خو په آخِره كښې مو ډېره بې بَرَكتي اوليدله. مونږه عرض اوكړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! داسې ولې اوشو؟" ارشاد ئې اوفرمائيلو: "مونږ ټولو د طعام خوړلو په وخت كښې بِسۡمِ الله وئيلې وه، بيا يو كس د بِسۡمِ الله لوستلو نه بغير طعام ته كښيناستو، د هغه سره شيطان طعام اوخوړلو." (شَرحُ السُّنَّة ج٦ ص٦٢ حديث۲۸۱۸)

## د شيطان نه حِفاظت

**حضرتِ** سيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ رِوايت كوي چه رَحمَتِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "د چا چه دا خبره خوښه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې يو ځل دُرود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُومره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

وي چه شيطان د هغه کره نه طعام اوخوري او نه [د هغه کره] قيلوله [يعنې د غرمې آرام] اوکړي او نه شپه تيره کړي نو هغه ته پکار ده چه کله کور ته داخِل شي نو سلام دِ کوي او د طعام د پاره دِ بِسمِ الله لولي.'' (مَجمَعُ الزوائد ج ٨ ص ٧٧، حديث ١٢٧٧٣)

## د کورنو جګړو عِلاج

مُفَسِّرِ شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ''کور ته د ننوتو په وخت کښې د بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم لوستلو سره مخکښې ښئ ښپه په دروازه کښې دننه کول پکار دي، بيا د کور کسانو ته سلام اوکړئ او کور ته دننه داخِل شئ. که په کور کښې څوک نه وي نو اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ او وائي. ځيني بُزرګان ليدلي شوي دي چه هغوئي د ورځې په شروع کښې کور ته د ننوتو په وخت کښې بِسمِ اللّٰهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم او قُلْ هُوَ الله [پوره سورت] لوَلي، ځکه چه د دې په بَرَکت په کور کښې اِتّفاق هم وي (يعني جنګ جګړې نه کيږي) او په روزۍ کښې بَرَکت هم کيږي.'' (مِراٰۃ ج ٦ ص ٩)

## که بِسمِ الله لوستل هير شي نو څه اوکړي

اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنَا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا فرمائي چه تاجدارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: ''چه کله

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجوامِع)

ځوك طعام خوري نو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم دِ واخلي. یعني بِسْمِ الله دِ اووائي او که په شروع کښې ترې بِسْمِ الله وئیل هیر شي نو داسې دِ اووائي، "بِسمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ." (اَبُوداؤد شریف ج۳ص۴۸۷ حدیث۳۷۶۷)

## شیطان خوراك اوګرځولو!

حضرتِ سیِّدُنا اُمَیَّه بِن مخشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: یو کس د بِسْمِ الله لوستلو نه بغیر طعام خوړلو، چه کله ئې اوخوړلو او صرف یوه نوړئ پاتې شوه نو هغه اووئیل: "بِسمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ. تاجدارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُسکې شو او دا ارشاد ئې اوفرمائیلو: شیطان د ده سره طعام خوړلو چه کله ده د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم یاد کړو نو څه چه د هغه په خیټه کښې وو را اوئې ګرځوَل." (اَبُوداؤد شریف ج۳ ص۴۸۸ حدیث۳۷۶۸)

## د مُصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم د نظر نه هیڅ هم پټ نه دي

خوږو خوږو اِسلامي ورونړو! چه کله هم طعام خورئ نو بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم لوَستل یاد ساتل پکار دي. ځوك ئې چه نه لوَلي نو د هغه "قَرِین" نومې شیطان هم د هغه سره په خوراك کښې شریك کیږي. د سیِّدُنا اُمَیَّه بِن مخشي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د دې رِوایت نه صفا ظاهِره ده چه زمونږه د خوږ مَدَني مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارکو سترګو به هر څه لیدل ځکه خو ئې چه کله شیطان د وارخطائې په حالت کښې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

په ګرځُون [يعنی اُلټو] کولو اوليدو نو مُسکي شو، چنانچه **مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرتِ مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ”د رَحمتِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُقَدَّسې سترګې په حقيقت کښې پټ مخلوق هم وِيني، او حديثِ مبارکه بالکل په خپله ظاهره معنٰی دې د هيڅ تاوِيل ضرورت نشته، او څنګه چه زمونږه خيټه د مچ والا خوراك نه قبلوي هم دغسې د شيطان معده د بِسْمِ الله والا خوراك نه شي هضمَولې. اګر چه د هغه ګرځولې [يعني اُلټئ کړې] خوراك زمونږ په کار نه راځي، خو مردود بيمار شي او اوږې هم پاتې شي او زمونږه د طعام تلې بَرَکت بيرته راشي، غَرَض دا چه په دې کښې زمونږه فائِده ده او د شيطان پکښې دوه نُقصانونه دي، او کيدې شي چه هغه مردود آئِنده د بِسْمِ الله نه بغير والا طعام هم زمونږ سره د دې يَرې نه هم نه خوري چه شائِد دې بيا په مينځ کښې بِسْمِ الله اولولې او زه بيا په ګرځولو [يعني اُلټئ کولو] مجبوره شم. په حديثِ پاك کښې چه د کوم سړي ذِکر دې غالِباً چه هغه يواځې طعام خوړلو، که د حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره ئې خوړلې نو بِسْمِ الله به ترې نه هيريدلې ځکه چه هلته خو به حاضرو خلقو په اوچت آواز بِسْمِ الله لوستله او ملګرو ته به ئې د بِسْمِ الله وئيلو حُکم کولو.

(مِراٰة شرح مِشکوٰة ج٦ ص٣٠)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

**خوږو خوږو اِسلامي وروڼو**! اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! **د دعوتِ اسلامي** په **مَدَني ماحول** کښې او خاص طور په **مَدَني قافِلو** کښې د ډيرو ډيرو دُعا ګانو لوستلو او يادولو موقعې نصيب کيږي، د دعوتِ اسلامي د مَدَني سپرلو به څه وائي! د بابُ المَدينه کراچۍ د يو اسلامي ورور بيان په خپل انداز کښې د وړاندې کولو سعادت حاصلووم.

## مور مې د کټ نه راپاڅيدله!

**زما والِده صاحِبه** د سختې بيمارۍ په وجه د کټ نه هم نه شوه پاڅيدلې او ډاکټرانو هم جواب راکړې وو، ما اوريدلې وو چه د **عاشقانِ رسول** سره د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو په بَرَکت دُعاګانې قبليږي او بيمارۍ لرې کيږي. ما هم زړه اوکړو او د **دعوتِ اسلامي** نُور وَرَوونکي عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** ”مَدَني تربِيَّت ګاه“ ته حاضِر شوم او د درې ورځو د پاره مې په **مَدَني قافِله** کښې د سفر کولو اِراده ظاهره کړه، اسلامي وروڼو زما سره د ډيرې مهربانۍ او احترام سلوك اوکړو، د عاشقانِ رَسُول په ملګرتيا کښې زمونږه **مَدَني قافِله** د بابُ الاسلام سِندهـ [بابُ المَدينه کراچۍ] د **صحرائے مدينه** سره خوا ته يو کلي ته اورسيده، د سفر په دوران کښې ما **عاشقانِ رسول** ته د خپلې مور د سختې بيمارۍ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذِی)

حال بیان کړو او د دُعا درخواست مې ورته اوکړو، هغوئي زما د والده صاحِبه د پاره ډیرې ډیرې دُعاګانې اوکړې او ما ته ئې ډیره تسلِّي راکړه، اَمیرِ قافِله په ډیره نرمۍ سره په ما باندې **اِنفرادي کوشش** اوکړو او زه ئې نور د یوې میاشتې **مَدَني قافِله** کښې سفر کولو ته تیار کړم، ما نِیَّت اوکړو، ما د مور صاحبې د صِحَّت د ښه کیدو د پاره ډیرې ډیرې دُعاګانې اوکړې، د درې ورځو د دې مَدَني قافِلې په **دریمه** شپه په خوب کښې ما د یو روښانه مخ والا **بُزُرګ** اولیدلو، هغوئي را ته اوفرمائیل: ”د خپلې مور فِکر مه کوه. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه به ښه شي.“ د درې ورځو د مَدَني قافلې نه بیرته کور ته راغلم او دروازه مې اوټکوله، **چه دروازه بیرته شوه نو زه حیران پاتې شوم، ځکه چه زما هُغه بیماره مور چه د کټ نه هم نه شوه راپاڅیدلې، هغه پخپله د دروازې پورې راغلې وه او دروازه ئې را ته بیرته کړه!** ما د ډیرې خوشحالۍ نه د مور ښپې ښکل کړې او په مَدَني قافِله کښې لیدلې خوب مې ورته بیان کړو. بیا مې د مور نه اِجازت واغستو او د یوې میاشتې د پاره د **عاشقانِ رسول** سره په **مَدَني قافِله** کښې په سفر روان شوم.

ماں جو بیمار ہو قرض کا بار ہو رنج و غم مت کریں قافلے میں چلو
ربّ کے در پر جُھکیں التجائیں کریں بابِ رحمت کھلیں قافلے میں چلو
دل کی کالک دُھلے مرضِ عصیاں ٹلے آؤ سب چل پڑیں قافلے میں چلو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

که بیماره مو وي مور، هم د قرض وي ډیر زور
هیڅ غم فِکر مه کوئ، قافلو کښې لا ړ شئ
اوکړئ ډیر عبادتونه، او ښه ډیر ډیر سوالونه
ډیر به اوشي رحمتونه، قافلو کښې لا ړ شئ
پاك به شي د زړه زنګونه ، هم به لرې ګناهونه
ځئ چه تول سفر کوونه، قافلو کښې لا ړ شئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو اولیده! چه په مَدَنی قافِله کښې د سفر په دوران کښې د دُعا کولو په بَرَکت د اسلامي وروړ د عِلاج نه مایوسه شوي مور ته شِفا نصیب شوه. دُعا آخِر دُعا وي. د اَمِیرُالمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عِلِیُّ الْمُرتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه مَکِّي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلې دې:

اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ، وَعِمَادُ الدِّیْنِ، وَنُوْرُ السَّمٰوَاتِ وَالْاَرْضِ

(مُسنَدَ اَبِي یَعْلٰی ج۱ ص۲۱۵ حدیث ٤٣٥)

یعني "دُعا د مُؤمِن وسله ده او د دین ستن ده او د زمکې او د آسمان نُور دې." راځئ چه ورسره ورسره د دُعا د مَدَني ګُلونو نه د خپلو زړونو خوشبوداره مَدَني ګلدستې جوړې کړو.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : خوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

# د دُعا كولو وولَّس مَدَني ګلونه

(تقريباً ټول مَدَني ګلونه د اَحْسَنُ الْوِعَاءِ لِاٰدَابِ الدُّعَاءِ مَعَ شَرْحِ ذَيْلُ الْمُدَّعَا لِاَحْسَنِ الْوِعَاء مطبوعه مكتبةُ المَدينه باب المَدينه نه اخستې شوي دي)

﴿۱﴾ هره ورځ تقريباً شل ځله دُعا كول واجِب دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د مونځ ګُزارو دا واجِب، په نمانځه كښې د سُورةُالفاتِحه د لوستلو سره پوره كيږي، ځكه چه اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ۟ (مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: مونږه په سمه لار روان كړې) هم دُعا ده او اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۟ (مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: ټول ثناء صِفَت الله لره دې چه مالِك دې د ټول جهان والو) وئيل هم دُعا ده. (ص ۱۲۳، ۱۲۴) ﴿۲﴾ په دُعا كښې دِ د حد نه نه اوړي مَثَلًا د انبياءِ كِرام مرتبه غوښتل او يا آسمان ته د ختلو خواهِش كول، او د دوارو جهانو ټولې ښيګړې او ټول صِفَتونه غوښتل هم منع دي ځكه چه په دې ښيګړو كښې د انبياءِ كِرام (عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام) مرتبې هم شاملې دي او هغه نه شي وركول كيدې. (ص ۸۰، ۸۱) ﴿۳﴾ څه چه مُحال (يعني نه شي كيدې) يا مُحال ته نِزدې وي د هغې دُعا دِ نه كوي، لِهٰذا د هميشه د پاره تندرُستي او خيريت غوښتل چه بنده دِ ټول عُمر كله هم په هيڅ قِسمه تكليف كښې نه پريوځي دا د مُحالِ عادي دُعا كول دي [يعني د هغه څيز دُعا كول دي چه هغه عادتاً ناممكنه وي]. هم دغسې د اوچتې وَنې [يعني قَد] والا انسان د پاره د ورې وَنې دُعا كول

او د ورېږ سترګې والا د پاره د غټې سترګې دُعا كول منع دي ځكه چه دا د يو داسې امر [يعني كار د بدليدو] دُعا ده چه په هغې قلم جاري شوې دې. (ص٨١) ﴿٤﴾ د ګناه دُعا دِ نه كوي چه ما ته دِ پرَدې مال راكړې شي ځكه چه د ګناه غوښتل هم ګناه ده.(ص٨٢)﴿٥﴾ د قطعِ رِحم (مَثَلًا چه د فلانكې فلانكې خپلوانو دِ په خپل مينځ كښې كور وران شي داسې) دُعا دِ نه كوي. (ص٨٢) ﴿٦﴾ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه دِ صرف سپك [يعني كمزورې څيز] نه غواړې ځكه چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ غني دې بلكه خپله ټوله تَوَجُّه دِ د هغه طرف ته ساتي او د هر څيز سوال دِ هُم د هغه نه كوي (ص٨٤) ﴿٧﴾ د غم او مُصِيبَت نه د پريشانۍ په وجه دِ د خپل مرګ دُعا نه كوي ځكه چه د دُنياوي نُقصان نه د بچ كيدو د پاره د مرګ سوال كول ناجائِزه دي او د دِيني نُقصان نه د بچ كيدو د پاره جائِز دي. (ص٨٥،٨٧) ﴿٨﴾ د شرعي ضرورت نه بغير دِ د چا د مرګ او بربادۍ سوال نه كوي البتّه كه د يو كافِر د اِيمان نه راوړو يقين يا غالِب ګُمان وي او د هغه د ژوندي اوسيدو په وجه دين ته نُقصان رسي يا د يو ظالِم نه د توبه كولو او ظُلم پريښودو اُمِّيد نه وي او د هغه مړ كيدل او تباه كيدل د مخلوق په حقّ كښې بهتر وي نو د داسې كس د پاره ښيرې كول صحيح دي. (ص٨٦،٨٩) ﴿٩﴾ يو مسلمان ته دِ هم دا ښيرې نه كوي چه "ته دِ كافِر شې" ځكه چه د ځيني عُلماؤ په نِزد (داسې ښيرې كول) كُفر

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

دي او تحقيق دا دي چه كه كُفر ښه ګڼري يا اسلام بد ګڼري او داسي وائي نو بي شكه كُفر دي ګڼي غټه ګناه ده ځكه چه د مسلمان بد غوښتل حرام دي، خصوصاً دا بد غوښتل (چه د فلانكي اِيمان دِ برباد شي دا) خو د ټولو بدو غوښتولو نه بد تر دي. (ص۹۰) ﴿۱۰﴾ په يو مسلمان دِ هم لعنت نه كوي او هغه ته دِ مردود او مَلعُون [يعني لعنتي] نه وائي او كوم كافِر چه يقيني طور په كُفر باندي نه وي مړ، په هغه دِ هُم د هغه د نوم اغستو سره لعنت نه كوي، هم دغسي په ماشي، هواء، بي ساه څيزونو (مَثَلًا كانړي، اوسپنه وغيره) او په ځناورو [يعني ځاروو] لعنت كول منع دي، البتَّه په لړم وغيره او ځيني ځناورو باندي په حديثِ پاك كښي لعنت راغلي دي. (ص۹۰) ﴿۱۱﴾ يو مسلمان ته دِ هم داسي ښيري نه كوي چه "په تا دِ د خُدائے عَزَّوَجَلَّ غضب نازل شي او ته دِ اور يا دوزخ ته داخِل شي،" ځكه چه په حديث شريف كښي د دي منع راغلي ده. (ص۱۰۰) ﴿۱۲﴾ خوك چه كافِر مړ شو د هغه د پاره د بخښني دُعا كول حرام او كُفر دي. (ص۱۰۱) ﴿۱۳﴾ دا دُعا كول چه "يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ټولو مسلمانانو ټول ګناهونه معاف كړي." جائِز نه دي ځكه چه په دي كښي د هغه حديثونو تكذِيب (يعني دروغ ګڼړل) راځي چه په هغي كښي د ځيني مسلمانانو دوزخ ته تلل راغلي دي. (ص۱۰٦) البتَّه داسي دُعا كول "د ټول اُمَّتِ مُحمّد صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَاني)

بخښنه اوكړې يا د ټولو مسلمانانو بخښنه اوكړې" جائِز دي. (ص۱۰۲)
﴿۱۴﴾ خپل ځان او خپلو دوستانو يارانو او د خپل كور كسانو او خپل مال او اولاد ته دِ ښيرې نه كوي، ځه معلومه ده كه د قبليدو وخت وي او د ښيرو اثر ښكاره شي او بيا پښيمانه وي. (ص۱۰۷) ﴿۱۵﴾ ځه څيز چه ورسره موجود وي د هغې دُعا دِ نه كوي، مَثَلًا نارِينه دِ دا دُعا نه كوي چه "يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ما نارِينه كړې" ځكه چه دا اِستِهزاء (يعني ټوقې كول) دي. البتَّه داسې دُعا كول چه په هغې كښې د شريعت په يو حُكم باندې عمل اوشي يا پكښې خپله عاجزي او بندګي ښكاره كړې شي يا پكښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ او د رسول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره محبَّت يا د دِين يا ديندارو طرف ته د رَغبَت يا د كُفر او كُفّارو نه د نَفرت وغيره فائِدې راځيږي نو هغه جائِز دي اګرچه دا امر[يعني څيز] يقيني طور حاصِل هم وي لكه دُرُود شريف لوَستل، د وسيلې، د صراطِ مُستَقِيم او د اللّٰه و رسول عَزَّوَجَلَّ وصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دُښمنانو باندې د غضب او لعنت دُعا كول.(ص۱۰۸،۱۰۹) ﴿۱۶﴾ په دُعا كښې دِ تنګي نه كوي يعني داسې دُعا دِ نه كوي چه يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ صرف په ما باندې رحم اوكړې يا صرف ما ته او زما فلانكي فلانكي دوست ته نِعمَتونه راكړې. (ص۱۰۹) بهتره دا ده چه ټول مُسلمانان په دُعا كښې شريك كړې شي، د دې يوه فائِده به دا هم وي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

چه که دا پخپله د دې نيکې خبرې حقدار نه وي نو هُم د نيکو مسلمانانو په خاطِر به ده ته هُم نصيب شي. ﴿۱۷﴾ **حُجَّةُ الْاِسلام** اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د مضبوطې عقيدې سره دِ دُعا کوي او د قبليدو يقين دِ ساتي. (اِحياءُ الْعُلوم ، ج٤، ص٧٧٠)

## د ناستې يو سُنَّت

د **طعام** خوړلو د پاره د ناستې يوه سُنَّت طريقه دا ده چه ښئ ښپه نيغه اودروي او کڼه ښپه [د ځان نه لاندې] راغونډه کړي او د پاسه پرې کښيني. او د ناستې يو بل سُنَّت هم شته دې. هغه دا چه **حضرتِ** سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: چه ما رَسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په **چُووارو** خوړلو اوليدو او حُضُور صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په زمکه داسې ناست وو چه دواړه زنګونان ئې ولاړ وو. (صحيح مُسلِم ، ص١١٣٠، الحديث٢٠٤٤)

## د زنګنونو اودرولو فائدې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** دواړه زنګونان چه اودرولې شي او سُرِين [يعني مَقعد] اولګولې شي نو په قدر د ضرورت خوراك معدې ته ځي او د دې په وجه د مَرَضونو نه حِفاظت کيږي. او د طعام خوړلو په وخت کښې يوه ښپه نيغه اودرول او په بله ښپه د پاسه د ناستې د سُنّت په بَرَکت **د تورې د بيمارو** نه حفاظت کيږي او د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

ورنونو پټې مضبوطيږي. وائي چه: په پرلت وهلو سره د خوراك عادت لرونکي پيړيږي او خيټه ئې غټيږي. او په پرلت وهلو د طعام خوړلو سره د دردِ قولنج (د غټې کولمې د درد) خطره هم کيدې شي. د يو کس وينا ده چه "ما يو انګريز اوليدو چه هغه دواړه زنګونان نيغ اودرولي وو او سُرِين ئې په زمکه لګولي وو او طعام ئې خوړلو، زه حيران شوم او د دې د سبب تپوس مې ترې اوکړو، نو فوراً ئې په خپله بهرته راوتلې خيټه باندې لاس اووهلو او اوئې وئيل: "د دې د دننه کولو د پاره."

## طعام او په پرده کښې پرده

د طعام خوړلو د پاره د سُنّت مطابق کښيناستلو والا اسلامي ورور او اسلامي خور ته پکار دي چه د زنګونانو نه واخله د ښپو د پنجو پورې د څادر په ذريعه صحيح **په پرده کښې پرده** کوي. که د کُرتې [يا د قميص] لمَن غټه وي نو هغه صحيح خوره کړئ او په پرده کښې پرده اوکړئ. په پرده کښې د پرده نه کولو په وجه مخامخ ناستو کسانو ته ځيني وخت د نظر حفاظت کول ډير مشکل شي. په ځان له ځائ کښې هم په **پرده کښې پرده** کول پکار دي ځکه چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه **حياء** کول د هر چا نه زيات حق لري. که دا نِيَّت اوکړئ چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه حياء کووم نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې به ډير زيات ثواب اوګټئ او د نورو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

خلقو په موجودګئ کښې په پرده کښې د پرده کولو دا نِیَّت هم کیدې شي چه ”د مسلمانانو د پاره د بد نظرئ سبب لرې کووم.“ په هر کار کښې چه څومره کیدې شي ښه ښه نِیَّتونه کول پکار دي، ښه نِیّتونه چه څومره زیات وي هغه همره به ثواب هم زیات حاصلیږي. د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ حبیب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك فرمان دې: ”د مسلمان نِیَّت د هغه د عمل نه بهتر دې“ (معجم کبیر ج٦، ص١٨٥، حدیث٥٩٤٢)

## په میز او کُرسئ طعام خوړل

اعلٰحضرت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: که په زمکه ناست، څپلو په ښپو د دې عُذر په وجه طعام خوري چه فرش (یعني درئ وغیره) نه وي نو بیا خو صرف یو سُنَّتِ مُستَحَبَّه پریښودل شو. او بهتره هم دا وه چه څپلئ ئې وِیستلې وې او که په میز باندې طعام پروت وي او دا ئې په کُرسئ څپلو په ښپو خوري نو دا خاص د نصارئ [یعني د عیسایانو طریقه] ده. د دې نه ځان لرې ساتل پکار دي او سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي:

مَنْ تَشَبَّہَ بِقَوْمٍ فَھُوَ مِنْھُمْ

یعني څوك چه د کوم قوم سره مشابهت [یو شان والې] پیدا کړي هغه د هم هغوئي نه دې. (اَبُوداؤد ج٤ ص٦٢ حدیث ٤٠٣١)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

## د واده د بربادئ اسباب

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! افسوس په كروړونو افسوس! نن صبا زمونږ مسلمانان تقريباً په هره مُعامَله كښې د يهود و نصارىٰ طريقې اختياروي. واده يقيناً خوږ سُنَّت دې خو افسوس چه د دې عظيم سُنَّت په ادا كولو كښې نور مُقَدَّس سُنَّتونه بلكه ډېر فرائِض هم پريښودې شي. سندرې، سازونه، فلمونه، ډرامې، ورائِټي [ستيج] پروګرامونه او خُدائے خبر څه څه ګناهونه پكښې كيږي، د كور زنانه ښځه په درَز ډولونه وهي، مَعَاذَالله، مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ ګډيږي هُم. آخِر هغه كوم حرام كار دې چه نن صبا زمونږ په ودونو كښې نه كيږي؟ مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ د نِكاح نه مخكښې هلك خپلې چنغلې ته ګوتئ په ګوته كوي، يو ځائ سيلونو له ځي، په واده كښې د بې حيائې نه ډك دعوتونه كيږي. غير سړي د ښځو وِيډيو جوړوي. د طعام دعوت هم په ميز او كُرسئ وي بلكه اوس خو نوره "ترقي" شوې ده ځكه چه كُرسئ هم لرې كړې شوې دي صرف په ميز باندې قِسم قِسم خوراكونه كيښودې شي او خلق د ميز نه ګير چاپيره تاويږي او په روانه خوراك كوي حالانكه داسې كول بالكل د سُنّت خِلاف دي. تاسو لږ سوچ خو اوكړئ چه "آيا نن صبا په واده باندې كورونه آباديږي" بلكه د واده نه پس عام طور هر يو كس "د خانه بربادئ" [يعني د كور د ورانيدو] په ژړا

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

ژاړي! چرې داسې خو نه ده چه د واده په شان خوږ خوږ سُنَّت كښې د غير شرعي رسمونو شاملولو په وجه په دُنيا كښې سزا وركوله شي! او كه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ غضبناك شو نو د آخِرت سزا به ځومره خوفناكه وي. اللّٰهتَعَالٰى دِ مونږ ته د فِرنګي رواج او فيشن نه خلاصې راكړي او په سُنّتو د عمل كولو توفيق دِ رانصيب كړي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د سُنّتو نه ډك تحريك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره هر دم تړلي اوسئ، . اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ډير ډير بَرَكتونه او خيرونه به حاصِل كړئ، يو مُبلِّغ دعوتِ اسلامي په دعوتِ اسلامي كښې د خپل شامليدو چه كوم اسباب بيان كړي دي هغه د اوريدلو قابِل دي، چنانچه د هغوئي جذبات په خپلو الفاظو كښې د بيانولو كوشش كووم،

## زه په دعوتِ اسلامي كښې څنګه شامِل شوم

د **مَنډن** ګړه ضِلع رتناګري مهاراشټر (هِند) د يو اسلامي ورور بيان دې چه د 2002ء خبره ده، زه د غلطو دوستانو د صحبت په وجه **د بدمعاشانو په ډله** كښې شامِل شوم. خلق وهل ټكول او كنزلې كول زما معمول وو، قصداً به مې جګړې جوړولې، چه كوم يو نوې فيشن به

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

راتلو د تهولو نه مخکښې به ما کولو، په ورځ کښې به مې څو څو ځله جامې بدلولې، د جِينز (jeans) نه سِوا به مې بل پتلون نه اغوستو، د لوفرانو دوستانو سره به ښه ډير ګرځيدم او د شپې به ناوخته کور ته راتلم او د غرمې پورې به اوده پروت ووم. والِد صاحِب مې وفات شوې وو، کوندې مور به چه پوهه کولم نو مَعَاذَ اللهعَزَّوَجَلَّ جوابونه به مې ورکول، يو ځل را له د دعوتِ اسلامي يو [شِين] پټکي والا اسلامي ورور د ملاقات په دوران کښې (د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوې) يوه رِساله د **پيريانو بادشاه** په تُحفه کښې راکړه، چه اومې لوستله نو ډيره مې خوښه شوه. په رَمَضانُ المُبارك کښې را ته يو جُمات ته د تللو سعادت نصيب شو نو اِتِّفاقي مې د شنې عمامې [يعني د شين پټکي] او سپينو جامو والا يو قلار ځلمې باندې نظر پريوتو، چا را ته اووئيل چه دا دلته **مُعتَکِف** [يعني په اعتِکاف کښې ناست] دې. هغوئي د **فيضانِ سُنَّت درس** ورکولو نو زه هم د اوريدو د پاره کښيناستم، د درس نه پس هغوئي په ما اِنفِرادي کوشش اوکړو او د **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول بَرَکتونه ئې را ته بيان کړل. د هغه اسلامي ورور لِباس [يعني جامې] دومره ساده وې چه په ځيني ځيني ځائ کښې پکښې پيوندونه لګيدلي وو، چه کله د هغوئي د پاره د کور نه طعام راغلو نو هغه هم بالکل ساده وو! زه د هغوئي د **سادګئ** نه ډير زيات مُتاثِره شوم، زما د هغوئي سره محبَّت

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

پيدا شو او ما د هغوئي سره د ملاقات کولو د پاره تلل را تلل شروع کړل. اِتّفاقاً د ورکوټي اختر نه پس د هغه اسلامي ورور نِکاح وه. هغوئي غريب بې وسه او تنګدسته وو خو د حيرانتيا خبره دا ده چه هغوئي د دې خبرې زما په مخکښ هيڅ ذِکر اُو نه کړو او نه ئې زما نه د مالي اِمداد د پاره څه سوال اوکړو، په دې وجه زه نورمُتاثِره شوم چه ماشآءالله عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اسلامي څومره ښکلې مَدَني ماحول دې او د دې سره تَعَلُّق لرونکي څومره ساده او خود داره [يعني د ماړه زړه والا] دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! ورځ په ورځ زما په زړه کښې د دعوتِ اسلامي محبّت زياتيدو تر دې چه ما د عاشِقانِ رسول سره د اته ورځو په مَدَني قافِله کښې سفر اوکړو. زما د زړه دُنيا بدله شوه او په زړه کښې مې مَدَني اِنقِلاب راپورته شو او د ګناهونو نه مې پخه توبه اوکړه او خپل ځان مې دعوتِ اسلامي ته حواله کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! زه په مَدَني رنګ کښې داسې رنګ شوم چه نن صبا زه د علاقائي مشاورت د خادِم (يعني نِګران) په حيثِيَّت په خپله علاقه کښې د دعوتِ اسلامي مَدَني کارونو کولو کښې مصروف يم.

سادگی چاہئے عاجزی چاہئے　　آپ کو گر چلیں قافلے میں چلو
خوب خود داریاں اور خوش اخلاقیاں　　آیئے سیکھ لیں قافلے میں چلو
عاشِقانِ رسول لائے سنّت کے پھول　　آؤ لینے چلیں قافلے میں چلو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُ الْعُمَّال)

که غوارې ساده‌ګي، که غوارې عاجِزي   راځئ راځئ چه ځو قافلو کښې لا ړ شئ
تاسو خود دارئ او خوش اخلاقئ   راشئ راشئ زده کړئ قافلو کښې لا ړ شئ
عاشقانِ رسول، راوړو سُنَّت د رسول   ځئ چه مونږ هم ورځو قافلو کښې لا ړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!   صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليدل! د دِين د تبلِيغ د پاره استري شوې، ځيدلي لِباس [يعني جامې] او قط په قط ښکلي پټکي ضروري نه دي، په پيوندارو جامو او ساده عمامه کښې هم کار چليدې شي. . . . . . . چليدې نه شي بلکه منديږي وهي. . . . . . منديږي نه وهي، بلکه د هغې خو مَدَني وَزَري اوشي او د **مديني منوّرې** طرف ته والوَځي! د ساده لِباس [يعني جامو] به څه وائې!

## د ساده لِباس فضيلت

د **کُفَّارو** په شان فيشن کوونکي، هر وخت په ډول سِنګار کښې اوسيدونکي، د نوو نوو ډيزائِنونو والا قِسم قِسم جوړې شوې جامې اغوستلو والا که **ساده‌ګي** اختيار کړي نو په دواړو جهانو کښې به ئې بيړئ پورېوځي. چنانچه د **ساده لِباس** [يعني ساده جامو] اغوستلو فضيلت اولولئ او خوشحاله شئ.

**تاجدارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي: څوك چه د قدرت لرلو باوجود ښې جامې اغوستل، د تواضُع (يعني عاجِزئ) په

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذی)

طور پريږدي الله عَزَّوَجَلَّ به هغه ته د کَرامت حُلّه (يعني جَنَّتي لِباس) ور واغوندي. (اَبُوداؤد ج ٤ ص ٣٢٦، حديث ٤٧٧٨)

## فيشن پرستو! خبردار!

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! خوشحاله شئ! چه څوك دولت لري، د ښه لِباس [يعني د ښو جامو] اغوستو طاقت هم لري خو بيا هم د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت عَزَّوَجَلَّ د رضا حاصلولو د پاره عاجِزي اختيار کړي او ساده لِباس اغوندي هغه به جَنَّتي لِباس اغوندي او ښکاره خبره ده چا ته چه جَنَّتي لِباس [يعني جامې] ورکولې شي هغه به يقيني طورجنَّت ته هم ځي. په خلقو باندې د رُعب اچولو، د مالدارو انداز اختيارولو او صرف د نفس خوشحالولو د پاره ښکلې، فيشني او ځليدونکي لباسونه اغوستلو والا دِ اولولي او غمګين دِ شي.

د حضرتِ سيِّدُنا عبدُ الله بِن عُمر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دې چه تاجدارِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "که په دُنيا کښې چا د شُهرت [يعني د مشهورتيا] جامې واغوستلې، د قيامت په ورځ به اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه ته د ذِلَّت لِباس ور واغوندي." (سُنَنِ اِبنِ ماجه ج ٤ ص ١٦٣، حديث ٣٦٠٦)

## د شُهرت لِباس څه ته وائي؟

مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: يعني چه څوك داسې لِباس [يعني جامې]

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

واغوندي چه خلق ئې مالدار اوګڼړي يا داسې لِباس واغوندي چه د هغې په وجه ئې خلق نيك او پرهيزګاره اوګڼړي، دا دواړه قِسم لِباسونه د شُهرت [يعني د مشهورتيا] لِباسونه دي. **غَرَض دا چه په کوم لِباس کښې ئې دا نِيَّت وي چه خلق د هغه عِزَّت اوکړي نو دا د هغه د پاره د شُهرت لِباس دي.** صاحِبِ مِرقاة رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہِ فرمائي: د نقليانو [يعني د ټوقي ټقالو کوونکو] په شان لِباس اغوستل چه خلق پرې اوخاندي دا هم د شُهرت لِباس دې. (مُلَخَّص از مِراٰۃ ج٦ ص١٠٩)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! واقعي سخت اِمتِحان دې، په لِباس اغوستو کښې د ډير زيات غور کولو او د رياکارئ نه د بچ کيدلو سخت ضرورت دې او څوك چه خلق خپل عقيدت مند جوړولو د پاره ساده جامې او [ساده] پټکې او څادر وغيره استعمالوي هغه رِياکار او د جهَنَّم حقدار دې. مونږ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه د اِخلاص خيرات غواړو.

مِرا ہر عمل بس ترے واسطے ہو
کر اِخلاص ایسا عطا یا الٰہی

رِیا کاریوں سے سیاہ کاریوں سے
بچا یا الٰہی بچا یا الٰہی

زما هر عمل دِ وي بس ستا د پاره
کړې اِخلاص داسې راعطا يا اِلٰهي

د ګنهګارئ نه، د رِياکارئ نه
بچ کړې بچ کړې ته ما يا اِلٰهي

## د ډوَل سِنګار کولو والؤ د پاره د فِکر مقام

د **فيشن** پرستئ د پاره هره ورځ د نوي نوي طرز جامې اغوستلو والا، که فيشن لږ بدل شي يا جامې لږې زړې شي يا پکښې څه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

ځاىٔ معمولي غوندې اوشليږي نو په **پيوند** اچولو کښې خپله بې عِزَّتي ګنړلو والا دِ دا رِوايت بيا بيا اولولي: د اَ**بُو** اُمامه اِياس بِن ثعلبه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: آيا تاسو نه اورئ؟ آيا تاسو نه اورئ؟ چه د جامې زړيدل د اِيمان نه دي، بيشکه د جامې زړيدل د اِيمان نه دي.
(سُنَنِ اَبِي داوٗد حديث ٤١٦١، ج٤ ص١٠٢)

**د دې** رِوايت نه لاندې **حضرتِ** سيِّدُنا شاه عبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ فرمائي: ''**زِينت** [يعني ډَوَل سِنګار] پريښودل د اهلِ اِيمان د اخلاقو (يعني بهترينو عادتونو) نه دي.'' (اَشِعَّۃُ اللَّمعَات ج٣ ص٥٨٥)

## د پيوندار لِباس فضِيلت

**حضرتِ** سَيِّدُنا عَمْرو بِن قَيس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه د اَميرُ المُؤمِنِين **حضرتِ** سيِّدُنا عَلِيُّ المُرتَضٰی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت کښې عرض اوکړې شو، تاسو په خپل قميص کښې پيوند ولې لګوئ؟ اوئې فرمائيل: د دې سره زړه **نرم** وي او مُؤمِن د دې پيروي کوي. (يعني د مُؤمِن زړه نرم پکار دې) (حِليَۃُ الْاَولِياء ج١ ص١٢٤ حديث ٢٥٤)

## په ولاړه خوراك كول څنګه دي؟

**حضرتِ** سَيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: نبئ کريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په **ولاړه** د څښلو او په **ولاړه** د خوراك كولو نه منع فرمائيلې دې.'' (مجمع الزوائِد ج٥ ص٢٣ حديث ٧٩٢١)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

## په ولاړه د خوراك کولو طِبّي نقصانونه

د اِټلي د يو ماهِرِ خوراك ډاکټر وَينا ده، "په ولاړه باندې د طعام خوړلو سره د توري او د زړه بيمارئ او نفسياتي مَرَضونه پيدا کيږي تر دې چه کله انسان داسې ليونې شي چه خپل کسان هم نه شي پيژندې."

## په ښي لاس ښبئ او خورئ

په ښي لاس خوراك ښباك کول سُنَّت دي. حضرتِ سيّدُنا عبدُ الله بِن عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا فرمائي: چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوږ حبيب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دي: "چه کله څوك طعام خوري نو په ښي لاس دِ ئې خوري او چه اوبه ښبي نو په ښي لاس دِ ئې ښبي." (صحيح مُسلِم ص ۱۱۱۷ حديث ۲۰۲۰)

## د شيطان طريقه

حضرتِ سَيّدُنا عبدُ الله بِن عمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا فرمائي: چه حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلې دي: "يو کس دِ هم نه په کَڼ لاس خوراك کوي او نه دِ ښبي ځکه چه په کَڼ لاس خوراك ښباك کول د شيطان طريقه ده. (اَيضاً)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعي په شپه او د جُمعي په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

# په ښي لاس اخلئ او ورکوئ

د **حضرتِ** سَيِّدُنا ابُو هُريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوايت دې چه د مدينې **تاجدار** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "په تا سو کښې دِ هر يو په ښي لاس خوري او په ښي لاس څښي او په ښي لاس دِ اخلي او په ښي لاس دِ ورکوي ځکه چه شيطان په ګڅ لاس خوري او په ګڅ لاس څښي او په ګڅ لاس ورکوي او په ګڅ لاس اخلي."

(اِبنِ ماجه شريف ج٤ ص١٢ حديث٣٢٦٦)

# په هر کار کښې ګڅ لاس ولې؟

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** افسوس! نن صبا مونږه د دُنيا په مُعامَلاتو کښې دومره ګير شوي يو چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږو خوږو سُنّتو طرف ته هم زمونږه توجُّه نه وي. **ياد ساتئ!** په حديث مبارك کښې دي چه د انسان په رګونو کښې شيطان د وِينې سره ګرځي. (صحيح مُسلِم ص١١٩٧ حديث٢١٧٤) ښکاره خبره ده چه هغه به مونږه په سُنَّتو باندې عمل کولو ته څنګه پريږدي؟ اګر چه خلق په ښي لاس طعام خوري خو بيا هم په **ګڅ لاس** څه نه څه داني خُلې ته اچوي او د طعام خوړلو په وخت کښې ئې ښي لاس ککړ وي نو اوبه په **ګڅ لاس** څښي که چائے څښي نو کپ به ئې په ښي لاس کښې او پرچ په **ګڅ لاس** کښې وي او چائے به څښي، که په چا

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

اوبه څښې نو ځکه ئې په ښي لاس کښې نيولې وي او ګلاس په ګڅ لاس کښې او خلقو ته به په ګڅ لاس ګلاس ورکوي. د "حياتِ مُحَدِّثِ اعظم" په صفحه۳۷٤ کښې دي، مُحَدِّثِ اعظم پاکستان حضرت مولانا محمّد سردار احمد قادري چشتي رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: "په ورکړه راکړه کښې ښې لاس استعمالوئ، دا عادت مو چه داسې پوخ شي چه صبا را ته اعمال نامه راکولې شي نو د هم دې عادت مطابق مو ښې لاس ور وړاندې شي نو بيا خو به کار سم شي." **خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** لږ سوچ اوکړئ، اوګورئ چه زمونږه خوږ خوږ مَکّي مَدَني آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته په ګڅ لاس خوراك څښاك کول څومره ناخوښه وو. چنانچه

## ستا ښي لاس دِ کله هُم پورته نه شي

د **حضرتِ** سَيِّدُنا سَلَمَه بِن اَکوَع رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ نه رِوايت دې چه يو سړي د حُضُورِ اقدس صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مخکښې په ګڅ لاس طعام اوخوړلو نو حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ورته اوفرمائيل: "په ښي لاس خوره." هغه اووئيل، زه په ښي لاس نه شم خوړلې. (په غيبو خبردار خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پوهه شو چه دا د تَکَبُّر په وجه داسې وائي نو) نبئ غيب دان صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لَا اسۡتَطَعۡتَ يعني "ستا دِ پرې اِستِطاعت

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجوامِع)

[يعني وَس] اُو نه شي" (مطلب دا چه ستا ښې لاس دِ کله هم پورته نه شي) هغه د تَکَبُّر په وجه په ښي لاس باندې د طعام خوړلو نه انکار کړې وو لِهٰذا بيا د هغه ښي لاس کله هم خُلې ته پورته نه شو. (يعني د هغه ښي لاس بيکاره شو) (صحيح مُسلِم ص١١١٨ حديث٢٠٢١)

وہ زباں جس کو سب کُن کی کُنجی کہیں
اُس کی نافذ حُکومت پہ لاکھوں سلام

**د شعر ترجمه:** يعني د رَسُولِ عَرَبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ژبه مبارکه د کُن (يعني د اوشه) کُنجي ده. [يعني چه څه فرمائي هغه کيږي] د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په قائِمه بادشاهئ دِ ډير ډير سلام وي.

## ستا مخ دِ وران شي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رښتيني ژبې مبارکې داسې شان دې چه څه به ئې فرمائيل، هغه به کيدل. د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مرتبه خو ډيره عظِيمه ده. د غُلامانو حال ئې اوګورئ، چنانچه يوې زنانه به مشهور صحابي **حضرتِ** سَيِّدُنا سَعَد بِن اَبِي وَقَّاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ پسې د کتلو د پاره سر راښکاره کولو، هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ډير ځل هغه منع کړه خو هغه نه منع کيدله. يوه ورځ چه هغې د خپل عادت مطابق بيا سر راښکاره کړو نو د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د کرامتي ژبې مُبارکې نه دا الفاظ

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

اووتل، شَاهَتِ الْوُجُوه يعني "ستا مخ دِ وران شي" پس په هم هغه ساعت د هغې مخ د شا طرف ته واووښتو. (جامع کراماتِ اولیاء ج۱ ص۱۱۲)

محفوظ شہا رکھنا سدا بے ادبوں سے
اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے ادبی ہو

د شعر ترجمه: يا رسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما هميشه د بې ادبو خلقو د شر او د بې اَدَبئ نه بچ اوساتئ.

د حضرتِ سَيِّدُنا سَعَد بِن اَبِي وَقَّاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د مبارکې ژبې د قبليدو دا تاثِير هم په اصل کښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دُعا نتيجه وه ځکه چه په جامع تِرمِذي وغيره کښې دي چه زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې دُعا اوکړه، اَللّٰھُمَّ اسْتَجِبْ لِسَعْدٍ اِذَا دَعَاكَ يعني "يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ چه کله هم سَعَد ستا نه دُعا کوي، ته ئې قبلوه." (تِرمِذی ج۵ ص۴۱۸ حدیث۳۷۷۲) مُحَدِّثِينِ کِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى فرمائي: "سَيِّدُنا سَعَد بِن ابى وَقاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به چه کله هم دُعا کوله، قبليده به."

(جامع کراماتِ اولیاء ج۱، ص۱۱۳)

اِجابت کا سہرا عنایت کا جوڑا دلہن بن کے نکلی دعائے محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم
اِجابت نے جھک کر گلے سے لگایا بڑھی ناز سے جب دعائے محمد صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

د شعر ترجمه: د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُبارَکې ژبې نه چه کومه دُعا اوځي هغه داسې قبليږي چه قبوليت هغې له پخپله غاړه ورکوي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعي په شپه او د جُمعي په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې كولې كيږي. (طَبَرانی)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د صحابهٔ كِرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم هم ډير لوئي شان دې او د صحابه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُم غُلامان يعني اولِياء رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی هم ډير عَظَمت لري چنانچه

## يا الله! صَباحِي ړوند كړې

زبردست عالِم او مُحَدِّث **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُالله **بِن وَهْب** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه د يو لاك حديثونو حافِظ وو، د مِصر حاكِم عُبّاد بِن محمّد هغوئي قاضي جوړول غوښتل نو د قاضي د عُهدې [يعني ذِمه وارئ] نه چرې پټ شو. يو حاسِد [يعني حسد لرونكي] "صَباحِي" د دروغو **چُغلی** [يعني شيطاني] اوكړه او وئيل ئې چه ما ته عبدُالله بِن **وَهْب** پخپله د قاضي جوړيدو حِرص ښكاره كړې وو او اوس پټ شوې دې قصداً ستاسو نافرماني كوي." حَاكِم غُصّه شو او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه كور ئې وران كړو. حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن **وَهْب** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په جَلال كښې راغلو او د اللّٰه رَبُّ العِزّت په بارګاه كښې ئې عرض اوكړو: **يا اِلٰهی** عَزَّوَجَلَّ! **صَباحِي ړوند كړې**.چنانچه په اتمه ورځ هغه صباحي ړوند شو. حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله **بِن وَهْب** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه باندې به د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د يَرې ډيره غَلَبه وه. يو ځل ئې د قِيامت تذكِره واوريدله او سخته يَره پرې راغله اوبې هوشه شو.په هوش كښې د راتلونه پس صِرف يو څو ورځې ژوندې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

وو او په دې دوران کښې ئې هيڅ خبره هم اُو نه کړه او په ۱۹۷ھ کښې وفات شو. (تَذْکِرَۃُ الْحُفَّاظ ج۱ ص۲۲۳) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

اَولیاء کا جو کوئی ہو بے ادَب
نازل اُس پہ ہوتا ہے قہر وغضب

د اولِياؤ چه څوك وي بې ادب نازليږي په هغه قهر و غضب

يا ربِّ مُصطفٰی عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د صحابهٔ کِرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان او د اولِياء عِظام رَحِمَہُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی رښتيني ادب را نصيب کړې، د دوئي د بې ادبئ او د بې ادبو د شر نه مو هميشه په حفاظت کښې اوساتې او د خپل خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم رښتيني عاشقان مو جوړ کړې. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یا ربّ میں ترے خوف سے روتا رہوں ہر دم
دیوانہ شہنشاہِ مدینہ کا بنا دے

يا ربه! ژړا غواړم ستا له يَرې هميشه عاشِق مې کړې د خوږ خوږ مَدَني ښکلي آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د صاحِبِ مزار اِنفِرادي کوشش

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د بُزُرګانو ډير ادب کيږي، بلکه رښتيا خبره دا ده چه د اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت په فضل دعوتِ اسلامي د اولياءِ کرام په بَرَکتونو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

چليږي. چنانچه يو اسلامي ورور د يو **صاحِب مزار** [يعني د وفات شوي] بُزُرگ رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د مَدَني قافلې د پاره د **اِنفِرادي کوشش** ايمان تازه کوونکې واقِعه بيان کړې وه، هغه واقعه په خپل انداز کښې وړاندې کووم، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! د **عاشقانِ رسول** يوه مَدَني قافِله د **چکوال** (پنجاب، پاکستان) نه مُظَفَّر آباد او د هغې خوا و شا کلو ته د سُنّتو د سپرلو خورولو د پاره راغلې وه او د سفر په دوران کښې يو مُقام ”انوار شريف“ ته اورسيدله، د هُغه ځائ نه څلور اسلامي ورونړه **سمدستي** د درې ورځو د **مَدَني قافِلې** د پاره د عاشقانِ رسول سره شريك شول، په هغه څلورو کښې يو د ”انوار شريف“د **صاحِب مزار** [يعني د زيارت د] بُزُرگ رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د اولادې يو کس هم وو. **مَدَني قافِله** د نيکئ دعوت عام کولو کولو کښې ”کړهي دوپټّه“ ته اورسيده. چه کله د ”انوار شريف“ والؤ درې ورځې پوره شوې نو د هغه **صاحِب مزار** [يعني د زيارت د] بزرگ رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د اولادې هغه کس اووئيل چه زه خو بيرته نه ځم، ځکه چه نن شپه ما په خوب کښې خپل ”حضرت“ رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اوليدلو او ما ته ئې وئيل چه بيرته کور ته مه ځه، د مَدَني قافلې والؤ سره نور مخکښې هم سفر جاري ساته.“ د زيارت د هغه بزرگ رَحمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د **اِنفِرادي کوشش** دا واقعه ئې چه واوريدله نو د مَدَني قافِلې والا ډير خوشحاله شو، د ټولو حوصلې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

نورې هم اوچتې شوې او د انوار شريف هغه څلور واړه اسلامي ورونړه سمدستي د مَدَني قافلې سره نور مخكښې په سفر روان شو.

دیتے ہیں فیض عام اَولیائے کرام لوٹنے سب چلیں قافِلے میں چلو
اولیا کا کرم تم پہ ہو لاجَرَم مل کے سب چل پڑیں قافِلے میں چلو
وركوي فيضِ عام، اولياءِ كِرام ځئ چه حاصِل ئې كړو، قافِلو كښې لاړ شئ
د اولياؤ بَرَكتونه، هم به كيږي رحمتونه ځئ چه ټول لاړ شو، قافِلو كښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خوب په ذريعه د اَسپې تُحفه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د كوم يو ولِيُّ الله د طرف نه د وفات نه پس په خوب كښې اِمداد كول څه د حيرانتيا خبره نه ده، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نيك بندګان د ربّ عَزَّوَجَلَّ په وركړه ډير څه كولې شي چنانچه خواجه امِير خرد كِرماني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ليكي چه سلطانُ ا لمَشائِخ حضرتِ سيِّدُنا محبوب اِلٰهی نِظامُ الدِّين اولياء رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: په غِياث پور كښې د اوسيدو نه مخكښې به زه تقريباً درې كِلوميټره لرې د كيلوكهري [علاقې] جُمات ته د جُمُعې د نمانځه د پاره تللم. يو ځل هم دغسې پياده [يعني په خپلو ښپو] د جُمعې د نمانځه د پاره روان ووم، توده هوا لګيدله او زما روژه وه، په ما سر اوګرځيدو او د يو دُكان خوا ته كښيناستم. زما په زړه كښې خيال راغې چه كه زما سره څه سورلۍ وې نو سهولت به راته وو. بيا د شيخ سعدي دا شعر زما په ژبه راغې.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هُغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

مَا قَدَم از سَر کُنیم دَر طَلَبِ دوستاں
رَاہ بَجائے بُرد ھَر کہ بَاقدام رَفت

(مونږه د دوستانو [د رضا] حاصلولو د پاره د ښپو په ځائ په سر ځُو، ځکه چه څوك په دې لاره په ښپو ځي، هغه منزِل ته نه شي رسيدلې)

زما په زړه کښې چه د سورلئ کوم خيال راغلې وو ما د هغې نه توبه اوکړه. د دې واقعې درې ورځې پس "خليفه مَلِك يار پراں" زما د پاره يوه اَسپه راوستله او وئيل ئې چه د درې شپو نه مسلسل په خوب کښې وِينم چه زما شيخ [يعني پير صاحِب] ما ته فرمائي چه "فلانکي صاحِب ته اَسپه ورکړه." لِهٰذا! اَسپه حاضِره ده، قبوله ئې کړئ. ما ورته اووئيل چه بې شکه ستاسو شيخ به تاسو ته فرمائيلي وي خو چه تر څو پورې زما شيخ ما ته نه وي فرمائيلي تر هُغې زه دا اسپه نه اخلم، هم هغه شپه ما خوب اوليدو چه زما پير و مُرشِد **حضرتِ** سيِّدُنا شيخ فريدُ الدِّين گنجِ شکَر رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ما ته فرمائي چه د خليفه مَلِك يار پراں د زړه د خوشحالولو د پاره هغه اَسپه قبوله کړه. په دويمه ورځ بيا هغه اَسپه راوسته نو ما د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ عطا اوګڼړله او قبوله مې کړه. (سِيَرُ الْاَوْلِياء ص٢٤٦)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## صرف د خپلې مخې نه خوړئ

چه په **يو** لوښي کښې صرف د يو قِسم طعام وي نو د خپلې مخې نه طعام خوړل سُنَّت دي. چنانچه **حضرتِ** سيِّدُنا عُمَر بِن اَبِي سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

فرمائي چه زه لا ماشوم ووم او تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به مې پالنه كوله. (دا د اُمُّ المُؤمِنِين سيِّدَتُنا اُمِّ سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نِكاح كښې د راتلو نه مخكښې د بخواني خاوند نه شوې ځوئي وو) د طعام خوړلو په وخت كښې به مې په لوښي كښې هر طرف ته لاس وهلو. تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: بِسْمِ الله اولوله او په ښي لاس خوره او د لوښي هغه طرف نه خوره كوم چه تا ته نِزدې دې. (صحيح بُخاری ج۳، ص۵۲۱، حديث۵۳۷۶)

## د مينځ نه مه خورئ

د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دې، نبئِ كريم، رَءُوْفٌ رَّحِيم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: بې شكه بَرَكت د طعام په مينځنۍ حِصّه كښې راكوزيږي پس تاسو د غاړو نه طعام خورئ او د مينځ نه مه خورئ." (تِرمِذی ج۳ ص۳۱۶، حديث ۱۸۱۲)

## تاسو چرې د مينځ نه خو طعام نه خورئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! غور اوكړئ چه په دې سُنَّت تاسو عمل كوئ او كه نه؟ ما ډير ځل ليدلي دي چه اكثر باعمله ښكاريدو والا هم په دې سُنَّت باندې د عمل كولو نه محرومه دي! چا ته چه ګوري د طعام د ركيبئ يا لوښي د مينځ نه شروع كوي. معلومه نه ده چه دا ولې؟ چرې داسې خو نه ده چه د بَرَكت نه د محرومه كولو د پاره ئې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

شيطان لاس نيسي او مينځ له ئې وروړي! حقيقت دا دې چه شيطان د دې خبرې په كوشش كښې وي چه مسلمان د نيكۍ نه محرومه شي.

مُفَسّرِشَهِير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يارخان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: "د طعام د لوښي په مينځ كښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ رحمت نازليږي، د مينځ نه خوراك كول د حِرص نښه ده، حَرِيص [يعني حِرص كوونكې] د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رَحمت نه محرومه دې." د دې حديثِ مباركه نه معلوميږي چه د مسلمانانو د طعام خوړلو په وخت كښې هم رَحمتِ اِلٰهي نازليږي خاص طور چه كله د سُنَّت په نِيَّت خوراك اوكړې شي.

(مِراٰۃ شرحِ مِشکوٰۃ ج٦ ص٣٣،٣٤)

## نور خلق د شرمِنده كيدو نه بچ كړئ

**حضرتِ** سيِّدُنا عبدُاللّٰه اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دې چه د نبيانو سلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: چه كله دسترخوان خور كړې شي نو هر كس دِ د خپلې خوا [يعني مخې] نه خوري او د ځان سره د خوړلو والؤ د مخې نه دِ نه خوري او د ركيبۍ د مينځ نه دِ نه خوري (ځكه چه بَرَكت هم د هغه طرف نه راځي) او هيڅ څوك دِ هم د دسترخوان د اوچتولو نه مخكښې نه پاڅي او نه دِ خپل لاس اودروي تر څو چه ټولو خلقو خپل لاس نه وي اودرولې اګر كه موړ شوې وي د نورو خلقو سره دِ لګيا اوسي ځكه چه د ده بس كول به د نورو خلقو د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

شرمِندګئ باعِث وي او هغوئي به خپل لاسونه اودروي حالانکه کیدې شي چه هغوئي ته لا اوس د نور خوراك کولو حاجت وي.

(شُعَبُ الْاِیمان ج٥ ص٨٣ حدیث٥٨٦٤)

## په مینځ کښې د بَرَکت وَضاحت

**مُفَسِّرِ شَهِیر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد یار خان رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د لوښي د غاړې او د خپلې مخې نه خوراك کوئ، د مینځ نه مه خورئ ځکه چه په مینځ کښې **بَرَکت** راکوزیږي او د هٰغه ځائ نه غاړو ته رَسي، که تاسو د مینځ نه خوراك کول شروع کړل نو هسې نه چه هلته **بَرَکت** نازِلیدل بند شي. غرض دا چه د **بَرَکت** د راکوزیدو ځائ بل دې او د **بَرَکت** د اخستو ځائ بل دې. (مِراۃ ج٦ ص٦٣)

## د طعام پینځه سُنَّتونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په بیان شوي حدیث مُبارك کښې د طعام خوړلو پینځه سُنَّتونه بیان کړې شوي دي. ﴿١﴾ د خپلې مخې نه خورئ ﴿٢﴾ چه ثوك درسره یو ځائ خوري د هغه د مخې نه مه خورئ ﴿٣﴾ د رکیبئ [یا بل لوښي] د مینځ نه مه خورئ ﴿٤﴾ مخکښې دِ دسترخوان اوچت کړې شي د هغې نه پس دِ طعام خوړلو والا پاخي. (افسوس نن صبا مُخالِف انداز دې یعني مخکښې خلق پاخي د هغې نه پس دسترخوان اوچتوي) ﴿٥﴾ که نور خلق هم ورسره په [په یو دسترخوان]

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

خوراك كښې شامِل وي نو د هغې پورې دِ لاس نه اودروي تر څو چه ټول د خوراك نه بس نه كړي. افسوس! چه د طعام په بيان شوو سُنَّتونو باندې عمل كوونكي اوس د سره ښكاري نه. د سُنَّتو زده كولو او د خلقو په مخكښې په سُنّتو باندې عمل كولو كښې د شرم محسوسولو عادت ختمولو د پاره د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو د تربِيَّت په مَدَني قافلو كښې سفر اوكړئ او هلته د دې سُنّتونو باقاعده تربِيَّت واخلئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په مَدَني قافلو كښې د سفر په بَرَكت به په سُنَّتو باندې عمل كول ډير آسان شي.

## د يَرې د خوبونو نه خلاصي

د **مَدَني قافِلو** د بَرَكتونو به څه وائې! د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده چه ما به ډير سخت **يَرَوونكي خوبونه** ليدل. ما د عاشقانِ رسول سره د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت د يوې مياشتې په **مَدَني قافِله** كښې د سفر كولو سعادت حاصِل كړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ! د مَدَني قافلې په بَرَكت مې **يَرَوونكي خوبونه** ليدل بند شو، ما په خوب كښې خوږه مدينه اوليدله او اوس په خوبونو كښې كله ځان په نمانځه كولو وِينم او كله په تِلاوت كولو.

خواب میں ڈر لگے بوجھ دل پر لگے
خوب جلوے ملیں قافِلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافِلے میں چلو
پاؤ گے راحتیں قافِلے میں چلو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

که خوبونو کښې يَريږئ، که د يَرې نه لړزيږئ
او به کړئ بنه زيارتونه قافلو کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکلونه، قافلو کښې لاړ شئ
اُو به مومئ راحتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** د شپې د اوده کيدو په وخت کښې که **يَامُتَكَبِّرُ** يو ويشت ځله د اوّل او آخِر يو يو ځل درود شريف سره لولئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د يَرې خوبونه به نه وِينئ.

که د مختلِف قِسم خوراکونه مَثَلًا پُلاؤ ، خوږې وريژې او اچار وغيره په يوه مجمه کښې وي نو په داسې حالت کښې د بل طرف نه هم د خوړلو اجازت شته دې. چنانچه

## د مُختَلِفو کجورو تالي

د **حضرتِ** سيِّدُنا عِکراش رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ رسول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې يو لوښې پيش کړې شو چه په هغې کښې ډير شې **ثَـرِيـد** وو. مونږ د هغې نه خوړل شروع کړل پس ما خپل لاس د هغې په غاړو کښې اخوا ديخوا چلول شروع کړل نو سرکارِ مَدِينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے عِکراش! د يو ځائ نه خوره ځکه چه دا يو [شان] طعام دې.“ بيا مونږ له يو طبق[يعني

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

تالي] راوړې شو او په هغې كښې د ډيرو قِسمونو تازه كجورې وې. د حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك لاس په لوښي كښې هر طرف ته تللو او اِرشاد ئې اوفرمائيلو: اے عِكراش! د كوم ځائ نه چه غواړې خوره ځكه چه دا (كجورې ) د مُختلِفو قِسمونو دي."

(اِبنِ ماجه شريف ج٤، ص١٥، حديث٣٢٧٤)

## په پينځه ګوتو خوراك كول د جاهِلانو طريقه ده

د حضرتِ سيّدُنا عبدُالله اِبنِ عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دې چه نبیِٔ آخِرُ الزّمان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غټې ګوتې او د شهادت د ګوتې طرف ته اِشاره اوكړه او اوئې فرمائيل: "په دې دوه ګوتو مه خورئ (بلكه د دې سره د مينځ ګوته يو ځائ كوئ او) په درې ګوتو خورئ چه دا سُنَّت دې او په پينځه [ګوتو] مه خورئ ځكه چه دا د جاهِلانو [يعني بې تعليمه خلقو] طريقه ده." (كَنزُ الْعُمَّال ج٥ ص١١٥ حديث ٤٠٨٧٢)

## د شيطان د خوراك طريقه

د حضرتِ سَيّدُنا ابو هُريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه د دواړو جهانو د سردار خوږ نبــی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې: په يوه ګوته خوراك كول د شيطان، په دوو ګوتو خوراك كول د مُتَكبِّرينو (يعني كبرژنو خلقو) او په درې ګوتو خوراك كول د انبياء (عَلَيْهِمُ السَّلَام) طريقه ده. (جامع صغير ص١٨٤، حديث ٣٠٧٤)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنزُ العُمّال)

**زمونږه خوږ خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **به کله کله په څلورو مبارکو ګوتو هم طعام خوړلو.** (مُلَخَّصاً الجامِعُ الصَّغِير ص٢٥٠ حديث٦٩٤٢)

## په درې ګوتو د خوراك کولو طريقه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په درې ګوتو به نوَرې وړه جوړيږي، وړوکي نوَرې به ژوول هم آسان وي، چه څومره په ښه طريقه ژوي ژوَوَئ هغه همره به په خُله کښې پيدا کيدو والا هضموونکي اوبه په هغې کښې شامليږي او دغسې به خوراك هم زر هضميږي. **حضرتِ** سَيِّدُنا مولانا علي قاري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِ فرمائي: "په پينځه ګوتو خوراك کول د حريصانو نښه ده." (مِرقاۃ ج٨ ص٩) ډوډئ په درې ګوتو خوړل زيات مُشکِل هم نه دي صرف د لږې توَجُّه ضرورت دې. البتَّه وريژي په درې ګوتو خوړل لږ شان مشکِل وي خو د مَدَني سوچ لرونکو **عاشِقانِ** سُنَّت د پاره دا هم هيڅ مشکله خبره نه ده يقيناً په سُنَّت کښې عَظَمَت [يعني لوئي والې] دې. د غټو غټو نوَړو په حِرص کښې په پينځه ګوتو د خوراك کولو په ځاۓ د تربِيَّت د پاره د ښي لاس **بِنصَر** يعني د وړې ګوتې خوا سره ګوته راماته کړئ او د ربړ تِيلۍ ورواچوئ يا د ډوډئ يوه ټُکړه د وړې ګوتې او **بِنصَر** نه لاندې د ورغوې طرف ته کلکه اونيسئ. که جذبه مو د رښتياؤ وه نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په درې ګوتو د خوراك کولو عادت به مو جوړ شي، چه کله مو په درې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

ګوتو د خوراك كولو عادت جوړ شي نو بيا به د ربړ تِيلئ ترلو او د ډوډئ ټكړه ورغوي ته د دباوولو حاجت نه وي. كه د ورېژو دانې جُدا جُدا وي او په درې ګوتو ترې هډو نوړئ جوړيدې نه شي نو بيا ئې په څلورو يا پينځؤ ګوتو خوړلې شئ. خو دا اِحتياط ضروري دې چه ورغوې مو ككړ نه شي بلكه چه ګوتې هم د ستهو[يعني جرړو] پورې ككړې نه شي.

## په قاشوغه باندې د خوراك كولو حِكايت

په قاشوغه او ځمڅئ وغيره باندې خوراك كول د سُنَّتو خِلاف دي.

زمونږه اسلافو [يعني پخوانو بُزُرګانو] به په قاشوغه باندې د خوراك كولو نه پرهيز كولو ځكه چه د مدينې د تاجدار صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه په درې ګوتو خوراك كول ثابِت دې. **حضرتِ** سيِّدُنا اِبراهِيم باجُورِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه يو ځل عَبَّاسي خليفه مامونُ الرَّشِيد ته د قاشوغو سره طعام ورانډې كړې شو نو د هغه وخت **قَاضِيُّ الْقُضَاة** حضرتِ سَيِّدُنا اِمام اَبُو يُوسُف رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اوفرمائيل: "**اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په سيپاره ۱۵ آيت ۷۰ كښې فرمائي:

وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِيْٓ اٰدَمَ

مفهوم ترجمۂ كنزُ الايمان: او بيشكه مونږه د آدم اولاد ته عِزَّت وركړو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

اے **خليفه** د دې آيتِ کريمه په تفسِير کښې ستاسو نِيکه حضرتِ سيّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فرمائي: مونږه د هغوئي کوټې جوړې کړې چه په هغې هغوئي طعام خوري." نو هغوئي هغه قاشوغې پريښودې او په کوټو ئې طعام اوخوړو. (اَلْمَوَاهِبُ الَّدُنِيَّه لِلباجُورى ص١١٤)

## په قاشوغه کله خوراك کولې شي

**خوږو خوږو اِسلامي ورونړو!** که خوراك داسې وي مَثَلًا فِرني يا (نري) ماسته وغيره چه هغه په کوټو خوړل نه شي کيدې او ځنبلې هم نه شي يا لاس زخمي وي يا لاسونه پاك نه وي او د وِينځلو د پاره اوبه نه وي نو بيا ضرورتاً په قاشوغه د خوړلو اِجازت شته دې. هم دغسې د غوښې پخه شوې غټه ټُکړه يا ورون وغيره په چاړه باندې د کټ کولو اِجازت شته دې.

## په لاس د خوراك کولو طِبِّي [يعني ډاکټري] فائِدې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** ډاکټرانو دا خبره منلې ده چه ځوك په لاس طعام خوري د هغوئي د کوټو نه د يو خاص قِسم "هاضمه دار لـمدوالې" اوځي او په طعام کښې شامليږي او هغه په بدن کښې اِنسولِين (INSULIN) کميدو ته نه پريږدي او دې نه د شُوګر مريضانو ته فائِده حاصليږي او بيا د طعام نه پس د کوټو څټلو سره نور هاضمه

www.dawateislami.net

دار لــمدوالې خيټې ته داخليږي او هغه د سترګو او دِماغو او د معدې د پاره بې حده فائِده مند وي او دا د زړه، معدې او دِماغي مرَضونو زبردست عِلاج دې.

## د اَپينډِکس عِلاج اوشو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د طعام سُنّتونه په خپل ژوند کښې د راوستلو د پاره په مَدَني قافلو کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ. د معاشرې ډير وران کاري کسان د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو په بَرَکت اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! په سَمه لار روان شوي دي. په دې باره کښې د مَتهرا (هِند) د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دې، زه يو فيشني ځلمې ووم، فِلمونه او ډرامې کتل زما عادت وو، د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه نه جاري شوې د بيان کيسټ "ٹی وی کی تباہ کاریاں" د اوريدو سعادت رانصيب شو او هغې زما د ژوند انداز بدل کړو، زه د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې شامل شوم. زه د اپينډِکس په بيمارئ کښې اخته شوم او ډاکټر را ته د آپريشن مشوره راکړه. زه اويَريدم، په دې کښې د دعوتِ اسلامي د يو مُبَلِّغ د اِنفِرادي کوشش په نتيجه کښې په ژوند کښې ورومبې ځل د عاشِقانِ رسول سره د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو د تربِيَّت د درې ورځو د مَدَني قافِلې مسافر جوړ شوم. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ!

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذی)

د مَدَني قافِلې په بَرَکت د آپريشن نه بغير زما مَرَض لرې شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! زما جذبې ته د مَديني بَرَکتونه نصيب شو، اوس هره مياشت د درې ورځو په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو سعادت حاصلووم، هره مياشت [د خپل ځایٔ ذِمّه دار ته] د مَدَني اِنعاماتو رِساله جمع کووم او مسلمانان د سحر نمانځه ته د راپاڅولو د پاره ګرځم او صدائے مَدِينه لګووم.

بے عمل با عمل بنتے ہیں سَر بَسر
تُو بھی اے بھائی کر قافِلے میں سفر
اچّھی صُحبت سے ٹھنڈا ہو تیرا جگر
کاش! کرلے اگر قافِلے میں سفر
بې عمله سمدستي شي روان په سُنَّت
قافِله کښې د سفر وروره ته اوکړه هِمَّت
ته به هم اومومې دغه ډير ښکلې صُحبت
قافِله کښې د سفر کاش که اومومې عظَمت
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيهوشۍ نه بغير آپريشن

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په مَدَني قافلو کښې د سفر څومره بَرَکتونه دي. دا ياد ساتئ! چه بيماري او مُصِيبت د مسلمان د پاره عام طور د رَحمت باعِث وي، اوس تاسو واوريدل چه اسلامي ورور ته د اَپينډِکس تکليف شو او بيا د شِفا سبب ئې د مَدَني قافِلې سفر اوګرځيدو او دغسې هغه په مَدَني ماحول کښې پوخ شامِل شو او د هغوئې په مَدَني ماحول کښې صحيح پخيدل د رَحمت د حاصلولو باعِث دي. که تکليف راشي نو د صبر کوشش کول او ډير اجر و ثواب

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

ګټل پكار دي. زمونږه بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی به د صبر كولو خومره ښكلې انداز لرلو او په مصيبتونو باندې به ئې د اجرو ثواب ګټلو خومره زبردسته جذبه لرله! چنانچه شارِح بُخاري فَقِيهُ الهِند حضرتِ علّامه مولانا مُفتی مُحمَّد شريفُ الحق امجدي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د "نُزْهَةُ الْقَارى شرحِ صحيحُ الْبُخَارى" د دويم جِلد په صفحه ۲۱۳ نه ۲۱۵ پورې نقل كوي: حضرتِ سيِّدُنا عُروه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ چه د هغوئ والِدِ مُحترم مشهور صحابي او د رسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حَواري [يعني وفادار، دوست] حضرتِ سيِّدُنا زُبير بِن عوام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ وو او والِده مُحترمه ئې حضرتِ سيِّدَتُنا اَسماء بِنتِ ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا وه. هغوئ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د اُمُّ الْمُؤمِنِين سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا خورَيې او د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن زُبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا سكه وروراو د مديني مُنَوَّرې په مشهورو "فُقَهاءِ سبعه" (يعني ووه زبردسته عُلَماؤ) كښې يو وو، عابِد و زاهِد او د شپې عبادت كوونكې بُزُرګ وو، هره ورځ به ئې بې ناغه خلورمه حِصّه قرآنِ پاك د مصحف شريف [يعني ليكلې نُسخې] نه په كتلو تلاوت كولو او خلورمه حِصّه قرآنِ پاك به ئې د شپې په تَهَجُّد كښې وئيلو. خليفه وَلِيد بِن عبدُالمَلِك به وئيل چه خوك جنَّتي ليدل غواړي نو هغه دِ حضرتِ سيِّدُنا عُروه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اووِيني. يو ځل ئې سفر اوكړو او د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

وَلِيد بِن عبدُالمَلِك كره ئې تشريف ورې وو. د عُروه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ښپه مُباركه كښې د آكِله بيماري پيدا شوه، دا هَغه بيماري ده چه اندام سخا كوي، وليد مشوره وركړه چه عَمَلِ جَراحت (يعني آپريشن) اوكړئ. هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ [د آپريشن د پاره] راضي نه شو، او مرَض ئې پنډئ ته اورسيدو. وَلِيد ورته عرض اوكړو چه جناب! اوس ښپه كټ كول ضروري دي ګني دا مَرَض به په ټول بدن كښې خور شي. هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ [د آپريشن د پاره] راضي شو، چنانچه طبيب راغې او هغه اووئيل چه شراب اوڅښئ چه په كټ كولو كښې درته د تكليف احساس نه كيږي. هغوئي اوفرمائيل: د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د حرام كړي څيز په ذريعه آرام نه غواړم. طبيب عرض اوكړو: كه تاسو اِجازت راكړئ نو د خوب راوستلو څه دوائي دركړم. هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل چه زه نه غواړم چه يو اندام دِ كټ كيږي او ما ته دِ تكليف نه محسوسيږي او د تكليف او صبر په ذريعه حاصليدو والا اجر [يعني ثواب] نه دِ محرومه پاتې شم. عرض ورته اوكړې شو چه څه كسانو ته اِجازت وركړئ چه تاسو اونيسي. هغوئي اوفرمائيل: د دې هم څه حاجت نشته. آخِر دا چه اول د ښپې غوښه په چاړه او بيا هډوكي په اره كټ كړې شو خو د هغوئي صبر او برادشت مرحبا!په خُله ئې آه! قدر هم اُو نه كړو، مسلسل په ذِكرُاللّٰه عَزَّوَجَلَّ كښې مصروفه وو، تر دې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانی)

چه کله د زخم داغلو د پاره د اوسپنو په قاشوغو د زيتُون شريف خوټکيدلي تيل ور واچولې شو نو د درد د زياتوالي په وجه بې هوشه شو، چه کله په هوش کښې راغلو نو د مخ مبارك نه ئې خوَلې اوچې کړې او کټ شوي ښپه ئې په لاس کښې راواغسته او اړوله راړوله ئې او فرمائيل ئې: په هُغه ذات مې دِ قَسَم وي! چا چه زه په تا د پاسه سور کړې ووم، زه ستا په ذريعه کله هم د څه ګناه طرف ته نه يم تلې. د آپريشن ټوله کاروائي داسې [په خاموشئ] اوشوه چه وَلِيد په خبرو کښې مشغوله وو او هغه پوهه هم نه شو چه کله د داغلو په وخت کښې د تيلو بوئي خور شو نو هله پوهه شو.

## د شهزاده شهادت

په دې سفر کښې په حضرتِ سيِّدُنا عُروه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ باندې بل اِمتِحان دا راغې چه د هغوئې رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ځوئ حضرتِ سيِّدُنا مُحمّد بِن عُروه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د وَلِيد غوژل ته لاړو نو يو خاروي اووهلو او شهيد شو. چه کله مدينې مُنَوَّرې ته بيرته راغلو نو د پينځلَّسمې سيپارې د سُورَةُ الْكَهف د دوه شپيتم آيت دا حِصّه ئې اولوستله،

لَقَدْ لَقِيْنَا مِنْ سَفَرِنَا هٰذَا نَصَبًا ﴿٦٢﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُ الايمان: بيشکه مونږه په دې سفر کښې د ډير مَشَقَّت سره مخامخ شو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِیمان)

## د حضرتِ سَیِّدُنا عُروه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ سخاوت

د حضرتِ سیِّدُنا عُروه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د سخاوت دا عالَم وو چه كله به په باغ كښې میوې پخې شوې نو چاپیره تاؤ شوې دیوال كښې به ئې ځائ اوشلولو، خلق به راتلل او میوې به ئې خوړلې او د ځان سره به ئې وړلې هم. د هغوئې رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په ژبه به د پینځلّسمې سیپارې د سُورَةُ الْكَهف د یو كم څلویښتم آیت دا حِصّه وه:

وَلَوْلَاۤ اِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ۚ

مفهوم ترجمهٔ كنزُ الايمان: او ولې داسې اُو نه شو چه كله ته خپل باغ ته داخِل شوې نو دا دِ وئیلې وې، چه څه غواړې الله، مونږه هیڅ طاقت نه لرو خو د الله د مدد.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په ډېره لګولو خوراك كول سُنَّت نه دي

د خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: "زه په ډېره لګولو خوراك نه كووم." (كَنزُ الْعُمّال ج ۱۵ ص ۱۰۲ حديث ٤٠٧٠٤)

## په ډېره لګولو خوراك مه كوئ

د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو الدَّرداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت دې چه حُضُورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلې دې: "تاسو په ډېره لګولو خوراك مه كوئ." (مَجمَعُ الزَّوَائِد ج ۵ ص ۲۲ حديث ۷۹۱۸)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

## د خوراك په وخت کښې د ډېر لګولو څلور حالتونه

د **خوراك** په وخت کښې د ډېر لګولو څلور حالتونه دي: (۱) يو طرف ته زوَرند کښيناستل (۲) پرلت وهل (۳) يو لاس په زمکه ايښودل (او په هغې) ډډه وهل (٤) ديوال يا کُرسۍ ته شا لګول. دا څلور واړه حالتونه مناسب نه دي. د اَلتَّحِيّات په شان يا داسې ناسته چه دواړه زنګونان ولاړ وي، په دې دواړو حالتونو کښې خوراك کول ښه دي او په طِبّي [يعني ډاکټري] لِحاظ فائِده مند هم دي. په ولاړه خوراك کول ښه نه دي. (مِرآۃ شرحِ مِشکوٰۃ ج٦ ص١٢)

## په ډډه لګولو د خوراك کولو نقصانونه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په ډډه لګولو خوراك کول سُنَّت نه دي. په دې سُنَّت باندې د عمل نه کولو درې طِبّي [يعني ډاکټري] نقصانونه هم دي: (۱) طعام ښه نه جُوَلې کيږي او په هغې کښې چه خومره لُعاب [يعني د خُلې هاضمه داري اوبه] شامليدل پکار وي هغه همره پکښې نه شامليږي چه هغه معدې ته لاړې شي او سخت خوراکونه هضم کړې شي او دغسې به د هاضمې نِظام مُتاثِره شي (۲) ډډه لګولو سره معده فراخه شي لِهٰذا دغسې به غير ضروري خوراك معدې ته لاړ شي او هاضمه به خرابه شي. (۳) په ډډه لګولو خوراك کولو سره کولمو او ځيګر ته نقصان رسي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سیِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي:

"په ډېره لګولو اوبه څښل هم د معدې د پاره نقصاني دي."

(اِحیاءُ الْعُلُوم ج۲ ص۵)

## د ډوډئ اِحتِرام کوه

په زمکه پرته ډوډئ راپورته کول او خوړل سُنَّت دي، چنانچه اُمُّ الْمُؤمِنِین سَیِّدَتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فرمائي: د دوارو جهانو سردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کور مبارك ته تشریف راوړو، د ډوډئ یوه ټُکړه ئې [په زمکه] پرته اولیدله نو هغه ئې راواغسته صفا ئې کړه او اوئې خوړله او اوئې فرمائیل: "عائِشه (رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا) د ښه څیز احتِرام کوه ځکه چه دا څیز (یعني ډوډئ) کله د یو قوم نه تښتیدلي ده نو بیرته نه ده راغلې." (اِبنِ ماجه ج٤ ص٥٠ حدیث٣٣٥٣)

## د طعام د اِسراف نه توبه اوکړئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! نن صبا هر څوك د بې بَرَکَتئ او تنګدستئ ژړا کوي. څه معلومه ده چه دا د ډوډئ د اِحتِرام نه کولو سزا وي. نن صبا شاید که داسې مسلمان وي چه هغه به ډوډئ نه ضائِع کوي. هر طرف ته د طعام د بې ادبئ زړه خُوګوونکي نظارې دي، که د واده دعوتونه وي او که د بُزُرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د خیراتونو خوړده وي. افسوس! په دسترخوانونو او دریځ په بې دردئ طعامونه غورزولې

كيږي، د طعام په دوران كښې په هډوكو پورې نښتې غوښه او مَصَاله صحيح نه صفا كيږي، د كرمې مصالې سره هم د خوراك ډيرې ذرّې ضائِع كړې شي، په كاسو، ركيبو كښې پاتې لږ لږ انګولې او په ديګچو او پتيلو كښې پاتې ښوروا د دوباره استعمالولو اكثر خلق فِكر نه لري، دغسې ډيرپاتې شوې اِنګولې عام طور كچرې او ډيرانونو ته اوغورزولې شي. تراوسه مو چه هرڅومره اسراف كړې وي مهرباني اوكړئ! د هغې نه توبه اوكړئ او دا پخه وعده اوكړئ چه آئِنده به د طعام [يعني ډوډۍ او وريژو وغيره] يوه دانه او د ښوروادیو څاڅكې اِسراف هم نه كوو. وَاللهِ الْعَظِيْم! د قيامت په ورځ به د ذرّې ذرّې حِساب كيږي، يقيناً هيڅ څوك هم د قيامت د حِساب طاقت نه لري، توبه او په رښتيني توبه اوكړئ. درود شريف اولولئ او داسې عرض اوكړئ. يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! د نن ورځې پورې چه ما څومره اِسراف كړې دې، د هغې نه او د ټولو كبيره او صغِيره ګناهونو نه توبه كووم او ستا په راكړې شوې توفيق به آئِنده د ګناهونو نه د بچ كيدو پوره پوره كوشش كووم، اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږه ربه عَزَّوَجَلَّ زما توبه قبوله كړې او ما بې حِسابه اوبخښې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَدقه پیارے کی حیا کا کہ نہ لے مجھ سے حساب
بخش بے پوچھے لَجائے کو لَجانا کیا ہے

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

په خاطر د خوړ نې زما نه مه اخلې حِساب
بخشش اوکړه، ملامته مه کړې نور ته ملامته

په اتمه سِيپاره سُورَۃُ الْاَعراف آيت ۳۱ کښې د اللہ تعالیٰ مبارك فرمان دې:

كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۱﴾

(پ ۸، الاعراف: ۳۱)

مفهوم ترجمۂ كنزُ الإيمان: او خورئ څښئ او د حد نه مه تيريږئ، بيشكه د حد نه تيريدونكي د هغه خوښ نه دي.

## اِسراف څه ته وائي؟

مُفَسّرِ شَهير حَكِيمُ الأُمَّت حضرتِ مُفتي احمد يارخان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په تفسِيرِ نعِيمي ج ۸ ص ۳۹۰ کښې فرمائي: د اِسراف ډير تفسِيرونه دي (۱) حلال څيزونه حرام ګڼړل (۲) حرام څيزونه استعمالول (۳) د ضرورت نه زيات خوراك څښاك كول يا اغوستل (٤) چه زړه څه اوغواړي هغه څښل خوړل يا اغوستل (٥) په شپه او ورځ کښې بيا بيا خوراك څښاك كول چه د هغې سره مِعده خرابه شي، بيمار شي (٦) مُضِر [يعني ضَرَري] او نقصان وركوونكي څيزونه خوړل څښل (۷) هر وخت د خوراك څښاك په خيال کښې اوسيدل چه اوس به څه خورم، بيا به څه څښم. (رُوحُ الْبَيَان ج ۳ ص ۱۵٤) (۸) د غفلت د پاره خوړل (۹) د ګناه د پاره خوراك كول (۱۰) د ښو خوراكونو او ښو جامو د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

اغوستلو عادت جوړول چه كله هم معمولي څيز نه شي خوړلې او ښنبلې (۱۱) ښه ښه خوراكونه د خپل كمال نتيجه ګڼړل. غَرَض دا چه په دې يو تكي كښې ډير احكام داخِل دي. حضرتِ سَيِّدُنا عمرفاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه هر وخت د ځان مړولو نه ځان ساتئ ځكه چه دا بدن بيماروي، مِعده خرابوي او په نمانځه كښې سستي راولي، په خوراك څښاك كښې اِعتِدال [يعني درميانه انداز] اِختيار كړئ ځكه چه دا د سوونو بيمارو عِلاج دې. اللّٰهتَعَالٰی پيړ انسان[1] نه خوښوي. (کَشفُ الخِفاء ج١ ص٢٢١ حديث٧٦٠) څوك چه خواهِش په خپل دِين باندې غالِب كړي هغه به هلاك شي. (رُوحُ الْمَعَانِي ج٤ ص١٦٣ ملتان، تفسِيرِ نعِیمی ج٨ ص٣٩٠ لاهور)

## د نري اِنسان فضِيلت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د طعام كم خوړلو سره سره خاص طور مَيده، خواږه او غوړ او د دې نه جوړ شوو څيزونو په اِستعمال كښې (د طبيب د مشورې مطابق) كمي كولو سره د بدن په وزن كښې كمي راځي، راوتلي خيټه په اصلي حالت شي او د بنده وجُود ښكلې كيږي[2]. اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی كم خوراك كوونكي د سپك بدن والا

[1] د پيړ والي په وجه په چا پورې خندا كول، چيړل او د هغه زړه ازارول ګناه ده.

[2] د بدن د وزن د كمولو طريقه معلومولو د پاره د فيضانِ سُنَّت باب "د خيټې قُفلِ مدينه" د صفحه ٨٠ نه ٨٣ پورې اولولئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

مسلمان خوښوي چنانچه حضرتِ سیِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُما روایت کوي چه نبيءِ کریم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **ته په تاسو کښې د ټولو نه زیات هغه بنده خوښ دې څوك چه کم خوراك کوونکې او د خَفِیف (یعني سپك) بدن والا دې.** (اَلجامِعُ الصَّغِیر ص۲۰ حدیث۲۲۱)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د عمل جذبه زیاتولو د پاره **مَدَني ماحول** ضروري دې، ځکه که عارضي طور جذبه پیدا هُم شي نو د ښه صُحبت د کمي په وجه اِستِقامت نه حاصلیږي. لِهٰذا د **عاشِقانِ رسول** د صُحبت حاصلولو د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې سفر کول خپل معمول جوړ کړئ.

**اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ** عَزَّوَجَلَّ! د دعوتِ اِسلامي په بَرَکت هر طرف ته سُنّتونه عام دي. راځئ د دعوتِ اسلامي په یو اِیمان تازه کوونکې **"مَدَني سپرلي"** خپل زړه او ځیګر ګُلِ ګُلزار کړئ. چنانچه

## د یو غیر مُسلم قبولِ اسلام

د **تحصِیل** ټانډا ضلع آمبیډ کرنګر (یو پي هِند) د یو اسلامي ورور څه داسې بیان دې، زه د کُفر په تورو تیَرو کښې ورك ووم، یوه ورځ چا د **مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه** یوه رِساله **اِحتِرامِ مُسلِم** په تُحفه کښې را کړه، ما چه اولوستله نو حیران پاتې شوم، چه کومو مسلمانانو ته ما همیشه د نفرت په سترګه کتلې وو د هغوئې مذهب **"اِسلام"** په خپل مینځ کښې دومره د امن او محبَّت درس ورکوي! د رِسالې لیك زما په زړه باندې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

ډير زيات اثر اوكړو او زما په زړه كښې د اسلام ډير زيات محبّت پيدا شو. **يوه** ورځ زه په بس كښې په سفر ووم چه يو څو د كِيرو او عمامو [يعني پټكو] والا اسلامي ورونړو مَدَني قافِله هم بس ته را اوختله، ما چه ځنګه اوليدل نو پوهه شوم چه دا مسلمانان دي، زما په زړه كښې د اسلام محبّت خو هسې هم پيدا شوې وو لِهٰذا ما د اِحترام په نظر هغوئي ته كتل شروع كړل، په دې وخت كښې په هغوئي كښې يو اسلامي ورور د نبيِّ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شان كښې نعت شريف وئيل شروع كړو، په ما باندې د هغه انداز ډير زيات ښه اولګيدو، زما هغوئي ته په شوق شوق د كتلو په وجه په هغوئي كښې يو زما سره **خبرې اترې** شروع كړې او هغه پوهه شو چه زه مسلمان نه يم، هغه مُسكې شو او په ډير ښكلي انداز ئې ما ته اووئيل: زه تا ته د اسلام قبلولو درخواست كووم. ولې چه د "اِحتِرامِ مُسلِم" رِسالې لوستلو په وجه زما په زړه كښې د مخكښې نه د اسلام محبّت پيدا شوې وو او ورسره ورسره د هغه د عاجزئ په انداز كښې وئيلو راباندې نور اثر اوكړو، بس ما اِنكار اُو نه كړې شو او اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! ما په رښتيني زړه اسلام قبول كړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! د دې بيان وركولو وخت كښې زما د مسلمانيدو خلور مياشتې شوې دي، زه په پابندئ سره نمونځ كووم، د كِيرې پريښودو نِيَّت مې كړې دې، د دعوتِ اسلامي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تعالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير کړل هغه د جَنَّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

په مَدَني ماحول کښې شامِل شوې يم او په مَدَني قافِلو کښې د سفر کولو سعادت هم حاصلووم.

کافروں کو چلیں مشرکوں کو چلیں دعوتِ دین دیں قافلے میں چلو
دین پھیلایئے سب چلے آیئے مل کے سارے چلیں قافلے میں چلو

ځئ چه کافرانو ته، ځئ چه مُشرِکانو ته
دعوت د دِين ورکړو قافلو کښې لاړ شئ
راځئ ټول راځئ، خپل دِين ښه خور کړئ
ځئ چه ټول پکښې ځو قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خلقو نه د شرم په وجه سُنَّت نه دي پرېښودل پکار

زمونږه صحابۀ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوَان به د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تعالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په **محبّت** کښې ډوب اوسيدل. د دنيا کوم يو شوق او د بې وفا معاشرې د دروغو خوشامندو هغوئي د سُنَّتو نه، نه شو **محرومه** کولې. چنانچه حضرتِ سيِّدُنا حَسَن بصري رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه حضرتِ سيِّدُنا مَعقِل بِن يَسار رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ (چه د هغه ځاۍ د مسلمانانو سردار وو) طعام خوړلو، د هغوئي د لاس نه نوړئ پريوتله، هغوئي هغه راپورته کړه، صفا ئي کړه او اوئي خوړله. دا ئي چه اوليدل نو د کلي [بې تعلِيمه] خلقو يو بل ته په سترګو کښې اِشاره اوکړه (يعني چه دا څومره عجيبه خبره ده، چه دوئي لويدلې نوړئ اوخوړله) چا هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته اووئيل: اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ اَمِير ته خير

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

ورکړي، اے زمونږه سرداره! دا د کلي خلق يو بل ته په سترګو کښې اِشارې کوي چه اَمِيرصاحِب رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ لويدلې نوَړۍ اوخوړله حالانکه د دوئي مخې ته نور طعام موجود دې. هغوئي اوفرمائيل: "د دې عَجَميانو په وجه زه هٰغه کار نه شم پرېښودلې کوم چه ما د مدينې د سردار صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلې دې. مونږ به يو بل ته حُکم کولو چه که نوَړۍ پرېوځي نو هغه دِ صفا کړې شي او اوږدِ خوړې شي او د شيطان د پاره دِ نه پرېښودې شي. (اِبنِ ماجه ج٤ ص١٧ حديث٣٢٧٨)

رُوحِ ايماں مَغزِ قُرآں جانِ دِيں
هَسْت حُبِّ رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِيْن

[د شعر ترجمه: د رسولُ الله صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبّت د اِيمان رُوح، د قُرآن اصل او د دِين ځان دې.]

## ډير ډير اِنفِرادي کوشش کوئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده؟ جلِيلُ القدر صحابي او د مسلمانانو سردار سيِّدُنا مَعقِل بِن يَسار رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ به د سُنَّتو سره څومره محبّت کولو. هغوئي رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ د عَجَميانو د اشارو د يو ذرّې همره پرواه هم اُو نه کړه او بې پرواه ئې په سُنّتو باندې عمل جاري اوساتلو، او نن صبا ځينې داسې نادان مسلمانان هم شته دې چه "په ماډرن [يعني فيشني] ماحول کښې د کِيرې مبارکې په شان عظِيمُ الشّانه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

سُنَّت باندې عمل نه کولو ته مَعَاذَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ "حِکمتِ عَمَلي" وائي. حقيقي حِکمتِ عَمَلي هُم دا ده چه که هر څومره بد ماحول وي، که د اغيارو [يعني غير مذهبو] زور وي، که د بد مذهبو شور وي، چه هر څه وي تاسو ګيره پريږدئ، عِمامه [يعني پټکې] په سر او د سُنّتو نه ډك لِباس کښې اوسئ، د خوراك څښاك په معاملاتو کښې د سُنَّتو پابندي جاري ساتئ او د خلقو د اصلاح د پاره اِنفِرادي کوشش جاري ساتئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ډيوې نه به ډيوه بليږي، هر طرف ته به حق عام شي، شيطان به مخ تورن شي او هر طرف ته به د سُنَّتو رنړاګانې خورې شي او د دُنيا د دولت هر عاشِق به د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشق جوړ شي او اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هر کور کښې به د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نُور رنړاګانې شي.

خاک سورج سے اندھیروں کا اِزالہ ہو گا
آپ آئیں تو مرے گھر میں اُجالا ہو گا

ہو گا سیر اب سرِ کوثر و تسنیم وُہی
جس کے ہاتھوں میں مدینے کا پیالہ ہو گا

د شعر ترجَمه: دا تيَرې به نه په نمر باندې رنړا شي
تاسو راشئ زما په کور کښې به رنړا شي
په کوثر او په تسنِيم به هغه موړ شي
د مديني پياله چه چا ته ورعطا شي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُ الرَّزَّاق)

# د کافِرِ اِسلام قبلول

د **دعوتِ اسلامي** د عالَمي مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** (بابُ المَدينه کراچۍ) نه د عاشقانِ رسول يوه د ۹۲ ورځو مَدَني قافِله د **کولمبو** په سفر وه. په کومه ورځ چه ضِلع "ايرو" ته د ديرش ورځو د پاره مَدَني قافله په سفر روانيدله نو په دې دوران کښې يو اسلامي وورو د **امِيرِ قافِله** خوا ته يو غير مُسلِم ځلمې راوستو.

امِيرِ قافِله هغه ته د حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اعلیٰ کِردار متعلِّق يو څو خوشبوداره مَدَني ګلونه وړاندې کړل او د اِسلام دعوت ئې ورکړو. په دې باندې هغه يو څو سوالات اوکړل، د هغې جوابونه ورکړې شو. اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! **زيات و کم د يوې ګينټې د اِنفِرادي کوشش نه پس هغه غير مُسلم مسلمان شو.**

کافر آجائیں گے راہِ حق پائیں گے اِن شاءَاللّٰہ، چلیں قافلے میں چلو
کُفر کا سر جُھکے دِیں کا ڈنکا بجے اِن شاءَاللّٰہ، چلیں قافلے میں چلو

کافِران به راځي، حقه لار به مومي
ان شآءَ اللّٰه راځئ قافِلو کښې لاړ شئ
شي به کُفر ناکام، ښه به خور شي اسلام
ان شآءَ اللّٰه راځئ قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

## اولاد د كم عقلئ نه د بچ كولو نُسخه

د **اللّٰہ** عَزَّوَجَلَّ د **خوږ محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خير نه ډك فرمان دې: ”ثوك چه د دسترخوان نه د طعام غورزيدلې ټُكړې راپورته كوي او خوري ئې هغه به د فراخئ ژوند تيروي او د هغه اولاد او د اولاد اولاد به د كم عقلئ نه **محفوظه** اوسي.“ (کَنزُ الْعُمَّال ج۱۵ ص۱۱۱ حدیث۴۰۸۱۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د تنګدستئ عِلاج

زبردست **مُحَدِّث** حضرتِ سیِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته د بغداد خليفه مامون رشيد د طعام دعوت وركړو، د خوراك وغيره كومې دانې چه غورزيدلې وې هغه د طعام په آخِره كښې سیِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ راټولولې او خوړلې ئې. مامون رشيد حيران شو او ورته ئې اووئيل، اے شيخ! آيا تر اوسه پورې نه ئې موړ شوې؟ اوئې فرمائيل: ولې نه! اصل كښې خبره دا ده چه ما ته حضرتِ سیِّدُنا حَمَّاد بِن سَلَمه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ يو حديث بيان كړې دې: ”څوك چه د دستر خوان نه لاندې د طعام غورزيدلې ټُكړې راټولوي او خوري هغه به د تنګدستئ نه بې يَرې شي.“ زه په هم دې حديث مُبارك عمل كووم. دا ئې چه واوريدل نو مامُون ډېر زيات **مُتاثِره** شو او خپل يو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كَنزُالعُمّال)

خادم ته ئې اِشاره اوكړه، هغه زر دِيناره په رومال كښې تړلي راوړل. مامون هغه د حضرتِ سيِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خِدمت كښې د نذراني [يعني تُحفې] په طور وړاندې كړل. حضرتِ سيِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اوفرمائيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! په حديث مبارك باندې د عمل كولو بَرَكت سمدستي ښكاره شو. (ثَمَراتُ الْاَوْرَاق ج١ ص٨)

## د خلقو نه د شرميدو په وجه سُنَّت مه پرېږدئ

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چه زمونږه بُزُرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به په سُنَّتو باندې د عمل كولو په مُعامَلَه كښې د دُنيا د غټ نه غټ رئِيس بلكه د باد شاه هم پرواه نه لرله. د دې حِكايت نه زمونږه هغه اسلامي ورونړو ته درس حاصلول پكار دي كوم چه د خلقو نه دشرميدو په وجه د خوراك ښښباك سُنّتونه پرېږدي او كِيره مُباركه پرېښودو او د عمامې [يعني د پټكي] تاج په سر كولو نه ډډه كوي. يقيناً په سُنَّتو باندې عمل كول په دواړو جهانو كښې د نيك بختئ باعِث دي، كله كله په دُنيا كښې سمدستي هم د دې بَرَكتونه ښكاره كيږي څنګه چه حضرتِ سيِّدُنا هُدبه بِن خالِد رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته په سُنَّتو باندې د عمل كولو په بَرَكت د شاهي دربار نه زر دِيناره وركړې شو او هغوئي مالدار شو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

جو اپنے دل کے گلدستے میں سنّت کو سجاتے ہیں
وہ بے شک رحمتیں دونوں جہاں میں حق سے پاتے ہیں
ګلدسته د زړه چه څوك ښائِسته کړي په سُنَّت
بيشکه مومي دواړو جهانو کښې د حق رَحمت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! څنګه چه په روزۍ کښې د بَرَکت وُجوهات دي هم دغسې په روزۍ کښې د تنګۍ هم سببونه دي که د دې نه څوك بچ شي نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په روزۍ کښې به ئې بَرَکتونه او بَرَکتونه وي. ستاسو د معلوماتو د پاره د تنګدستۍ ٤٤ اسباب بيانووم.

## د تنګدستۍ [يعني غريبۍ] "٤٤" سببونه

(1) د لاس وِينځلو نه بغير طعام خوړَل (2) سر تور سر طعام خوړَل (3) په تيَره کښې طعام خوړَل (4) په دروازه کښې طعام خوړَل (5) د مړي خوا ته طعام خوړَل (6) د جَنابَت په حالت کښې (يعني د جماع يا اِحتِلام وغيره نه پس د غُسل نه مخکښې) طعام خوړَل (7) په کټ کښې د دسترخوان خوروَلو نه بغير خوړَل (8) په دَسترخوان راوِيستې شوي طعام خوړلو ته زر نه کښيناستل (9) په کټ کښې ښخپله بَر سر ته کښيناستل او طعام کوز سر ته اِيښودل (10) په غاښونو باندې ډوډۍ ماتول (برګر وغيره خوړلو والا هم که احتياط اوکړي نو ښه به وي) (11) چينې مات لوښي يا د خاورو مات لوښي د خوراك، څښاك په اِستعمال

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې درود شريف لولۍ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

کښې راوستل (د لوښي يا د پيالۍ مات طرف باندې اوبه يا چائے وغيره څښل مکروهِ [تنزيهي] دي، د خاورو چاودلي لوښي يا داسې لوښي چه د هغې د دننه طرف نه لرې غوندې خاوره هم را وَلاړه شوې وي په هغې کښې د خوراك کولو نه ځان بچ ساتل مُناسب دي ځکه چه په داسې ځائيونو کښې خيرې وغيره جمع کيږي او بيا پکښې جراثيم پيدا شي او چه خيټې ته لاړ شي نو د بيمارو باعِث جوړيدې شي) (12) دَ خوراك لوښي نه صفا کول. [په حديثِ پاك کښې دي: د خوراك نه پس چه کوم کس لوښي څټي نو هغه لوښي د هغه د پاره دُعا کوي او وائي: الله عَزَّوَجَلَّ دِ تا د جَهَنَّم د اور نه آزاد کړي څنګه چه تا زه د شيطان نه آزاد کړم. (جَمۡعُ الۡجَوامِع لِلسُّيُوطی ج١ص٣٤٨ حديث٢٥٥٨) او په يو رِوايت کښې دي چه لوښي د هغه د پاره اِسۡتِغۡفار (يعني دَ بَخښني دُعا) کوي. (اِبنِ ماجه ج٤ص١٤ حديث٣٢٧١)] (13) په کوم لوښي کښې چه طعام اوخوري په هغې کښې لاس وِينځل (14) د خِلال کولو په دوران کښې د غاښونو نه راخلاصې شوې ذَرّې وغيره بيرته په خُله کول (15) د خوراك څښاك په لوښو باندې سر نه ايښودل. د خوراك څښاك په لوښو [په کومو لوښو کښې چه خوراك څښاك موجود وي په هغې] بِسۡمِ الله وئيل او پټول پکار دي ځکه چه بلاګانې [يعني مصيبتونه] نازليږي او هغه [خوراك] خرابوي، بيا هغه خوراك يا د څښلو څيز بيمارۍ پيدا کوي (16) ډوډۍ اخوا ديخوا داسې ايښودل چه بې ادبي ئې کيږي او ښپې پرې د پاسه راځي. (مُلَخَّصاً از سُنّي بهشتي زيور ص٦٠٠ تا ٦٠٥) حضرت سَيِّدُنا اِمام

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمّال)

بُرهانُ الدِّين زَرنُوجي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ چه دَ تنګدستئ کوم اسباب بيان کړي دي په هغې کښ دا هم دي: (17) د زيات اوده کيدو عادت (د دې سره ياد داشت کمزوري کيږي او جَهالت ورسره زياتيږي) (18) بربنډ اوده کيدل (19) په بې حيائۍ سره بَول کول [يعني اودس ماتول] (په عامو لارو کښ تش بَول کوونکي دِ غور اوکړي) (20) په دَسترخوان باندې غورزيدلي دانې او د خوراك ذرّې وغيره اوچتولو کښ سستي کول (21) دَ پياز او اُوږې پوستکي سوزول (22) په کور کښ په کپړه [رومال، څادر وغيره] باندې جارو کول (23) د شپې جارو وهل (24) خَزَلې [کچرا] په کور کښ پريښودل (25) دَ مشائِخ [پيرصاحِبانو، عُلَماء] نه مخکښ مخکښ تلَل (26) مور او پلار ته په نوم اغستو غږ [يعني آواز] کول (27) لاسونه په ختو يا خاورو وِينځل (28) د دروازې يو طرف ته ډډه لګولې اودريدل (29) په بَيتُ الخلا ( Wash room) کښ اودس کول [په کورونو کښ نن صبا د اټيچ باتھ په وجه دا عام دي، که کيدې شي نو په کور کښ جُدا د اودس انتِظام کول پکار دي] (30) په بدن د پاسه اغوستې جامې وَغيره ګنډل (31) په اغوستو جامو مخ اوچَوَل (32) په کور کښ د جولاګانو [يعني غنډې] جالونه پريښودل (33) په نمانځه کښ سستي کول [يعني په وخت نه کول] (34) د سحر د نمانځه نه پس د جُمات نه زر وَتل (35) سحر وختي بازار ته رَسيدل

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذی)

(36) د بازار نه ناوخته راتلَل (37) خپل اولاد ته ازار (يعني ښيرې) کول (اکثر زنانه په خبره خبره خپلو بچو ته ښيرې کوي او بيا د تنګدستئ ژړا هم کوي) (38) ګناه کول خُصوصاً دروغ وئيل (39) ډيوه يا (موم بتئ وغيره) په پوکې مړه کول (40) ماته کُمَنز استعمالول (41) د مور او پلار د پاره دُعائے خير نه کول (42) عِمامَه په ناسته تړل او (43) پاجامه يا پرتوګ وغيره په ولاړه ولاړه اغوستل (44) په نيك اعمالو کښې لم ليټ [يعني سُستي] کول. (تَعْلِيْمُ الْمُتَعَلِّم ص ۱۲۳تا۱۲۶)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د لويدلې ډوډئ د خوړلو فضِيلت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ رَحمت ډير لوئي دې کله کله عمل په ظاهره ډير لږ وي خو د هغې فضيلت ډير زيات وي. ځنګه چه حضرتِ سَيِّدُنا عَبدُ الله بِن اُمِّ حَرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: "د ډوډئ اِحتِرام کوئ ځکه چه هغه د آسمان او د زمکې د بَرَکتونو نه ده. څوك چه د دسترخوان نه لويدلې ډوډئ اوخوري د هغه بخښنه به اوشي." (الجامِعُ الصَّغِير ص۸۸ حديث ۱۴۲۶)

سُبْحٰنَ اللهِ عَزَّوَجَلَّ ! خوږو اسلامي ورونړو! کاش! چه مونږه په دې باره کښې شرم نه کوو او په دسترخوان باندې لويدلې د ډوډئ ټُکړې او د ورِيژو دانې وغيره راپورته کړو او د مغفِرت حقدار جوړ شو."

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

طالبِ مغفرت ہوں یا اللہ
بخش دے بہرِ مصطفٰے یا رب!

یا اللہ د مغفِرت یم طلبګار اوبخښه ما په خاطر د مُصطفٰی یا رب

## د ډوډۍ د ټکړې حِکايت

يو ځل حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا په زمكه باندې پرَته د ډوډۍ ټُكړه اوليدله نو غُلام ته ئې اوفرمائيل: "دا صفا كړه او اوئې ساته، چه كله ئې ماښام د روژه ماتې په وخت كښې د غُلام نه هغه ټُكړه اوغوښتله نو هغه عرض اوكړو: هغه خو ما خوړلې ده." سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا اوفرمائيل: ځه ته آزاد ئې ځكه چه ما د تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: "**خوك چه د ډوډۍ پرَته ټُكړه راپوته كړي او اوئې خوري نو د هغه خيټې ته د رسيدو نه مخكښې اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **د هغه بخښنه اوكړي.**" اوس چه څوك د مغفِرت حقدار شو، زه هغه څنګه غُلام اوساتم؟ (تَنبِيهُ الغَافِلِين ص ٣٤٨ حديث ٥١٤)

## مَدَني سوچ

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! زمونږه بُزُرګانو به هم څومره ښكلې **مَدَني سوچ** لرلو چه د لويدلې ډوډۍ د خوړلو په وجه غُلام د بخښنې حقدار شو نو آقا يعني مالِك هم د خپلې غُلامۍ نه آزاد كړو. يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په خاطر د خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ ته هم مَدَني سوچ او د سُنَّتو سره حقيقي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰی)

محبّت راكړې او مونږ ته هم د دې سعادت حاصلولو توفِيق راكړې چه كله په زمكه د ډوډۍ ټكړه اووِينو نو په ادب ئې راپورته كړو، صفا ئې كړو، ښكل ئې كړو او اوئې خورو. يا اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ په سُنّتو باندې د عمل كولو په باره كښې د خلقو نه زمونږه شرميدل ختم كړې او زمونږه بخښنه اوفرمائې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

سُنّتوں سے مجھے مَحَبّت دے
میرے مرشِد کا واسِطہ یا رب!

د سُنّتو سره راكړې محبَّت    زما د پير په واسطه يا رب

## دسترخوان زيات كړه

د بُزرگانو معمول دا دې چه د طعام خوړلو نه پس داسې نه وائې چه "دسترخوان اوچت كړه" بلكه وائې، "دسترخوان زيات كړه" يا طعام زيات كړه." په داسې وئيلو كښې د دسترخوان د زياتيدو او د طعام د زياتيدو او د بَرَكت او فراخۍ دُعا وي. [يعني رِزق دِ ډير شه]

(مُلَخَّصاً سُنِّی بهشتی زيور ص٥٦٦)

## چه كله مې رِساله "بھیانک اُونٹ" اولوستله

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دواړو جهانو بَرَكتونه حاصلولو د پاره د تبلِيغِ قُرآن و سُنَّت د عالمگِير غير سياسي تحرِيك دعوتِ اسلامي د مَدَني

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرَاني)

ماحول سره هر دم خپل تړون مضبوط ساتئ. د دعوتِ اسلامي د بَرَکتونو به څه وائېږ! د گلگته (هِند) د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه عرض کووم، هغوئي وائي چه زه د سُنَّتو د ډك ژوند نه ډير لرې يو فيشني ځلمې ووم، يوه شپه د کور طرف ته راروان ووم نو په لاره مې د شنو عِمامو [يعني شنو پټکو] سپرلي اوليدل، چه نِزدې ورغلم نو معلومه شوه چه د بمبئ نه د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رسول مَدَني قافِله راغلې ده او د هغوئي [د کوششونو] په سبب دلته د سُنَّتو نه ډکه اِجتِماع کيږي. زما په زړه کښې راغله چه دوئي ډير اوګد سفر کړې دې او زمونږه ښار کلکته ته راغلې دي، د دوئي خبره اوريدل پکار دي لِهٰذا زه په اِجتِماع کښې شريك شوم. د اجتِماع په ختميدو هغوئي د مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوې رسالې تقسيمول شروع کړل، زما خوش قِسمتي وه چه يوه رِساله ما ته هم په لاس راغله، په هغې ليکلي شوي وو **بھيانک اُونٹ**. زه کور ته راغلم او دا سوچ مې اوکړو چه صبا به ئې لوَلم او د اوده کيدو تياري مې شروع کړه. د اوده کيدو نه مخکښې مې هسې د رِسالې *بھيانک اُونٹ* پاڼره واړوله نو زما نظر په دې لِيك پريوتو. "**شيطان که هر څومره ناراستي درولي خو تاسو دا رِساله ضرور پوره اولولئ، اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ ستاسو په زړه کښې به مَدَني اِنقلاب راپورته شي.**" دې جُملې زما زبردسته رهنُمائي اوکړه او ما سوچ اوکړو چه واقعي شيطان

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

په كله ما دې رِسالې لوستلو ته پريږدي، صبا چا ليدلې دې، په نيك كار كښې سستي كول نه دي ښكار او بس دا اوس په دې ساعت لوستل پكار دي، دا سوچ مې چه اوكړو او لوستل مې شروع كړل، په هُغه پاك پروردګار عَزَّوَجَلَّ مې دِ قَسم وي د چا په در كښې به چه د قيامت په ورځ پيش كيدل او حساب وركول وي! **چه كله ما رِساله** ***بھیانک اُونٹ*** **لوستله** او په هغې كښې مې د كُفَّارو د طرف نه زمونږ په خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې د شوو ظلمونو د غم نه ډك بيان اولوستو نو زما په ستركو كښې اوښكې راغلې، خوب مې اوتښتيدو او د ډيره وخته پورې مې ژړل. په شپه شپه كښې مې دا اِراده اوكړه چه سحر به سمدستي په مَدَني قافِله كښې سفر كووم، چه سحر مې د مور و پلار په خِدمت كښې عرض اوكړو نو هغوئي په خوشحالئ اِجازت راكړو او زه د درې ورځو د پاره د عاشِقانِ رسول سره د مَدَني قافِلې مُسافِر جوړ شوم، د مَدَني قافِلې والؤ زما بد ژوند په ښه ژوند كښې بدل كړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! زه بيرته نمونځ ګُزاره جوړ شوې راغلم، د شنې عمامې [يعني پټكې] تاج مې په سر كړو، مَدَني [يعني د سُنَّت مطابق] لِباس اغوستل مې شروع كړو. زما په بدليدو باندې زما مور ډيره خوشحاله شوه او ډيرې دُعاګانې ئې راته اوكړې، خپل خپلوان را نه ټول خوشحاله شو.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! نن صبا د **دعوتِ اسلامي** د يو تحصِيل مشاورت د خادِم (يعني نِگران) په حيثيت د خپل توفِيق مطابق د سُنَّتو د خورولو په خِدمت كښې مصروف يم.

عاشِقانِ رسول لائے جنّت کے پھول آؤ لینے چلیں قافِلے میں چلو
بھاگتے ہیں کہاں آ بھی جائیں یہاں پائیں گے جنّتیں قافِلے میں چلو

عاشِقانِ رسول، راوړو ګل د جنّت
ځئ چه مونږ ئې راوړو قافِلو كښې لاړ شئ
څه كوئ اخوا ديخوا، راځئ راشئ هُم ديخوا
ځئ چه جنَّت ګټو، قافِلو كښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## رِسالې تقسيموئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول يو بيلمَانځه، فيشني ځلمي د كوم ځائ نه كوم ځائ ته اورسولو! دا هُم معلومه شوه چه د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي د سُنَّتو نه ډكې رِسالې د تقسيمولو ډيرې فائِدې دي، هغه فيشني ځلمي ''بھیانک اُونٹ'' نومې رِساله اولوستله نو بې تابه شو او سمدستي د **مَدَني قافِلې** مُسافِر جوړ شو او شنه عمامه ئې په سر كړه. لِهٰذا د خپلو عزيزانو د اِيصالِ ثواب د پاره، په عُرسونو، اِجتِماعاتو، د غم ښادئ په دعوتونو كښې، په جنازو او جَنجُونو كښې او د مِيلاد شريف په جُلوسونو كښې د سُنَّتو نه ډكې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

رِسالې او د قِسماقِسم مَدَني ګلونو مُختلفي پرچې د مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه نه په هديه حاصلې كړئ او بنه ډېر ئې تقسيم كړئ، د واده د كارډونو سره هم يوه يوه رِساله تړئ. كه ستاسو وركړې شوې رِساله يا پرچې چا اولوستله او هغه د نمونځونو او سُنَّتو پابند جوړ شو نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ستاسو به هم په دواړو جهانو كښې بيړئ پورېوځي.

ہر مہینے جو کوئی بارہ رسالے بانٹ دے
ان شاءَ اللّٰہ دو جہاں میں اُس کا بیڑا پار ہے

**د شعر ترجمه**: چه څوك هره مياشت دولس رِسالې تقسِيموي، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په دواړو جهانو كښې به د هغه بيړئ پورېوځي.

## ګوتې څټل سُنَّت دي

د **حضرتِ** سَيِّدُنا عامِر بِن رَبِيعه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دي چه نبيءِ پاك، صاحِبِ لولاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په درې ګوتو طعام خوړلو او چه كله به ئې بس كړلو نو هغه [ګوتې] به ئې څټلې.

(مجمع الزوائِد ج٥ ص٢٣ حديث ٧٩٢٣)

## معلومه نه ده چه د طعام په كومه حِصّه كښې بَرَكت دي

**حضرتِ سيِّدُنا** جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ګوتو او د لوښي د څټلو حُكم اوكړو او اوئې فرمائيل: تاسو ته معلومه نه ده چه د طعام په كومه حِصّه كښې بَرَكت دي".

(صحيح مُسلِم ص١١٢٢، الحديث ٢٠٢٣)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قیامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

# د طعام د بَرَکتونو حاصلولو طریقه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! افسوس! په کروړونو افسوس! نن صبا چه د مسلمانانو د طعام خوړلو طریقې ته اوګورئ نو داسې معلومېږي چه ډېر کم خوش نصیبه به داسې وي چه هغوئي به د سُنَّتو مطابق طعام خوري او د دې بَرَکتونه به مومي.په بیان کړې شوي حدیث مبارك کښې فرمائیلي شوي دي: ”تاسو ته نه ده معلومه چه د طعام په کومه حِصّه کښې بَرَکت دې.“ لِهٰذا! مونږ ته کوشش کول پکار دي چه د طعام یوه ذرّه هم ضائِع نه شي، هډوکي وغیره داسې چوپل او څټل پکار دي چه په هغې باندې د غوښې او د خوراك د څیزونو هیڅ قِسمه ذرّه پاتې نه شي، که ضرورت وي نو هډوکي په لوښي کښې اوځنډئ، چه که په هغې کښې [د وریژو وغیره] څه دانه وغیره نښتي وي چه هغه را اوځي او اوخوړې شي، که کیدې شي نو په طعام کښې پخې شوي ګرمې مَصَالې مَثَلًا لاچي، تور مرَچ، لَونګ، دارچیني، وغیره هم اوخورئ، اِنۡ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ فائِده به کیږي. که نه ئې شئ خوړلې نو هم څه ګناه نشته. د بِریاني وغیره نه ثابت شنه مرچکې د غورزولو په ځائ د طعام شروع کولو نه مخکښې راټول کړئ او اوئې ساتئ او آئِنده ئې میده کړئ او په بل څه اِنګولي کښې ئې واچوئ. اکثر خلق د مهې پوستکې هم غورزوي، دا هم خوړل پکار دي. الغَرَض د طعام په ټولو اجزاء [یعني

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې كولې كيږي. (طَبَرانی)

هر څيز] باندې غور كول پكار دي او د هغې هر بې ضرره څيز خوړل پكار دي، او ګوتې او لوښې داسې څټل پكار دي چه په هغې پورې د طعام هيڅ اثر پاتې نه شي.

## د ګوتو څټلو ترتيب

**حضرتِ** سَيِّدُنا كعب بِن عُجره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي چه ما اوليدلو چه د مدينې تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غټه ګوته، د شهادت ګوته او د مينځ ګوته [يعني درې واړه ګوتې] را يو ځاىٔ كړې وې او په درې ګوتو ئې خوراك كولو. بيا ما اوليدل چه د اوچولو نه مخكښ ئې هغه اوڅټلې، د تولو نه مخكښ د مينځ بيا د شهادت او بيا ئې غټه ګوته مُباره اوڅټله.

(مجمع الزوائِد ج٥ ص٢٩ حديث٧٩٤١)

## ګوتې درې ځله څټل سُنَّت دي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** ګوتې درې درې ځله څټل سُنَّت دي، كه د درې ځله څټلو باوجود په ګوتو پورې د خوراك ذرّې نښتي وي نو ډيرې پيرې ئې اوڅټئ تر دې چه د طعام اثر پرې پاتې نه وي. په شمائِلِ ترمِذي كښې دي، "د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به (د طعام نه پس) خپلې ګوتې مباركې درې درې ځله څټلې".

(شمائِلِ ترمِذی ص٦١ حديث١٣٨)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

## لوښي څټل سُنَّت دي

د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بَرَكت نه ډك فرمان دي: "څوك چه ركيبئ [يعني لوښي] او خپلې ګوتې اوڅټي، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه په دُنيا او آخِرت كښې آسوده (يعني موړ) ساتي." (طبرانی كَبِير ج١٨ ص٢٦١ حديث٦٥٣)

## په آخِره كښې بَرَكت زيات وي

سركارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "د طعام لوښي دِ نه اوچتولې شي تر دې چه د خوړلو والا هغه اوڅټي يا ئې په بل چا اوڅټي ځكه چه د طعام په آخِره كښې بَرَكت (زيات) وي." (كنزُ العُمّال ج١٥ ص١١١)

## لوښي د بخښني دُعا كوي

حضرتِ سَيِّدُنا نُبَيشه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي چه مَكِّي مَدَني سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: "څوك چه د طعام نه پس لوښي اوڅټي هغه لوښي به د هغه د پاره اِستِغفار [يعني د بخښني دُعا] كوي." (اِبنِ ماجه ج٤ ص١٤ حديث٣٢٧١) په يو رِوايت كښې دا هُم دي چه هغه لوښي وائي "اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دې د جَهَنَّم نه آزاد كړې څنګه چه ده زه د شيطان نه بچ كړم." (كَنزُ العُمّال ج١٥ ص١١١ حديث٤٠٨٢٢)

مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: ككړ لوښي چه پاك نه كړې شي او دغسې پروت وي نو شيطان ئې څټي." (مِراٰة ج٦ ص٥٢)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

## د لوښي څټلو حِکمتونه

**مُفَسّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: ”په لوښي څټلو کښ د طعام ادب دې، دا طعام د بربادئ نه بچ کول دي، لوښي که دغسې ککړ پريښودې شي نو مچان پرې بنړيږي، په لوښي پورې نښتي د خوراك څيزونه مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ ګنده نالو او ګنده ډيرانونو ته غورزولې کيږي، او دا د طعام سخته بې ادبي ده. که يو وخت هر تن يو څو دانې ضائِع کوي نو هره ورځ به په منونو خوراك بربادېږي. غَرَض دا چه د لوښي په څټلو کښ ډير حِکمتونه دي.“ (مُلَخَّص از مِراٰۃ ج٦ ص٣٨)

## اِيمان تازه کوونکي اِرشاد

**سرکارِ مدينه** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ”پياله څټل ما ته د دې نه زيات خوښ دي چه ډکه پياله طعام صَدَقه کړم.“ (يعني ولې چه په څټلو کښ عاجِزي ده لِهٰذا د دې ثواب د صَدَقه کولو د ثواب نه زيات دې)
(کَنزُ العُمَّال ج١٥ ص١١١ حديث٤٠٨٢١)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”څوك چه رکيبئ [يعني لوښي] او خپلې ګوتې څټي، الله عَزَّوَجَلَّ دِ په دُنيا او آخِرت کښ د هغه خيټه ډکه کړي.“ (يعني په دُنيا کښ دِ د مُحتاجئ او لوږې نه بچ شي او د قيامت د لوَږې نه دِ محفوظه شي، د دوزخ نه دِ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاځيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

پناه ورکړې شي ځکه چه په دوزخ کښې به هيڅ څوك هم نه مريږي)

(طبراني کبير ج١٨ ص٢٦١ حديث ٦٥٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د يو غُلام آزادولو ثواب

حُجَّةُ الْاِسلام اِمام محمّد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ”څوك چه د طعام لوښې اوڅټي او بيا ئې اووِينځي او د هغې اوبه اوڅښي هغه ته د يو غُلام آزادولو ثواب حاصليږي.“ (اِحياءُ عُلومِ الدِّين ج٢ ص٧)

## د وِينځلو او څښلو طريقه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! صِرف د طعام لوښې څټل کافي نه دي، چه کله هم په پيالئ يا ګِلاس کښې چائے، شوده، شوملې، د ميوو رس [يعني جُوس] وغيره استعمال کړئ هغه هم څټئ، وينځئ او څښئ. هم دغسې د اِنګولې [يعني ترکارئ] يا د بل څه خوراك د پخلې کړيچې، ديګچې يا پتيله وغيره هم که تشه شوي وي يا په هغې کښې معمولي غوندې خوراك پاتې وي نو هغه او د راچولو څمڅئ هم که کيدې شي نو پاکوئ عام طور په ديګونو، پتيلو او غټو لوښو کښې څه نه څه خوراك پاتې شي او هغه ضائِع کړې شي. داسې نه دي کول پکار، چه څومره کيدې شي د هغې نه ټول خوراك راوِيستل پکار دي، يوه ذرّه هم مه ضائِع کوئ. دا هم کيدې شي چه هغه [په لړو اوبو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

اووِينځلې شي او هغه اوبه په فرِج كښې اوساتلې شي او بيا په ښځلي كښې استعمال كړې شي، خو دا هر څه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په توفِيق كيدې شي. دا هُم ياد ساتئ چه د لوښي او ګِلاس وغيره په څټلو او وِينځلو كښې دا احتياط ضروري دې چه د هغې نه د خوراك اجزا [يعني ذرّې] ختمې شي. كه په لوښي پورې د خوراك ذرّې نښتي وي نو دې ته وِينځل نه وائي. تجرِبه دا ده چه په يو ځل وِينځلو او څښلو عام طور لوښي نه پاكيږي، لِهٰذا كه دوه يا درې ځله پكښې اوبه واچولې شي او د پاسنۍ غاړې سره هر طرف په ګوته صحيح راپاك كړې شي او اوڅښلې شي نو بهتره ده.

## د وِينځلو او څښلو نه پس پاتې شوې څاڅكي

د وِينځلو او څښلو نه پس هم په ركيبۍ يا پيالۍ وغيره كښې يو څو څاڅكي پاتې شي لِهٰذا په ګوته ئې راجمع كړئ او اوئې څښئ. اوبه يا شربت چه اوڅښې نو په ظاهِره خو ګِلاس يا بوتل تش شي خو د هغې باوجود چه ورته لږ ساعت پس اوګورئ نو د هغې د ديوالونو نه به يو څو څاڅكي راكوز شوي وي او په بيخ [يعني وِيخ] كښې به جمع شوي وي، هغه هم څښئ ځكه چه په حديثِ پاك كښې دي "تاسو ته نه ده معلومه چه د خوراك په كومه حِصّه كښې بَرَكت دې."

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

کاش! چه مونږ ته داسې وِينځل او خښل نصيب شي چه دا نه معلوميږي چه په دې کښې اوس چا څه خوړلي دي يا ئې پکښې شربت وغيره څښلې دې!

## د لوښي وِينځلو او څښلو طِبّي فائِدې

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ عَزَّوَجَلَّ! يو سُنَّت هم د حِکمت نه خالي نه دې. جديد سائِنس هم اوس دا خبره مني چه حَياتيات يعني وِټامِنز خصوصاً "وِټامِن بي کمپليکس" د طعام په پاسنۍ حِصّه کښې کم او د لوښي په بيخ کښې زيات وي او په خوراك کښې موجود مَعدَني نَمکيات صرف د لوښي په بيخ کښې وي او هغه د لوښي څټلو يا د وِينځلو په ذريعه څښلو سره د ډيرو مَرَضونو د مخ نِيوي باعِث جوړيږي.

## د پښتورګي کاڼرې څنګه اووتو

د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافِلو کښې د سفر په بَرَکت بيشميره مسئَلې حل کيږي او د ډيرو مَرَضونو عِلاج کيږي، چنانچه د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دې چه زمونږه د دولسو ورځو مَدَني قافِله چه بيرته راتله نو د بلوچستان په يو سټيشن کوزه شوه، مَدَني قافِلې والا په اِنفِرادي کوشش کښې مشغول شو، په دې دوران کښې مو د هغه ځائ د يو اسلامي ورور سره ملاقات اوشو، هغوئي د مَدَني

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اَللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

قافلو د بَرَکتونو د حاصلولو خپله ذاتي تجرِبه بيانول شروع کړل او وئيل ئې: زه د **پښتورګي** [يعني د ګُردې] **د کانړي** په وجه په سخت تکليف کښې ووم، ډاکټر را ته د آپريشن وئيلي وو، په دې دوران کښې يو اسلامي ورور په ما باندې اِنفرادي کوشش اوکړو او دلاسه ئې راکړه چه يَريږه مه او په مَدَني قافِله کښې سفر اوکړه، په سفر کښې دُعا قبليږي. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به ستا مسئله حل کړي. د هغوئي د محبَّت نه ډك انداز مې په زړه ډير اثر اوکړو او زه **د درې ورځو د مَدَني قافِلې** مسافر جوړ شوم. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په درې ورځو کښې دننه دننه زما د پښتورګي کانړې اووتو. ما چه کله ډاکټر ته اووئيل نو هغه حيران پاتې شو ځکه چه شايد زما کانړې د داسې قِسم وو چه د آپريشن نه بغير ډاکټرانو سره د هغې عِلاج نه وو.

گرچه بیماریاں تنگ کریں پتھریاں پاؤ گے صحّتیں قافِلے میں چلو
گھر میں ناچاقیاں ہوں یا تنگدستیاں پائیں گے بَرَکتیں قافِلے میں چلو

که په تن مو بِيمارئ وي يا ګُرده کښې مو پترئ وي
جوړ به مو شي صِحتونه قافلو کښې لاړ شئ
که په کور کښې وي جنګ يا مو لاس وي ډير تنګ
اُو به مومئ بَرَکتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير کړل هغه د جَنَّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِی)

## تود طعام خوړل منع دي

**حضرتِ** سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه نبيءِ کريم، رءُوف رَّحِيم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: ”تود طعام سړوَئ ځکه چه په تود طعام کښ بَرَکت نه وي. (مُستَدرِك لِلحَاکِم ج ٤ ص ١٣٢ حديث ٧١٢٥)

## طعام ثومره يخ کړي شي

د **حضرتِ** سَيِّدَتُنَا جُوَيرِيه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا نه رِوايت دي چه نبيءِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د طعام د بړاس ختميدو نه مخکښ هغه خوړل نه خوښول. (مَجمَعُ الزوائِد ج ٥ ص ١٣ حديث ٧٨٨٣)

## د تود طعام نُقصانونه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** طعام سوړ خوړل پکار دي خو دومره سوړ نه چه هغه بالکل يخ او بې مزې شي بلکه دومره سَړول پکار دي چه بَړاس ختل ترې بند شي. **مُفَسِّرِ** شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ”د طعام لږ غوندې سړيدل او په پُوکو نه سَړول د بَرَکت باعِث دي، او داسې طعام خوړلو کښ تکليف هم نه وي.“ (مِراٰۃ ج ٦ ص ٥٢) ډير تود طعام يا ډير تود چائے يا کافي وغيره ښنبلو سره د خُلې او د مرئ د پخيدو او د معدې د پړسوب خطره وي او فوراً د دې د پاسه اوبه ښنبلو سره ورو او معدې ته نقصان رسي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

# په طعام كښې مچ

كه په **طعام** يا د ښښلو په يو څيز كښې مچ پريوځي نو هغه خوراك ښښاك غورزول اِسراف او ګُناه ده. مچ له غُوپه وركړئ او تري اوئي باسئ او هُغه خوراك ښښاك بې خَطَره استعمال كړئ. چنانچه د طبيبانو طبيب، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "چه كله په طعام كښې مچ پريوځي نو هغه له غُوپه وركړئ (او تري ئې اوباسئ) ځكه چه د دې په يو وزر كښې شِفا ده او په بل كښې بيماري ده، په خوراك كښې د غورزيدو په وخت مخكښې د بيمارئ والا وزر ور اچوي لِهٰذا پوره [مچ] ته غُوپه وركړئ." (اَبُوداؤد شريف ج ٣ ص ٥١١ حديث ٣٨٤٤)

# د سائِنس اِعتِراف

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مبارك نظر نه قُربان! زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چه څه ليدلي وو، اوس سائِنس هم د هغې په منلو مجبوره دې، چنانچه سائِنسدانانو داخبره منلي ده چه د مچ په يو وزر كښې خطرناك وائِرس (كنده جراثِيم) او په بل كښې دافِع وائِرس (يعني د كنده جراثِيمو د اثر ختملو) جراثِيم وي. مچ چه كله په يو خوراك يا د ښښلو په څيز يعني چائے، شودو يا اوبو وغيره كښې پريوځي نو د وائِرس والا وزر مخكښې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

لګوي او د هغې نه په خوراك ښبناك كښې واِئرس خواره شي او د دې د خوړلو والا د بيمارۍ ښکار جوړيدې شي بيا که مچ غُويه کړې شي نو د بل وزر دافِع واِئرس جراثِيم هغه خطرناك جراثِيم مره کړي او خوراك بې ضرره شي.

## غوښه په شُوکولو خورئ

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا رِوايت فرمائي چه د نبيءِ رَحمت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالِيشان دې: "غوښه (د خوړلو په وخت کښې) په چاړه مه کټ کوئ ځکه چه دا د عَجَمِيّانو طريقه ده، او غوښه په غاښونو شوکوئ او خورئ ځکه چه دا [يعني داسې کول] زيات خوندور او ښه لګي." (اَبُوداؤد شريف ج۳ ص۴۹۰ حديث ۳۷۷۸) که د غوښې غټې ټُکرې مَثَلًا په سکرو پوخ شوې ورون وغيره وي نو بيا د ضرورت مطابق په چاړه باندې کټ کولو کښې باك نشته.

## د چرګ د پټون تور تارونه لرې کړئ

د اعلٰحضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د تحقِيق مطابق په ذَبِيحه [يعني په ذبح شوې خيزونو] کښې ۲۲ خيزونه داسې دي چه د هغې خوړل حرام يا منع، مکرُوه دي. په هم دې کښې يو حرام مَغز دې چه د سپين مزي په شان وي او هغه د دماغو نه شروع کيږي او ښکته په څټ کښې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

راغلې وي او د ملا د تِیر د آخِرې پورې وي او د ښځ [یعني د ورمیږ] دواړو طرفو ته د زیړ رنګ دوه مضبوطې پټې د اُوګو پورې راغلې وي، دا ډیرې کلکې وي په آسانئ نه ېخېږي، دا پټې او غُدود [یعني غوټې، ستغونه] خوړل هم حرام دي. د حلال شوي څاروي وغیره په غوښو کښې چه کومه وِینه پاتې شي، هغه اګر چه پاکه وي [یعني جامې وغیره پرې نه بیلمانځه کیږي] خو دغه **وِینه** خوړل حرام دي. لِهٰذا د غوښې هٰغه حِصّې چه په هغې کښې عام طور وِینه پاتې شي هغه په صحیح طریقه ګورئ. مَثَلًا د چرګ په ېخه شوي غوښه کښې د ورمیږ [یعني ښځ]، وزرو او ښپو او ورنونو نه **تور تارونه** لرې کړئ ځکه چه دا د وِیني رګونه وي، وِینه چه ېخه شي نو توره شي. د چرګ د ورمیږ پټې او حرام مَغز هم مه خورئ.

## دولس کاله مخکښې ورك شوي ورور پیدا شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د سُنّتو د تربِیَّت د پاره د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني قافِلو کښې د **عاشِقانِ رسول** سره سفر جاري ساتئ، د عِلمِ دِین حاصلولو سره سره به مو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د دُنیا مسائِل هم حل کیږي ځنګه چه د دعوتِ اسلامي یوه **مَدَني قافِله** سبز پور (هري پور، خیبر پښتونخواه، پاکستان) کښې د سُنّتو نه په ډك سفر وه، په هغې کښې یو اسلامي ورور اووئیل چه زما مشر ورور د روزګار په سلسله کښې د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښ ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

ملك نه بهر تلې وو، دولس کاله اوشو چه د هغوئي هيڅ معلومات نشته. د هغوئي د درې بچو او د دې ماشومانو د مور خرخ خوراك زمونږه په ذِمَّه دي او غريبي مو هم ده، زه د **عاشقانِ رسول** سره د دُعا په نِيَّت د مَدَني قافلې مسافر جوړ شوې يم. د **مَدَني قافِلې** د ختميدو نه تقريباً يوه هفته پس هغه اسلامي ورور په يوه **مَدَني مشوره** کښ شريك شو، د هغوئي جذبات د ليدو قابِل وو، په ژړا ژړا ئې وئيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په مَدَني قافِله کښ د سفر په بَرَکت کرم اوشو، زمونږه د دولسو کالو نه د ورك مشر وررو فون راغې او د هغوئي د طرف نه مونږ ته يو لاك او پينځه وِيشت زره روپۍ هم رارواني دي.

جو کہ مَفقود ہو وہ بھی موجود ہو ان شاءَاللّٰہ، چلیں قافِلے میں چلو
دُور ہوں سارے غم ہوگا ربّ کا کرم غم کے مارے سُنیں قافلے میں چلو
که وي شوې خوك جُدا، هم به شي راپيدا اِنْ شَآءَاللّٰه راځئ قافِلو کښ لاړ شئ
لرې به شي هر غم، اُو به شي د رب کرم غم زيلو راځئ قافِلو کښ لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دُعا نه قبليدو حِکمتونه.........

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! داسې ډير واقِعات دي چه په هغې کښ په مَدَني قافِلو کښ د سفر کوونکو په دُعاګانو کولو د هغوئي ارمانونه پوره شوي دي، ډير به داسې اووِينئ چه د هغوئي مُرادونه نه دي پوره شوي. که کله ستاسو د دُعا د قبليدو اثرات ښکاره نه شو نو بيا هم د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې راضي اوسئ ځكه چه كله كله داسې هم وي چه مونږه څه غواړو د هغې په نه راكولو كښې زمونږه خير وي څنګه چه د اعلٰحضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه والِدِ ګرامي رئِيسُ الْمُتَكَلِّمِين حضرت علّامه مولانا نقى على خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په "اَحْسَنُ الْوِعاء" كښې فرمائي: حِكمتِ اِلٰهى دې چه ته كله د نادانئ په وجه د هغه نه څه څيز غواړې او هغه په خپله مهربانئ ستا دُعا په دې وجه نه قبلوي چه [هغه څيز] ستا د پاره مُضِر (يعني نقصاني) دې. مَثَلًا ته سِيم و زَر (يعني دولت) غواړې او د هغې په دركولو كښې ستا د اِيمان خطره ده، يا ته تندرستي او عافِيَّت (يعني صِحَّت) غواړې او هغه په عِلمِ اِلٰهى كښې ستا د عاقبت (يعني د آخِرت) د نقصان سبب دې. داسې ردّ (يعني داسې دُعا نه قبليدل ستا د پاره) د قبليدو نه بهتر دې، ته په دې (آيتِ مُبارکه)

عَسٰۤى اَنْ تُحِبُّوْا شَیْــٴًـا وَّ هُوَ شَرٌّ لَّكُمْ ؕ (پ۲ اَلْبَقَرہ ۲۱۶)

مفهوم ترجمۂ كنزُ الايمان: نِزدې ده چه څه خبره ستاسو خوښه شي او هغه ستاسو په حق كښې بده وي.

باندې نظر ساته او په دې رد (يعني نه قبليدو) باندې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ شُكر ادا كړه. او كله د دُعا په بدله كښې د آخِرت ثواب وركول مقصد وي. ته حُطامِ دُنيا (يعني د دنيا ذليله دولت) غواړې او پروردګار عَزَّوَجَلَّ ستا د پاره نَفائِسِ آخِرت (يعني د آخِرت بهترين نعمتونه) ذخِيره كوي. دا د شُكر مقام دې د ګِيلې مقام نه دې.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غوارې. (طَبَرَانی)

## خِلال

د **طعام** خوړلو نه پس په څه ډکي وغيره خِلال کول سُنَّت دي. ځينې اسلامي ورونړه د خِلال دپاره داور بَلَوَلو د تِيلې نه بارُود اورژوي، داسې نه دي کول پکار ځکه چه داسې بارود ضائِع کيږي. په بل څه ډکي دِ خِلال اوکړې شي، د خِلال په اَهَمِّيَّت باندې اَحادِيثِ مُبارکه شته دي. چنانچه

حضرتِ سيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: ”څوك چه طعام اوخوري (او په غاښونو کښې ئې څه اونښلي) هغه که په خِلال اوباسي نو ټُوك دِ ئې کړي او که په ژبه ئې را اوباسي نو تير دِ ئې کړي. چا چه داسې اوکړو ښه ئې اوکړو او [که داسې ئې] اُو نه کړو نو هُم باك نشته.“ (اَبُوداؤد شريف ج۱ ص٤٦ حديث٣٥)

## کِراماً کاتِبِين او خِلال نه کوونکي

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو اَيُّوب اَنصاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي چه حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږه خوا ته تشريف راوړو او اوئې فرمائيل: خِلال کوونکي خومره ښه دي.“ صحابهٔ کِرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان عرض اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! په څه څيز خِلال کوونکي؟ اوئې فرمائيل:”په اودس کښې خِلال کوونکي او د **طعام** نه پس خِلال

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

کوونکي. د اودس خِلال خُله وِينځل، په پوزه کښې اوبه اچول او د ګوتو په مينځ کښې (خِلال کول) دي او د طعام خِلال د طعام نه پس دې او په کِراماً کاتِبِين (يعني اعمال ليکلو والا دواړو بُزرګو فرښتو) باندې د دې نه زياته بله يوه خبره سخته نه وي چه هغه په کوم کس باندې مقررې دي هغه په دې حال کښې په نمانځه کولو اووينې چه د هغه د غاښونو په مينځ کښې څه څيز وي." (طبراني کبير، ج٤، ص١٧٧، حديث ٤٠٦١)

## پان خوړلو والا دِ توَجُّه اوکړي

زما آقا اعلٰحضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي، د پان ډير زيات عادت لرونکي خاص طور چه کله د غاښونو چاوونه جُدا جُدا وي دا تجربه لري چه د چالِيه نرئ نرئ ذرّې او د پان ډيرې وړې وړې ټکړې د خُلې په غاړو او ګوټونو کښې داسې اونښلي چه درې څلور ځله څه کله لس ځله خُله وِينځل هُم د هغې د مُکمَّلې صفائي د پاره کافي نه وي، هغه نه په خِلال کولو را اوځي او نه په مِسواك کولو، سِوا په خُله کښې د اوبو اچولو [او اوبو له د حرکت ورکولو] نه ځکه چه اوبه په چاوونو کښې داخِلې شي او په خُله کښې خوزولو سره [په چاوونو کښې اُوځي او را اُوځي او] وړې وړې ذرّې په قلاره قلاره د ځان سره راخلاصوي، د دې هُم څه حد نه شي مقرَّر

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُ الْعُمَّال)

کیدې او دا مکمَّله صفائي هم مُؤَکِّد ده (یعني د دې سخت تاکِید دې) په ډیرو حدیثونو کښې ارشاد شوې دې چه بنده کله په نمانځه اودرېږي، فرښته د هغه په خُله باندې خپله خُله کیږدي دا چه څه لولي، د ده د خُلې نه اُوځي او د فرښتې خُلې ته داخِلیږي، په هغه وخت که د خوراك څه څیز د هغه په خُله کښې وي نو فرښتو ته د هغې نه دومره سخت تکلیف رسیږي چه داسې تکلیف هغوئي ته د بل څه نه، نه رسي. حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: چه کله په تاسو کښې څوك د شپې په نمانځه اودریږي نو پکار ده چه مِسواك اوکړي ځکه چه کله هغه په خپل نمانځه کښې قِراءَت کوي نو فرښته خپله خُله د هغه په خُله باندې کیږدي او څه څیز چه د ده د خُلې نه اُوځي هغه د فرښتې په خُله کښې داخلیږي.

(کَنزُ الْعُمَّال ج۹ ص۳۱۹)

او طَبَراني په کَبِیر کښې د حضرتِ سَیِّدُنا اَبُو اَیُّوب اَنصاري رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت کړې دې چه په دواړو فرښتو باندې د دې نه زیات بل څیز سخت نه وي چه هغوئي خپل ملګرې په نمانځه کولو اووِیني او د هغه په غاښونو کښې د خوراك ذرّې نښتي وي.

(مُعجَمُ الْکَبِیر ج٤ ص١٧٧. فَتَاوٰی رَضَوِیّه جِلد اَوّل. ص٦٢٤ نه ٦٢٥ رضا فاؤنڈیشن مرکزُ الاولیاء لاهور)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (ترمِذی)

# د غاښونو کمزوري

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِبنِ عُمر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡھُمَا فرمائي: ”کوم خوراك (د غوښې تِيلئ وغيره) چه په غاښونو کښې پاتې شي هغه غاښونه کمزوري کوي.“ (مَجمَعُ الزَّوَائِد ج۵ ص۳۲ حديث۷۹۵۲)

# خِلال څنګه پکار دې؟

**خوږو خوږو اِسلامي وروڼو!** چه کله هم طعام يا بل څه اوخورئ نو د **خِلال** عادت جوړول پکار دي. بهتره دا ده چه **خِلال** د شنډئ د ډکي وي ځکه چه د دې په تريخ والي د خُلې صفائي کيږي او دا د ورو د پاره فائِده مند وي، بازاري TOOTH PICK [يعني د غاښونو ډکي] عام طور پيړ او کمزوري وي. د کوپرې د تِيلو د غير اِستعمال شوي جارو د يوې تِيلئ يا د مَيزرې د پزَکي [پُـو زي] د يوې پتې نه د پـَترې په ذريعه ډير شي مضبوط د **خِلال** ډکي تياريدې شي. کله کله د جامني د غاښونو په چاوونو کښې د غوښې تِيلئ وغيره داسې اوننبلي چه هغه په ډکي وغيره نه را اُوځي. داسې تِيلئ راوِيستلو د پاره په ميډيکل ستور کښې د خاص قِسم تارونه (flossers) تر لاسه کيږي او د آپريشن د سامان په دُکان کښې د غاښونو [د ګَرَوَلو] د ستيل پترې(curved sickle scaler) هم پيدا کيږي خو د دې خيزونو د استعمال طريقه زده کول ډير ضروري دې ګني ورئ زخمي کيدې شي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

## د خِلال ووه نِيَّتونه

په **حديثِ** پاك كښې دي، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ **محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عظِيمُ الشَّان دې: **"د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دې."** (طَبَرانی معجم کَبِیر ج٦ ص١٨٥ حدیث ٥٩٤٢) د **خِلال** شروع كولو نه **مخكښې** بلكه د خوراك شروع كولو نه **مخكښې** دا نِيَّتونه كوئ او د ثواب خزانه حاصِلوئ. ﴿١﴾ د خوراك نه پس به د **خِلال** سُنَّت ادا كووم ﴿٢﴾ د **خِلال** شروع كولو نه به **مخكښې** بِسْمِ الله لوَلم ﴿٣﴾ د مِسواك كولو د پاره به مدد [يعني آسانې] حاصلووم (ځكه چه د غاښونو په چاوونو كښې نښتې د خوراك ذرّې چه كله سخا شي نو ورئ كمزورې او خرابې شي، وِينې ترې بهيږي او بيا مِسواك كول مُشكِل شي) ﴿٤﴾ په اوداسه كښې به د خُلې صحيح پاكولو د پاره مدد حاصلووم (د خُلې دننه په هره پُـرزه او د غاښونو په چاوونو باندې اوبه بهيول، داسې درې ځله خُله وِينځل په اوداسه كښې سُنَّتِ مُؤَكَّده دي او دغسې په غُسل كښې يو ځل خُله وِينځل فرض او درې ځله سُنَّت دي) ﴿٥﴾ غاښونه د مَرَضونو نه د بچ كولو په ذريعه به د عِبادت د پاره قُوَّت حاصلووم (ځكه چه د خِلال كولو په ذريعه د خوراك ذرّې اوځي او دغسې ورئ د بيمارو نه بچ كيږي، او د ښه صِحَّت په ذريعه د عبادت د پاره قُوَّت حاصليږي) ﴿٦﴾ خُله به د بدبوئي نه بچ كووم او جُمات ته به خپل داخِليدل بحال ساتلو د پاره مدد حاصلووم (ښكاره خبره ده چه د خوراك

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

ذرَّات په غاښونو کښې نښتي وي نو هغه به سخا او بدبوداره شي، او چه په خُله کښې بدبوئي وي نو جُمات ته داخليدل حرام دي) ﴿۷﴾ فرښتو ته د تکليف ورکولو نه به ځان بچ کووم (په خُله کښې چه د خوراك ذرّې نښتي وي نو په [داسې حالت کښې په] نمانځه کښې په قرآن لوستلو فرښتو ته تکليف رسيږي)

## د خُلې وِينځلو طريقه

په **اوداسه** کښې داسې خُله وِينځل ضروري دي چه د خُلې هرې پُـرزې او د غاښونو چاوونو وغيره ته اوبه اورسي. په اوداسه کښې داسې درې ځله خُله وِينځل **سُنَّتِ مُؤَکَّده** دي او په غُسل کښې يو ځل فرض او درې ځله سُنَّت دي. که روژه مو نه وي نو غرغره هم اوکړئ. د غوښې تِيلئ وغيره راوِيستل ضروري دي. خو که د غوښې څه تِيلئ يا د چاليه وغيره څه ذرّه بالکل نه را اوځي نو بيا دومره سختي هم مه کوئ چه ورئ مو زخمي شي ځکه چه ځوك مجبوره دې هغه معذوره دې.

## د خِلال طِبّي حِکمتونه

**زمونږه** خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نن نه څوارلس سوه کاله نه زياته موده مخکښې د ډيرو مَرَضونو نه د حِفاظت د پاره د خِلال اَهَمِّيَّت ښودلې وو. اوس څو صدئ پس سائنسدانان هم په دې پوهه شو. چنانچه د خِلال د حِکمتونو په باره کښې طِبيبان [ډاکټران] داسې

وائي، "د خوراك نه پس د طعام وغيره ذرّې د غاښونو او د ورو د مينځه اوننبلي، كه هغه د خِلال په ذريعه را اُو نه وِيستلې شي نو هغه سخا كيږي او د هغې نه يوه خاص قِسم پلازمه جوړه شي او هغه ورئ پړسوي او د هغې نه پس غاښونه او ورئ د يو بل نه جُدا كوي او د دې په نتيجه كښې په قلاره قلاره غاښونه اُوځي، د خِلال نه كولو په وجه په غاښونو كښې د پائرِيا (PHYORRHEA) [يعني د ورو پړسيدو او د غاښونو نه د جُدا كيدو] بيماري هم پيدا كيږي، په دې مَرَض كښې په ورو كښې نَو اوشي او بيا ترې خطرناكې بيمارئ پيدا كيږي.

## د غاښونو كينسر

د **چائے** او پان عادت لرونكي دِ د خوراك كمولو سره سره د چائے او د پان كمولو سوچ هم جوړ كړي داسې نه چه تاسو په طعام خوړلو كښې كمې راولئ او مَكّار نفس تاسو د لوَږې ماتولو په دوكه كښې د چائے او د پان د زيات والي په آفت كښې اخته كړي. چائے د پښتوَرګو [يعني ګُردو] د پاره نقصاني دې. د پان، ګُټكا، [ماوا]، مين پوړي، د خوشبودارو كاكو والا سُپاري او د چاليه عادت ختمولو كښې مو خير دې. ځوك چه دا څيزونه ډير زيات استعمالوي هغوئي ته **د ورو، خُلې او د مَرئ د كينسر خطره وي**. د زيات پان خوړلو والا خُله د دننه نه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

سره شي که خُله ئې وِينې شي يا پکښې نَو اوشي نو هغوئي ته به نه ښکاري او خيټې ته به ځي. ولې چه د يوې مودې پورې نَو کوي خو درد بالکل نه کوي ځکه به شايد هغوئي ته هله معلوميږي چه کله خدانخواسته څه خطرناکې بيمارئ جرړې ښخې کړې وي!

## د جعلي کَتَّهې تباهيانې

په **پاکستان** کښې غالِباً د کَتَّهې پيداوارنه کيږي، لِهٰذا د دولت حِرص لرونکې چه هغوئي د خپل آخِرت او د بل د دُنيا د **بربادېدو** هيڅ پرواه نه لري، هغوئي په **خاورو** کښې د خرمني **رنګ** کولو رنګ ګډ کړې او هغه خاوره د **کتَّهې** په نوم خرڅوي او دغسې **پاکستاني پان خواره** غريبانان هغه ګنده خاوره خوري او په قِسم قِسم مَرَضونو کښې اخته کيږي او د تباهئ سره **مخامخ** کيږي. د معلوماتو لرلو باوجود **جعلي کتَّهه** بالکل مه استعمالوئ، جعلي کتَّهه خرڅولو والا او پان خرڅولو والا دِ د دې کار نه په رښتياؤ توبه اوکړي او قصداً خاوره خوړلو والا دِ هم بس کړي. د خاورو په باره کښې شرعي مسئَله دا ده، "**په معمولي مِقدار کښې خاوره خوړلو کښې باك نشته خو د ضرر يعني د نقصان ورکوونکې مِقداره پورې خوړل حرام دي**"

(رَدُّالْمُحْتَار ج۱ ص۳٤٦، بهارِ شريعت حِصّه۲ ص٦٣)

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

## د غاښونو وِيني کيدلو اسباب

ځيني خلق چه مِسواك کوي نو خُله ئې وِيني کيږي بلکه د داسې خلقو به د طعام سره خيټې ته هُم وِينه ځي. د دې يو سبب د خيټې خرابِي هم ده. داسې مريض ته د قبض عِلاج کول ضروري دي. د درونډ او بادي خوراکونو نه دِ پرهيز کوي او ځان دِ پوره نه مړوي، بې وخته دِ يو څيز هم نه خوري. بل سبب ئې دا دې چه د غاښونو په صفائي کښې د بې پرواهئ په وجه د خوراك ذرّات د غاښونو او د ورو په مينځ کښې جمع شي او د چونې په شان کلك اونښلي، د ډاکټرانو په ژبه کښې دې ته ټاټر TATAR وائي. ځکه ډاکټر له لاړ شئ که د نيك طبيعت والا ډاکټر وو او څه رُکاوټ نه وو نو په يو وخت کښې به د ټولو غاښونو صفائي (scaling) اوکړي. ګني د ډيرو پيسو وهلو په چکر کښې به لړ لړ کار کوي او يو څو پيرې فالتو د تلو راتلو تکليف به درکړي!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د غاښونو بهترين عِلاج مِسواك

که په صحيح طريقه مِسواك کوئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ کله به هم د غاښونو په مَرَض کښې نه اخته کيږئ. کيدې شي چه ستاسو په زړه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

کښې دا خیال راشي چه زه خو د کلونو نه مِسواك استعمالووم خو زما غاښونه او خیټه دواړه خراب دي. زما ساده اسلامي وروره په دې کښې د مِسواك نه بلکه ستاسو خپل قصور دې، زه سګِ مدینه عُفِیَ عَنۡهُ په دې نتیجه رسیدلې یم چه نن به شاید په لکونو کښې یو نیم کس داسې وي چه هغه به د صحیح اُصولو مطابق مِسواك استعمالوي! مونږه اکثر زر زر په غاښونو پورې مِسواك اومږو، اودس اوکړو او رَوان شو، یعني داسې وئیل پکار دي چه مونږه مِسواك نه کوو بلکه هسې "رَسمِ مِسواك" ادا کوو!

## د مِسواك څوارلس مَدَني ګلونه

﴿۱﴾ د مِسواک پیړ والې د کچې ګوتې یعني د وړوکي ګوتې همره پکار دې ﴿۲﴾ مِسواک چه د یو لویشت نه زیات اوګد نه وي، ګني په هغې شیطان کښیني ﴿۳﴾ د دې ریشې [یعني برش] نرم پکار دي سختې ریشې د غاښونو او د ورو په مینځ کښې د "چاؤ" (GAP) پیدا کیدو باعث جوړیږي. ﴿۴﴾ مِسواک که تازه وي نو ډیره ښه ده، او که [تازه] نه وي نو لږ ساعت ئې د اوبو په ګِلاس کښې کیږدئ چه نرم شي ﴿۵﴾ مناسِب دا دي چه د دې برش هره ورځ پریکوئ ځکه چه د دې برش د هغې پورې د کار دې ترڅو چه په دې کښې

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

تریخ والي پاتې وي ﴿٦﴾ د غاښونو په پلن والي کښې مِسواک کوئ ﴿٧﴾ چه کله هم مِسواک کوئ کم نه کم درې ځله ئې کوئ ﴿٨﴾ هر ځل ئې وينځئ ﴿٩﴾ مِسواک په ښي لاس کښې داسې نيسئ چه کچيچ ګوته ترې لاندې، د مينځ درې ګوتې پرې د پاسه وي او غټه ګوته ئې په سر [د برش سره] وي ﴿١٠﴾ مخکښې د ښي طرف په پاسني غاښونو کښې، بيا د ګڅ طرف په پاسني غاښونو کښې، بيا د ښي طرف په لاندِيني غاښونو کښې او بيا د ګڅ طرف په لاندِيني غاښونو کښې مِسواک کوئ ﴿١١﴾ په ملاسته چه شا لګيدلې وي مِسواك کول د توري د غټيدو او ﴿١٢﴾ مِسواک په موټې کښې د نيولو سره په مِسواک کولو کښې د بواسيرو کيدو خطره ده ﴿١٣﴾ مِسواک د اودس سُنّتِ قبلِيَّه دې البَتَّه سُنَّتِ مُؤَکَّده هغه وخت دې چه په خُله کښې بدبوئ وي. (ماخوذ از فتاوىٰ رَضَوِيَّه ج١ ص ٢٢٣) ﴿١٤﴾ د استعمال شوي مِسواک د برش ريشې او چه کله د استعمال قابِل پاتې نه شي نو غورزَوئ ئې مه، ځکه چه دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، چرته ئې په اِحتياط سره کيږدئ يا ئې خخ کړئ، يا ئې په سمندر کښې واچوئ.

(د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د مکتبةُ المَدينه مطبوعه بهارِشريعت جلداوّل حصّه ٢ ص ٢٩٤ نه٢٩٥ پورې اولولئ)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې كولې كيږي. (طَبَرانی)

## د غاښونو د حِفاظت د پاره څلور مَدَنې ګلونه

﴿۱﴾ د څه خوړلو يا چائے وغيره څښلو نه پس درې ځله داسې خُله وِينځئ چه هره پيره اوبه په خُله كښې يو مِنټ نِيم ښې اړوئ را اړوئ او بيا ئې توك كړئ ﴿۲﴾ چه كله هم موقع مومئ په خُله كښې اوبه اچوئ او د يو څو مِنَټه د پاره ئې په خُله كښې اړوئ را اړوئ بيا ئې توك كړئ. دا عمل هره ورځ په مختلفو وختونو كښې كوئ ﴿۳﴾ كه په بيان كړې شوې طريقه باندې د خُلې وِينځلو د پاره د ساده اوبو په ځائ مالګينې اوبه استعمال كړې شي نو زيات فائِده مند به وي. كه په پابندئ سره داسې كوئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د غاښونو په مينځ كښې نښتې د خوراك ذرّې به په وِينځلو وِينځلو لرې كيږي او په ورو كښې به نه نښلي، دغسې به د سخا كيدو نه په حِفاظت كښې وي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ داسې كولو سره به د ورو د وِينې كيدو شكايت هم نه پيښيږي ﴿۴﴾ د زيتون شريف تيل په غاښونو باندې مږلو سره ورئ او ړقيدلي غاښونه مضبوطيږي.

## د خُلې د بدبوئې عِلاج

كه د چا خُله بوئې كوي نو شنه دنړيا دِ اوجووي د دې نه علاوه د ګُلاب تازه يا وَچو شوو د ګُلونو پاڼړو باندې د غاښونو مږلو سره

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذی)

به هم اِنْ شَآءَاللّٰہعَزَّوَجَلَّ بوئي لرې شي. خو که د خيټې د خرابئ په وجه بدبوئي راځي نو کم خوراك کوئ او د لوَږې د بَرَکتونو حاصِلولو سره به اِنْ شَآءَاللّٰہعَزَّوَجَلَّ د ښپو او د بدن د مختلفو حِصُّو د درد، د قبض، د معدې د سوزيدلو، د خُلې د پخيدلو، د ټُوخي، زر زر نزله زُکام کيدلو، د مرئ د درد نه او د ورئ وِينې کيدلو وغيره ډيرو مَرَضونو نه خلاصي اومومئ. د ځان نه مَرِولو په بَرَکت د اتيا فِيصده مَرَضونو نه حفاظت کيدې شي. (د تفصِيلي معلوماتو د پاره د فيضانِ سُنَّت باب ''د خيټې قُفلِ مدينه اولولئ) که د نفس د حِرص عِلاج اوشي نو ډير مَرَضونه به پخپله ختم شي.

رضاؔ نفس دشمن ہے دم میں نہ آنا
کہاں تم نے دیکھے ہیں چند رانے والے (حدائقِ بخشش شریف)

رضا نفس دُښمن دې په دوکه کښ مه راځه
تا چرته دي ليدلي داسې غټ دوکه باز

## د خُلې د بدبوئي عِلاج

دا درود شريف په موقع موقع په يوه ساه کښ يوولس ځله لولئ اِنْ شَآءَاللّٰہعَزَّوَجَلَّ د خُلې بدبوئي به مو ختمه شي.

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ عَلَی النَّبِیِّ الطَّاھِر

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

## په یوه ساه کښې د وئیلو طریقه

په یوه ساه کښې د وئیلو بهتره طریقه دا ده چه خُله بنده کړئ او په قلاره قلاره په پوزه ساه اغستل شروع کړئ او چه څومره کیدې شي هغه همره هوا په سګِي [یعني پهیپړو] کښې جمع کړئ او بیا درود شریف لوستل شروع کړئ. چه یو څو ځله داسې مشق اوکړئ نو د ساه ماتیدو نه مخکښې مخکښې به إِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ د یوولس ځله وئیلو ترکیب جوړ شي. په دې بیان شوي طریقه چه په پوزه باندې ښه ډیره ساه واغستې شي او څومره کیدې شي حِصاره کړې شي او د هغې نه پس په خُله خارِجه کړې شي نو دا د صِحت د پاره ډیر زیات فائِده مند دي. په ټوله ورځ کښې چه کله موقع وي خاص طور په ښکاره هوا کښې هره ورځ یو څو ځله داسې کول پکار دي.

ما ته (یعني سګِ مدینه عُفِیَ عَنْهُ) ته یو سپین ږِیري حکِیم صاحِب وئیلي وو چه زه ساه واخلم او د نیمې ګینټې (یا ئې وئیلي وو چه د) دوه ګینټو پورې هوا دننه حصاره کړم او په دې دوران کښې خپلې وظیفې وغیره هم لوستلې شم. د هغه حکیم صاحِب د وینا مطابق په دُنیا کښې د ساه حصارولو داسې ماهران هم شته دې چه سحر ساه واخلي نو ماښام ئې اوباسي!

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې په ورځ کښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعنې لاس مِلاووُم). (ابنِ بشکوال)

# پينځه خوشبوداره خُلې

د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يوه عظيمه مُعجِزه اوګورئ چه د هغې په بَرَکت د پينځه خوش نصيبو [زنانه] صحابياتو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُنَّ خُلې د هميشه د پار خوشبوداري شوې. چنانچه حضرتِ سَيِّدَتُنَا عُمَيره بِنتِ مسعُود انصارِيَّه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهَا فرمائي چه مونږه پينځه خويندې د **حُضُورِ اکرم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې د بَيعت د پاره حاضري شو. حُضُورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هغه وخت **قَدِيد** (يعنې اوچه کړې شوې غوښه) خوړله. حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قَدِيد يوه ټُکړه **اوجُووله** او نرمه ئې کړه او مونږ ته ئې راکړه نو مونږ هرې يوې لږه لږه اوخوړله (د هغې په بَرَکت) د مرګ د ساعته پورې زمونږه د خُلو نه هميشه خوشبو راتلله.

(اَلْخَصَائِصُ الْكُبْرٰى ج۱ ص۱۰۵)

**حضرتِ** سيّدُنا ابُو اُمامه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ فرمائي چه په مدينهٔ مُنَوَّره کښې يوه بې شرمه او بد زبانه ښځه وه. يو ځل هغه د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوا تيريدله، حُضُورِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه وخت قَدِيد يعنې د اوچې غوښې ټُکړې خوړلې، هغې هم د هغې [غوښې] نه اوغوښتله. حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلې مخې [ته د پرتې] حِصّې نه څه ورکړه، هغې اووئيل، نه، په خپله **خُله مبارکه** کښې مو چه ده هغه راکړئ. هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې نه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات دروودِ پاک لوستلي وي. (ترمذی)

را اووِيستله او ورئې کړه، هغې په خپله خُله کښې واچوله او اوئې خوړله، د دې واقعې نه پس د هٰغه ښځې نه بد زباني يا فُحش کلامي [يعني د بې حيائي خبرې] وا نه اوريدې شوې. (اَلْخَصَائِصُ الْکُبْرٰی ج۱ ص۱۰۵)

## تيز باران

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره خپل تړون هر وخت مضبوط ساتئ، د سُنَّتو نه ډکه اِجتِماع کښې شِرکت کوئ. اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د آخِرت بيشميره خيرونه به مو نصيب شي بلکه دُنياوي پريشانئ به مو هم لرې شي او د عاشِقانِ رسول په نِزديکت به مو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ دُعاګانې هم قبليږي، داميرُالْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عِلِيُّ الْمُرتَضٰی كَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم نه رِوايت دې چه مَکِّي مَدَني سرکار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دې: اَلدُّعَاءُ سِلَاحُ الْمُؤْمِنِ، وَعِمَادُ الدِّيْنِ، وَنُوْرُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ (مُسنَدِ اَبِي يَعْلٰی ج۱ ص۲۱۵ حديث۴۳۵) يعني دُعا د مُؤمِن وَسله ده او د دِين ستن ده او د زمکې او د آسمان نُور دې.“ خاص طور په سفر کښې دُعا نه رد کيږي او که د عاشِقانِ رَسُول مَدَني قافِله وي نو بيا خو به ئې څه وائې! چنانچه د دعوتِ اسلامي د عاشقانِ رَسُول د سُنَّتو د تربِيَّت يوه مَدَني قافِله نِکيال (کشمير، پاکستان) کښې په سفر وه. د هغه ځائ اوسيدونکو خلقو د دُعا درخواست اوکړو چه د نِکيال مسلمانان د ډيرې مودې نه د باران د رَحمت نه محرومه دي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

چنانچه مَدَني قافِلې والؤ د اِجتِماعي دُعا ترکيب جوړ کړو. په دُعا کښې د نِکيال ډير مسلمانان شريك شو، ورځ وه او نمر راختلې وو، عاشِقانِ رسول په ژړا او زارو زارو دُعا شروع کړه، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ! په لږ ساعت کښې د رَحمت درنې وريځې خورې شوې او تيز باران شروع شو! د خوشحالئ نعرې پورته شوې او خلق په باران کښې ښه لامده شو، د حاضرو خلقو په زړونو کښې د دعوتِ اسلامي محبَّت او د مَدَني قافِلې د عاشِقانِ رَسُول ډير زيات عقيدت پيدا شو. په دعوتِ اِسلامي والؤ باندې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دا عظِيم کرم ئې چه په ښکاره ستركو اوليدو نو ډير اسلامي ورونړه د دعوتِ اِسلامي په مَدَني ماحول کښې شامِل شو او په نِکيال کښې د دعوتِ اِسلامي مَدَني کارونه تيز شو.

قافِلہ میں ذرا، مانگو آکر دعاء
ہوں گی خوب بارشیں قافِلے میں چلو
عاشِقانِ رسول لے لو جو کچھ بھی پھول
تم کو سنّت کے دیں قافِلے میں چلو

قافِله کښې اوغواړه، څه چه غواړې دُعا
او به شي ډير بارانونه قافِلو کښې لاړ شئ
له عاشقانِ رَسُول، نه ئې کړه ته قبول
د سُنَّتو ډير گُلونه قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د لاسو غوړوالي

د حضرتِ سيِّدُنا عبدُ الله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوايت دې چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ محبوب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چه په دې حال کښې شپه تيره کړي چه د هغه په لاس باندې (د طعام) د غوړوالي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

اثر وي او هغه ته څه مصيبت اورسي نو سِوا د خپل ځان نه دِ بل څوك نه ملامته كوي." (مَجْمَعُ الزَّوائِد ج٥ ص٣٣ حديث٧٩٥٤)

## د مار خطره

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د طعام نه پس لاسونه په صابُن وغيره باندې په ښه طريقه وِينځل او په توليه اوچول پكار دي چه د طعام بوئي او غوړوالي ترې لاړ شي ځكه چي تاسو چه د چا سره مصافَحه كوئ [يعني لاس وركوئ] هغه ته كركه محسوسيدې شي. **مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الْاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "په دې حديثِ پاك كښې د مُصيبت نه مُراد د مار يا د مرږي [منږك] چيچل دي، دا دواړه خيزونه د طعام په بوئي پسې راځي يا د دې نه مُراد د برص [يعني د برَګي] مرض دې ځكه چه د طعام ككړ وَچ شوي لاسونه په خُوَلو لامده شي او د بدن كومې حِصّې ته اولګي په هغه ځائ د برَګي د سپينو داغونو پيدا كيدو خطره وي." (مِراٰةُ شرحِ مِشكوٰة ج٦ ص٣٨)

خليلِ مِلَّت مُفتي محمَّد خليل خان بركاتي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: چه د طعام نه بس كړي او د لاسونو وِينځلو نه بغير اوده شي نو شيطان ئې لاسونه څټي او مَعَاذَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د برَګي د پيدا كيدو باعِث جوړيږي.

(سُنِّي بهشتي زيور ص٦٠٧)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

## د بل چا لوښي استعمالول څنګه دي؟

چه د چا د کور نه په تُحفه کښې طعام راشي نو لوښي خالي کوئ او فوراً ئې ورکوئ. که هغه وخت ئې نه شئ ورکولې نو امانتاً ئې کيږدئ او بيا وروستو ئې ورکړئ خو ياد ساتئ چه د بل چا هغه لوښي په استعمال کښې راوستل جائِز نه دي. (ايضاً ص ٥٦٩) که په ژوند کښې درنه چرې دا ګناه شوي وي نو د لوښي د مالِك نه معافي اوغواړئ او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې په رښتيني توبه هم اوکړئ.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مُصطفٰی ﷺ په سُنَّت کښې عَظَمت او عَظَمت دي

## د پينځه وِيشتو حُروفو په نِسبت د طعام ۲۵ سُنّتونه

(۱) حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په ډېره لګولو خوراك نه کولو (مُلَخَّصاً سُنَنِ اَبی داؤد ج۳ ص٤٨٨ حديث٣٧٦٩) (۲) په ميز باندې به ئې طعام نه خوړلو (مُلَخَّصاً صحيح بُخاری ج۳ ص٢٤ حديث٥٣٨٦) (۳) چه څه به موجود وو خوړل به ئې (مُلَخَّصاً صحيح مُسلِم ص١١٣٤ حديث٢٠٥٢) (٤) نه خو به ئې د کور والؤ نه طعام غوښتلو او نه به ئې د هغوئي په مخکښې خواهِش ظاهرولو، که هغوئي به وړاندې کړلو نو خوړلو به ئې او هغوئي به چه ورته څه مخې ته ايښودل هغه به ئې قبلول او چه څه به ئې د څښلو د پاره وړاندې کول، څښل

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

به ئې (مُلَخَّصاً اتحاف السّادة المتّقِين ج۸ ص۲٤۸) **(٥)** ځيني وخت به پاڅيدلو او پخپله به ئې د خوراك څښناك څيز راواخستلو. (مُلَخَّصاً اَبی داؤد ج٤ ص٥ حديث ۳۸٥٦) **(٦)** حضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د خپلې مخې نه [طعام خوړلو]. (مُلَخَّصاً شعب الايمان ج٥ ص۷۹ حديث٥۸٤٦). **(۷)** او په درې ګوتو به ئې طعام خوړلو. (مُلَخَّصاً المُصَنَّف ِبن اَبی شيبه ج٥ ص٥٥۹ حديث۳). **(۸)** او کله کله به ئې په څلورو ګوتو هم خوړلو. (مُلَخَّصاً اَلجَامِعُ الصَّغِير ص۲٥۰ حديث٦۹٤۲) خو په دوو ګوتو به ئې نه خوړلو، ارشاد فرمائي صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا [په دوه ګوتو خوړل] د شيطان د خوراك طريقه ده. (مُلَخَّصاً فيض القدير مع جَامِع الصَّغِير ج٥ ص۲٤۹ حديث٦۹٤۰) **(۹)** د وربشو د بې چنړه وړو ډوډۍ به ئې خوړله. (مُلَخَّصاً صحيح بُخاری ج۳ ص٥۳۱ حديث٥٤۱۰) **(۱۰)** د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طعام به اکثر کجورې او اوبه وې. (مُلَخَّصاً صحيح بُخاری ج۳ ص٥۲۳ حديث٥۳۸۳) **(۱۱)** حُضُورِ پاك صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به شوده او کجورې يو ځائې استعمالول او دې ته به ئې دوه ښه طعامونه وئيل. (مُلَخَّصاً مُسند اِمام احمد ج٥ ص۳۸٥ حديث۱٥۸۹۳) **(۱۲)** د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه خوښ طعام غوښه وه (مُلَخَّصاً جامع تِرمِذی ج٥ ص٥۳۳ حديث۱۷۸) **(۱۳)** حُضُورِ اقدس صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ارشاد فرمائيلو: غوښه د غوړونو **سماعت** [يعني د اوريدو طاقت] زياتوي او په دُنيا او آخِرت کښې د طعامونو سرداره ده. که ما اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ته سوال کړې وو چه ما ته هره ورځ غوښه راکړې نو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

راکوله به ئې. (مُلَخَّصاً اتحاف السّادة المتّقِين ج٨ ص٢٣٨) **(١٤)** رَسُولِ اَکرم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د غوښې او کَدو ثَرِيد جوړولو او خوړلو (يعني د غوښې او کدو شريف په اِنکولي کښې به ئې ډوډۍ ماتوله او صحيح به ئې پکښې پستوله او خوړله) (مُلَخَّصاً اتحاف السّادة المتّقِين ج٨ ص٢٣٩) **(١٥)** سرکار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چه کله غوښه خوړله نو د هغې طرف ته به ئې سر مُبارك نه ټِيټولو. (مُلَخَّصاً اتحاف السّادة المتّقِين ج٨ ص٢٣٩) بلکه هغه به ئې خپلې خُلې مبارکې ته راپورته کوله او بيا به ئې په مبارکو غاښونو شوکوله. (مُلَخَّصاً جامع ترمِذی ج٣ ص٣٢٩ حديث١٨٤٢) **(١٦)** سرکار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د چيلۍ (او د چيلې په غوښه کښې دَست (يعني د مخکښينۍ ښپې پتون) او د اوګې [غوښه] خوښه وه. (مُلَخَّصاً جامع ترمِذی ج٣ ص٣٣٠ حديث١٨٤٢، ١٨٤٤) **(١٧)** حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پښتوَرګې [يعني ګُردې] خوړل نه خوښول ځکه چه هغه مِتيازو ته نِزدې وې. (مُلَخَّصاً کَنزُ العُمّال ج٧ ص٤١ حديث١٨٢١٢) **(١٨)** سرکار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د توري (خوړلو) نه نفرت کولو خو دا ئې حرام اونه ګرځولو. (مُلَخَّصاً اتحاف السّادة المتّقِين ج٨ ص٢٤٣) **(١٩)** خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپلو مبارکو ګوتو لوښې څټلو او فرمائيل به ئې چه د طعام په آخِره کښې بَرَکت زيات وي. (مُلَخَّصاً شعب الايمان ج٥ ص٨١ حديث٥٨٥٤) **(٢٠)** د حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په تازه ميوو کښې خټکي او کوَر [يعني اَنګور] زيات خوښ وو. (مُلَخَّصاً کَنزُ العُمّال ج٧ ص٤١ حديث١٨٢٠٠) **(٢١)** خټکي به ئې د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : څوک چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (کَنزُ العُمّال)

ډوډۍ او شكَرې سره خوړلو (مُلَخَّصاً اتحاف السّادة المتّقِين ج٨ ص٢٣٦) **(٢٢)** كله كله به ئې د لـمدو كجورو سره (ختَكې) خوړلو (مُلَخَّصاً جامع تِرمِذی ج٣ ص٣٣٢ حديث١٨٥٠) **(٢٣)** د دواړو لاسو نه به ئې مدد اغستو، يو ځل ئې لـمدې كجورې په ښي لاس خوړلې او هډوكي ئې به كَڼ لاس كښې ايښودل، يوه چيلۍ تيريدله، آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغې ته په هډوكي اِشاره اوكړه، هغې د سركار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د كَڼ لاس نه (هډوكي) خوړل شروع كړل او حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ښي لاس خوړلې تر دې چه حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فارغ شو نو هغه هم لاړه. (مُلَخَّصاً اتحاف السّادة المتّقِين ج٨ ص٢٣٧) **(٢٤)** سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به كچه اُوړه، كچه پياز او كَندنه (د يو قِسم بدبوداره سبزي وي) نه خوړل. (مُلَخَّصاً تاريخِ بغداد ج٢ ص٢٦٢) **(٢٥)** آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم كله هم يو خوراك ته بد نه دې وئيلې، كه خوښ به ئې شو نو خوړلو به ئې او كه خوښ به ئې نه شو نو لاس مُبارك به ئې اودرولو. (مُلَخَّصاً صحيح مُسلِم ص١١٤١ حديث ٢٠٦٤)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د طعام ٩٢ مَدَني ګلونه د خوراك نِيَّت اوكړئ

﴿١﴾ د **طعام** خوړلو مقصد خوند اخستل او خواهش پوره كول نه دې پكار بلكه د خوراك وخت كښې دا نِيَّت كوئ، "زه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

عبادت د پاره د قُوَّت حاصلولو په نِيَّت خورم'' ياد ساتئ! د خوراك په ذريعه د عِبادت حاصلولو نِيَّت به په هُم دې صورت کښې د رښتياؤ وي چه د ځان پوره نه مَړولو اِراده هم وي ګني د سره به نِيَّت د دروغو شي ځکه چه ځان ښه پوره مَړولو سره د عبادت د پاره د قُوَّت حاصلولو په ځائ نوره سُستي پيدا شي. د طعام عظيم سُنَّت دا دې چه بنده اوږې وي ځکه چه د لوَږې نه بغير خوراك کولو سره به طاقت څه پيدا شي بلکه صِحَّت ورسره خرابيږي او زړه هم ورسره سختيږي. حضرتِ سَيِّدُنا شيخ ابُو طالِب مَکِّي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه فرمائي چه په يو رِوايت کښې دي: چه بنده موړ وي او د پاسه پرې طعام خوري نو دا بَرص [يعنې د برګې مَرَض] پيدا کوي.

(قُوتُ الْقُلُوب ج۲ ص۳۲٦ مرکزِ اهلِسُنَّت بَرَکاتِ رضا هِند)

﴿۲﴾ **داسې** دسترخوان خوروئ چه په هغې څه حَرف، لفظ، عِبارت، شِعر يا د کمپنئ وغيره نوم په اُردو [پښتو]، انګريزي يا بله ژبه کښې نه وي ليکلې شوې.

﴿۳﴾ د **طعام** خوړلو نه مخکښې او وروستو دواړه لاسونه د ګيټو [يعنې د مړوندونو د جوړه] پورې وينځل سُنَّت دې، خُله اووِينځئ او د خُلې باهر طرف هم اووِينځئ خو د طعام نه مخکښې وِينځلې شوي لاسونه [په توليه وغيره] مه اوچوَئ. سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

دي: د طعام خوړلو نه مخکښ او وروستو اودس کول (يعني لاسونه او خُله وِينځل) په رزق کښ فراخي راولي او شيطان لرې کوي.“

(كَنزُ العُمّال ج١٥ ص١٠٦ حديث ٤٠٧٥٥)

﴿۴﴾ که د طعام خوړلو د پاره چا خُله اُو نه وِينځله نو دا به نه وائيو چه ده سُنَّت پريښودل. (مُلخَّص از بهارِ شريعت حصّه ١٦ ص١٨ مدينةُ المُرشِد بريلي شريف)

﴿۵﴾ د طعام خوړولو وخت کښ ګخه ښپه راټولوئ او ښي زنګون ولاړ ساتئ يا په سُرِين [يعني په ناسته کښ په زمکه د لګيدو په ځائ] کښينئ او دواړه زنګونان اودروئ يا د اَلتَّحِيَّات په شان کښينئ، په درې واړو کښ چه څنګه کښينئ سُنَّت به ادا شي.

## په پرده کښ د پرده[1] کولو عادت جوړ کړئ

﴿٦﴾ که اسلامي ورور وي او که اسلامي خور وي ټول دِ د څادر يا د کُرتې [يعني د قميص] د لمَن په ذريعه ضرور **په پرده کښ پرده** کوي ګني که جامې تنګې وي يا د کُرتې لمَن اوچته شوې وي نو د کور وغيره کسان د بد نظرئ په ګناه کښ اخته کيدې شي. که په پرده کښ پرده نه شي کيدې نو بيا د اَلتَّحِيَّات په شکل کښ کښينئ نو سُنَّت به هُم ادا کيږي او پخپله به **پرده** هم اوشي. د طعام خوړلو نه علاوه هم په ناسته کښ **په پرده کښ د پرده** کولو عادت جوړ کړئ.

[1] يعني مخکښ وروسته ځان په څادر وغيره يا په لـمن صحيح پټول.

﴿۷﴾ طعام خوړلو ته پرلت وَهَل سُنَّت نه دي، په داسې ناسته خوراك سره خيټه هم غټيږي.

﴿۸﴾ د وړومبئ نوړئ نه مخكښ **بِسْمِ الله** د دويمې نه مخكښ **بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰن** او د دريمې نه مخكښ **بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم** لولئ.

(إحياءُ العُلوم ج ٣ ص ٦)

﴿۹﴾ **بِسْمِ الله** په زوره لَولئ چه نورو ته هُم ورياديږي.

﴿۱۰﴾ د خوراك شروع كولو نه مخكښ كه دا دُعا اولوستلې شي نو كه په خوراك كښ زهر هُم وي نو اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ اثر به نه كوي. دُعا دا ده:

**بِسْمِ اللهِ وَبِاللهِ الَّذِىْ لَايَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَاءِ يَاحَیُّ يَا قَيُّوْم**

**ترجَمه:** د الله تعالٰى په نوم شروع كووم د چا د نوم په بَرَكت چه د زمكې او د آسمان يو څيز هم نقصان نه شي رَسَوَلې، اے هميشه ژوندې قائِم اوسيدونكيه.

(كَنزُ الْعُمَّال ج ١٥ ص ١٠٩ حديث ٤٠٧٩٢)

﴿۱۱﴾ كه په شروع كښ **بِسْمِ الله** لوستل هير شي او د طعام په دوران كښ درياد شي نو داسې اولولئ: **بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ** **ترجَمه:** د الله عَزَّوَجَلَّ په نوم د خوراك شروع او آخره.

## د خوراك په وخت كښ هم ذِكرُ الله جاري ساتئ

﴿۱۲﴾ **يَا وَاجِدُ** چه څوك په هَره نوړئ وائي اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ هغه خوراك به د هغه په خيټه كښ نُور جوړ شي او بيماري به لرې كيږي. يا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (ترمذی)

﴿١٣﴾ د هرې نوَړۍ نه مخکښې "الله" يا "بِسْمِ الله" لوَلۍ چه د خوراك حِرص مو د ذِكرُ الله عَزَّوَجَلَّ نه غافِله نه کړي. د هرو دوو نوَړو په مينځ کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه، يَاوَاجِدُ او بِسْمِ الله لولئ نو دغسې به هره نوَړۍ د بِسْمِ الله نه شروع کيږي په مينځ کښې به يَاوَاجِدُ او د نوَړۍ په آخِره به د حَمد ترکيب جوړيږي.

﴿١٤﴾ په خورِين لوښي کښې خوراك کول افضل دي ځکه "چه څوك په خپل کور کښې خَورِين لوښي جوړوي [يعني ساتي] فرښتې د هغه کور د ليدلو د پاره راځي." (ردُّالمُحتار ج٩ ص٤٩٥)

﴿١٥﴾ د اِنګولي يا چکنۍ لوښي په ډوډۍ د پاسه مه ګږدئ. (اَيضاً ص٤٩٠)

﴿١٦﴾ لاسونه يا چاړه په ډوډۍ مه اوچوئ. (ايضاً)

﴿١٧﴾ په زمکه باندې دَسترخوان خورَوَل او [په دسترخوان] طعام خوړل سُنَّت دي، په ډېره وَهلو، په سر تور سر يا يو لاس په زمکه اينښودلو، څيلۍ په ښپو، په ملاسته يا په پرلت وهلو طعام مه خورئ.

﴿١٨﴾ چه د ډوډۍ دسترخوان راشي نو د اِنګولي اِنتِظار مه کوئ او د اِنګولي نه بغير ئې خوړل شروع کړئ. (ردُّالمُحتار ج٩ ص٤٩٠)

﴿١٩﴾ د طعام په شروع او آخِره کښې مالګه يا مالګِين څيز خورئ ځکه چه د دې سره اويا بيمارۍ لرې کيږي. (اَيضاً ص٤٩١)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

﴿۲۰﴾ **ډوډۍ** په يو لاس مه ماتوئ ځکه چه دا د کبرژنو خلقو طريقه ده.

﴿۲۱﴾ **ډوډۍ** په ګڅ لاس کښ نيسئ او په ښي لاس ئې ترې ماتوئ چه دا سُنَّت دي. چه ډوډۍ يا ډبل روټې ماتوئ نو لاس ورمخکښ کوئ او د اِنګولي د تالي بالکل د مينځ د پاسه د ماتولو عادت جوړ کړئ. دغسې به ذرَّات په اِنګولي کښ پريوځي ګني په دسترخوان چه اوغورزيږي نو **ضائِع** کيدې شي.

﴿۲۲﴾ په **ښي** لاس خوراك کوئ، په ګڅ لاس خوراك څښاك، اخستل، ورکول د **شيطان** طريقه ده.

## په درې ګوتو د خوراك عادت جوړ کړئ

﴿۲۳﴾ په **درې** ګوتو يعني د مينځ، د شهادت او غټه ګوته باندې خوراك کوئ ځکه چه دا د انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَام سُنَّت دي. د عادت جوړلو د پاره که غواړئ نو په شروع کښ د ښي لاس د ورې ګوتې خوا ته ګوته راماتوئ او د ربړ ټيلئ ور اچوئ يا د ډوډۍ يوه ټُکړه په دې دواړو ګوتو د ورغوي طرف ته زور کړې نيسئ يا دواړه کارونه يو ځائ کوئ، چه کله مو عادت جوړ شي نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ربړ وغيره حاجت به نه پيښيږي. حضرتِ سيِّدُنا عَلَّامه علي قاري رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: په پينځه واړه ګوتو خوراك کول د حريصانو [يعني د حِرص لرونکو] نښه ده، (مِرقاة ج۸ ص۹) که د وريږو داني جُدا جُدا وي او په

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شریف کثرت کوئ بېشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو یَعلیٰ)

درې ګوتو ترې نوړئ نه جوړېږي نو په څلورو يا پينځه ګوتو ئې خوړلې شئ.

## د ډوډۍ غاړې ماتول

﴿۲٤﴾ د **ډوډۍ** غاړې لرې کول او مينځ ئې خوړل اِسراف او ګناه ده، خو که غاړې ئې کچه پاتې شوې وي او د هغې په خوړلو کښې د نُقصان خطره وي نو بيا ئې ترې لرې کولې شئ، هم دغسې که دا معلومات وي چه د ډوډۍ غاړې به بل څوك اوخوري، ضائِع کېږي به نه، نو بيا په ماتولو کښې باك نشته، هم دا حُکم د هغه د پاره هُم دې چه په ډوډۍ کښې پولۍ شوې ځائ خوري او نوره پرېږدي.

(مُلخّص از بهارِ شریعت ج۳ حصّه ١٦ ص ۳۷۷)

## د غاښونو کار د کولمو نه مه اخلئ

﴿۲٥﴾ وړه **نوړئ** کوئ او په دې احتياط چه د خُلې د چَپ چَپ آواز نه پيدا کېږي او په خُله کښې ئې ښه ميده کوئ. که صحيح ئې اُو نه جُوَئ او تيره ئې کړئ نو د هضمولو د پاره به معدې ته سخت تکليف پينښېږي، لِهٰذا د غاښونو کار د کولمو نه مه اخلئ.

﴿۲٦﴾ **تر څو** چه د حلق نه ښکته نه شي د بلې نوړئ را پورته کولو د پاره لاس وړاندې کول يا نوړئ را پورته کول د **حِرص** نښه ده.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

﴿۲۷﴾ دوډۍ په غابښونو راماتول بې حده عيب او د بې بَرَكتۍ باعِث دي، دغسې په ولاړه ولاړه خوراك كول سُنَّتِ نصارىٰ [يعني د عيسايانو طريقه] ده. (سُنّي بهشتی زیور ص۵٦۵)

## ميوه د طعام نه مخكښ خوړل پكار دي

﴿۲۸﴾ زمونږ د خلقو ميوه په آخِره كښ د خوړلو عادت دې او حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: كه ميوه وي نو مخكښ دِ هغه وړاندې كړې شي ځكه چه په طِبّي لِحاظ سره دا مخكښ خوړل موافِق [يعني د صِحت د پاره بهتر] دي، دا زر هضميږي ځكه دا د معدې په لاندې حِصّه كښ پكار ده او د قُرآنِ پاك نه هُم د ميوو په مخكښ كولو خبرداري حاصليږي چنانچه سيپاره ۲۷ سُوْرَةُ الْوَاقِعه آيت ۲۰ او ۲۱ كښ اِرشاد شوې دي:

وَفَاكِهَةٍ مِّمَّا يَتَخَيَّرُوْنَ ﴿۲۰﴾
وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿۲۱﴾

مفهوم ترجمهٔ كنزُ الايمان: او ميوې چه كومې خوښوي او د مرغو غوښه چه كومه غواړي،"

(اِحياءُ العُلوم ج۲ ص۲۱)

زما آقا اعلٰحضرت اِمام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه د طعام نه مخكښ هِندوانه خوړل خيټه ښه وِينځي او بيماري د ستې [يعني بيخ نه] ختموي." (فَتَاوٰی رَضَوِيّه جديد جِلد ۵، ص۴۴۲)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

## په طعام کښې عيب مه راوباسئ

﴿۲۹﴾ په **طعام** کښې د هيڅ قِسمه عيب مه راوباسئ مَثَلًا دا مه وائې چه مزيدار نه دې، سم نه دې پوخ شوې، مالګه پکښې کمه ده، ډير تريخ دې، پِـيکـه پِـيکـه لګي، وغيره وغيره. که خوښ مو شي نو اوئې خورئ او که ښه درباندې نه لګي نو مه ئې خورئ، خو که د ښخولو والا پوهه کول مو مقصد وي نو ځان له ځائ کښې د هغه په پوهه کولو کښې باك نشته.

## په ميوو کښې عيب راوِيستل زيات بد دي

﴿۳۰﴾ په **ميوو** کښې عيب راوِيستل د اِنسان پوخ کړي شوي طعام کښې د عيب راوِيستلو په مقابَله کښې زيات بد دي ځکه چه په طعام ښخولو کښې د اِنساني لاس زيات دَخَل وي او د ميوو مُعامَله جُدا ده.

﴿۳۱﴾ د **طعام**،يعني د اِنګولي وغيره [د لوښي] په مينځ کښې نوَرئ مه پورې کوئ ځکه چه په مينځ کښې بَرَکت نازليږي.

﴿۳۲﴾ د **خپلې** مخې نه خوراك کوئ، هر طرف لاس مه وهئ.

﴿۳۳﴾ که په يو تالي [مجمه وغيره] کښې مختلِف [يعني بدل بدل] خيزونه وي نو د بل طرف نه هم خوړلې شئ.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

## د طعام خوړولو وخت کښې بې بې خبرې

﴿۳۴﴾ د **طعام** خوړولو وخت کښې خاموشه اوسيدل بنه ګنړل د آتش پرستو [يعني د اور د عبادت کوونکو] طريقه ده، او که زړه مو خبرې کول نه غواړي نو باك نشته، او فُضول خبرې کول خو په يو حال کښې مناسب نه دي لِهٰذا د طعام خوړلو په وخت کښې بې بې خبرې کوئ. مَثَلًا چه کله هم په کور کښې يو ځائ يا د ميلمنو وغيره سره طعام خورئ نو د خوراك څښاك سُنَّتونه بيانوئ. کاش چه! د خوراك څښاك د دې مَدَني ګلونو فوټو کاپياني په فريم کښې يا په ګته پورې اونښلولې شي او د طعام خوړلو په ځائ کښې اولګولې شي او د طعام په وخت کښې کله کله تهولو ته لوستلې شي.

﴿۳۵﴾ د **طعام** په دوران کښې داسې خبرې مه کوئ چه خلقو ته کرکه محسوسه شي مَثَلًا د دست، پيچس، ګرځُون [يعني اُلټو] وغيره تذکِره.

﴿۳۶﴾ د طعام خوړونکي نوَرو ته نيغ نيغ مه ګورئ.

## بنه بنه بوټي اِيثار کوئ

﴿۳۷﴾ د **طعام** نه بنه بنه بوټي راټولول، يا که يو ځائ ئي خوري نو په دې وجه غټې غټې نوړئ په خُله کول او زر زر تيرول چه چرې اوربې پاتې نه شم، يا خپلې مخې ته زيات خوراك راجمع کول، غَرَض دا چه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

په هره طريقه نور محرومه كول، په دې ليدونكې بدظَنه [يعني زړه بدې] كيږي او دا د بې لِحاظه او حِرص ناكو خلقو طريقه ده. كه ښه خيزونه د خپلو اسلامي ورونړو او د كور د كسانو د پاره د اِيثار كولو [يعني قربانولو] په نِيَّت پريږدئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ثواب به مومئ. څنګه چه د دوارو جهانو سُلطان صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: "څوك چه د څه څيز خواهش لري، بيا هغه خواهش حِصار كړي (او نور خلق) په خپل ځان غوره كړي نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه اوبخښي." (اتحاف السّادة المتَّقِين ج۹ ص۷۷۹)

## د لويدلو دانو خوړلو فضِيلت

﴿۳۸﴾ د **طعام** خوړلو په وخت كښې كه څه دانه [ټُكړه] يا نوړئ پريوځي نو را اوچته ئې كړئ او اوئې خورئ ځكه چه په داسې كولو د **بخښنې** بِشارت [يعني زيرې] دې.

﴿۳۹﴾ په **حديثِ پاك** كښې دي، څوك چه د طعام لويدلې ټُكړې را پورته كړي او او ئې خوري هغه د فراخئ (يعني خوشحالئ) ژوند تيروي او د هغه د اولاد او د اولاد د اولاد د كم عقلئ نه حِفاظت كيږي.

(كَنزُ العُمّال ج۱۵ ص۱۱۱ حديث۴۰۸۱۵)

﴿۴۰﴾ **حُجَّةُ الْاِسلام** حضرتِ سيّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نقل فرمائي: "د دوډئ ټُكړې او ريزې را ټولوئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوشحالی

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

به مو نصيب شی او بچي به مو صحيح او سلامت او **بې عيبه** وي او هغه ټُکرې به د حُورو **مهر** جوړيږي." (اِحياءُ العُلوم ج۲ ص۷)

﴿۴۱﴾ **لويدَلې** ډوډۍ چه را اوچته کړې نو د هغې ښکلول جائِز دي.

﴿۴۲﴾ په **دسترخوان** چه کومې دانې يا ريزې وغيره پريوځي هغه په چرګانو، مرغو، غواګانو يا چيلۍ باندې خوړل جائِز دي. يا ئې په احتياط داسې ځائ کښې واچوئ چه مِيږې ئې اوخوري.

## طعام پُوکل منع دي

﴿۴۳﴾ د **طعام** او چائے سړَولو د پاره پُوکې مه ورکوئ ځکه چه په داسې کولو بې بَرَکتي راځي. زيات تود طعام مه خورئ، دومره انتِظار کوئ چه د خوراك قابِل شي. (مُلَخّصاً رَدُّالمُحتار ج۹ ص۴۹۱)

﴿۴۴﴾ د **طعام** په دوران کښې هم اوبه په ښي لاس څښئ، داسې نه ده پکار چه لاس مو ککړ وي او ګِلاس [يا جام] په ګڅ لاس کښې اونيسئ او د ښي لاس ګوته ورسره اولګوئ او زړه کښې دا وائې چه په ښي لاس ئې څښم.

## اوبه په چُوپـلـو چُوپـلـو څښئ

﴿۴۵﴾ که **اوبه** وي او که د څښلو بل څيز وي هميشه ترې **مخکښې** بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡم لوستل او وړوکي وړوکي ګُوټُونه کول پکار دي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

خو چه د چوپلو آواز پيدا نه شي. که اوبه وي او که د ښنبلو بل څيز په غټو غټو ګوټونو ښنبلو د ځيګر بِيماري پيدا کيږي. آخِره کښ اَلْحَمْدُ لِلّٰه لولئ. افسوس! په چُوپـلـو د ښنبلو په سُنَّت اوس شايد که څوك عمل کوي، برائے کرم د دې مَشق [يعني پريکټِس] اوکړئ او په دې سُنَّتو عمل کوئ.

﴿٤٦﴾ چه لګه لوَږه لا پاتې وي نو د طعام نه بس کوئ.

## خوند صِرف د ژبې د ستې پورې دې

﴿٤٧﴾ ځان پوره مړول سُنَّت نه دې، که زړه مو زيات خوراك غواړي نو ځان داسې پوهه کوئ چه صِرف د ژبې د سر نه واخله د ستې پورې خوند وي چه حلق ته کوزه شي نو خوند ختم شي نو د دې لږ ساعت د خوند د پاره سُنَّت پريښودل عقلمندي نه ده. او د زيات خوراك کولو سره طبيعت دروند شي، په عِبادت کښ سستي راځي، معده خرابيږي او ځيني کس ورسره پيړيږي هم او د قبض، ګيس، شُوګر او زړه وغيره بيمارو اِمکان ورسره زياتيږي.

﴿٤٨﴾ د فارِغ کيدو نه پس مخکښ د مينځ ګوته بيا د شهادت ګوته او بيا غټه ګوته درې درې ځله څټل پکار دي. ”سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د طعام نه پس خپلې ګوتې مُبارکې درې ځله څټلې. (شمائِلِ ترمِذی ص٦١ حدیث١٣٨)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمذی)

## لوښي ختمۍ

﴿۴۹﴾ **لوښي** هُم ختمۍ. حديثِ پاك كښ دي: "د طعام نه پس چه څوك لوښي ختمي نو هغه لوښي د هغه د پاره دُعا كوي او وائي، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ تا د جهنَّم د اور نه **آزاد** كړي څنګه چه تا زه د **شيطان** نه آزاد كړم." (كَنزُالعُمّال ج۱۵ ص۱۱۱ حديث۴۰۸۲۲) او په يو رِوايت كښ دي چه لوښي د هغه د پاره **اِستِغفار** [يعني د بخښني دُعا] كوي. (اِبنِ ماجه ج۴ ص۱۴ حديث۳۲۷۱)

﴿۵۰﴾ په كوم لوښي كښ چه اوخورۍ هغه د ختملو نه پس [په لړِو شان اوبو] وِينځۍ او هغه اوبه څښۍ اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د يو غُلام آزادولو ثواب به مومۍ. (اِحياءُ العُلوم ج۲ ص۷)

## د وِينځلو طريقه

﴿۵۱﴾ **ختمل** او وِينځل به هله صحيح منل شي چه په لوښي پورې د خوراك اجزا [يعني ذرّې] او د ښوروا اثر وغيره پاتې نه شي. لِهٰذا لړِي شان اوبه پكښ اچول او د پاسنۍ غاړې نه واخله د مينځه پورې هر طرف په ګوته صحيح راپاكول او څښل پكار دي. دوه يا درې ځله چه داسې اووِينځل شي او اوڅښل شي نو اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ لوښي به ښه صفا شي.

﴿۵۲﴾ د **څښلو** نه پس په ركيبۍ، تالي وغيره كښ پاتې شوې اوبه هم په ګوته راجمع كول او څښل پكار دي، هسې نه چه د مَصَالې څه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِیمان)

ذرّه په څه ځائ پورې نښتي پاتې شي او په هغې کښې بَرَکت هم لا رِ شي ځکه چه په حديثِ پاك کښې دا هُم دي: "تا سو ته نه ده معلومه چه د طعام په کومه حِصَّه کښې بَرَکت دې."

(صحيح مُسلِم ص ١١١٢٣ حديث ١٠٢٣)

﴿٥٣﴾ په اِنګولي ککړې کاسې، خمڅۍ او د چائے، شوملو، د ميوو د رس، د شربت او نورو د ښښلو د څيزونو ککړ کنډولې، جام، ګِلاس او جګ وغيره هُم [په لږو شان اوبو] داسې صفا وِينځئ او هغه اوبه ښښئ چه د خوراك يوه ذرَّه يا څه اثر پرې پاتې نه شي او دغسې ډير ډير بَرَکتونه حاصِل کړئ.

﴿٥٤﴾ په ګِلاس کښې د مسلمان پاتې شوې صفا سُتره جُوټه د استعمال قابلې کيدو باوجود فُضُول اړول اِسراف دې او اِسراف حرام دې.

(مُلَخَّصاً سُنِّي بهشتی زیور ص ٤٦٧)

﴿٥٥﴾ په آخِره کښې اَلْحَمْدُ لِلّٰه لولئ. مخکښې وروستو ماثُور (يعني د قُرآن و حديث) دُعاګانې که درته يادې وي، هغه هم لولئ.

﴿٥٦﴾ لاسونه په صابُن ښه صفا سُتره وِينځئ چه بوئي او غوړوالې ترې لرې شي.

## د طعام نه پس مسح کول سُنَّت دي

﴿٥٧﴾ په حديثِ پاك کښې دا هُم دي، (يعني د طعام نه د فارِغ کيدو نه پس) سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لاسونه مُبارك اووِينځل او د لاسونو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشکوال)

په لـمدوالي ئې د مخ او مړوندونو او سر مبارك مسح اوكړله او خپل خوږ صحابي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ ته ئې اوفرمائيل: **عِکراش!** کوم ځيز ته چه اور اولګيدو (يعني په اور پوخ شو) د هغې د خوراك نه پس دا **اودس** دې." (ترمِذی شریف ج۳ ص۳۳۵ حديث۱۸۵۵)

﴿۵۸﴾ د **طعام** نه پس د غاښونو **خِلال** كول سُنَّت دي.

## تیر شوي ګناهونه معاف

﴿۵۹﴾ حُضور صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوك چه طعام اوخوري او دا کلِمات اووائي نو د هغه تير شوي ټول **ګناهونه به معاف** کړې شي.

د دُعا هغه کلِمات دا دي:

"اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنِیْ هٰذَا وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِّنِّیْ وَلَا قُوَّةٍ."

ترجَمه: ټول ثنا صِفت اللّٰه تعالٰی لره دي چا چه په ما دا طعام اوخوړلو او زما د څه مهارت [یعني کمال] او قُوَّت نه بغیر ئې ما ته دا رِزق راكړو.(ترمِذی شریف ج۵ ص۲۸۴)

﴿۶۰﴾ د طعام نه پس دا دُعا هُم لولئ:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِیْنَ

ترجَمه: د الله عَزَّوَجَلَّ شُکر دي چا چه په مونږه اوخوړله او اوڅښله او مونږه ئې مسلمانان جوړ کړو. (اَبُوداوٗد شریف ج۳ ص۵۱۳ حديث۳۸۵۰)

﴿۶۱﴾ که بل چا درباندې خوړلي وي نو دا دُعا هم اولولئ.

اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِیْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِیْ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په هغه باندې **اوخورې** چا چه په ما **اوخوړه** او په هغه باندې اوڅښې چا چه په ما اوڅښله. (صحيح مُسلِم ص۱۳۶ حديث۲۰۵۵)

﴿۶۲﴾ د طعام خوړلو نه پس دا دُعا هُم لولئ:

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَاَطْعِمْنَا خَيْرًا مِّنْهُ

ترجَمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ زمونږ د پاره په دې طعام کښې بَرَکت راکړې او **په مونږه** د دې نه بهتر طعام اوخورې. (اَبُوداؤد شريف ج۳ص۴۷۵ حديث۳۷۳۰)

﴿۶۳﴾ د **شودو** څښلو نه پس دا دُعا لولئ:.

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ

ترجَمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ زمونږ د پاره په دې کښې بَرَکت راکړې او مونږ ته د دې نه زياته را عطا کړې. (اَيضاً)

﴿۶۴﴾ د **سرکارِ** مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حلوه، شهد، سِرکه، کجورې، هِندوانه، تَره او کدو مبارك ډير خوښ وو.

﴿۶۵﴾ په **غوښه** کښې ئې د چيلئ د **مخکښينو** ښپو د وړون، د ورميږ او د ملا غوښه خوښه وه.

﴿۶۶﴾ آقائے مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به کله کله کجورې او هِندوانه او يا کجورې او تَره او يا کجورې او ډوډئ يو ځائ خوړل.

﴿۶۷﴾ د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **کولې** [کويَلې يعني د ښځې د تالي په بيخ کښې چه کوم اِنګولې د ډير ښخوالي په وجه وَچ غونډې پاترې اونيسي هغه] خوښ وو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

﴿۶۸﴾ ثَرِيد يعني په ښوروا كښې ماته شوې او پسته شوې ډوډۍ د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ډيره خوښه وه.

﴿۶۹﴾ په يوه ګوته خوراك كول د شيطان او په دوه ګوتو خوراك كول د كبرژنو خلقو طريقه ده او په درې ګوتو خوراك كول سُنَّتِ انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَام دي.

## خومره خوراك كول پكار دي؟

﴿۷۰﴾ لوَږه [يعني خيټه] درې حِصَّې كول بهتر دي. يوه حِصّه د **طعام**، يوه حِصّه د **اوبو** او يوه حِصّه د **هوا** د پاره. مَثَلاً كه په درې ډوډو مړيږئ نو يوه ډوډۍ اوخورئ، د يوې ډوډۍ هُمره اوبه اوڅښئ او باقي خيټه د هوا د پاره خالي پريږدئ. كه ځان مو پوره موړ كړو نو هُم مُباح دي هيڅ ګناه نشته. خو د كم خوراك دِيني او دُنياوي بَرَكتونه مرحبا! تجرِبه اوكړئ إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خيټه به مو داسې ښه شي چه حيران به پاتې شئ. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ مونږه ټولو ته **د خيټې قُفلِ مدينه** نصيب كړي يعني د حرامو نه د بچ كيدو او حلال خوراك هم د ضرورت نه زيات د نه خوړلو توفِيق دِ راكړي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## قَيلُوله سُنَّت ده

﴿۷۱﴾ د **غرمې** د طعام نه پس قَيلُوله كوئ، د غرمې په وخت كښې څملاستلو ته قَيلُوله وائي او دا خصوصاً د شپې عبادت كوونكو د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه د جَنَّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

پاره سُنَّت ده ځکه چه د دې سره د شپې په عِبادت کښې آساني راځي. د ماښام طعام خوړلو نه پس کم نه کم یو نیم سل قدمه ګرځئ. د ماښام د طعام نه پس مُطلقاً [یعني که هر څومره وي خو] ګرځیدل بهتر دي. او دا یو نِیم سل قدمه ګرځیدل د طبیبانو وَینا ده.

﴿۷۲﴾ د **طعام** نه پس اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه ضرور لولئ.

﴿۷۳﴾ د **دسترخوان** اوچتولو نه مخکښې مه پاڅئ.

﴿۷٤﴾ د **طعام** خوړلو نه پس لاسونه ښه وِینځئ او اوچوئ. صابُن هُم استعمالولې شئ.

﴿۷۵﴾ په **کاغذ** لاسونه اوچول منع دي.

﴿۷٦﴾ په **تولیه** لاسونه اوچولې شئ، په اغوستو جامو لاسونه مه اوچوئ.

## بَرَکت لرې کولو والا کارونه

﴿۷۷﴾ **خلیلُ العُلَمَاء** مُفتي محمَّد خلیل خان بَرَکاتي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي: "په کوم لوښي کښې مو چه طعام خوړلې دې په هغې کښې لاس وِینځل، یا لاس وینځلو نه پس د [اغوستې] کُرتې [یا قمیص] په لمَن یا په لنګ [یا پرتوګ] یا په [سر کړې] څادر یا لوپټه باندې اوچول **بَرَکت** الوځوي [یعني ختموي]. (مُلَخَّصاً سُنِّي بهشتي زیور ص ۵۷۸)

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

﴿۷۸﴾ د **طعام** خوړلو نه فوراً پس د سخت ورزش كولو يا وزندار خيز اوچتولو يا راښكلو وغيره يا نور د سختې خوارئ كارونو كولو سره د كُولمې اووښتو، اپينډِكس كيدو يا د خيټې غتيدو مَرَضونه پيدا كيدې شي.

﴿۷۹﴾ د **طعام** خوړلو نه پس اَلْحَمْدُ لِلّٰه په اوچت آواز هله لولئ چه كله ټولو د خوراك نه بس كړې وي ګنې په قلاره ئې لولئ. (رَدُّالمُحتار ج۹ ص۴۹۰) د طعام نه پس دِ [د طعام شريكو خلقوته اِجتِماعي طور] هله دُعاګانې اولوستې شي چه كله ټولو د طعام نه بس كړې وي ګنې څوك چه په خوراك كښې مشغول وي هغوئي به شرمِنده شي.

## د چا د وَنې ميوه خوړل څنګه دي؟

﴿۸۰﴾ كه **باغ** ته لاړ شي او هلته ميوې راپريوتې پرتې وي نو تر څو چه د باغ د مالِك اِجازت نه وي، ميوه ترې نه شي خوړلې او اِجازت په دواړه شان كيدې شي يا صراحةً [يعني ښكاره] اِجازت وي مَثَلاً مالِك وئيلي وي چه لويدلې ميوې خوړلې شئ يا دلالةً [يعني په دليل سره] اِجازت وي يعني هلته داسې عُرف [يعني رواج] او عادت وي چه د باغ والا د لويدلو ميوو [د خوړلو] نه خلق نه منع كوي. د وَنو نه د ميوو شوكولو اِجازت نشته خو كه د ميوو كثرت وي او دا معلومه وي چه مالِك به شوكول او خوړل بد نه ګڼړي نو ترې خوړلې ئې شي. خو په

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

يو صورت کښې هم د هغه ځائ نه د ميوې وړلو اِجازت نشته. (مُلخَّصاً عالمګيري ج٥ص٢٢٩) په دې ټولو صورتونو کښې به د هغه ځائ د عُرف [يعني رواج] او عادت لِحاظ ساتلې شي که عُرف و عادت نه وي يا دا معلومه وي چه مالِك به بده ګنړي نو لويدلې ميوې خوړل هُم جائِز نه دي.

## بې تپوسه خوړل څنګه دي؟

﴿٨١﴾ **دوست** کره لاړو او څه پوخ خيز پروت دې او پخپله ئې راواغستو او اوئې خوړلو يا د هغه باغ ته لاړو او ميوه ئې را اوشوکوله اوئې خوړله که دا ورته معلومه وي چه هغه به ئې بده نه ګنړي نو خوړل جائِز دي خو په دې ځائ کښې د ډير زيات غور او فِکر ضرورت دې، کله کله داسې هم وي چه د د ه په زړه کښې وي چه هغه به بده نه ګنړي حالانکه هغه ئې بده ګنړي. (مُلخَّصاً عالمګيري ج٥ص٢٢٩)

﴿٨٢﴾ د **ذبِيحه** [يعني د حلال شوي ځاروي] حرام مغز خوړل منع دي لِهٰذا د چخولو نه مخکښې د ورمير او د ملا د تِير د هډوکي غوښه په ښه طريقه ګورئ او حرام مغز ترې لرې کوئ.

﴿٨٣﴾ د چرګ حرام مغز نرې وي او د هغې په لرې کولو کښې مشکِلات وي لِهٰذا که په چخولو کښې پاتې شي نو باك نشته خو خوړل ئې نه دي پکار، هم دغسې د چرګ د ورمير پټې او د تور مزي په شان د وِيني رګونه هم مه خورئ.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

﴿۸۴﴾ د **ذبيحه** [يعني د حلال شوي ځاروي] غُدُود (يعنې غُوټې، ستغونه) خوړل مکروهِ تحريمي دي لِهٰذا د ښخولو نه مخکښې هغه لرې کوئ.

## د چرګ زړه

﴿۸۵﴾ د **چرګ** زړه غورزول نه دي پکار، په اوګدوالي ئې څلور واړو طرف ته اوڅيرئ او چه څنګه کيدې شي وِينه ترې اوباسئ او ښه ئې صفا کړئ بيا ئې په ښخلي کښې واچوئ.

## د وِينې پخ شوي رګونه مه خورئ

﴿۸۶﴾ د **ذبيحه** [يعني د حلال شوي ځاروي] په غوښه کښې چه کومه وِينه پاتې شي هغه پاکه وي خو د هغې خوړل منع دي لِهٰذا د غوښې هٰغه حِصّې چه په هغې کښې عام طور وِينه پاتې کيږي هغه په صحيح طريقه ګورئ، مَثَلاً د چرګ د ورمير، وزر او پتون نه تور تور مزي اوباسئ ځکه چه دا د وِينې رګونه وي، وِينه د ښخيدو سره توره شي.

## "بِسمِ الله کړه" وئيل سخت منع دي

﴿۸۷﴾ **يو** کس طعام خوري بل راغې، وړومبي ورته اووئيل: "راځه طعام اوخوره" دويم اووئيل: بِسمِ الله کوه!" داسې وئيل سخت منع دي. په داسې موقع د دُعا الفاظ وئيل پکار دي مَثَلًا داسې دِ وائي، اللّٰه دِ بَرَکت درکړي. (مُلَخَّص از بهارِ شريعت ج ۳ حِصَّه ۱۶ ص ۳۷۹) [دغسې مونږه خو په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

فلانکې کار بِسۡمِ الله اوکړه وئيل هم منع دي، داسې وئيل پکار دي مونږ پرې بِسۡمِ الله اووئيله]

## سخا شوي غوښه خوړل حرام دي

﴿۸۸﴾ که **غوښه** سخا شي نو د هغې خوړل حرام دي. هُم دغسې چه کوم اِنګولې خراب شي هغه هُم نه شي خوړلې. د خرابيدو عَلامت [يعني نښه] دا ده چه په هغې کښې چنړياسې اوشي، بدبوئي يا ترُش بوئي پکښې پيدا شي. که ښوروا وي نو هغه زګونه هم اوکړي. دال، کِچړې او ترُش اِنګولي زر خرابيږي.

## ثابت شنه مرچکي

﴿۸۹﴾ په انګولي کښې پاخه شوي ثابت سره يا شنه مرچکي د طعام خوړلو په وخت کښې غورزول نه دي پکار بلکه دا ترې د مخکښې نه راټول کړئ او بيا ئې ميده کړئ او بيا ئې په کار راولئ. هُم دغسې پخې شوې ګرمې مَصَالې هم که د استعمال قابلې وي نو مه ئې ضائِع کوئ.

## په پاتې شوي ډوډئ څه اوکړو؟

﴿۹۰﴾ **پاتې** شوې ډوډئ او ښوروا غورزول ګناه ده. په چرګانو، چيلئ يا غوا باندې ئې خورئ، د يو څو ورځو پاتې شوې د ډوډئ ټُکړې په ښوروا کښې پخې کړئ اِنۡ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ بهترين طعام به جوړ شي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

## كوئې كبر [يعنې كيكړا] او جِينګه خوړل څنګه دي؟

﴿٩١﴾ د **مهي** نه سِوا د د درياب هر څناور [خزنده] حرام دې. مهي چه د بل د لاسه مړ كيدو نه علاوه پخپله مړ شي او په اوبو كښې په ځټ شي نو حرام دې، **كوئې كبر**[1] خوړل هُم حرام دي په **جِينګه**[2] كښې اِختِلاف دې خوړل ئې جائِز دي خو بچ كيدل ترې غوره دي.

﴿٩٢﴾ **ملخ** مړ هم حلال دې، ملخ او مهي دواړه بغير د ذبح كولو نه حلال دي.

**اے د مصطفٰی** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **ربّ** عَزَّوَجَلَّ**! زمونږه بخښنه اوفرمائې، مونږ ته دومره پيرې د آدابِ طعام لوستلو توفيق راكړې چه د طعام سُنّتونه او آداب را ته ياد شي او مونږ ته په دې د عمل كولو توفيق هم راكړې.**

اٰمِين بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوۡبُوۡا اِلَی اللّٰه! اَسۡتَغۡفِرُ اللّٰه

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خاموشي د بادشاهئ نه بغير هم رُعب لري**

---

[1] د اوبو يو قِسم خزنده چه د اوبو په غاړه په اوچه هم ګرځيدې شي، نښه ئې دا ده چه په ډډه ګرځي.

[2] دا د چينجي په شان د اوبو يو خزنده دې چه د مهي په شان څه نښې لري، ځكه د مهي په قِسمونو كښې شمار دې.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د پيريانو د خوراكونو بيان

## د دُرُود شريف فضِيلت

د دوارو جهانو د سُلطان صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: څوك چه په ما باندې د **جُمعې** په ورځ او شپه سل ځله دُرُود شريف اولوَلي اللّٰه تعالىٰ به د هغه سل حاجتونه پوره كوي. اويا د آخِرت او ديرش د دُنيا. (كنزُالعُمّال ج١ ص٢٥٦ الحديث٢٢٣٩)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د پيريانو ټولګې په بارګاهِ رِسالت ﷺ كښې

د **حضرتِ** سيِّدُنا عبدُاللّٰه بِن مسعُود رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه رِوايت دې د نبىءِ كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمت كښې د **پيريانو** يو وَفد [يعني ټولګې] حاضِر شو او عرض ئې اوكړو: "ستاسو اُمَّت دِ په **هډوكي،غوشانو** او **سكرو** اِستنجاء نه كوي ځكه چه اللّٰه تعالىٰ په دې كښې زمونږ د پاره رِزق مقرر كړې دې نو نبىءِ كريم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم (اُمَّت) د دې نه منع كړو." (اَبُوداؤد شريف ج١ ص٤٨ حديث٣٩)

## پيريان د انسانانو نه نهه همره زيات دي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو**! پيريان هم د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ يو مخلوق دې او دا د اور نه پيدا كړې شوي دي، دوئې خوري څښي او نِكاح هم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شریف لوليء الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

کوي. د انسانانو په مُقابَله کښې د دوئي شمير نهه همره دې. حضرتِ سيِّدُنا عَمْرو بِکالي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي، چه د انسان يو بچې پيدا کيږي نو په پيريانو کښې نهه بچي پيدا کيږي. (جامِعُ الْبيان ج۹ ص۸۵ حديث ۲۴۸۰۳)

## د مسلمان په دسترخوان پيريان

حضرتِ عَلّامه جلالُ الدِّين سُيُوطي اَلشّافِعِي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه د يو تابِعي بُزُرګ نه نقل کوي، "د ټولو مسلمانانو د کورونو د کوټو په سر مسلمانان پيريان اوسيږي. چه کله غرمه او ماښام دسترخوان خور کړې شي ي ز شي او د هغوئي سره طعام خوري! د هغوئي په ذريعه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ شرارتي پيريان زغلوي. (لقطُ المرجان فی احکام الجان للسيوطی ص ۴۴)عني د کور کسان طعام خوري نو پيريان هم د کوټو د سرونو نه راکو

## د حُضُور ﷺ سره د مار پټې خبرې

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُ الله بِن جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: زه د رسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت مبارك کښې حاضِر ووم چه ناڅاپه يو مار راغې او د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ډډې مبارکې طرف ته اودريدو بيا هغه خپله خُله د حُضُورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غوږ مبارك ته نزدې کړه لکه د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره چه پټې خبرې کوي نو نبيءِ کريم رَءُوف رَّحِيم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "آو صحيح ده" بيا هغه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللّٰهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذی)

مار بيرته لاړو. ما د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه تپوس اوکړو؟ نو سرورِ کائِنات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته خبر راکړو چه هغه د پيريانو يو کس وو او هغه دا اووئيل چه تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل اُمَّت ته حُکم اوکړئ چه هغه په غوشانو او وراسته شوي هډوکي استنجاء نه کوي ځکه چه اللّٰه تعالیٰ په هغې کښې زمونږه رزق جوړ کړې دې. (لقط المرجان فی احکام الجان ص ٤٦)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** معلومه شوه چه زمونږه د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بارګاه کښې پيريان هم فرياد وړاندې کوي او دا هُم معلومه شوه چه هډوکې او غوشان د پيريانو خوراك دې. زمونږ د پاره په هډوکي، غوشانو او سګرو استنجاء کول مکروه دي. په دې باره کښې يو بل **حِکايت** اوګورئ چنانچه

## تور سړي

**حضرتِ** سَيِّدُنا عبدُ الله بِن مسعُود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: د هِجرت نه مخکښې يو ځل سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مَکَّهٔ مُکَرَّمه خواؤ شا ته تشريف يوړو، هلته حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما د پاره يوه کرښه راښکله او اوئې فرمائيل: تر څو چه زه ستا خوا ته را نه شم ته د چا سره هيڅ **خبرې اترې** مه کوه بيا ئې اوفرمائيل: څه څيز که اووِينې نو يَريږه هُم مه. بيا لږ وړمخکښې شو او کښيناستلو. ناڅاپه د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوا ته **تور سړي** راغلل لکه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِیر)

هغوئي چه زنګيان (حَبَشيان) وي او هغوئي په داسې شكل څنګه چه اللّٰه تبارَكَ وَ تعالٰی اِرشاد فرمائي:

كَادُوْا يَكُوْنُوْنَ عَلَيْهِ لِبَدًا ۝١٩
(پاره ۲۹ سُورۃُ الجِن ۱۹)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: "نو نزدې وه چه پيريان په هغه باندې په ډلو ډلو شي."

نو بيا هغوئي د حُضُورِ اكرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوا نه روان شو نو ما د هغوئي نه واوريدل، هغوئي عرض كولو يَا رَسُولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زمونږ كور ډير لرې دې، اوس مونږه ځو تاسو مونږ ته زادِ سفر [يعني د سفر سامان] راعطا كړئ. سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: "غوشان ستاسو خوراك دې او تاسو چه د كوم **هډوكي** خوا له ورځئ په هغې به ستاسو د پاره غوښه وي." چه كله هغوئي بيرته لاړل نو ما د حُضُورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت كښ عرض اوكړو، دا كوم خلق وو؟ حُضور رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيلو: دا د نصِيبين ښار **پيريان** وو. (لقط المرجان فی احكام الجان ص۴۷)

شہنشاہ و گدا جِنّ و بَشَر اور اولیاءُ اللہ
ہے سب کا تیرے ٹکڑوں پر گزارا یا رسولَ اللہ

بادشاه و فقِير جن و بشر او اولياءُ اللّٰه
ټول كوي ستا په ټكړو ګُزاره يا رَسُولَ اللّٰه

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

## پيريان د نيمبو نه يَريږي

د قاضي علي حَسَن خلعي په "سوانِحِ حَيات" کښ دي چه پيريان به د هغوئي خوا ته تلل راتلل. يو ځل د ډيرې اوږدې مودې پورې نه راتلل [بيا چه کله راغلل] نو قاضي صاحِب د هغوئي نه د نه راتللو د وجهې تپوس اوکړو نو پيريانو اووئيل چه ستاسو په کور کښ نيمبو وو او مونږه داسې کور ته نه ځو په کوم کور کښ چه نيمبو وي. (ايضاً ۱۰۳)

## پيريان د سپين چرګ نه يَريږي

دوه فَرامَينِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ﴿۱﴾ سپين چرګ ساتئ ځکه چه په کوم کور کښ سپين چرګ وي نو نه به شيطان هغه کور ته نزدې کيږي او نه به جادوګر هغه کورونو ته نزدې کيږي کوم [کورونه] چه د هغه کور نه چاپيره دي. (اَلۡمُعۡجَمُ الۡاَوۡسط ج۱ ص۱۲۰۱ حديث۶۷۷)

﴿۲﴾ سپين چرګ ته بد رد مه وائې ځکه چه دا زما دوست دې او زه د ده دوست يم او د ده دُښمن زما دُښمن دې، د کوم ځائ پورې چه د ده آواز رسي دا پيريان دفع کوي (يعني لرې کوي) (لقط المرجان فی احکام الجان ص ۱۶۵)

## د پيريانو د ځناورو خوراك

د پيريانو د قوم کوم وَفدُونه [يعني ډلې] چه د سَيِّدُ الۡمُرسَلِين، خَاتَمُ النَّبِيّين، جنابِ رَحۡمَةٌ لِّلۡعٰلَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار مبارك کښ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانی)

حاض ښتو. هغوئي ته ئې ارشاد اوفرمائيلو، ستاسو د پاره هډوکې دې چه په رې شوې او د خپل ځان او د خپلو ځناورو د پاره ئې خوراك اوغو هغې باندې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ پاك نوم واغستې شي يعني چه د حلال پاك ښاروي هډوکې وي هغه به ستاسو په لاس کښې په داسې حال کښې وي ښنګه چه هُغه وخت وو کله چه په هغې غوښه پوره او مکمَّله وه (يعني د کوم هډوکي نه چه غوښه لرې کړې شوې وي په هغې به ستاسو د پاره غوښه وي) او هره يوه **ليچه** ستاسو د ښاروو د پاره خوراك دې او بيا ئې انسانانو ته ارشاد اوفرمائيلو، په **هډوکي** او **ليچه** استنجا مه کوئ ځکه چه هغه ستاسو د ورونړو (يعني د مسلمانانو پيريانو) خوراك دې. (صحيح مُسلِم ص۲۳٦ حديث۴۵۰)

## پيريان تَنبتوَل هُم کوي

**يو** اَنصاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د ماسخُتن د نمانځه د پاره د کوره اووتلو نو هغوئي پيريانو اوتَنبتوَلو او د ډيرو کلونو پورې ئې غائِب کړو. بيا هغوئي مدينهٔ مُنَوَّره ته تشريف راوړو نو **اَميرُ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د هغوئي نه په دې باره کښې تپوس اوکړو، هغوئي اووئيل چه زه پيريانو بوتلې ووم او زه د يوې زمانې پورې د هغوئي سره ووم، د هغې نه پس **مسلمانانو پيريانو** (د هغه پيريانو سره) جِهاد اوکړو او په هغوئي کښې ئې د ډيرو کسانو سره زه هُم قيد کړم.

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

دې، دې قید کول مناسب نه دي. بیا هغوئي ما ته اختیار راکړو چه مسلمانانو پیریانو په خپل مینځ کښې اووئیل چه دا انسان مسلمان که زه غواړم نو د هغوئي سره اوسیږم او که غواړم نو د خپل کور کسانو خوا ته لاړ شم، ما کور ته راتلل اختیار کړل نو هغه پیریانو زه مدینهٔ مُنَوَّره ته راوستلم. اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ترې د هغوئي د خوراکونو په باره کښې تپوس اوکړو نو هغه انصاري رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ عرض اوکړو، هغوئي **لوبیا** (نومې سبزي) خوري او هغه څیزونه په کومو چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم نه اخستې شي. (مَثَلًا د بِسۡمِ اللّٰه نه لوستلو والا کس خوراك). بیا اَمیرُ الْمُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د هغوئي د څښلو په باره کښې تپوس اوکړو نو اوئې وئیل: **جَدَف**. (حَیَاۃُ الْحَیَوَان الکُبریٰ ج۱ ص۲۹۵) د **جَدَف** نه مُراد یا خو هغه یمني واښه دي چه د هغې خوړلو والا ته د اوبو ضرورت نه وي یا د دې نه مُراد د اوبو وغیره هغه لوښې دي چه په هغې سر نه وي کیښودې شوې. (النهایه في غریب الحدیث والاثر، ج۱، ص۲٤٠)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د پیریانو او جادو نه حِفاظت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حِکایت نه د **کافِرو پیریانو** **مختَلِف** خوراکونه معلوم شو یعني هغوئي **لوبیا** هم خوري او په کومو خوراکونو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

چه بِسْمِ الله نه وئيله شي هغه هم استعمالوي او په کوم لوبني کښې چه د خوراك ښناك څِيز وي او هغه سر تور وي نو د هغې نه هم خوري ښښي او دا هم معلومه شوه چه **پيريان** انسانان هم **تښتوي** او دا د ډير زيات تشوِيش خبره ده. د دوئي نه د حِفاظت د پاره دُنياوي وَسله بلکه انساني فوج هم بيکاره دې. د دې د پاره "مَدَني وَسله" پکار ده. د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي اداري **مَكتَبَةُ الْمَدِينه** د طرف نه چاپ شوي د يو وِيشتو صفحو رِسالې "**ښلويښت روحاني عِلاجونه**" نه ښلور "مَدَني وَسلې" حاضرې دي ﴿۱﴾ **يَا مُهَيْمِنُ** ۲۹ ځله (د ورځې هر وخت) لوستلونکې به اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هر آفت او مُصِيبت نه **محفوظه** اوسي. ﴿۲﴾ **يَا وَكِيْلُ** ووه ځله چه څوك هره ورځ د مازديګر په وخت لوَلي اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هر آفت نه به په پناه کښې وي. ﴿۳﴾ **يَا مُحْيِيُ يَا مُمِيْتُ** چه څوك هره ورځ ووه ځله لوَلي او ځان پرې دموي اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په هغه به جادو اثر نه کوي. ﴿٤﴾ **يَا قَادِرُ** چه څوك د اوداسه په دوران کښې د هر اندام وِينځلو په وخت کښې وئيل خپل معمول جوړ کړي اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دُښمن (که پيرې وي او که انسان) دا کس به نه شي **تښتولې** (په اوداسه کښې د هر اندام وِينځلو په وخت کښې درود شريف هم لوَلئ دا مُستَحب دي او **يَا قادِرُ** هم لوَلئ) د خپل خپل پير

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَراني)

ومُرشِد په اِجازت د حِفاظت وظيفې هم لوَلئ[1].

کله کله مسلمانان پيريان بدکاره انسانانو ته سزا هم ورکوي چنانچه اِبنِ عقيل په "کتابُ الفُنون" کښ فرمائي: زمونږه يو کور چه څوك به هم

## پيريان قتل هم کوي

په هغې کښ اوسيدو او شپه به ئې پکښ تيروله سحر به هغه مړ پروت وو! يو ځل يو مغرِبي مسلمان راغلو، هغه دا کور خوښ کړو او په بيعه ئې واخستو. هغه هلته شپه تيره کړه او سحر صحيح سلامت وو. په دې خبره ګاونډيان حيران وو. هغه کس ډيره موده په هغه کور کښ اوسيدو بيا چرته لاړو. چه کله د هغه نه (په دې کور کښ د سلامت اوسيدو په باره کښ) تپوس اوکړې شو نو هغه جواب ورکړو، چه کله به ما په دې کور کښ شپه کوله نو د ماسخُتن د نمانځه نه پس به مې د قرآنِ کريم تِلاوت کولو. يو ځل يو اَسرارآميز[يعني عجيبه] ځلمې د کُوهي نه را اووتو او په ما ئې سلام واچولو. زه اويَريدم.

[1] اميرِ اَهلِسُنَّت په اُردو ژبه کښ شجرهٔ قادريّه رَضَوِيّه عطّاريه مُرتَّب کړې دہ. په هغې کښ د حفاظت مختلفې وظيفې شاملې دي. د دې شجَرې د دُنيا په مختلِفو ژبو کښ مَثَلًا د دې لِيك د وخته پورې په عَرَبي، سِندهي، هِندي، ګُجراتي. انګلش او بروکن فرنچ کښ ترجمه شوې ده. اَمِيرِ اهلِسُنَّت خپلو مُريدانو او طالِبينو ته د دې د لوستلو عام اِجازت ورکړې دې، دا جيبي سائِز رِساله د **مکتبةُ المَدينه** د هر شاخ نه په هديه طلب کيدې شي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذی)

هغه اووئيل، يَريږئ مه ما ته هُم څه قُرآنِ كريم زده كړئ. چنانچه ما هغه ته قُرآنِ كريم زده كول شروع كړل. ما د هغه [عجيبه هلك] نه تپوس اوكړو چه د دې كور څه قِصه ده؟ هغه اووئيل چه مونږه مسلمانان پيريان يو مونږه د قُرآنِ كريم تِلاوت هم كوو او نمونځ هم كوو. **دې كور ته د اوسيدو د پاره اكثر شرابيان او بدكاره خلق راغلي دي ځكه مونږه هغوئي د مرئ نه اونيول او مړه هم كړل.** ما هغه ته اووئيل چه د شپې ستاسو نه يَريږم، مهرباني اوكړئ د ورځې تشريف راوړئ، هغه اووئيل صحيح ده بيا به هغه د ورځې د كوهي نه راختلو او ما به ورته سبق وئيلو. يو ځل داسې كار اوشو چه هغه **پيري** زما نه سبق لوستلو، په دې كښ يو عَمَلِيات كولو والا [دم كړې] محلّې ته راغلو او آواز ئې اولګولو چه "زه د مار چيچلو، د نظر او د پيريانو دم كووم" هغه پيري اووئيل دا څوك دې؟ ما وئيل دا دم ګري دې، پيري اووئيل دا زما خوا ته را اوغواړه، لِهٰذا زه لاړم او هغه مې را اوغوښتو. **ناڅاپه هغه پيرې د كوټې په سر يو ډير غټ ښامار جوړ شو!** هغه دم ګري دم كړو نو هغه ښامار [د تڪليف نه] په تاويدو شو تر دې چه د كور غولي [انګڼ] ته را اوغورزيدو. هغه دم ګري هغه (مار كړنلو) او اوئې نيولو او په خپل پيټار كښ ئې واچولو، ما هغه د وړلو نه منع كولو نو هغه وئيل دا زما ښكار دې، زه به دا وړم.ما هغه ته يوه اشرفئ وركړه نو هغه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِیمان)

پريښودو او لاړو. د هغه د تللو نه پس هغه ښامار اوخوزيدو او په هغه ورومبني شکل کښې راغلو خو هغه کمزورې شوې وو او رنګ ئې زيړ شوې وو! ما ترې تپوس اوکړو چه په تا څه اوشو؟ **پيري** اووئيل چه **دم کړي** په اَسمائے مبارکه [يعني د الله په نومونو] **دَم** کړم نو زما دا حالت شو، ما ته د ژوندي پاتې کيدو اُمِّيد نه وو، چه کله ته په کوهي کښې د چغې آواز واورې نو د دې ځائ نه لاړ شه. هغه مغربي مسلمان وائي چه ما د شپې د **چغې** آواز واوريدو نو ما کور پريښودو او لرې لاړم. (لقط المرجان فی احکام الجان ص۱۰۵)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د دې يَروونکي حِکايت نه دا سبق حاصل شو چه کله کله تَوقې کول ډير ګران پريوځي. غالِباً هغه پيرې د هغه دم کړي د چيړلو د پاره ښامار جوړ شوې وو چه ګورم چه دا څه کوي خو هغه دم کړې په خپله اُستاذئ کښې کره اوختو او هغه د اَسمائے مبارکه داسې دم اولوستو چه هغه غريب پيرې آخِر مړ شو، ځکه ځوك د کمزورې ګنړلو په وجه چيړل نه دي پکار او دا هم معلومه شوه چه د ګناهونو د سپيره والي په وجه په دُنيا کښې هم مصيبتونه او آفتونه نازليدې شي څنګه چه به ئې هغه د پيريانو د اثر والا کور کښې اوسيدونکي شرابيان او بدکاره خلق د مرئ نه نيول او وژل به ئې. د دې نه کورونو کښې فلمونه ډرامې کتونکو

www.dawateislami.net

او په قِسم قِسم ګناهونو كښې مشغول اوسيدونكو ته عِبرت حاصلول پكار دي چه چرې راباندې په دُنيا كښې د ګناهونو په سزا كښې پيرې مُسَلَّط نه شي! او دا هم معلومه شوه چه د عِبادت او تِلاوت په وجه د مصيبتونو نه حِفاظت كيږي څنګه چه په هغه اَسرار آميز [يَرووِنكي] كور كښې پيرې د نمونځ ګُزاره او تِلاوت كوونكي كس شاګرد جوړ شو. لِهٰذا خپل كور په نمونځونو، تِلاوتونو او نعتونو آباد ساتئ او د فلمونو ډرامو او سندرو او سازونو د سپيره والي نه لرې اوسئ. اِنۡ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ ډير ډير بَرَكتونه به مومئ. د ګناهونو نه د خلاصي او د عِبادت د تربِيَّت د پاره د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني قافِلو كښې د **عاشقانِ رسُول** سره سفر كول خپل معمول جوړ كړئ. دا به د آخِرت د عظيمو ثوابونو سره سره اِنۡ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د دُنياوي آفتونو او مصيبتونو نه هم د خلاصي ذريعه جوړ شي. چنانچه

## زما د حرام مغز غُوټه ختمه شوه

د **بابُ المَدينه** كراچئ د يو اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده، په 2001ء كښې زما حرام مغز[1] غُوټه شوي وو او د هغې په وجه زه په سخت تـكليف كښې ووم، يوه موده مې عِلاج اوكړو خو فائِده اُو نه شوه، ډاكټر وئيل چه د آپريشن نه علاوه د دې تـكليف بل هيڅ حل

[1] يعني د ملا په تير كښې دننه د مغز رګ.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمذی)

نشته خو دا اِمکان هم شته چه آپريشن ناکامه شي. د يو اسلامي ورور په اِنفِرادي کوشش مې هِمَّت اوکړو او د يوې مياشتې د مَدَني قافِلې مُسَافر جوړ شوم. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د مَدَني قافِلې په بَرَکت مې د حرام مغز غوټه د آپريشن نه بغير ختمه شوه او زه صِحت مند شوم.

گر کوئی مرض ہے تو مِری عرض ہے	پاؤ گے راحتیں قافِلے میں چلو
دردِ سر ہو اگر یا ہو دردِ کمر	پاؤ گے صِحّتیں قافِلے میں چلو
که لرئ څه مرض، نو زما دي عرض	اومومئ به راحتونه قافلو کښې لاړ شئ
که مو درد وي په سر يا په ملا مو وي درد	اومومئ به صحتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!	صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده چه په مَدَني قافِلو کښې څومره بَرَکتونه دي! دلته دا عرض کول ضروري ګڼړم چه دا ضروري نه ده چه د مَدَني قافِلې د مسافر بيمارئ او پريشانئ دِ ضرور لري شي. دا هر څه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په خوښه موقوف وي، تاسو ټولو ته معلومه ده چه د صِحت د څه ضمانت نه کيدو باوجود خلق په علاج باندې لکونه روپئ لګوي او د شفا نه حاصليدو باوجود څوك علاج نه پريږدي بلکه د بهتر نه بهتر علاج کولو باوجود مريضان مړه کيږي او بيا هم څوك د علاج کولو مخالَفَت نه کوي نو دغسې که په مَدَني قافِلو کښې هم مرض ښه نه شي نو د شيطان وسوسې منل نه دي پکار. په مَدَني قافِله کښې صرف د دُنياوي مسئَلو د حل کولو د نِيّت په ځائ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

د عِلمِ دِين حاصلولو او د آخِرت د پاره د ثواب ګټلو نِيَّتونه کول هم پکار دي او دا هم ياد ساتئ چه شفاء هم رحمت دې او مرض هم د رحمتونو د نازِليدلو سبب وي. مونږ ته هر وخت د صبر او برداشت نه کار اخستل پکار دي. د بيمارئ او مصيبت ډير فضيلتونه دي او خوش نصيبه مسلمانان په صبر کولو ډير ډير ثوابونه ګټي چنانچه

## ما ته نابينا اوسيدل منظور دي

**حضرتِ** سَيِّدُنا اَبُو بَصِير رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ (نابينا وو) فرمائي: چه زه يو ځل د **حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام **باقِر** رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خِدمت کښې حاضِر شوم، هغوئي زما په مخ لاس راښکلو نو زما سترګې **روښانه** [يعني بِينا] شوې، چه بيا ئي پرې لاس مبارك راښکلو نو بيا **نابِينا** شوم. حضرتِ سَيِّدُنا اِمام **باقِر** رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ما ته اوفرمائيل: چه تاسو په دې دوارو خبرو کښې کومه خبره اختيارول غواړئ؟ ﴿۱﴾ [يعني يوه دا چه] ستاسو سترګې بِينا شي او د قيامت په ورځ ستاسو نه د **بينائي د نِعمَت** او د نورو اعمالو حِساب واخستې شي ﴿۲﴾ [بله دا چه] تاسو نابينا اوسئ او د حساب کتاب نه بغير جَنَّت ته داخِليدل درنصيب شي؟ حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو بَصِير رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ما عرض اوکړو: چه په جَنَّت کښې بې حِسابه داخليدل غواړم، ما ته **نابِينا** اوسيدل منظور دي.

(مُلخَّصاً شَوَاهِدُ النُّبُوَّة ص ۲۴۱ مكتبة الحقِيقة استنبول تُركى)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه د جَنَّت لاره هیره کړه. (طَبَرَاني)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! تاسو اوليده! چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خپلو مقبولو بندګانو ته څومره لوئي والي او کمال ورکړې دې چه ړندو ته سترګې هم ورکولې شي او جنَّت ته د بې حِسابه داخِلې زيرې هم ورکولې شي. او دا هم معلومه شوه چه په مصيبت باندې د صبر کولو زبردست ثواب دې. د سترګو بينائي ختميدو باندې خو د صبر کولو والا د پاره پخپله حديثِ قُدسي کښې د جنَّت زيرې موجود دې. چنانچه د رَسُولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جنَّت د زيرې نه ډك فرمان دې چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ فرمائي: "چه کله زه د خپل بنده نه سترګې واخلم او هغه صبر اوکړي نو د سترګو په بدل کښې به هغه ته جنَّت ورکووم. (صحيحُ البُخاری ج٤ ص٦ حديث ٥٦٥٣)

ٹوٹے گو سر پہ کوہِ بلا صبر کر، اے مسلماں! نہ تُو ڈگمگا صَبر کر
لب پہ حرفِ شکایت نہ لا صبر کر کہ یہی سنّتِ شاہِ ابرار ہے

که د غر هُمره بلا وي صبر اوکړه مسلمانه! مه يَرېږه صبر اوکړه
مه کوه شکايتونه صبر اوکړه چه هم دغه دي سُنَّت د پاك رسُول

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوْبُوْا اِلَی الله! اَسْتَغْفِرُالله
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د الله عَزَّوَجَلَّ د مشهورو ۹۹ نومونو په نِسبت یو کم سل حِکایتونه

## د دُرُود شریف فضِیلت

د سَیِّدُ الْمُرسَلِین، خَاتَمُ النَّبِیِّین، جنابِ رَحمةٌ لِّلْعٰلمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دې: چه کله د زیارت ورځ راشي نو اللّٰه تعالٰی فرښتې رالیږي چه د هغوئي سره د سپینو زرو کاغذونه او د سرو زرو قلمونه وي، هغوئي لیکي چه څوك د زیارت په ورځ او د جُمُعې په شپه په ما په کثرت سره دُرُود شریف لوَلي. (کَنزُ العُمّال ج۱ ص۲۵۰ حدیث۲۱۷٤)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۱﴾ درې مرغۍ

حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس بن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: چه د حُضُور رَحْمَةٌ لِّلْعٰلمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې درې مَرغۍ هدِیَّةً [یعني تُحفةً] وراندې کړې شوې نو حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یوه مرغۍ خپلې وِینزې ته د خوړلو د پاره ورکړه، په دویمه ورځ وِینزې هغه مرغۍ راوړله نو رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغې ته اوفرمائیل

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

چه ته ما نه وې منع کړي چه د صبا د پاره څه مه ساته، بې شکه اللّٰه تعالٰی د هرې بلې ورځې رِزق ورکوي. (شُعبُ الإيمان ج۲ ص۱۱۸ حديث۱۳٤٧)

**د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## د صبا ورځې د پاره ساتل

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** زمونږه د خوږ خوږ آقامَکِّي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مقامِ تَوَکُّل يقيناً د تِولو نه ډير اوچت وو، هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خپل ځان د پاره کله هم طعام نه ساتلو. هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کله د خپل مال زکوٰة نه دې ورکړې، ځکه چه کله ئې مال جمع کړې نه دې چه زکوٰة پرې فرض شوې وې. **مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: حضرتِ سيِّدُنا اِبراهِيم خليلُ اللّٰه عَلَيْهِ السَّلَام د خپل ځوئ په مرئ چاړه راښکله، حضرتِ اَدهم (رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه) د خپل ځوئي اِبراهِيم د پاره دُعا اوکړه، خُدايا ده ته مرګ ورکړې چه د ده د ښکلولو په وجه زه لږ ساعت ستا نه غافِله شوم. دا د هُغه حَضَراتو جذبه وه يعني "چه کوم شې د يار نه رُکاوټ جوړ شي هغه اوشلوه." حضرتِ سيِّدُنا ابُوذر غِفاري رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْه زاهد ترين صَحابي وو د هغوئي جذبات د دې شعر مطابق وو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوكړه. (عَبدُالرَّزّاق)

کوڑی نہ رکھ کفن کو، تج ڈال مال ودھن کو
جس نے دیا ہے تن کو ، دیگا وُہی کفن کو

لرې كړه مال، پاتې مه ساته د پاره د كفن
كفن به هغه دركړي چه دركړې چا بدن

دا ياد ساتئ! حلال مال جمع كول حرام نه دي، چنانچه مُفتي صاحِب نور فرمائي:مال جمع ساتل او د وفات نه پس پريښودل حلال دي هله چه د هغې نه زكوٰة، فِطره، قُرباني او حُقوقُ العِباد ادا كړې شوي وي.
(مُلَخَّصاً مِراٰۃ ج۳ ص۸۸، ۸۹)

## ﴿۲﴾ مړه بِيزه ژوندئ شوه

**حضرتِ** سَيِّدُنا كعب بِن مالِك رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د حُضورِ انور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت كښې حاضِر شو نو د هغوئي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخ مبارك ئې مُتَغَيَّر [يعني شايد د لوږې د اثر په وجه بدل] اوليدلو. دا ئې چه اوليدلو نو هم هغه وخت خپل كورته اورسيدلو او خپلې بي بي محترمې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا ته ئې اووئيل: ما د حُضورِ انور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك مخ بدل ليدلې دې، زما گُمان دې چه د لوږې په سبب داسې دې. آيا تاسو سره څه موجود شته؟ جواب ئې وركړو، **وَالله** عَزَّوَجَلَّ د دې چيلئ او د لږو پاتې وړو نه سِوا نور هيڅ هم نشته، هُم هغه وخت ئې چيلئ حلاله كړه او اوئې فرمائيل چه زر زر غوښه او ډوډئ تياري كړه. چه كله طعام

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

تیار شو نو په یوه غټه پیاله کښې ئې واچولو او د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت کښې حاضِر شو او طعام ئې وړاندې کړلو. رَحمَتِ عالَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: اے جابِر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ خپل قوم راجمع کړه. ما خلق راوستل او په خِدمت کښې حاضِر شوم. اوئې فرمائیل: د دوئې جُدا جُدا ټولګې جوړې کړه او زما خوا ته ئې رالیږه. دغسې هغوئې طعام خوړل شروع کړو. چه کله به یوټولګې موړ شونو هغه به اووتلو او بل [ټولګې] به راغلو تر دې چه ټولو اوخوړله او په لوښې کښې چه څومره طعام مخکښې وو هُم هغه هُمره د ټولو د خوراك نه پس هم موجود وو. سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به فرمائیل: خورئ او هډوکې مه ماتوئ. بیا آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د لوښې په مینځ کښې هډوکې جمع کړل او خپل لاس مبارك ئې پرې کیښودلواوڅه کلام ئې اولوستلوچه هغه ما وانه اوریدو. **اوس هُم چه د کومې چیلۍ غوښه خوړلې وه هُم هغه چیلۍ ناڅاپه غوږونه اوڅنډل او پاڅیدله!** سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائیل، خپله چیلۍ بوځه! ما چیلۍ د خپلې بي بي محترمې رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا خوا ته راوستله. هغې [په حیرانئ] اووئیل، دا څه دي؟ ما اووئیل: واللّٰه عَزَّوَجَلَّ دا زمونږه هُم هغه **چیلۍ** ده کومه چه مونږه حلاله کړې وه. د خوږ مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دُعا باندې اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دا راژوندۍ کړه! دا ئې چه واوریدل نو د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كَنزُ العُمّال)

هغوئي بي بي محترمې رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا بې اِختياره اووئيل، زه ګواهي وركووم چه بې شكه هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ رسُول صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې. (اَلْخَصَائِصُ الْكُبرىٰ ج٢ ص١١٢) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمَت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

**صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ﴿٣﴾ وفات شوي مَدَني ماشومان ژوندي شو

مشهور عاشِقِ رَسُول حضرتِ عَلّامه عبدُ الرَّحمٰن جَامي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ رِوايت فرمائي: حضرتِ سيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خپلو حقيقي مَدَني ماشومانو په موجودګئ كښې چيلئ حلاله كړې وه. هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ چه كله فارِغ شو او لاړو نو هغه دواړه مَدَني ماشومانو د ځان سره چاړه واغسته او د كوټې سر ته اوختل، مشر وړور خپل كشر وړور ته اووئيل: را ځه چه زه هُم تا سره هٰغسې اوكړم څنګه چه زمونږه والِد صاحِب د هغه چيلئ سره كړي وو، چنانچه مشر وړور كشر وړور څملولو او اوئې تړلو او په مرئ ئې ورته چاړه راښكله او سر ئې ترې پريك كړو او په لاس كښې ئې راواغستو، چه څنګه د هغوئي مور رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا دا منظر اوليدو نو په هغه پسې ئې ورمنده كړه هغه د تښتيدلو د پاره منډه كړه او د كوټې د سر نه غوزار شو او وفات شو. هٰغه صبرناكې بي بي د هيڅ قِسم چغې سورې او وارخطائي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

جوړه نه کړه چه چرې عظيمُ الشّان ميلمه د دواړو جهانو سُلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پريشانه نه شي، په ډير صبر او په قلاره ئې دواړه واړه واړه مرې کوټې ته يوړل او ټوکې [يعني کپړه] ئې پرې واچوله او هيڅ څوك ئې خبر نه کړل تر دې چه حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ ته ئې هم اُو نه وئيل. زړه ئې اګر چه د غم نه ټُکړې ټُکړې وو خو خپل مخ ئې تازه او خوشحاله خوشحاله اوساتو او طعام وغيره ئې پاخه کړل. سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړو او طعام د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مخې ته کيښودې شو، دغه وخت جبرئيلِ اَمِين عَلَیۡہِ السَّلَام حاضِر شو او عرض ئې اوکړو: يا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اللّٰه تَعَالٰی فرمائي چه جابِر ته اوفرمائې چه خپل ځامن راولي چه هغوئي تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د طعام خوړلو شرف حاصِل کړي. رَسُولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ ته اوفرمائيل: خپل ځامن راوله! هغوئي فوراً [د کوټې نه] بَهر اووتلو او د خپلې بي بي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهَا نه ئې تپوس اوکړو چه، ماشومان چرته دي؟ هغوئي اووئيل: د حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمَت کښې عرض اوکړئ چه هغوئي موجود نه دي. سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د اللّٰه تَعَالٰی فرمان راغلې دې چه هغوئي زر را اوبله! غم وهلې بي بي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهَا په ژړا شوه او اوئې وئيل: اے جابِر! اوس زه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

هغوئي نه شم راوستلې. حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: آخِر څه خبره ده؟ ژاړې ولې؟ بي بي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہَا [حضرت جابِر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ] دننه بوتلو او ټوله قِصّه ئې ورته اوکړه، کېږه ئې ترې اوچته کړه او ماشومان ئې ورته اوښودل، نو هغوئي هم په ژړا شو ځکه چه هغوئي رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د دې حال نه ناخبره وو. پس حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ دواړه واړه مړي راوړل او د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارکو قدمونو کښې ئې کېښودل. هغه وخت د کور نه د ژړا اوازونه راتلل شروع شو. اَللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِين عَزَّوَجَلَّ جبرئيلِ اَمِين عَلَیْہِ السَّلَام را اوليږلو او اوئې فرمائيل: اے جِبرئيل! زما محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته اووايه، چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ فرمائي: اے زما خوږه حبيبه! ته دُعا اوکړه مونږ به دوئي ژوندي کړو. حُضُورِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُعا اوکړه او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په حُکم دواړه مَدَني ماشومان هُم هغه وخت ژوندي شو. (شَوَاهِدُ النُّبُوَّة، ص۱۰۵، مدارِجُ النُّبُوَّت حصه۱ ص۱۹۹) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رَحمت وي او د هغوئي په خاطِر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

قلبِ مردہ کو مرے اب تو جِلا دو آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم
جام اُلفت کا مجھے اپنی پِلا دو آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

کړه ژوندي مړ زړګي زما آقا
خپل محبّت کړه را عطا آقا

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د جُمُعې په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو كالو ګناهونه به مُعاف شي. (كَنْزُ الْعُمَّال)

خوږو خوږو اِسلامي وروڼو! تاسو اوليده! زمونږه د خوږ آقا مَدَنى مُصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خومره ښكلې اوچت شان دې چه لږ طعام ډيرو خلقو اوخوړو، بيا هم په هغې كښې څه كمې رانغلو او بيا ئې د چيلۍ د غوښو نه پاتې شوو هډوكو باندې څه كلام اولوستلو نو سره د غوښو او څرمنې بالكل هم هغه چيلۍ غوړږونه اوڅنډل او پاڅيدله، او د حضرتِ سَيِّدُنا جابِر رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وفات شوي دواړه حقيقي مَدَني ماشومان ئې هم په اِذن د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ راژوندي كړل.

مُردوں کو جِلاتے ہیں رَوتوں کو ہنساتے ہیں
آلام مٹاتے ہیں بگڑی کو بناتے ہیں
سرکار کِھلاتے ہیں سرکار پلاتے ہیں
سُلطان و گدا سب کو سرکار نبھاتے ہیں

مَړي ژوندي كوي، ژړيدونكي خندوي غمونه ختموي، وران كارونه سموي
په ټولو باندې خوري، په ټولو باندې ښښي بادشاه دې كه غُلام دې، دا ټول هغوئي پالي

## ﴿٤﴾ ووه كجُوري

حضرتِ سَيِّدُنا عِرباض بِن ساريه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فرمائي: په غزوه تبُوك كښې سرورِ كائِنات صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د حضرتِ سيِّدُنا بِلال رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ نه تپوس اوكړو: اے بِلال! ستا سره د خوراك څه شته؟ حضرتِ سَيِّدُنا بِلال رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عرض اوكړو، حُضُور! ستاسو د رب په قَسَم! مونږه خو خپل توشه دانونه [كځوړې] تشې كړې دي، رَحمتِ عالَم صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په صحيح طريقه ئې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (ترمِذی)

اوګورئ او خپل **توشه دانونه** اوښندئ شايد چه څه ترې را اوځي. (هغه وخت مونږه درې کسان وو) ټولو خپل خپل **توشه دان** اوښندلو نو ټولې ترې **ووه کجُورې** را اووتلې. آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه په يوه پانړه کيښودلې او خپل لاس مبارك ئې د هغې د پاسه کيښودلو او اوئې فرمائيل: بِسْمِ الله اولولئ او خورئ، مونږه درې واړو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **لاس مبارك** د لاندې نه راخستلې او ښې ډيرې مو اوخوړلې، حضرتِ سيِّدُنا بِلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه ما هېوکي په کڅ لاس کښې اينبودل، چه کله زه موړ شوم او هغه مې اوشميرل نو څلور پنځوس وو! هم دغسې هغه دواړو صحابه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا هم ښه په مړه اوخوړلې. چه کله مونږه د خوراك نه بس کړل نو سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ترې خپل مبارك لاس پورته کړو. **هغه ووه واړه کجُورې هُم هغسې موجودې وې!** حضورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے **بِلال!** دا سَنبال کيږده او چه د دې نه څوك اُو نه خوري، بيا به په کار راشي. حضرتِ سيِّدُنا بِلال رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي، مونږه هغه اُو نه خوړلې، چه کله دويمه ورځ راغله او د طعام وخت شو نو سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هُم هغه **ووه کجورو** راوړلو حُکم ورکړو، او هغوئې صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم هغه شان بيا په هغې باندې خپل

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِیر)

مبارك لاس كيښودلو او اوئې فرمائيل: بِسْمِ الله اولوَلئ او خورئ! دا ځل مونږه لس سړي وو تول ماړه شو. حُضُور تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چه ترې خپل د رحمت نه ډك لاس پورته كړو نو ووه كجورې هُم هغسې موجودې وې. آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: اے بِلال! كه ما ته د حقّ تعالٰى نه حيا نه راتله نو بيرته مدينې ته د رسيدلو پورې به مو د هُم دې ووه كجورو نه خوړلې. بيا سركارِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه كجُورې يو هلك ته وركړې. هغه، هغه اوخوړې او لاړو. (اَلخصائِص الكُبرىٰ ج۲ ص۴۵۵) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمَت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! ربِّ كائِنات عَزَّوَجَلَّ، سلطانِ مدينه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته څومره زيات اختيارات وركړې وو. په ووه كجورو كښې څومره بَرَكت اوشو چه ډيرو صحابهٔ كرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم په مړه ګيډه اوخوړلې.

مالِک کونین ہیں گو پاس کچھ رکھتے نہیں
دو جہاں کی نعمتیں ہیں ان کے خالی ہاتھ میں

مالِك د دوجهانو دې د څان سره څه نه ساتي
لري په تشو لاسو كښې نعمت د دواړو جهانو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٥﴾ ما به هره ورځ دوه فِلمونه کتل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د تبليغِ قرآن و سُنَّت د عالمګِير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د مَدَني ماحول سره خپل تعلق هر وخت مضبوط ساتئ. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي** مَدَني ماحول د بيشميره خلقو په تقدير کښې مَدَني اِنقِلاب راوستي دي. چنانچه د **عطّار آباد** (جيکب آباد) بابُ الاِسلام سِندهه يو اسلامي ورور مَدَني ماحول ته د خپلو راتلو واقعه څه په دې ډَوَل ليکلې ده، زه په ډېرو ګناهونو کښې اخته پروت ووم، عام طور به مې **هره ورځ دوه فِلمونه کتل**، هر وخت به مې د ځان سره ريډيو ساتلو، يو به مې خرڅوو او بل به مې اغستو، د شپې د اوده کيدو په وخت کښې به مې هُم سر ته ريډيو غږوَلو، په ريډيو اوريدو اوريدو کښې به چه د شپې دوه بجې اوده شوم نو مور به مې راپاڅيده او ريډيو به ئې بند کړو. غالِباً د ١٤١٦ھ د رَمَضانُ المُبارك د يو زيارت د ورځې واقعه ده چه زه د خپل يو دوست سره د ملاقات د پاره **زَم زَم نګر** حيدر آباد ته لاړم، هغه زه د دعوتِ اسلامي هفته واره د سُنَّتو نه ډکه اِجتِماع کښې د شرکت د پاره **فيضانِ مدينه** ته بوتلم. د بابُ المَدينه کراچۍ نه مې چه څنګه د **ټيليفون په ذريعه** ستاسو (يعني د سګِ مدينه عُفِيَ عَنهُ) **بيان** واوريدو نو زما په ژوند کښې **مَدَني اِنقِلاب** راغې، د خوفِ خُدا عَزَّوَجَلَّ په وجه مې په ژړا ژړا د ګناهونو نه توبه اوکړه او

www.dawateislami.net

د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني ماحول** کښې شامِل شوم. په عطّار آباد کښې د دعوتِ اسلامي د يو عاشقِ رسول د **اِنفِرادي کوشش** په ذريعه مې **اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ يو مُوتي کِيره** هُم پريښودله.

میں تو ناداں تھا دانستہ بھی کیا کیا نہ کیا
لاج رکھ لی مِرے لجپال نے رُسوا نہ کیا

زه خو نادان وومه قصداً مې کړي نه دي څه څه
زه ئې رُسوا نه کړم زما رب په ما پرده واچوله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٦﴾ په لږ طعام کښې بَرَکت

**حضرتِ** سَيِّدُنا صُهَيب رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه ما د تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره لږ شان طعام پوخ کړو او [د طعام] دعوت ورکولو د پاره حاضِر شوم نو هغوئې صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان سره تشريف فرما وو. ما د شرم نه څه عرض اُو نه کړې شو او خاموشه ولاړ ووم. سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما طرف ته اوکتل نو ما ورته په اشاره کښې د طعام خوړلو د پاره د تللو عرض اوکړو، اوئې فرمائيل: او دا خلق؟ ما عرض اوکړو، نه. سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاموشه شو اوزه په هُم هغه ځائ ولاړ ووم. **حُضُورِ اَنور** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيا زما طرف ته نظر کړو. ما هُم هغسې بيا په اشاره

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوک چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

کښې عرض اوکړو. اوئې فرمائيل: دا خلق؟ ما عرض اوکړو نه. د دويم يا دريم ځل په جواب کښې ما عرض اوکړو، "ډيره ښه ده" يعني دوئې هُم راولئ او ورسره مې دا عرض هم اوکړو چه بس لږ شان طعام مې صرف ستاسو د پاره پوخ کړې دې. رَحۡمَةٌ لِّلۡعٰلَمِين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د هغه ټولو صحابهٔ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان تشريف راوړو، ټولو ښه اوخوړله او طعام بيا هُم پاتې شو. (اَلخَصائِصُ الکُبریٰ ج۲ ص۸۲) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صِفتونو نه ډک ذات بيشکه د بَرَکتونو د نازليدو باعث دې. او د هغوئې صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر په مونږه هر وخت د رحمتونو باران دې. د طعام د کمئ په وجه صرف خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته دعوت وو خو د قاسِمِ نِعمَت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په بَرَکت لږ طعام د ډيرو صحابهٔ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان د پاره کافي شو بلکه پاتې هم شو.

یہ سُن کر سخی آپ کا آستانہ، ہے دامن پَسارے ہوئے سب زمانہ
نواسوں کا صدقہ نگاہِ کرم ہو، ترے در پہ تیرے گدا آگئے ہیں

ستا په در باندې حاضِر دي ملنګان خوږې ځولئ
کَرَم اوکړئ په خوارانو په خاطر د حَسَنَينو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دي. (عَبدُالرَّزّاق)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اوچت شان او د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مُعجِزاتو به څه وائي! د حُضُورِ اقدس صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د غُلامانو نه هم کرامات ظاهرېږي چنانچه

## ﴿۷﴾ د جَشنِ وِلادت په متهايانو کښې بَرَکت

په **مُراد آباد** کښې به يو عاشِقِ رسول هر کال په رَبِيعُ الاَوَّل شريف کښې په جوش او جذبه د خوږ خوږ مَکِّي مَدَني آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د پيدائِش مبارك** خوشحالئ کولې او زبردست **محفِلِ مِيلاد** [يعني مَولُود شريف] به ئې کولو، د اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خليفه حضرت مولانا سيِّد **مُحَمَّد** نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به په هغې کښې خصوصي شرکت کولو. يو ځل د مولود شريف په **محفِل** کښې د تيرو کلونو نه ډير زيات خلق راغلل. په آخِره کښې د معمول مطابق پاؤ پاؤ (تقريباً ۲۵۰ گرامه) متهايان تقسيمېدل شروع شو خو هغه تقريباً صرف د نيمو خلقو د پاره کافي وو. د مولود شريف کوونکي کس په يَره يَره د حضرتِ **صدرُالافاضِل** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خِدمت کښې قِصه عرض کړه، هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خپل رومال را اووِيستو او ور ئې کړو او اوئې فرمائيل چه دا د متهايانو په لوښي د پاسه خور کړه، او تاکِيد ئې اوکړو چه خوږه د رومال د لاندې نه را اوباسئ او تقسيموئې ئې خو لوښي ته به سر نه ښکاره کوئ. چنانچه ښه ډير متهايان تقسيم

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

شو او هر يو کس ته مټايان ورکړې شو. په آخِره کښې چه د لوښي نه سر اوچت کړې شو نو د رومال اچولو وخت کښې چه پکښې څومره مټايان وو هُم هغه هُمره پکښې اوس هُم موجود وو! (مَلَخّصاً، تاریخِ اِسلام کی عظیم شخصیّت صدرُالافاضل ص۳٤۳) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

چاہیں تو اشاروں سے اپنے کایا ہی پلٹ دیں دنیا کی
یہ شان ہے خدمتگاروں کی سردار کا عالم کیا ہوگا

که اوغواړي نو په اِشارو، حالت بدل کړي د دُنيا
دا شان دي د خدمتګارو د سردار په څنګه شان وي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۸﴾ د والِد صاحِب نه عذاب لرې شو

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په ښو ښو نِيَّتونو د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني ماحول** کښې شامليدو والا اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دواړو جهانو د ثواب حقدار جوړيږي. د **يو** اسلامي ورور د بيان خُلاصه ده، ما د اختر په دويمه ورځ د عاشقان رسول سره په **مَدَني قافِله** کښې د سفر کولو سعادت حاصِل کړو، په هُم دې دوران کښې زما **والِد مرحُوم** چه دوه کاله مخکښې وفات شوې وو، ما په **خوب** کښې په ډير ښه حالت کښې اوليدو، ما ترې تپوس اوکړو چه پلاره د وفات نه پس څه اوشو؟ اوئې فرمائيل چه څه موده د ګناهونو سزا راکړې شوه خو اوس را نه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

عذاب لرې شوې دې، ته د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول مه پرېږده ځکه چه د هُم دې په بَرَکت په ما کرم شوې دې. **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** واقعي د الله عَزَّوَجَلَّ رحمت ډير لوئي دې، نيك اولاد صَدَقهٔ جاريه وي او د دوئي د دُعا په وجه په مور او پلار آسانئ کيږی. اولاد نيك جوړولو د پاره د دعوتِ اسلامي **مَدَني ماحول** يوه بهترينه ذريعه ده.

ہیں اسلامی بھائی سبھی بھائی بھائی ہے بے حد محبّت بھرا مَدَنی ماحول
یہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی دِلائے گا خوفِ خدا مَدَنی ماحول
نبی کی محبّت میں رونے کا انداز
تم آجاؤ سکھلائے گا مَدَنی ماحول

دي اسلامي ورونړه، ټول ورونړه ورونړه ډير د مَحَبّت نه ډك دې دا مَدَني ماحول
دلته به زده کړئ ډير ډير سُنّتونه دربه کړی خَوفِ خُدا مَدَني ماحول
د نبي په محبّت کښې د ژړا انداز تاسو راشئ درزده به کړي دا مَدَني ماحول

## ﴿۹﴾ درې سوه سرې خِنزِيران شو

د **حضرتِ** سيِّدُنا عِيسیٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام په خِدمت کښې حوارِيّانو عرض اوکړو، چه آيا ستاسو **ربّ** عَزَّوَجَلَّ به ستاسو په دُعا دا کرم اوکړي چه زمونږ د پاره د آسمان نه **غيبي دسترخوان** را نازِل کړي؟ په دې خبره

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

حضرتِ سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل چه داسې سوالونه مه کوئ، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه اويَريږئ د خپلې خوښې مُعجِزې مه غواړئ، که تاسو مُؤمِنان ئې نو د دې نه قلار شئ. هغوئي په جواب کښې عرض اوکړو، جناب **محترمه**! زمونږه دا گُزارش ستاسو عَلَيْهِ السَّلَام په نُبُوَّت يا د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په قُدرتونو کښې د څه شك او شُبهې په وجه نه دې بلکه د دې خلور مقصدونه دي: (۱) **يو** دا چه مونږه هغه غيبي طعام اوخورو، بَرَکت حاصِل کړو، زمونږه زړونه روښانه شي او مونږ ته د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نور نزديکت حاصل شي. (۲) **دويم** دا چه تاسو عَلَيْهِ السَّلَام چه زمونږه سره وعده فرمائيلې ده چه تاسو مقبُولُ الدُّعا ئې، ربّ تعالٰی ستاسو سوال قبلوي، چه د دې مونږ ته عَينُ اليَقِين [يعني پوخ يقين] حاصِل شي، زمونږه زړونه مطمئِن شي او مونږ ته په خپل کامِل ايمان والا کيدو اِطمينان حاصِل شي. (۳) **دريم** دا چه مونږ ته ستاسو عَلَيْهِ السَّلَام صداقت په پوخ يقين سره معلوم شي. (٤) **خلورم** دا چه مونږه دا آسماني مُعجِزه اووِينو او د نورو د پاره مونږه ليدونکې گواهان جوړ شو او د قيامته پورې د خلقو د پاره زمونږه دا واقِعه د کامِل اِيمان باعِث جوړه شي او مونږه ستاسو د هميشه گواهان جوړ شو. د حضرتِ سيِّدُنا سَلمان فارسي او د عبدُالله اِبنِ عَبَّاس او د جمهورو مفسِّرينو رِضْوَانُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْهِمْ اَجْمَعِيْن قول دا

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

دې چه كله حَوارِيّانو حضرتِ سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام ته د هر قِسم اطمينان ورکړو چه مونږه دا دسترخوان صرف د شوق او تماشې د پاره نه غواړو بلكه په دې كښې زمونږه دِيني مقصدونه دي نو هله حضرتِ سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام د ټاټ [يعني تراټ] جامې واغوستې او په ژړا ژړا ئې دُعا اوكړه:

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَاۤ اَنۡزِلۡ عَلَيۡنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوۡنُ لَنَا عِيۡدًا لِّاَوَّلِنَا وَ اٰخِرِنَا وَ اٰيَةً مِّنۡكَ ۚ وَارۡزُقۡنَا وَاَنۡتَ خَيۡرُ الرّٰزِقِيۡنَ ﴿۱۱۴﴾

(پ ٧ المآئدة ١١٤)

مفهوم ترجمۂ كنزُالايمان: اے اللّٰه! اے زمونږه ربه! په مونږه باندې د آسمان نه يو دستر خوان رانازِل كړې چه هغه زمونږه د پاره اختر شي زمونږه د مخكښنو او وروستو خلقو او ستا د طرف نه نښه او مونږته رِزق راكړې او ته د ټولو نه بهتر روزئ وركولو والا ئې.

چنانچه د سُور رنګ دسترخوان په وريَځو كښې پټ راغې، دې ټولو خلقو هغه په راكوزيدو ليدلو. دا دسترخوان سره د وريَځو په قلاره قلاره لاندې راكوز شو تر دې چه د خلقو په مينځ كښې كيښودې شو. حضرتِ سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام چه دا دسترخوان اوليدلو نو ډير ئې اوژړل او دُعا ئې اوكړه چه مَولٰی! ما په شاكِرينو كښې شامِل كړې، يا اِلٰهی! دا د دې حوارِيّانو د پاره رَحمت جوړ كړې، عذاب ئې مه جوړوې. حوارِيّانو د هغې نه داسې خوشبو محسوسه كړه چه د هغې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاځیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا ځیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

نه مخکښې ئې کله هم نه وه محسوسه کړې. حضرتِ سَیِّدُنا عِیسیٰ رُوحُ الله عَلَیْهِ السَّلَام او حوارِیّان په **سجدهٔ شُکر** کښې پریوتل. حضرتِ سَیِّدُنا عِیسیٰ رُوحُ الله عَلَیْهِ السَّلَام اوفرمائیل چه دا به څوک سپړي؟ دا دسترخوان په سُور غِلاف کښې پټ وو. ټولو عرض اوکړو، حُضُور! هُم تاسو ئې اوسپړئ. حضرتِ سَیِّدُنا عِیسیٰ رُوحُ الله عَلَیْهِ السَّلَام تازه اودس اوکړو او نفلونه ئې ادا کړل، ډیر ساعت ئې دُعاګانې اوکړې، بیا ئې د دسترخوان نه غِلاف لرې کړو، په هغې کښې دا څیزونه وو: **ووه مَهیان او ووه ډوډئ**، په هغه مهیانو سخت پوستکې نه وو او دننه پکښې لشې نه وې او د هغې نه غوړ څخیدل. د هغوئي سرونو ته سِرکه، د لکو طرف ته مالګه او خوا و شا سبزیانې وې. ځینې رِوایاتو کښې دي چه **پینځه ډوډئ** وې. په یوه ډوډئ باندې زیتون، په دویمه شهد، په دریمه غوړي، په څلورمه پنیر. په پینځمه سره کړي غوښه وه. **شَمعون** حواري تپوس اوکړو چه یا رُوحَ الله! دا طعام د جنَّت دې او که د زمکې؟ اوئې فرمائیل، نه د زمکې نه د جنَّت، هسې قُدرتي دې. ورومبې بیماران او فقِیران، په لوږه کښې اخته، د برَګې او جُذام والا او شلیان را اوبللې شو. حضرتِ سَیِّدُنا عِیسیٰ رُوحُ الله عَلَیْهِ السَّلَام اوفرمائیل: بِسْمِ الله اولولئ او خورئ ستاسو د پاره **مبارک** دې او د مُنکِرو د پاره **مُصِیبَت**. بیا ئې نورو خلقو ته هُم دا اوفرمائیل، چنانچه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : څوک چه په ما باندې په ورځ کښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

په ورومبئ ورځ ووه زره او درې سوه كسانو اوخوړه، بيا هغه دسترخوان پورته شو، خلقو ورته كتل، والوَتو او د خلقو د ستركو نه پناه شو. **ټول بيماران او مصيبت وهلي ښه او صِحت مند شو، فقِيران مالدار شو** بيا به دا دسترخوان څلويښت ورځې مسلسل يا يو ورځ پس راتلو او خلقو به ترې خوړله. بيا په حضرتِ سيِّدُناعِيسیٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام وَحي راغله چه اوس دِ د دې نه صِرف **فُقَراء** [يعني غريبان] خوري يو غني [يعني مالدار] دِ ئې هُم نه خوري. چه كله دا اِعلان اوشو نو مالداران خفه شو او وئيل ئې چه دا هسې جادو دې! **دا مُنكِران** (يعني اِنكار كوونكي) **درې سوه سړي وو، دوئي د شپې د خپلو بال بچو سره په خير اُوده شو خو چه سحر راپاځيدل نو خِنزيران وو په لارو كښې به ئې منډې وهلې او ګند او غټ بَول به ئې خوړل.** چه خلقو د هغوئي دا حال اوليدو نو په منډه منډه د عِيسیٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام خوا ته راغلل او ډير ئې اوژړل، دا خِنزيران هُم د هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام خوا ته را جمع شو او ژړل ئې. حضرتِ سيِّدُنا عِيسیٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام هغوئي ته د هغوئي په نومونو اخستو غږ كولو او هغوئي په جواب كښې سر خوزولو خو خبرې ئې نه شوې كولې، درې ورځې د ډير زيات ذِلَّت او خوارئ سره ژوندي وو، په څلورمه ورځ ټول مړه شو، په هغوئي كښې څوك ښځه يا ماشوم نه وو ټول سړي وو، چه څومره قومونه په دُنيا كښې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډېر نِزدې هٔغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

مسخ [يعني د هغوئي وجودونه وران] کړې شوي دي هغه ټول مړه شوي دي د هغوئي نسل [د مسخ کيدو نه پس نور] نه دې چليدلې، دا د قُدرت قانون دې. (مُلَخَّصاً التفسِيرُ الكبير ج٤ ص٤٢٣ وغيره)

په تِرمِذی شريف کښې دي چه د نبئ کريم، رءُوفٌ رَّحِيم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك اِرشاد دې، د آسمان نه ډوډئ او غوښه نازله کړې شوه او حُکم اوکړې شو چه نه خِيانت اوکړئ او نه ئې د بلې ورځې د پاره اوساتئ، پس هغوئي خِيانت اوکړو او د بلې ورځې د پاره ئې هم اوساتله نو هغوئي د شادو او د خِنزير په شکل کړې شو. (جامع تِرمِذي شريف ج٥ ص٤٤ حديث٣٠٧٢) هغوئي ته تاکيد شوې وو چه د دې دسترخوان نه د صبا د پاره پټ مه ساتئ، ځيني خلقو د صبا د پاره کيښودله هغوئي **خِنزيران** جوړ کړې شو. د حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بِن عمرو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا د عِبرت نه ډك فرمان دې، د قيامت په ورځ به سخت عذاب په دسترخوان والا عِيسايانو، فِرعونيانو او مُنافِقانو باندې وي. (الدُّرّ المنثور ج٣ ص٢٣٧)

## آيا د خِنزِير په نوم اخستو اودس ماتيږي

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د **حضرتِ** سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام عظِيم [يعني لوئي] شان تاسو اوليدلو! د هغوئي په دُعا باندې الله عَزَّوَجَلَّ د نِعمتونو نه ډك مائِده (يعني دسترخوان) نازِل کړو. په دُنيا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

کښې چه څه **نعمت** په لاس راځي عام طور په هغې کښې **زَحمت** [يعني تکليف] هُم وي. د نِعمت شُکر ادا کوونکي کامياب شي او د نِعمت ناشُکري کوونکي ناکامه شي. د نعمتونو د ډېروالي په وجه په نافرمانو کښې اخته کېدونکي آخِر ذليله او خوار شي څنګه چه د دې قُرآنی حِکايت نه معلومه شوه چه درې سوه نافرمانه د خِنزِيرانو په شکلونو کښې بدل شو او درې ورځې ئې در په در ټوکرې خوړلې او په څلورمه ورځ د ذِلّت په مرګ مړه شو. مونږ د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د قهر او غضب نه د هغه پناه غواړو. ځيني خلق دا وَهم لري چه د خِنزِير په نوم اغستو اودس ماتيږي! دا سراسر غَلَط خيال دې. د خِنزير نوم په قُرآن کريم کښې هم موجود دې. لِهٰذا په دې لفظ وئيلو نه خو ژبه ناپاکه کيږي او نه پرې اودس ماتيږي.

## ﴿۱۰﴾ دريمه ډوډۍ څه شوه؟

د **حضرتِ** سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام په خِدمت کښې يو سړي عرض اوکړو: يا رُوحَ الله! زه ستاسو په صُحبت کښې اوسيدل، خِدمت کول او عِلمِ شريعت حاصلول غواړم. هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام هغه ته اِجازت ورکړو. تلل تلل چه کله دواړه د يو نهر خوا ته اورسيدل نو حضرتِ سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل، راځه چه طعام اوخورو.“ د سيِّدُنا عِيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام سره درې ډوډۍ وې، چه دواړو يوه يوه ډوډۍ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه د جَنَّت لاره هیره کړه. (طَبَرانِی)

اوخوړله نو حضرتِ سیِّدُنا عِیسیٰ رُوحُ الله عَلَیْہِ السَّلَام د نهر نه اوبه څښل شروع کړل او هغه کس دریمه ډوډۍ پټه کړه. چه کله هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام بیرته تشریف راوړو او ډوډۍ موجوده نه وه نو تپوس ئې ترې اوکړو چه "**دریمه ډوډۍ څه شوه؟**" هغه دروغ اووئیل چه ما ته نه ده معلومه. هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام خاموشه شو. لږ ساعت پس ئې اوفرمائیل: "زه چه مخکښ ځُو" په لاره ئې یوه هوسۍ اولیدله او د هغې سره دوه بچي وو، هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام د **هوسۍ** یو بچې خپلې خوا ته را اوبلو، هغه راغې، هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام هغه ذبح [یعني حلال] کړو، پوخ ئې کړو اودواړو په شریکه اوخوړو. چه غوښه ئې اوخوړه نو حضرتِ سیِّدُنا عِیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام هډوکي را یو ځائ کړل او اوئې فرمائیل: قُمْ بِاِذْنِ الله (یعني د الله عَزَّوَجَلَّ په حُکم ژوندې شه او پاڅه) د هوسۍ بچې **ژوندې** شو او د خپلې مور سره لاړو. هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام هغه کس ته اوفرمائیل چه "ستا دِ په هٰغه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ قسم وي چا چه ما ته د دې مُعجِزې د ښودلو طاقت راکړو، رښتیا اووایه، **هغه دریمه ډوډۍ څه شوه؟**" هغه اووئیل، "ما ته نه ده معلومه." بیا ئې اوفرمائیل، څه چه مخکښ ځو." تلل تلل یو دریاب ته اورسیدل او کښیناستل. [بیا پاڅیدل او] حضرتِ سیِّدُنا عِیسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام د هغه لاس اونیولو او په اوبو د پاسه روان شولو او د دریاب بلې غاړې ته اورسیدل. هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام هغه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰیﷺ: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

کس ته اوفرمائیل چه "ستا دِ په هُغه **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ قَسم وي چا چه ما ته د دې مُعجِزې د ښودلو طاقت راکړو، رښتیا اووایه، **هغه دریمه ډوډۍ څه شوه؟**" هغه اووئیل: "ما ته نه ده معلومه." هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائیل: "څه چه مخکښې ځو." تلل تلل یو ریګِستان [یعني د شګو ډاګ] ته اورسیدل، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د شګو یو ډیرې جوړ کړو او اوئې فرمائیل: اے د شګو ډیریه د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په حُکم **سره زر** جوړ شه." هغه فوراً سره زر جوړ شو، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام هغه **دري حِصّې** کړل بیا ئې اوفرمائیل: "دا یوه حِصّه زما ده او یوه حِصَّه ستا او دا یوه حِصّه د هغه، چا چه هغه **دریمه ډوډۍ اغستي وه**." دا ئې چه واوریدل نو هغه سړي فوراً اووئیل! یَا رُوحَ الله! هغه دریمه ډوډۍ ما اغستې وه. حضرتِ سیِّدُنا عِیسیٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائیل، دا ټول **سره زر** ته واخله. بیا ئې هغه پریښودو او مخکښې ئې تشریف یوړلو. دې کس سره زر په څادر کښې واچول او یواځې روان شو، په لاره کښې ورسره دوه سړي مخامخ شو، هغوئي چه د ده سره **سره زر** اولیدل نو د **سرو زرو** اخستلو د پاره د ده قتل کولو ته تیار شو. هغه کس د ځان بچ کولو د پاره اووئیل، "تاسو ما قتل کوئ ولې، دا **سره زر** به دري ځایه کړو او یوه یوه حِصّه به واخلو. هغه دواړه کسان په دې خبره راضي شو. هغه کس اووئیل چه بهتره دا ده چه په مونږه کښې یو کس ځان سره لږ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

سره زر واخلي او نِزدې ښار ته لاړ شي او طعام راوړي چه **طعام** اوخوړو بيا به **سره زر** تقسيم کړو. چنانچه په هغوئي کښې يو کس ښار ته اورسيدو، چه طعام ئې واغستو او راروانيدو نو سوچ ئې اوکړو چه ښه به دا وي چه په طعام کښې **زَهر** کډ کړم چه هغه دواړه ئې اوخوري او مړه شي او ټول **سره زر** زه واخلم. دا سوچ ئې چه اوکړو نو زهر ئې واخستل او په طعام کښې ئې کډ کړل. هلته هغوئي دواړو دا سازش جوړ کړو چه هغه څنګه طعام راوړي مونږ دواړه به ئې په شريکه مړ کړو او بيا به **سره زر** په خپل مينځ کښې تقسيم کړو. چنانچه هغه چه څنګه طعام راوړو هغه **دواړو پرې راکيښودل او قتل ئې کړو**، بيا په خوشحالئ خوشحالئ طعام خوړلو ته کښيناستل نو زهرو خپل کار شروع کړو او **دا دواړه هم په ارغښتو ارغښتو مړه شو** او **سره زر** دغسې پاتې شو. بيا چه حضرتِ سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيۡهِ السَّلَام بيرته راتللو نو يو څو سرې ورسره ملګرې وو، هغوئي عَلَيۡهِ السَّلَام سرو زرو او درې **واړه مړو** ته اِشاره اوکړه او خپلو ملګرو ته ئې اوفرمائيل: **"اوګورئ د دُنيا دا حال دې پس په تاسو لازِمه ده چه د دې نه ځان ساتئ"**. (اتحاف السادة المتقين ج٩ ص٨٣٥)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو**! تاسو اوليده! چه د دولت محبّت په انسان څه څه **کارنامې** کوي، د ګناهونو د پاره ئې راپاروي، در په در ئې خوار

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

و زار ګرځوي، په لوټ مار کښې ئې اخته کوي، تر دې چه قتلونه پرې کوي خو د چا په لاس نه راځي او که راشي نو هم بې حده ئې پریشانه کوي او ډیر ئې ژړوي. لِهٰذا زمونږه بُزُرګانِ دِین رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہِم به د مال و دولت په مُعامَله کښې ډیر زیات احتیاط کولو چنانچه

## د مال په غندنه کښې د بُزرګانو اِرشادات

حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سیِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: (۱) حضرتِ سیِّدُنا حسن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: قَسَم په خُدائے عَزَّوَجَلَّ! څوك چه د دِرهم (یعني دولت) عِزَّت کوي، اللّٰه رَبُّ الْعِزَّت هغه ذلیله کوي. (۲) منقُول دي چه کله وړومبي ځل دِرهم و دِینار جوړ شو نو شیطان راواغستل او خپل تندي پورې ئې اونیول او اوئې وئیل، چا چه د دې سره محبَّت اوکړو هغه زما غُلام دې (اَلعِیاذُ بِاللّٰه) (۳) حضرتِ سیِّدُنا **سمِیط بِن عجلان** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: دِرهَم او دِینار (یعني مال او دولت) د مُنافِقانو واګې [یعني جِیلبونه] دي هغوئي به د دې په ذریعه دوزخ ته راښکلې شي. (٤) حضرتِ سیِّدُنا **یَحْییٰ بِن مُعاذ** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: دِرهَم (یا روپئ) لړمان دې که تا ته د دې د زهرو وِیستلو طریقه نه درځي نو دا مه نِیسه ځکه چه که دې اوچیچلې نو د دې زهر به دِ مړ کړي. عرض اوکړې شو، د دې د

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

زهرو مړو کولو څه طريقه ده؟ اوئې فرمائيل: په حلاله طريقه حاصلول او د دې واجِب حقونه ادا کول (۵) حضرتِ سيِّدُنا **عَلاء بِن زِياد** رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: دُنيا ځان ډېر ښکلې کړو او زما مخې ته په مِثالي شکل کښې راغله. ما اووئيل: زه ستا د شر نه د اللّٰهتعالیٰ پناه غواړم. هغې اووئيل، که ته زما نه بچ اوسيدل غواړې نو د دِرهم او دِينار نه نفرت کوه، ځکه چه دِرهَم او دِينار هغه څيزونه دي چه د دې په ذريعه اِنسان د هر قِسمه **دُنيا** حاصلوي لِهٰذا څوك چه د دې دواړو (يعني دِرهَم او دِينار) نه زړه **صبـر** کړي يعني [د دې نه] لرې اوسي هغه به د **دُنيا** نه هم زړه **صبـر** کړي. د دې نه پس **سَيِّدُنا اِمام مُحَمَّد غزالي** رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **عربي شعرونه** نقل کړي دي، د هغې **ترجَمه ده:** ما خو دا راز موندلې دې، پس ته هُم د دې نه علاوه بل څه گمان مه کوه او دا مه گڼره چه تقوىٰ د دې دِرهَم [يعني روپئ] سره ده. نو چه ته کله په دې مال باندې د قُدرت موندلو باوجود دا پرېږدې نو پوهه شه چه ستا تقوىٰ د يو مسلمان تقوىٰ ده. د چا په قميص باندې د لګيدلې پيوند، د ګيټو نه پورته کړې پرتوګ يا د هغه په تندي باندې جوړو شوو د (سَجدې) په نښو ليدلو مه دوکه کيږه بلکه دې ته اوګوره چه هغه د دِرهَم (يعني مال، دولت) سره محبَّت کوي يا د هغې نه لرې اوسي.'' (اِحیاءُ العُلوم ج۳ص۲۸۸)

حُبِّ دنیا سے تُو بچا یا ربّ! | اپنا شیدا مجھے بنا یا ربّ!

د دُنيا له محبَّت مې بچ ساته يارب! | کړې نصيب ستا محبّت راته عطا يا رب!

فرمانِ مُصطفٰیﷺ: خوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

## ﴿۱۱﴾ د مَدَني محبوب د زُلفو قيدي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبلِيغِ قرآن و سُنَّت د عالمگِير غير سياسي تحريك **دعوتِ اِسلامي** د مَدَني ماحول په بَرَكت د غټو غټو غَلو او ډاكوانو په سمه لاره باندې د راتلو واقعات موجود دي. د دعوتِ اِسلامي د مُختلفو كارونو د چلولو د پاره په مختلفو ملكونو او ښارونو كښې ګڼړ شمير مجلِسونه جوړيږي. په هُم دې كښې يو **مجلِس رابِطه بِالعُلَماءِ وَالمَشَائِخ** هم دي چه اكثر په عُلَمائے كرامو مشتمل وي. د دې مجلِس اِسلامي ورونړو مشهورې دِيني درسګاه [يعني مدرسې] جامِعه راشِديه (پير جو ګوټ بابُ الاِسلام سِندھ) ته تشريف يوړو. په خبرو خبرو كښې په جيلونو كښې د دعوتِ اسلامي د مَدَني كارونو خبره راغله نو د هغه ځاۍ **شيخُ الحديث صاحِب** داسې اوفرمائيل چه په جيلونو كښې د مَدَني كار شانداره مَدَني كاركردګي زه بخپله تاسو ته اوروم، د پير جو ګوټ په خوا و شا كښې يو ډاكو تباهي جوړه كړي وه، ما هغه پيژندلو، هره ورځ به د پوليس سره د هغه پټ پټوني جاري وو، ډير ځل ګرفتار هم شو خو [د غټو خلقو سره خپل] تعلقات به ئې استعمال كړل او خلاص به شو. آخِر دا چه په څه جُرم كښې د بابُ الـمدينه كراچۍ پوليسو ته په لاس ورغي. سزا ورته واوروله شوه او جيل ته لاړو. د سزا پوره كيدو نه پس چه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

راخلاص شو نو زما سره د ملاقات كولو د پاره راغې، اول خو ما اُو نه پيژندو ځكه چه ما كِيره خرئيلې او سر تور سر ليدلې وو او اوس د هغه په مخ باندې د خوږ خوږ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **محبّت** نښه نوراني كِيره مُباركه ځليدله، او د **شنې شنې عمامې شريفې** تاج ئې هم په سر كړې وو او په تندې باندې ئې د نمونځونو نُور ښكاره معلوميدو. زما حيرانتيا په دې ختمه شوه [يعني هله مې اوپيژندو] چه هغه اوويئيل: د قيد په دوران كښې ما ته په جيل كښې **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اِسلامي** مَدَني ماحول نصيب شو او د عاشِقانِ رسُول د **اِنفِرادي كوشش** په بَرَكت ما د گناهونو بيړۍ ماتې كړې او خپل ځان مې د **مَدَني محبوب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د **زُلفو قيدي** جوړ كړو.

رَحمتوں والے نبی کے گیت جب گاتا ہوں میں — گنبدِ خضرا کے نظاروں میں کھو جاتا ہوں میں
جاؤں تو جاؤں کہاں میں کس کا ڈھونڈوں آسرا — لاج والے لاج رکھنا تیرا کہلاتا ہوں میں
نعت چه وايم د نبي، خوږ محبوبِ كِبريا — ورك شم زه په نظارو كښې د گُنبدِ خضرا
كه لاړ شم چرته لاړ شم اُوكورم د چا اسرا — خيال ساته زما آقا! اُمَّتي يمه زه ستا

## ﴿۱۲﴾ لاسونه ئې تنړاكي [يعني پونړاقي] شو

**حضرتِ** سيِّدُنا سُوَيد بِن غفله رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه زه د **اميرُ المُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا **علىُّ المُرتَضٰی** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت كښې دارُالاَمارة كُوفه ته حاضِر شوم. د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ **مخې** ته د **وربشو مباركو** ډوډۍ او د شودو يوه پياله پرته وه، ډوډۍ اوچه او دومره كلكه وه چه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

كله به ئې په خپلو لاسونو او كله به ئې په زنګون ايښودله او ماتوله به ئې. ما چه دا حال اوليدو نو ما د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ وِينځې **فِضَّه** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا ته اووئيل چه ستاسو په دوئي باندې زړه نه خُوګيږي؟ اوګوره په ډوډئ پورې څکالې نښتې دې، د دوئي د پاره د **وربشو مباركو** وړه چنړوئ او پسته ډوډئ ورله پخوئ چه په آسانئ ماتيږي. **فِضَّه** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا اووئيل چه اميرُالمُؤمِنِين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ زمونږه نه دا پخه وعده اخستې ده چه زما د پاره كله هم ډوډئ پخوئ نو د **وربشو مباركو** وړه به نه چنړوئ. په دې كښې اميرُالمُؤمِنِين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ زما طرف ته توَجُّه اوكړه، اے اِبنِ غفله تاسو دې وِينځې ته څه وائې؟ ما چه څه وئيلي وو هغه مې عرض كړل او دا عرض مې هم ورته اوكړو چه يا اميرُالمُؤمِنِين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خپل ځان رحم اوكړئ او په ځان دومره سخته مه تيروئ. نو هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: اے اِبنِ غَفله! **زمونږ خوږ خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د هغوئي د كور كسانو كله هم پرله پسې درې ورځې د غنمو ډوډئ په مړه خيټه نه وه خوړلي او نه كله د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره د چنړ كړو وړو ډوډئ پخه كړې شوې وه. يو ځل په **مَدِينهٔ مُنَوَّره** كښې لوږې ډير تنګ كړو نو زه د مزدورئ د پاره اووتلم، يوې زنانه د خاورې لُوټې جمع كړې وې او د هغې نه ئې خَټه جوړول غوښتل، ما د هغې سره د [كوهي نه] د يوې

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو كالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمّال)

بوقي اوبو [راخيژولو] په بدله كښې د يوې كجورې مزدوري مُقَرَّره كړه او شپاړس بوقي مې را اوويستلې او هغه لُوتې مې ورله لــمدې كړې تر دې چه زما **لاسونه تنړاكې** [يعني پوټاقې] **شو**، بيا مې هغه كجورې راوړې او د **حُضُورِ اكرَم** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمت كښې حاضِر شوم او ټوله واقعه مې ورته بيان كړه نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم د هغې نه څه كجورې اوخوړلې. (سفِينهٔ نُوح حِصّه اوّل ص۹۹) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۱۳﴾ د زړه نرمولو نُسخه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د اَمِيرُالمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرتَضٰى شيرِخُدا كَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم د سادګۍ نه قُربان شم. د دومره دومره تكليفونو برداشت كولو باوُجود به هغوئي كله هم ګِيله نه كوله. د خوراك سره سره به د هغوئي جامې هم ډيرې ساده وې. يو ځل د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت كښې عرض اوكړې شو، تاسو په خپل قميص كښې پيوند ولې لګوئ؟ اوئې فرمائيل: **يَخْشَعُ الْقَلْبُ وَيَقْتَدِىْ بِهِ الْمُؤْمِنُ** يعني د دې سره زړه نرميږي او مومِن د دې پيروي كوي [يعني د مومِن زړه نَرم پكار دې]. (حِليةُ الاولياء، ج١ص١٢٤)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُ الْعُمَّال)

## ﴿۱٤﴾ څپلۍ ئې ګنډله

**حضرتِ** سيّدُنا عبدالله بِن عبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: زه يوه ورځ د اميرُ **الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيّدُنا عليُّ الْمُرتَضىٰ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت کښې حاضِر شوم. څه ګورم چه هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خپله څپلۍ مبارکه کښې پيوند لګوي. زه حيران شوم نو اوئې فرمائيل: رَسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په خپلو **نعلينو** [يعني پيزار] **مبارکو** او لِباس مُبارك کښې پيوند لګولو او په سوَرلۍ به ئې ځان سره شا ته بل کس هم کښينولو. (سفِينه نُوح حِصّه اوّل ص۹۸) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

کھدے کوئی گھیرا ہے بلاؤں نے حسن کو
اے شیر خدا بہرِ مدد تیغ بکف جا

ورکړئ خبر چه کير کړې بلاګانو دې حَسَن
اے شيرِ خُدا تُوره په لاس ورشه مدد له

## ﴿۱٥﴾ مزيداره فالُوده

د اميرُ **الْمُؤمِنِين** حضرتِ سيّدُنا عليُّ الْمُرتَضىٰ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په خِدمت کښې يو ځل **مزيداره فالوده** وړاندې کړې شوه. اوئې فرمائيل: د دې خوشبوئي، رنګ او خوند ښومره ښه دې! زه دا خبره نه خوښووم چه خپل نفس په داسې څيز عادت کړم، د کوم څيز چه هغه عادت نه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې یو ځل دُرُود شریف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را لیږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نیکئ لیکي. (ترمِذی)

لري. (حِلْیَۃُ الْاَوْلِیاء ج۱۲ص۱۲۳، حدیث۲۴۷) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

## چه څنګه نعمت وي هغسې حِساب وي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د امیرُ المُؤمِنِین حضرتِ سیِّدُنا علیُّ المُرتَضیٰ کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم د نفس مخالَفت مرحبا! کاش چه مونږه هم په سخته ګرمئ کښې د نفس په مطالبه باندې د آئِس کریمو یا فالوده خوړلو په وخت کښې او د یخو بوتلو او شربتونو څښلو په وخت کښې د امیرُ المُؤمِنِین حضرتِ سیِّدُنا علیُّ المُرتَضیٰ کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْکَرِیْم اِیمان تازه کوونکې دا [پاسنې] حِکایت کله کله یادوو. یاد ساتئ! نفس چه په څومره آسانو او مزو عادت کړې شي هغه هُمره هغه بیباکه او عیش پرست جوړ شي. اوګورئ چه کله پکې نه وو اِیجاد شوې هغه وخت به هم خلقو ګُزاره کوله او نن صبا ډېر خلق د اِئیرکنډیشنډ په کوټو کښې د اوده کیدو عادت شوي دي، هغوئي ته به اوس په ګرمئ کښې د اِئیرکنډیشنډ نه بغیر خوب کول مشکل وي. هم دغسې چه څوك د ښو او مزیدارو ګرمو ګرمو طعامونو د خوراك عادت لري، هغوئي چه ساده طعام اووِیني نو طبیعت به ئې خرابیږي بلکه کله که په کور کښې د هغوئي د طبیعت خِلاف طعام پوخ شي نو بدې ردې به وائي او د خپلو بچو د مور سره بلکه مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د خپلې مور سره به

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامعُ الصَّغير)

جګړې کوي او دغسې به د زړه ازارولو وغيره کبيره ګناهونو کښې اخته کيږي. که کله تاسو داسې خطا کړې وي نو زما مشوره ده چه توبه هم اوکړئ او که د چا زړه مو ازارولې وي نو د معافئ تلافئ ترکيب هم جوړ کړئ. ګني د الله عَزَّوَجَلَّ د ناراضګئ په صورت کښې به د مرګ نه پس سخت پښيمانه ئې. **ياد ساتئ!** په دُنيا کښې چه نعمت څومره بهتر وي د قيامت په ورځ به د هغې حِساب هم هغه همره سخت وي. د آخِرت د حِساب په مُعامَله کښې د نعمت د بهتروالي پيمانه د خوښې په اعتبار کيږي، مَثَلًا چه څوك د وريژو په مقابَله کښې ډوډئ زياته خوښوي د هغه د پاره د وريژو په مقابَله کښې ډوډئ غټ نعمت دې او په هم دې حِساب به د هغه سره د ډوډئ حِساب زيات کيږي او څوك چه د وريژو شوقي وي د هغه سره به د ډوډئ په مقابَله کښې د وريژو حِساب زيات کيږي. وَعَلٰى هٰذَا الْقِيَاس (يعني په هم دې هر څيز قياس کړئ)

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰى د ديرشمې سيپارې د سُوْرَةُ التَّكَاثُر په آخري آيتِ کريمه کښې ارشاد فرمائي:

ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَىِٕذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ﴿۸﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بيا بيشکه ضرور په هغه ورځ به ستا نه د نعمتونو تپوس کيږي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بېشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

## د نِعمت قِسمونه او د هغې په باره کښې د قيامت تپوسونه

**مُفَسّرِ شَهِير حَکِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې آيت نه لاندې دا هم فرمائي: دا تپوس به د هر نعمت په باره کښې کيږي، د بدني يا روحاني نعمتونو که د ضرورت وي او که د عيش و آرام وي، د يخو اوبو، د ونې د سورې او د سکون د خوب به هم حساب کيږي. ځنګه چه په حديث شريف کښې دي او مطلقاً د ”نعِيم“ د ټکي نه هم دا معلوميږي. بغير د اِستِحقاق [يعني ذاتي حق] نه چه څه ورکړې شي هغه ”نعمت“ دې، د **ربّ** عَزَّوَجَلَّ هر ورکړې څيز نِعمَت دې که هغه بدني وي او که روحاني وي. د هغې دوه قِسمونه دي: (۱) **کسبی** (۲) **وَهْبِی**. څه نعمتونه چه زمونږه په کوشش په لاس راشي هغه **کسبی** دي، لکه دولت، بادشاهي وغيره. او څه چه صرف د ربّ عَزَّوَجَلَّ په عطا ورکول شي هغه **وَهْبِی** وي، لکه زمونږه اندامونه او سپوږمۍ او نمر وغيره. د **کسبي** نعمت متعلِّق به درې تپوسونه کيږي (۱) د کوم ځائ نه دِ حاصِل کړې وو؟ (۲) کوم ځائ دِ خرچ [يعني استعمال] کړو؟ (۳) د دې دِ څه شُکر ادا کړو؟ او د **وَهْبِی** نعمتونو متعلق به آخري دوه تپوسونه کيږي. (نُورُ العِرفان ص۹۵۶)

لاج رکھ لے گنہگاروں کی  نام رحمٰن ہے ترا یا ربّ
عیب میرے نہ کھول محشر میں  نام ستّار ہے ترا یا ربّ
بے سبب بخش دے نہ پوچھ عمل  نام غفّار ہے ترا یا ربّ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

رحم ته اوکړې په ګنهګارو — نوم رَحمٰن دې دا ستا يا ربّ
عيب زما پټ کړې په محشر کښې ربه — نوم سَتَّار دې دا ستا يا ربّ
بې سبب اوبخښې تپوس مه کوه — نوم غَفَّار دې دا ستا يا ربّ

## مُباح کله عِبادت جوړيږي

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! په مُباح کښې (يعني داسې عمل کښې چه په هغې کښې نه ثواب وي او نه ګُناه وي) چه ښه نِيَّتونه شامِل کړې شي نو د هغې نه د ثواب کار جوړ شي اوس چه ښه نِيَّتونه څومره زيات وي هُم هغسې به ثواب هم زياتيږي خو د هغه ښه نِيَّت تَعَلُّق د آخِرت د اعمالو سره کيدل ضروري دي. د فِقه مشهور کِتاب اَلْاَشباهُ وَالنَّظَائِر کښې دي، د مُباحاتو مُعامَله د نِيَّتونو په اِعتِبار مُختَلِفه وي که د دې په ذريعه د طاعات د پاره تقویٰ (يعني د نيکو کارونو د پاره قُوَّت حاصلول) يا هغې ته رسيدل مقصد وي نو بيا دا (مُباح هُم) **عِبادت** دي.

(اَلْاَشباهُ وَالنَّظَائِر ج۱، ص۲۸، بابُ المدينه کراتشي)

## د خوند اخستو د پاره د مُباح اِستعمال

دا **کوشش** پکار دې چه هر يو مباح (يعني چه د هغې په کولو کښې نه ثواب وي او نه ګُناه وی هغه) کار کول وي يا مُباح خوراك استعمالول وي نو په هغې کښې زيات نه زيات ښه نِيَّتونه شاملول پکار دي چه ډير ډير ثوابونه حاصل کړې شي. اګر چه د ښه نِيَّت نه بغير صرف

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوک چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِیمان)

د خوند اخستو د پاره مُباح څیزونه استعمالولو والا ګنهګار نه دې خو بیا هم د حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سیِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ارشاد دې چه "د هغه نه به تپوس ضرور کیږي او د چا سره چه په حساب کښې جګړه اوشوه هغه ته عذاب ورکړې شو او **ځوك چه په دُنيا کښې مُباح څيزونه استعمالوي اګر چه هغه ته به** [د دې څیزونو په وجه] **عذاب نه ورکولې شي خو په هم دومره مِقدار کښې به ئې د آخِرت نعمتونه کم شي**، سوچ خو اوکړئ د څومره غټ نقصان خبره ده چه انسان د فاني [يعني ختميدونکو] نعمتونو د حاصلولو په کوشش کښې تُندي اوکړي او د دې په بدله کښې د آخِرت د نعمتونو د کمۍ په ذريعه نقصان اوکړي. (اِحياءُ الْعُلوم ج ۵ ص ۹۸)

## په آخِرت کښې سل حِصّې کمي

د پزُّو، پراټو، کبابو، سموسو، ګرمو ګرمو پیکوړو، آئِس کریمو، یخو یخو بوتلو، مزیدارو فالودو، د خوږو خوږو مزیدارو شربتونو وغیره ښو ښو خوراکونو شوقیانو، او د شاندارو بنګلو، غټو غټو کورونو، د نوو نوو لِباسونو، د هر قِسم آسانو او سهولتونو غوښتونکو، مالدارانو، سرمایه دارو، په دُنیا کښې ډیرې ډیرې خوشحالۍ موندونکو، د صِحت مندو، د حکومت او مشرۍ په نشه کښې د مست اوسیدو

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُومره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

والؤ د پاره خاص طور د سوچ او فِکر مقام دې، آه! آه! آه! په "تَذكِرَةُ الاَولياء" کښې دي چه حضرتِ سيِّدُنا فُضَيل بِن عِياض رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: چه کله په دُنيا کښې چا ته نعمتونه ورکول شي نو په آخِرت کښې د هغه سل حِصّې کمي کړې شي، ځکه چه هلته خو به صرف هغه ورکول شي څه چه ئې په دُنيا کښې ګټلي وي، لِهٰذا د انسان په اختيار کښې دي چه هغه د آخِرت په حِصّه کښې کمي کوي او که زياتې کوي. نور فرمائي: په دُنيا کښې د ښه لِباس او د ښو خوراکونو عادت مه جوړوئ ځکه چه په محشر کښې به د دې څيزونو نه محرومه کړې شئ.

(تذكِرَةُ الاولياء ج۱ ص۱۷۵)

صدقہ پیارے کی حیا کا کہ نہ لے مجھ سے حساب
بخش بے پوچھے لَجائے کو لَجانا کیا ہے
په خاطر د خوږ نبي زما نه مه اخلي حِساب
شرمِنده او پښيمان يم ما نه مه اخلي حِساب

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دُنيا ټول خوندونه به آخِر ختم شي. کاش چه د مرګ نه مخکښې مخکښې زمونږه حِرص ختم شي. هائے هائے د دُنيا دوکه او د دې بې وفا دُنيا د غوښتونکو خلقو بې نُوره ژوند! راځئ چه تاسو ته يو عِبرتناکه واقعه واوروم، څوك شته چه عِبرت واخلي!

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

## ﴿۱۶﴾ د ګڼډا او سندرو محفل جاري وو چه ....

رسم و رواج شوقیانو څه مسلمانانو د رَمَضانُ الْمُبارَك د اِحتِرام نه بې پرواه د یهودیانو او عیسایانو سره یو ځائ مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ شراب اوڅښل او بیا د ګڼډا او سندرو محفل ئې جوړ کړو. دوئې د خپل انجام نه بالکل بې خبره د ګناهونو په دې کرکژنو کارونو کښې مشغول وو چه ناڅاپه خطرناکه زلزله راغله او د دې عیش پرستو ټوله مستي او اندوخر ئې واخستې چه په ۳، رَمَضانُ المُبارك ۱۴۲۶ھ (مطابق 05-10-8) د اِسلام آباد په عظیمُ الشَّان عِمارت "مارګله ټاور" کښې د مغربي [یعني فِرنګي] په خاورو کښې اولړلو!

یاد رکھو! موت اچانک آ ئیگی
ساری مستی خاک میں مل جائیگی

یاد ساته! ګوره ناڅاپه به مرګ راشي
ګېده وډه به مستي خاورو کښې ستا شي

## زلزله د ګناهونو په وجه راځي

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: (د زلزلې) اصلي وجه د مسلمانانو ګناهونه دي." (فَتَاوٰی رَضَوِیّه جلد ۲۷، ص۹۳) نن صبا د ګناهونو زبردست سیلاب راغلي دې، د خلقو پخپله خو د ګناهونو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قیامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

نه بچ کیدل پریږده، داسې ښکاري لکه چه د نیکۍ کوونکو او په سُنَّتو باندې د عمل کوونکو د پاره هم دُنیا تنګه کړې شوې ده! آه! آه! آه! د خیالې په ورځ ۳ رَمَضانُ المُبارك ۱٤۲٦ھ (مطابق 05-10-8) څه خلق په قِسم قِسم ګناهونو کښې اخته وو چه ناڅاپه **خوفناکه زلزله** راغله او زمونږه د خوږ وطن پاکستان مشرقي حِصَّه ئې ګډه وډه کړه! د دې زلزلې په باره کښې د **دعوتِ اسلامي** د **مَدَني قافِلو** د مسافرو عاشقانِ رسُول عِبرتناکې تجربې او د سترګو لیدلې حال اولولئ او ډیر ډیر توبه او اِستِغفار اوکړئ.

## ﴿۱۷﴾ ژوندۍ ماشومه ئې په پریشر کُکر کښې واچوله!

**وائي** چه، د کشمیر په یوه علاقه کښې یو کس چه د هغه پینځه لونړه وې، په **شپږم** ځل د ماشوم پیدا کیدو ورځې نزدې وې. هغه یوه ورځ خپلې **ښځې** ته اووئیل چه که دا ځل هم ستا **جینۍ** اوشوه نو زه به تا د ماشومې سره **مړه** کړم. د رَمَضَانُ الْمُبارَك په دریمه شپه یو ځل بیا ماشومه پیدا شوه، د سحر په وخت کښې هغه بې رَحمه کس د ماشومې د مور د چغو او سورو هیڅ پرواه اونکړه او مَعَاذَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ **د ګل په شان ژوندۍ ماشومه ئې په پریشر کُکر کښې واچوله او په نغري** [یعني چوله] **باندې ئې کیښوده**. ناڅاپه پریشر **کُکر** اوشلیدو او ناڅاپه **خوفناکه زلزله** راغله! هغه سړې په هغه ساعت په زمکه کښې

www.dawateislami.net

ژوندي **خخ** شو. د ماشومې مور په زخمي حالت کښې بچ کړې شوه او غالِباً د هغې په ذريعه د دې دردناکې قِصې خبر اوشو.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

تُوْبُوْا اِلَی اللّٰہ! اَسْتَغْفِرُاللّٰہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۱۸﴾ کټ شوې سر

د اِسلام آباد په زلزله کښې تباه شوې د مارګله ټاور په ملبه کښې د يو سړي **کټ شوې سر** را اوختو، باقي وجود ئې پيدا نه شو، "ځينې خلقو هغه سر اوپيژندو او وئيل ئې چه کله به **اذان** شروع شو نو دې بد نصيبه سړي به د سندرو آواز نور تيز کړو."

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** دې خوفناکې زلزلې د پاکستان په مشرِقي حِصّه کښې يعنې د پنجاب د ځينو ځائيونو نه علاوه په کشمِير او صوبه خيبر پښتونخوا کښې بيحده تباهي کړې وه، په لکونو خلق مړه شو او د زخميانو خو څه شمار نه وو معلوم. د تبلِيغِ قُرآن و سُنَّت د عالمګير غير سياسي تحرِيک دعوتِ اِسلامي د عاشقانِ رسُول د سُنَّتو د تربِيَّت څه مَدَني قافِلې هم په زلزله وهلو علاقو کښې بې دَرَکه شوې وې خو اَلْحَمْدُ لِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ هغوئ ډير زر ژوندي او سلامت اوموندلې شو، په هغې کښې د يوې مَدَني قافلې **مَدَني سپرلې** اوګورئ چنانچه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

## ﴿۱۹﴾ د يا رسُولَ الله ليكلو بَرَكت

د **لانډهي** بابُ المَدينه كراچۍ د ووه اِسلامي وروڼرو د يوې مياشتې د يوې **مَدَني قافِلې** څه داسې بيان دې چه زمونږه مَدَني قافِله د **عَبَّاس پور** تحصِيل نكر بالا كشمِير په جامِع مسجِد غوثيه كښې موجوده وه، په ۳ رَمَضانُ المُبارك ۱٤۲٦ھ (مطابق 05-10-8) د سحر او اِشراق د نمانځه وغيره نه پس د جَدوَل مطابق عاشِقانِ رسُول آرام كولو چه ناڅاپه په زبردسته جټكه ټول وارخطا راپاڅيدل، د دوئي د فِكر سميدلو نه مخكښ دزر دروز جوړ شو او د جُمات ديوالونه ماتيدل شروع شو، خو د **يا رَسُولَ الله** د نعرې نه زمونږه ځانونه قُربان شه! د جُمات د جُنوبي ديوال هٰغه حِصّه په كوم ديوال چه **يا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **ليكلې شوې وو هغه د لويدلو نه بچ شو او چَت په هغې كوږ تينګ شو.** او دغسې اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه په لږ. څه كښې بچ شو او ژوندي او سلامت بهر ته وتلو كښې كامياب شو. هر طرف ته كورونه وران شوي وو او د زخميانو د چغو او فريادونو آوازونه راتلل، ځاۓ په ځاۓ خلق د ملبې نه لاندې پراته وو، ډير مړه شوي وو او ډير په آخري سلګو وو. مونږه د خلقو سره په اِمدادي كار كښې شامِل شو او د جُمات خوا ته د يو كور د ملبې نه لاندې **د يو نِيم كال د يوې ماشومې** په ژوندي راوِيستلو كښې كامياب شو. چه خومره كيدې شوه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندي د درود شريف لوستلو نه بغير پاخيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا خيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

د شهيدانو په جنازو او کفن دفن کښې مو حِصّه واخسته. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زمونږه د دې کوششونو په وجه د تباهئ سره د مخامخ کيدو باوجود د هغه ځائ د مسلمانانو د دعوتِ اِسلامي سره محبَّت د ليدو قابِل وو.

يا رسولَ الله کے نعرے سے ہم کو پیار ہے
جس نے یہ نعرہ لگایا اُس کا بیڑا پار ہے

مينه کوو مونږ د نَعرې يا رسُولَ الله سره
زمونږ به بيړئ تيره شي په فضل د الله سره

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۲۰﴾ سخت کندؤ

حضرتِ سيِّدُنا ابُو اَلدَّرداء رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ يوه ورځ د خپلو ملګرو سره ناست وو، د هغوئي رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ بي بي محترمه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا راغله او وئيل ئې، تاسو دلته د دې خلقو سره ناست ئې او په خُدائے چه په کور کښې يو مُوتې وره هم نشته. هغوئي جواب ورکړو چه دا ولې هيروې چه زمونږه مخې ته يو ډير زيات سخت کندؤ دې چه د هغې نه به د سپك سامان والؤ نه سِوا خوك هم خلاصې نه مومي. دا ئې چه واوريدل نو هغه په خوشحالئ بيرته لاړله. (روضُ الرِّياحِين ص١٠ الميمنة مِصر) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولې د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

## كِيله نه دې كول پكار

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! صحابئِ رَسُول **حضرتِ** سيِّدُنا ابُو اَلدَّرداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قناعت [يعني په لږ څيز صبر كول] خومره خوښولو او دهغوئي بي بي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا هم څومره فرمانبرداره وه چه په كور كښې د خوراك د پاره هيڅ هم نه وو خو د دې باوجود چه هغې د حضرت د خوفِ خُدا والا خبره واوريده نو خاموشه په قلاره بيرته لاړه. تنګدستئ او كورنو پريشانو ته د وارخطا كيدو او خلقو ته د كِيلو قِيصو كولو په ځائ هميشه د الله عَزَّوَجَلَّ په باركاه كښې سوال كول پكار دي او د هغه په رضا باندې راضي اوسيدل پكار دي.

زباں پر شِکوہ رنج واَلَم لایا نہیں کرتے
نبی کے نام لیوا غم سے گھبرایا نہیں کرتے

وارخطائي او كيلې نه كوي د غم او مصيبت
څوك لري چه په خپل زړه كښې د نبي سره محبَّت

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۲۱﴾ د پريشان حاله كس دُعا

د يو **بزرګ** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خِدمت كښې چا عرض اوكړو چه حضرت صاحِب! د بال بچو فِكر پريشانه كړې يم. زما په حق كښې دُعا اوكړئ. جواب ئې وركړو، ستا بال بچې چه كله تا ته د ډوډۍ د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِیامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هُغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات دروُدِ پاك لوستلي وي. (ترمذی)

نشت والي ګيله اوکړي نو هغه وخت د اللّٰہ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی په بارګاه کښې دُعا کوه ځکه چه ستا د هغه وخت دُعا قبليدو ته زياته نزدې ده.

(ملخّصاً رَوضُ الرِّیاحِین ص١١)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ښکاره خبره ده چه د چا تنګدستي په ترقئ وي هغه کس به بې حده خفه او غمژن وي او د غمژنو دُعا قبليږي ځنکه چه رئِیسُ المُتَکَلِّمِین حضرتِ عَلّامه مولانا نقي علي خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپل کتاب ”اَحسَنُ الوِعَاءِ لِآدَابِ الدُّعا“ کښې په صفحه ١١١ کښې د چا دُعاګانې چه قبليږي، په هغې کښې ئې د ټولو نه وړومبي نمبر باندې ليکلي دي، ”اوّل مُضطَر (يعني غمژن) د دې په حاشيه کښې اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د دې طرف ته يعني د غمژن او د بې وسه او بې اسرې کس د دُعا د قبليدو په باره کښې خو پخپله په قُرآنِ کريم کښې اِرشاد موجود دې:

اَمَّنْ یُّجِیْبُ الْمُضْطَرَّ اِذَا دَعَاهُ وَ یَكْشِفُ السُّوْٓءَ

مفهوم ترجمۂ کنزُ الایمان: يا هغه چه د بې وَسه اورري، چه کله هغه ياد کړي او لرې کوي بدي.

## ﴿٢٢﴾ مَرحبا! اے لوَږې!

يو نيك سړي ته چه کله د هغه بال بچو اووئيل چه نن شپه د خوراك د پاره هيڅ هم نشته نو اوئي فرمائيل: مونږه دومره مرتبه نه لرو چه

www.dawateislami.net

اللّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه اوږي اوساتي! دا درجه خو هغه خپلو وليانو ته ورکوي. په بزرګانو کښې د ځينو دا حال وو چه کله به په هغوئي تنګدستي راغله نو فرمائيل به ئې، **مرحبا! اے شَعارِ صالِحِين** (يعني اے غريبئ او لوَږې! ته خو د الله والؤ نښه ئې، تا ته خير راغلې وائيو چه تا زمونږ طرف ته تشريف راوړو) (روْضُ الرِّياحِين ص۱۱)

وہ عشقِ حقیقی کی لذّت نہیں پا سکتا
جو رنج و مصیبت سے دوچار نہیں ہوتا
مونديې نه شي هغه خوند د حقيقي عِشق
چه اخته نه شي په غم او مصِيبت کښې

## فُضُول فِکرونه پريږدئ

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** په دې حِکايت کښې د هغه بې صبرو د پاره کافي درس دې څوك چه د دُنياوي مُستقبل په بې ځايه فِکرونو کښې پراته وي، غمژن اوسي او فُضُول زړه خوري، د دوئي لونړه لا وړې وړې ماشوماني وي او دوئي د هغوئي د ودونو په فِکرونو کښې ليوني ليوني ګرځي. د حج فرض کيدو باوجود ځان د حج د سعادت نه محرومه ساتي او هم دا عُذر بيانوي چه مخکښې د لونړو د ودونو "فرض" پوره کړم! حالانکه د مرګ څه ساعت معلوم دې چه د لونړو د غټيدو پورې به پخپله ژوندې وي او که نه، د دې خبرې هيڅ ضمانت نشته او يا ئې لونړه د پيغلتوب نه مخکښې د مرګ په دروازه د قبر په

پوړو ورکوزي شي دا چا ته نه ده معلومه. آه! ډیر خلق هائے دُنیا! هائے دُنیا! کوي او د دُنیا نه رُخصت شي خو په ژوندون ئې آخرت ته هیڅ توجُّه نه وي. مسلمان ته د هِمَّت او ښې عقیدې نه کار اخستل پکار دي. مونږه هسې فُضُول د دُنیا غمونو اوخوړلو حالانکه د دواړو جهانو ساتونکې [اللّٰه عَزَّوَجَلَّ] زمونږه مدګار دې.

مَصائب میں کبھی حرفِ شکایت لب پہ مت لانا
مصیبت میں خدا بندوں کو اپنے آزماتا ہے

مصیبت کښې کله مه کوه ګِیلې　　اللّٰه اخلي اِمتِحان د خپل بنده

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو**! د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ داسې صابِره بندګان تیر شوي دي چه مصیبتونه به ئې داسې خوښول چه د هغې د لرې کولو دپاره به ئې دُعا کول هُم د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا خِلاف ګنړل چنانچه

## ﴿۲۳﴾ ډیر عجیبه مریض

**حضرتِ** سیِّدُنا یُونُس عَلَیْہِ السَّلَام حضرتِ سیِّدُنا جِبرئیلِ اَمین عَلَیْہِ السَّلَام ته اوفرمائیل: زه د دُنیا د ټولو نه غټ **عابِد** (یعني عِبادت ګُزار) لیدل غواړم. جِبرئیلِ اَمین عَلَیْہِ السَّلَام هغوئې عَلَیْہِ السَّلَام د یو داسې کس خوا ته بوتلو چه د هغه دواړه ښپې او لاسونه د جُذام په وجه د بدن نه کټ شوي وو او هغه په ژبه دا وئیل: "**یا اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ تر څو پورې چه تا اوغوښته ما ته دِ د دې اندامونو نه فائِده راکړه او چه کله دِ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

اوغوښته نو بیرته دِ واخستل او زما اُمِّید دِ صرف په خپل ذات کښې باقي پریښودو ، اے زما پيداکوونکيه ربه! بس زما مقصد خو صرف ته ئي.'' حضرتِ سيِّدُنا يُونُس عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل: اے جِبرئيلِ اَمِين! ما خو تاسو ته د نمونځ گُزاره او روژه داره کس د ښودلو وئيلي وو. حضرتِ سيِّدُنا جِبرئيلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام په جواب کښې اووئيل: په دې مصيبت کښې د اخته کيدو نه مخکښې دا هُم داسې [يعني عِبادت گُزاره] وو، اوس ما ته دا حُکم شوې دې چه د ده **سترګې** هُم واخلم. چنانچه حضرتِ سيِّدُنا جِبرئيلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام اِشاره اوکړه او د هغه **سترګې** اووتلې! خو عابِد هُم هغه خبره اوکړه، ''**يا اللّٰه** چه تر څو تا اوغوښته د دې سترګو نه دِ ما ته فائِده راکړه او چه کله دِ اوغوښته نو بيرته دِ واخستلې او اے خالِقه عَزَّوَجَلَّ! زما اُمِّيد دِ صرف په خپل ذات کښې باقي پريښودو. بس زما مقصد خو صرف ته ئي.'' حضرتِ سيِّدُنا جِبرئيلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام هغه **عابِد** ته اوفرمائيل: راځه چه دواړه په شريکه دُعا اوکړو چه اللّٰہ تَعَالٰی تا ته بيا سترګې او لاس ښپې درکړي او ته بيا د مخکښې په شان عِبادت شروع کړې. عابِد اووئيل: بالکل نه. حضرتِ سيِّدُنا جِبرئيلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام ورته اوفرمائيل: آخر ولې نه؟ عابِد اووئيل: ''چه زما د ربّ عَزَّوَجَلَّ رضا په هُم دې کښې ده نو ما ته بالکل صِحت نه دې پکار.'' حضرتِ سيِّدُنا يُونُس عَلَيْهِ السَّلَام

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

اوفرمائيل: واقعي ما بل څوك د ده نه غټ عِبادت ګُزار نه دې ليدلې. حضرتِ سيِّدُنا جِبرئيلِ اَمِين عَلَيْهِ السَّلَام اوفرمائيل: دا هٰغه لار ده چه رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ ته د رسيدلو د پاره د دې نه بله بهتره لار نشته. (روضُ الرِّياحين ص١٥٥) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

بے سوہنا مِرے دُکھ وِچ راضی
میں سکھ نُوں چُلّھے پاواں

زما په غم چه راضي کيږي خوږ الله    خوشحالو باندې زه پورې کړمه اور

## د مصيبت پټولو فضيلت

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! صابر داسې وي! آخر هغه کوم مصيبت وو چه د هغه بزرګ رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په وجود کښې نه وو تر دې چه آخِر د سترګو نُور ئې هم لاړو خو د هغوئي په صبر او استقامت کښې د زرّې همره فرق هم رانغلو. هغوئي "د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې" د راضي اوسيدو هٰغه عظِيم منزِل ته رسيدلې وو چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه شِفاء غوښتلو ته هم تيار نه وو يعني چه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ته زما بيمارول منظور دي نوزه روغ صِحت نه غوارم. سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ دا د هغوئي برَخه وه. د هُم داسې اللّٰه والؤ مقُوله ده، نَحْنُ نَفْرَحُ بِالْبَلَاءِ كَمَا يَفْرَحُ اَهْلُ الدُّنْيَا بِالنِّعَمِ. يعني "مونږه د آفتونو او مصيبتونو په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرود پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

راتلو داسې خوشحالیږو څنګه چه دُنیاداره خلق د دُنیاوي نعمتونو په لاس راتلو خوشحالیږي." یاد ساتئ! مصیبت کله د مُؤمِن په حق کښې رحمت وي! او په صبر کولو د عظیم ثواب ګټلو او بې حِسابه جنَّت ته د تللو موقع ورکوي. چنانچه حضرتِ سیِّدُنا عبدُ اللّٰه اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي چه رَسُولِ اَکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: **د چا په مال یا بدن کښې چه مصیبت راغې، بیا هغه، هغه پټ اوساتلو او خلقو ته ئې ښکاره نه کړو نو په اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **باندې حق دې چه د هغه بخښنه اوفرمائي."** (مجمع الزَّوائِد ج۱۰ص۴۵۰، حدیث۱۷۸۷۲) په یو بل رِوایت کښې دي، "مسلمان ته چه په مرض، پریشانئ، رنځ، تکلیف او په غم کښې کوم یو مصیبت رسې تر دې که [د بدن په کومه حِصّه کښې ئې] ازغې لاړ شي نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه د هغه د ګُناهونو کَفّاره جوړه کړي." (صحیح البُخاری ج۴ص۳ حدیث۵۶۴۱)

چُپ کرسیں تاں موتی مِلسن، صَبر کرے تاں ہیرے
پاگلاں وانگوں رَولا پاویں ناں موتی ناں ہیرے

د شعر ترجَمه: که خاموشه اوسې او صبر اوکړې نو ملغلرې به په لاس درشي او که د لیونو په شان چغې او سورې وهې نو هیڅ به هم په لاس در نه شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنزُ العُمّال)

## ﴿٢٤﴾ د بي بي عائِشه د اِيصالِ ثواب حِکايت

اِمامِ رَبّانی حضرتِ مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: مخکښ به چه ما کله طعام پوخ کړو نو د هغي ثواب به مې د حُضُور سَرورِ عالم صَلَّی اللّٰہ تعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او د حضرتِ اميرُ المُؤمِنين حضرتِ سيّدُنا علِيُّ المُرتَضٰى رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ او د حضرتِ خاتُونِ جَنَّت فاطِمَةُ الزَّهرا او د حضراتِ حَسَنَينِ کريمَين رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُم ارواحِ مبارکه ته خاص وربخښلو او د اُمَّهَاتُ الْمُؤمِنِين رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُنَّ نومونه به مې پکښ نه شامِلول . يوهشپه مې خوب اوليدو چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوږ محبوب جنابِ رِسالت مآب صَلَّی اللّٰہ تعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف فرما دي. ما د هغوئي صَلَّی اللّٰہ تعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمتِ بابَرَکت کښ سلام عرض کړو نو هغوئي صَلَّی اللّٰہ تعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما طرف ته توجُّه اُو نه فرمائيله او مخ مُبارك ئې بل طرف ته اوګرځولو او ما ته ئې اوفرمائيل: "زه د **عائِشه** (صِدِّيقه) په کور کښ طعام خورم ځوك چه ما له طعام راليږي هغه دِ د (حضرتِ) **عائِشه** کور ته راليږي." هغه وخت ما ته معلومه شوه چه د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہ تعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته د توَجُّه نه فرمائيلو وجه دا وه چه ما به اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا په طعام (يعني ثواب بخښلو) کښ نه شاملوله. د هغي نه پس

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

زه حضرتِ سیِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا بلکه ټولې اُمَّهَاتُ الْمُؤمِنِين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُنَّ بلکه ټول اَهلِ بيت شامِلووم او ټول اَهلِ بَيت د ځان د پاره وسیله جوړووم. (مکتوباتِ اِمامِ رَبّانی ج۲ ص۸۵) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

## ټولو ته اِيصالِ ثواب کول پکار دي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حِکايت نه معلومه شوه چه چا ته اِیصالِ ثواب [یعني ثواب بخښل] کيږي هغوئې ته رسيږي او دا هُم معلومه شوه چه اِيصالِ ثواب محدود [یعني د يو حده پورې] بزرګانو ته د کولو په ځائ ټولو ته کول پکار دي. مونږه چه څومره خلقو ته اِيصالِ ثواب کوو ټولو ته به برابر برابر [یعني پوره پوره] رسيږي او زمونږه په ثواب کښې به هُم هيڅ کمې نه راځي[1]، دا هُم معلومه شوه چه زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سیِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا سره بيحده مَحَبَّت لرې. حضرتِ سیِّدُنا عمرو بِن العاص رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ چه كله د "غزوهٔ سَلاسِل" نه بيرته راغلو نو هغوئې عرض اوکړو، یا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تاسو ته په ټولو خلقو

---

[1] د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره د مکتبة المدينه رِساله "فاتِحه او د اِيصالِ ثواب طريقه" په هديه حاصله کړئ او اولولئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لوليءِ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

کښې د ټولو نه زيات محبوب [يعني ګران] څوك دې؟ اوئې فرمائيل: عائِشه. هغوئي بيا عرض اوکړو، [او] په سړو کښې؟ اوئې فرمائيل: د هغوئي پلار (يعني حضرتِ سيّدُنا اَبُوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ)

(صحيح البُخاری ج ۲ ص۵۱۹ حديث۳۶۶۲)

بنتِ صِدّیق آرامِ جانِ نبی ۔۔۔ اُس حَریمِ بَراءَت پہ لاکھوں سلام
یعنی ہے سورہ نور جن کی گواہ ۔۔۔ اُن کی پُر نور صورت پہ لاکھوں سلام

**د اشعارو ترجَمه:** (۱) يعني د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ لور مبارَکه حضرتِ عائِشه رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا د نبيءِ کريم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زړه آرام ده، په هغه پاکه مُحترمه بي بي دِ ډير ډير سلام وي. (۲) د چا د پاکبازيءَ ګواهي چه په سُورهِٔ نُور کښې راغلي ده، د هغوئي په نوراني بدن دِ ډير ډير سلام وي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۲۵﴾ د مشري ابيءِ اِيمان تازه کوونکې خوب

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په **دعوتِ اسلامي** والؤ باندې د رَحمتونو ډير ډير بارانونه وريږي، د **نيکيءَ د دعوت** علاقائي دورې هُم څه ښکلې مَدَني سپرلي دي. چنانچه د برمِنګهم (برطانيه) د يو اسلامي ورور بيان په خپلو الفاظو او انداز کښې وړاندې کووم. "مونږ يو ځل د مسلمانانو د ګڼرې آباديءَ والا علاقې سمال هيلتهـ (Small health) چه هغې ته مونږه په خپل **مَدَني ماحول** کښې "مَکِّي حلقه" وائيو، په هغې کښې مو علاقائي دوره کوله او **د نيکيءَ د دعوت** د پاره کور په کور ګرځيدلو. په دغه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُ الْعُمَّال)

دوران کښې مو د يو کور دروازه اوډبوله نو يوه بوډۍ ښځه را اووتله، د هغې تعلق د مِير پور (کشمِير) سره وو او په اُردو او اِنګلش نه پوهيدله. مونږه په ښکته سترګو په پنجابۍ کښې **د نيکۍ دعوت** ورکړو او عرض مو ورته اوکړو چه د کور سړي په فلانکي وخت جُمات ته رااوليږئ. مونږ چه ترې روانيدلو نو هغې اووئيل، اوس زما خبره هُم واورئ، زمونږه سره وخت کم وو ځکه مونږه مخکښې تير شو خو زمونږه يو اسلامي ورور ورته اودريدو، مشرې ادې [يعني ابئ] اووئيل چه اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما يو څو ورځې **مخکښې** دا مُبارك خوب اوليدو چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د شنو شنو عمامو** [يعني شنو پټکو] **والؤ په ګڼړه کښې د مَسجِدُالنَّبَوِیَ الشَّرِيف** عَلٰی صَاحِبِهَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام **نه بَهر طرف ته تشريف راوړي.**"د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ قُدرت دې چه نن هم هغه شنو پټکو والا زما کور ته د نيکۍ دعوت راکولو د پاره راغلي دي! هغه ادې [يعني ابئ] ته د اِسلامي خويندو په هفته واره اِجتِماع کښې د شِرکت کولو دعوت ورکړې شو. اوس هغه سره د خپل خاندان د اسلامي خويندو په پابندۍ سره په هفته واره د سُنَّتو نه ډکه اِجتِماع کښې شِرکت کوي.

ہیں غلاموں کے جُھرمَٹ میں بدرالدُّجےٰ
نور ہی نور ہر سُو مدینے میں ہے
د غُلامانو په ګڼړه کښې بَدرُ الدُّجیٰ دې
هر طرف ته مدينه کښې نُور وريږي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکيئ ليکي. (ترمذی)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# په اِسلامي خويندو کښې مَدَني اِنقِلاب

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! تاسو اوليده! په دعوتِ اِسلامي والؤ باندې د سرکارِ نامدار صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څومره لوئي کرم دې! اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ اسلامي وروڼړو سره سره په اِسلامي خويندو کښې هم د دعوتِ اسلامي مَدَني کارونه ښه عام شوي دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په لکونو اِسلامي خويندو هم د دعوتِ اِسلامي مَدَني پيغام قبول کړې دې، د فيشن پرستئ نه ډك ماحول کښې غټې شوې بيشميره اِسلامي خويندې د ګُناهونو د دلدل نه راخلاصې شوې او د اُمَّهَاتُ الْمُؤمِنِين او د دواړو جهانو د شهزادګئ بي بي فاطِمه رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُنَّ عاشقاني جوړې شوې. په غاړه کښې لوپټې زوړندې [يعني بې پرده] په بازارونو او د ښځو او سړو ګډوَډ د سيل ځائيونو کښې ګرځيدو والا، په نائِټ کلبونو او سينماګانو کښې خپل وخت بربادوونکو ته اوس د کربلا د حيادارو شهزادګيانو رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُنَّ د شرم و حيا هُغه بَرَکتونه نصيب شو چه **مَدَني بُرقه** [يعني د ټوپئ والا بُرقه] د هغوئي د لِباس ضروري حِصّه جوړه شوه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مَدَني ماشومانو [يعني وړو جينکو] او اِسلامي خويندو ته د قُرآنِ کريم د حِفظ او ناظِره تعليم ورکولو د پاره ډيرې **مدارِسُ المَدينه** او عالِمَه جوړولو د پاره بيشميره **جامِعاتُ المَدينه**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

جوړې كړې شوې دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په دعوتِ اِسلامي كښې د "حافظاتو" او "مَدَنِيه عالِمَاتو" شمير ورځ په ورځ زياتيږي.

مِری جس قدر ہیں بہنیں، سبھی مَدَنی بُرقع پہنیں
انہیں نیک تم بنانا مَدَنی مدینے والے

د شعر ترجَمه: يعني يا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما چه څومره مسلمانانې خويندې دي، كاش چه هغه ټولې ستاسو په بَرَكت نيكې شي او ټولې مَدَني بُرقې په سر كول شروع كړي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۲۶﴾ كمالي رومال

حضرتِ سيِّدُنا عُبَّاد بِن عبدُ الصَّمد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي چه مونږه يوه ورځ د حضرتِ سيِّدُنا اَنَس بِن مالِك رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ كره حاضِر شو. د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ په حُكم وِينځې دسترخوان خور كړو. اوئې فرمائيل: رومال هُم راوړه. هغې يو رومال راوړو چه د هغې د وِينځلو ضرورت وو، حُكم ئې وركړو چه دا په تنور كښې واچوه! هغې په بل تنور كښې ور واچولو چه لږ ساعت پس هغه د اور نه را اووِيستلې شو نو هغه داسې سپين وو لكه د شودو. مونږه حيران شو او عرض مو اوكړو، دا څه راز دې؟ حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائيل: دا هغه رومال دې چه په دې به د مدينې تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپل روښانه مخ مبارك صفا كولو. چه كله د دې د وِينځلو حاجت

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قیامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِیمان)

پیښېږي نو دا مونږه هم دغسې په اور کښې وِینځو! ځکه چه کوم څيز د انبیائے کِرام عَلَیْہِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام په مبارکو مخونو اولګي، اور هغه نه سیزي. (الخصائِص الکُبریٰ ج۲ ص۱۳٤) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَـلُّـوْا عَـلَـی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! عارِفِ کامِل حضرتِ سیِّدُنا مولانا رُوم رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په "مثنوي شریف" کښې د دې واقعې د لیکلو نه پس فرمائي:

اے دلِ ترسِندہ از نار و عذاب — باچُناں دَست و لَبے کُن اِقْتِراب
چُوں جَمَا دے راچُناں تشریف داد — جانِ عاشِق را چِہا خواہد کُشا د

(یعني اے هغه زړه چه د اور د عذاب یَره لري، هغه ښکلو ښکلو شوندو او مُقَدَّسو لاسونو ته ولې نه نزدې کیږې چا چه بې ساه څيز رومال ته داسې فضِیلت او بُزرګي عطا کړه چه هغه په اور کښې نه سوَزي، نو د هغوئې چه کوم مُخلِص عاشقان دي، په هغوئې به ولې د اور عذاب نه حرامیږي!)

آقا کا گدا ہوں اے جہنّم! تُو بھی سُن لے!
وہ کیسے جلے جو کہ غلامِ مَدَنی ہو

غُلام یم د آقاء اے جهنَّمه ته هم واوره! هغه به نه سوَزیږي چه غُلام د نبي وي

## ﴿۲۷﴾ د اَبو هُرَیره توښه دان

حضرتِ سیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: په یوه غزوه کښې د اسلامي لښکر سره د خوراك د پاره هیڅ هم پاتې نه شو. د الله عَزَّوَجَلَّ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه د جَنَّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

خوږ رَسُول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائیل: تا سره څه شته دي؟ ما عرض اوکړو، په **توښه دان** کښې لږې شان کجورې شته دې. اوئې فرمائیل: راوړه. ما حاضرې کړې او هغه ټولې یو وِیشت وې. سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هغې باندې خپل **لاس مُبارك** کېښودو او دُعا ئې اوکړه بیا ئې اوفرمائیل: **لس کسان** را اوبله! ما را اوبلل، هغوئې راغلل او ښه په مړه ئې اوخوړلې او لاړل. بیا ئې **د لسو کسانو** د رابللو حُکم اوفرمائیلو، هغوئې هم اوخوړلې او لاړل. دغسې لس لس کسان راتلل او په مړه به ئې خوړلې او تلل به، تر دې چه ټول لښکر اوخوړلې او څه چه باقي پاتې شوې د هغې په باره کښې ئې اوفرمائیل: اے ابوهُریره! **دا په خپل توښه دان کښې اوساته او چه کله غواړې لاس پکښې دننه کوه او د دې نه ئې را اوباسه خو توښه دان مه نسکوروه!** حضرتِ سیِّدُنا اَبُو هُرَیره رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: ما د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند او بیا د حضرتِ سیِّدُنا ابوبکر صِدِّیق او د حضرتِ سیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم او د حضرتِ سیِّدُنا عُثمانِ غني عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان د خِلافت د زمانې پورې د هم هغه کجورو نه خوړلې او خرچ کولې تخمیناً (یعني اندازاً) پنځوس وَسقه خو مې فِي سبیلِ الله ورکړې دي او د دوه سوه وَسقه نه زیاتې ما خوړلې دي. چه کله حضرتِ سیِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ شهید شو نو هغه **توښه دان** زما د کور

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

نه غلا شو. (الخصائص الکبریٰ ج۲ ص۸۵) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

کون دیتا ہے دینے کو مُنہ چاہئے
دینے والا ہے سچّا ہمارا نبی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم
خوك كوي وركول، هر خوك نه شي وركولې
وركول كوي زمونږ رښتيني خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** يو وَسق شپيته صاع او يو صاع ۲۷۰ تولې (يعني درې سيره شپږ چټاكئ) وي. په دې حِساب باندې د هغه يو وِيشت كجورو نه د زر منه نه زياتې كجورې اوخوړې شوې. دا ټول د الله عَزَّوَجَلَّ د كرم لوئي شان دې چه هغه خپل خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته بيشميره اختيارات او عظِيمُ الشّانه مُعجِزات وركړې دي. يقيناً د دوارو جهانو د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارك شان خو ډير لوئي دې. د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر د هغوئي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم غُلامانو ته هُم لوئي لوئي كمالات وركړې شوي دي، چنانچه د اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د خليفهٔ مَجاز حضرتِ صدرُ الافاضِل رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه كرامت اوګورئ.

## ﴿۲۸﴾ د صدرُ الافاضِل كرامت

**حضرتِ** مولانا منظور احمد صاحب ګهوسوي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د سترګو ليدلې حال بيانوي چه د صاحِبِ **خزائِنُ الْعِرفان صدرُ الافاضِل** عَلّامه مولانا سيِّد مُحمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دا هره ورځ معمول وو چه د سحر نمونځ به ئې د محلّې په جُمات كښې د جَمعې سره ادا كولو، د هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ جُمات ته د تللو نه مخكښې به ځلور فُټه يو **سَمَوار** (د تانبې يا پيتلو هغه لوښې چه د هغې په لاندې حِصّه كښې اور بليږې او پاس پرې اوبه توديږې يا پرې چائې پخيږې په هغې) كښې د چائے سامان ور واچولې شو او اور به وريسې بل كړې شو. هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به چه كله بيرته د جُمات نه تشريف راوړو نو چائے به تيار شوې وو. هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به په بَيټك كښې تشريف فرما شو او په لږ ساعت كښې به ئې د عقيدتمندو ښه ګڼړه جوړه شوه. عام طور به د پنځوسو نه دوه سوه پورې ګڼړه وه او كله كله خو به د راتلونكو دومره ګڼړه شوه چه په بيټك او بَهر برنډه كښې به بالكل ځائ پاتې نه شو. هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به چه څنګه كښيناستلو نو خادِمانو به د چائے نه ډك يو كپ په پرچ كښې كيښودو او يو به ئې ورسره بِسكِټ كيښودو او د هغوئي په خِدمت كښې به ئې وړاندې كړلو. هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به هغه پيالئ په خپل لاس مبارك كښې را واخسته او خپل ښې طرف

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

ته ناست کس ته به ئې وړاندې کړله، د غسې به ئې پينځه شپږ پيالئ پخپله تقسيم کړې او باقي ټولو کسانو باندې به خادِمانو هم دغسې يوه پيالئ چائے او بسکټ تقسيمول. يوه پيالئ چائے سره به يو بِسکټ هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ هم اوخوړلو. لکه دا به د سحر ناشته وه.

**حضرتِ** مولانا منظور احمد صاحب رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په يقين سره فرمائي چه که حاضِر خلق کم وي او که زيات، ما دا خبره خاص طور نوټ کړي ده چه هُم هغه يو **سَمَوار** چائے هره ورځ د راتلونکو ټولو کسانو د پاره کافي وي. کله هُم داسې نه دي شوي چه د حاضرو خلقو د زياتوالي په وجه د نور انتِظام کولو ضرورت پيښ شوې وي. د حضرت مولانا منظور احمد صاحب رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ دا پاس ذِکر کړې شوې بيان دې خبرې ته واضِحه اِشاره ورکوي چه دا د حضرت **صدرُ الافاضِل** رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د هرې ورځې د معمولاتو په کراماتو کښې يو ډير زيات کريمانه کرامت وو. (مُلَخَّصاً تاريخِ اِسلام کی عظيم شخصِيت صدر الافاضِل ص ٣٣٣ تا ٣٣٤، تنظِيمِ افکار صدر الافاضل ببيئ) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

هم کو اے عطّار سُنّی عالموں سے پیار ہے
اِن شاءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دوجہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

مينه لرو مونږه اے عطّاره د سُنيانو عُلَماء سره
دو جهان کښې به کامياب يو مونږ په فضل د اللّٰه سره

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُـحَـمَّد

## ﴿۲۹﴾ چه د شَليانو او ګوډو حِصّه هم پکښې اوشي

**حکيم مُحَمَّد** اشرف قادري چشتي انار کلي سردار آباد (فيصل آباد) ليکي، "زما د واده کيدو نه پس د اوګدې مودې پورې زما اولاد نه کيدو. د اولاد حاصلولو د پاره مو دواياني استعمال کړې، دُعاګاني مو اوکړې، وظيفې مو اولوستلې خو ارمان مو پوره نه شو. آخِر دا چه د حضرتِ **مُحَدِّثِ اعظم پاکستان** حضرت مولانا سردار احمد صاحب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خِدمت کښې مې د اولاد نه د **محرومئ** تذکِره اوکړه او د دُعا درخواست مې ورته اوکړو. په هُم هغه ورځو کښې زما ګاونډي چودهري عبدُالغفُور ما ته اووئيل چه د درې ورځو نه يو بزرګ په خوب کښې وِينم، د هغوئي **مخې** ته تاسو ولاړ يئ او ستاسو په غيږه کښې د سپورمئ په شان ښکلې ماشوم **ځوئ** وې، او هغه بزرګ فرمائي: "حکِيم صاحِب! يو چيلې صَدَقه کړئ چه په هغې کښې د شَلو او ګوډو حِصّه هم اوشي "چنانچه ما د حضرتِ **مُحَدِّثِ اعظم پاکستان** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په خِدمت کښې دا خوب ذِکر کړو او عرض مې اوکړو چه زما دا خيال دې چه يو چيلې حلال کړم او د جامِعه رَضَوِيَّه په لنګر کښې ئې ورانديې کړم. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اوفرمائيل: "دلته خو د اللهتعالٰى په کرم چيلې ډير راځي، بهتره دا ده چه د جُمعې په ورځ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زیات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

په کور کښې غوښه او ډوډۍ پاخه کړې او د جُمعې د نمانځه نه پس ختم شریف اولوستې شي او پخه شوې غوښه د ډوډۍ سره هُم هغلته په غریبانو کښې تقسِیم کړې شي. تاسو ښځه او خاوند ئې هم اوخورئ او چه د هغه ځائ د **شَلو او کوډو حِصّه هم پکښې اوشي.**" دا یاد ساتئ چه د خوب د تذکِرې په وخت کښې ما د شَلو او کوډو متعلق د بزرګ اِرشاد مُحَدِّثِ اعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته نه وو عرض کړې. هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ پخپله داسې اوفرمائیل او دا د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ژوندې کرامت وو چه د غیبو خبره ئې بیان کړه! ما د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د اِرشاد مطابق عمل اوکړو. د هغې نه پس اللّٰه تعالٰی په خپل فضل و کرم د **حضرتِ مُحَدِّثِ اعظم** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دُعا په بَرَکت ځوئ راکړو. (مُلَخَّصاً حیاتِ مُحَدِّثِ اعظم ص ۲۶۰)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۳۰﴾ چه عقیدت وي نو نوم هم کار کوي

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! اُستاذُ العُلَماء، نائِبِ اعلٰی حضرت، پیرِ طریقت، حضرتِ مُحَدِّثِ اعظم پاکستان مولانا محمَّد سردار اَحمد قادري چشتي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ډېر غټ عالِمِ دِین وو، د هغوئي په شاګردانو کښې د غټو غټو عُلَمائے کرام نومونه دي، هغوئي یو باکرامته بزرګ وو چنانچه مولانا کرم دِین (خطیب جامع مسجد چك نمبر ۳۵۶ ګ ب)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شریف لولي زه به د قِیامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کنزُ العُمّال)

بیان کوي چه زه یو ځل شرق پور شریف ته نزدې ډهانه کهوکهرانواله ته د میبنې اغستو د پاره تلې ووم. خو په دې سفر کښې زه د **نِیم سیري** (یعني د نِیم سر) درد ډیر پریشانه کړم. شرقپور شریف نزدې وو، هلته حاضر شوم خو خبر شوم چه دواړه صاحِبزادګان حج له تلي دي. چه بیرته راتلم نو په لاره کښې درد ډیر پریشانه کړم، په هیڅ نه پوهیدم چه څه اوکړم، د نهر په غاړه روان ووم د کاغذ یوه ساده ټُکړه مې اولیدله، هغه مې راپورته کړه او د ولئِ کامِل حضرتِ **مُحَدِّثِ اعظم پاکستان** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **مبارك نوم مې پرې اولیکلو او د درد په ځائ مې اوتړلو، چه** **څنګه مې د هغوئې** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **د نوم تعوِیذ اوتړلو** اَلْحَمْدُ لِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ **درد** **فوراً لرې شو او طبیعت مې بالکل صحیح شو.** (ایضاً)

## ﴿۳۱﴾ تیوب لائِټ اطاعت اوکړو

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** چه د چا د "نوم" دا شان دې د هغه د "کلام" به څه شان وي! لِهٰذا د کلام مُتَعَلِّق هم یو کرامت اوګورئ چنانچه حضرتِ مُحَدِّثِ اعظم پاکستان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په جهنګ بازار ګهنټه ګهر کښې په یو **محفِلِ مِیلاد** کښې بیان کولو. د بیان موضوع "**نُورانِیَّتِ مُصطفٰی**" صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وه. بیان جاري وو چه تقریباً نیمه ګینټه پس د هغوئې رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ توَجُّه بنې طرف ته لګیدلې یو **تیوب لائِټ** طرف ته لاړه، دا **تیوب لائِټ** به د څه فَنِي خرابئ په وجه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

كله بليدو او كله مړ كيدو، هغوئي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه **ټيوب لائِټ** ته اوفرمائيل: اے **ټيوب لائِټه!** ته كله بليږې او كله مړ كيږې، د **حُضُورِ اكرم، نُورِ مُجَسَّم** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **په نُور مبارك ټول جهان روښانه شو** نو ته ولې ناشُكري كوې. خبردار! خبردار! ګوره كه ته بيا مړ شوې نو...... د هغوئي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه په دې خبره اِرشاد كولو د نعرهٔ رِسالت انګازې خورې شوې او ټولو حاضرو كسانو اوليدو چه هغه **ټيوب لائِټ** د جَلسې د آخِري پورې مسلسل روښانه وو. (اَيضاً ٢٦٣)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په غنمو كښې به سپږۍ نه كيږي او د سر درد به ښه شي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! د باعَمله عُلَمَاءِ كرامو څنګه ښكلې شان وي! مونږ ته هر وخت د عُلَمَاءِ اَهلِسُنَّت سره خپل تعلق مضبوط ساتل پكار دي. د عُلمائے حق د اوچت شان اندازه د دې خبرې نه اولګوئ څنګه چه حضرتِ سيِّدُنا كَمالُ الدِّين دَمِيري رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه فرمائي: ما ته د ځيني عُلَماء په ذريعه معلومه شوي ده چه كه د مديني مُنَوَّرې د مشهورو فُقَهائے "**سَبعه**" يعني د ووه عُلَماءِ كرامو رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه مبارك نومونه په يوه پرچۍ اوليكلې شي او په غنمو كښې كيښودې شي نو اِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ سپږۍ (او د غلې نور چينجي) به پكښې نه كيږي او كه د سر درد والا ئې په سر رازوړند كړي (يا ئې

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

اوترې) يا ئې په هُم دې ووه نومونو باندې دم كړې نو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د سر درد به ختم شي. هغه ووه مبارك نومونه دا دي. **عُبَيدُالله، عُروَه، قَاسِم، سَعِيد، اَبُوبَكر، سُلَيمَان، خَارِجَه** رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی (حياةُالحَيَوانُ الكُبرىٰ ج۲ ص۵۳)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه د عُلَمَائے حق او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نيكو بندګانو په نومونو كښ هم عجيبه بَرَكتونه دي، د چا د نومونو چه دا شان دي نو د هغوئي د كتابونو، بيانونو، صُحبتونو او د داسې خلقو د مزراتو د زيارت او د هغوئي د اِيصالِ ثواب د لنګرونو [خيراتونو] د عظمتونو [يعني د لوئي شان] به څه وائي!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۳۲) اَبسكِلي شوي وره ئې وركړل

د **حضرتِ** سيِّدُنا حبيب **عَجَمي** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه دروازې له سوالګر راغې او خيرات ئې اوغوښتو، د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه بي بي **محترمې** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه **وره اښكلي وو** او د ډوډۍ پخولو د پاره د ګاونډ نه د اور راوړلو د پاره تلې وه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه هُم هغه اښكلي وره راواخستل او سوالګر ته ئې وركړل. چه هغې اور راوړو نو وره نه وو. سيِّدُنا حبيب عَجَمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه اوفرمائيل: هغه چا د ډوډۍ پخولو د پاره يوړل. چه ډير تپوس ئې ترې اوكړو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په نامه د وركولو واقعه بيان كړه. هغې اووئيل، سُبْحٰنَ اللہِ عَزَّوَجَلَّ دا خو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو كالو ګناهونه به مُعاف شي. (كَنزُالْعُمّال)

ښه خبره ده خو مونږ ته هم د خوراك د پاره څه پكار دي! په دې كښې يو كس يو غټ ښانك د غوښې نه ډك سره د ډوډو راوړو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه اوفرمائيل: اوګوره خومره زر درته بيرته را اوګرځولې شو، يعني لكه ډوډۍ چه هُم درله پخه كړه او د پاسه ئې ورسره پخه غوښه هم را اوليږله! (روضُ الرياحِين ص۱۵۲) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

## په صَدَقه كولو مال نه كميږي

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** تاسو اوليده! د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لاره كښې وركړې شوې څيز هيڅ كله هُم نه ضائِع كيږي، د آخِرت ثواب خو به كيږي كيږي، كله كله په دُنيا كښې هم سره د اِضافې سمدستي د دې بدله وركړې شي. او دا يقيني خبره ده چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لاره كښې د خرچ كولو سره كميږي نه بلكه زياتيږي څنګه چه حضرتِ سيِّدُنا ابُو هُريره رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: د دواړو جهانو سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: صَدَقه په مال كښې كمې نه كوي او اللّٰه تَعَالٰی د مُعاف كولو په وجه د بنده عِزّت ضرور زياتوي او څوك چه د اللّٰه تَعَالٰی د رضا د پاره اِنكِسارې [يعني عاجزي] كوي نو اللّٰه تَعَالٰی هغه ته اوچت والې [يعني عِزّت] وركوي. (صحيح مُسلِم ص۱۳۹۷ حديث۲۵۸۸)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه كښې به لس نيكئ ليكي. (تِرمِذی)

## د كوهي نه اوبه راوِيستلو سره اوبه زياتيږي

**مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: د زكوٰة وركوونكي زكوٰة هر كال زياتيږي. دا تجربه ده. چه كوم زميندار په پټي كښې تُخم شِيندي [يعني كَري] نو په ظاهره خو هغه بورئ تشې كړي خو په حقيقت كښې ئې سره د اِضافې بيرته ډكې وړي. په كور كښې پرتې بورئ د منږكانو او سپږو وغيره د آفتونو په وجه تباه كيږي يا دا مطلب دې چه د كوم مال نه صَدَقه ويستلې كيږي د هغې نه ئې [په خپلو كارونو كښې هم] مسلسل خرچ كوه اِنۡ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ زياتيږي به، د كوهي نه چه اوبه را اوباسې نو نورې زياتيږي. (مِرْاٰۃُ الْمَنَاجِيح شرح مِشکوٰۃ المصابيح ج ۳ ص ۹۳)

## د زكوٰة نه وركولو عذابونه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! ياد ساتئ د زكوٰة ادا كولو چه يو طرف ته بيشميره ثوابونه دې، نو دغسې د نه وركولو والؤ د پاره خوفناك عذابونه هم دي، چنانچه زما آقا اَعلىٰ حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په قُرآن او حديث كښې د بيان كړو عذابونو نقشه داسې بيانوي: "خُلاصه دا ده چه د كومو سرو زرو او سپينو زرو زكوٰة ور نه كړې شي، د قيامت په ورځ به هغه د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِیر)

جهنَّم په اور کښې سره کړې شي او په هغې به د هغوئي تندي، ډډې او شاګانې داغلې کيږي. د هغوئي په سر او سِينه باندې به د جهنَّم تود کانړي کينبودې شي هغه به سينه ماته کړي او د اوګې نه به اوځي او چه د اُوګې په هډوکي ئې کيږدي نو هډوکي به مات کړي او د سِينې نه به اوځي، ملا به ماته کړي او په ډډه به اوځي. څټ به مات کړي او د تندي نه به اوځي. د کوم مال زکوٰة چه ور نکړې شي، هغه مال به د قيامت په ورځ زوړ خبيث **سړې خور ښامار** جوړ شي او په هغه پسې به منډې وهي، دا به ئې په لاس حصار وي هغه به ترې لاس او جُووي، بيا به ورته د غاړې اميل جوړ شي او د هغه خُله به په خپله خُله کښې اونيسي او جووي به ئې چه زه يم ستا مال، زه يم ستا خزانه، بيا به د هغه ټول بدن اوجُووي. (وَالعِيَاذُ بِاللّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِين (فَتَاوٰی رَضَوِیّه جدید ج ۱۰، ص ۱۵۳) زما آقا اَعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه زکوٰة نه ورکوونکې د عذاب نه د يَرولو د پاره پوهه کوي او فرمائي: **اے وروره!** آيا د خُدائے عَزَّوَجَلَّ او د رسُول صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان هسې ټوقې ټقالې ګنړې يا (د قيامت د يوې ورځې يعني) د پنځوسو زرو کالو هغه تباه کوونکې مصيبتونه تيرول آسان ګنړې، لږ د دې دُنيا په اور کښې يوه روپئ (وره غونډې سِيکه) توده کړه او په بدن پورې ئې اونيسه، بيا چرې دا معمولي ګرمي او چرې هُغه قهرژن اور، او چرې دا

**يوه روپۍ** او چرې هغه د ټول عُمر جمع کړې مال، چرې دا د يو مِنَت ساعت او چرې هغه د زرو ورځو د يو يو کال آفتونه، چرې دا معمولي غوندې داغ او چرې هغه هډوکي ماتوونکې او بل طرف ته وتونکې غضب، **اللّٰه تعالٰی** دِ مسلمانانو ته هدايت نصيب کړي. (اَيضاً ص ۱۷۵)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دعوتِ اِسلامي د مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د زکوٰة او خيرات د ضروري احکاماتو معلومات به درته حاصليږي او د عمل کولو جذبه به مو هُم ورځ په ورځ زياتيږي. د دعوتِ اِسلامي سره د **محبَّت** زياتولو د پاره يو "مَدَني سپرلي" وړاندې کووم چنانچه

## ﴿۳۳﴾ د يو کورِيَن اِسلام قبلول

د **عاشقانِ رسول** د سُنَّتو د تربِيَّت يوه مَدَني قافِله د "کوريا" يوې علاقې ته لاړه، هلته چه يو **غير مُسلِم کوريَن** مَدَني قافِله اوليدله تو تپوس ئې اوکړو چه آيا تاسو مسلمانان يئ؟ مَدَني قافِلې والؤ اوويئيل، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه مسلمانان يو. هغه تپوس اوکړو چه دا څه مو په سر کړي دي؟ جواب ئې ورکړو چه دا عمامه [يعني پټکې] شريف دې او دا زمونږ د خوږ **نبي** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوږ خوږ سُنَّت دې، هُم دغسې هغه د کِيرې مُبارکې په باره کښې تپوس اوکړو، جواب ورکړې شو چه دا هم زمونږه د **خوږ خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږ خوږ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندي لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

سُنَّت نښه ده. هغه اووئیل ما اِسلام په کتابونو کښې لوستلې وو خو په سترګو مې نه وو لیدلې. نن مې ورومبي ځل د اِسلام عَمَلي تصوِیر په سترګو اولیدو، او ډیر مې خوښ شو، مهرباني اوکړئ ما ته کَلِمه اووائې او ما مسلمان کړئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د مَدَني قافِلې والؤ د عاشِقانِ رسُول د نُوراني کِیرو او نُوراني عِمامو او د نُور وَرَوونکو ښکلو مخونو د لیدلو په بَرَکت هغه کورِیَن کافِر مسلمان شو.

اُن کا دیوانہ عمامہ اور زُلف و رِیش میں
واہ! دیکھو تو سہی لگتا ہے کتنا شاندار

د نبي عاشق په زُلفو، کِیره، او عِمامه کښې
اُوګورئ ښکاریږي خومره ښکلي او شاندار

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ نن د مسلمان د ژوند تیرولو انداز ورځ په ورځ بیحده خرابیږي. افسوس په کروړونو افسوس! د اکثرو مسلمانانو د لِباس، سر او مخ طور طریقې وغیره ټولې د کافِرو د سخا رسم و رواج په شان دي. د شیطان په دې وسوسه کښې مه راځئ چه ګني که مونږه کِیره پریږدو او عِمامه [یعني پټکې] په سر کړو نو خلق به زمونږ نه نفرت کوي. داسې بالکل نه ده خلق د مَدَني حُلیه [یعني اسلامي انداز] نه نه، بلکه د بدو حَرَکتونو، بد زبانئ او بد اخلاقئ نه تښتي. تاسو په ډیر اِخلاص د سُنَّتو نمونه جوړ شئ، خپل

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

اخلاق بهتر کړئ، ژبه په قابو کښې د ساتلو کوشش کوئ، خوږې خبرې کوئ، بيا ګورئ چه خلق څنګه ستاسو طرف ته راځي! اوس تاسو د **عاشِقانِ رَسُول** په باره کښې واوريدل چه څنګه د مَدَني لِباس او د ګُل په شان په مُسکا مُسکا د خوږو خوږو خبرو په بَرَکت د شيطان عبادت کوونکې د خوږ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د در فقير جوړ شو! راځئ د کِيرو مبارکو، او د شنو شنو عِمامو مبارکو يو ځليدونکې، ګُلونه ورووونکې د عاشقانِ رسُول د "اللّٰه اللّٰه اللّٰه اللّٰه" د ښکلو نعرو او کمال نه ډك يو بل حِکايت واورئ او خوشحاله شئ. چنانچه

## ﴿۳٤﴾ د نوراني مخونو په ليدلو مسلمان شو

۱٤۲٥ھ (جنوري 2005) کښې د دعوتِ اِسلامي د **مرکزي مَجلِسِ شُورىٰ** د نِګران او د مجلِس بين الاقوامي اُمُور د ځيني ارکانو وغيره **مَدَني قافِله** د بابُ المَدينه (کراچئ پاکستان) نه په سفر **ساؤتهـ افريقه** ته اورسيدله، په هم دې دوران کښې د دعوتِ اِسلامي د مَدَني مرکز **فيضانِ مدينه** د جوړولو په باره کښې د ځائ ليدلو د پاره دا مَدَني قافِله يو مقام ته اورسيدله، هلته د مخکښې نه موجودو اِسلامي ورونړو مَدَني قافِلې والؤ ته په ډير ښکلي انداز خير راغلې اووئيلو. د هغه ځائ مالِك چه عِيسائي وو، هغه د عِمامو او کِيرو والؤ عاشِقانِ رسُول په ښُکلا او د اللّٰه اللّٰه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُومره دې. (عَبدُالرَّزَّاق)

په خوړو نعرو کښې مست شو، ډير بې قراره شو او وروړاندې شو او نِگرانِ شُورئ ته ئې اووئيل. "ما مسلمان کړئ" هغه فوراً د نصراني مذهب نه توبه ګار کړې شو او ګلِمه شريف ورته اووئيلې شوه او مسلمان کړې شو، اِسلامي ورونړه بې اندازې خوشحاله شو او د الله الله زورداره نعرې په فضا کښې خورې شوې.

تو داڑھی بڑھالے عمامہ سجالے ہے اچھا، نہیں ہے بُرا مَدَنی ماحول
یقینا مقدّر کا وہ ہے سکندر جِسے خیر سے مل گیا مَدَنی ماحول

ته ږيره پريږده، عِمامه په سر کړه ډير ښه دې، نه دې بد دا مَدَني ماحول
يقيناً هغه دې د مُقَدَّر سِکندر چا ته چه په خير شو نصيب دا مَدَني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٣٥﴾ د قاضي صاحِب خَميره

د کروړاؤ حَنبليانو عظيم مرتبه لرونکي پيشوا [يعني اِمام] حضرتِ سيِّدُنا اِمام اَحمد بِن حنبل رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ځوئ حضرتِ صالِح رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د اِصفَهان قاضي وو. يوه ورځ د حضرتِ سيِّدُنا اِمام اَحمد بِن حنبل رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خادِم د حضرتِ صالِح رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د مَطبَخ (يعني د پخلي د ځائ) نه خَميره راواخسته [او په وړو کښې ئې ګډه کړه بيا ئې] ډوډئ پخه کړه او د اِمام صاحِب په خِدمت کښې ئې وړاندې کړه، هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ تپوس اوکړو چه دا ډوډئ دومره پسته څنګه ده؟ خادِم د خميرې راغستو خبره اوکړه. هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اوفرمائيل چه زما

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجوامِع)

ځوئ چه د اِصفهان قاضي دې د هغه د کوره دِ ولې خَميره راوړه! زه دا ډوډئ نه خورم دا چا سوالګر ته ورکړه خو دا ورته اووايه چه په دې کښې د قاضي خَميره ګډه ده. اِتّفاقاً د ځلويښتو ورځو پورې سوالګر رانغلو، تر دې چه په ډوډئ کښې بوئي پيدا شو. خادِم هغه ډوډئ د دِجله درياب کښې واچوله. د حضرتِ سيِّدُنا اِمام اَحمد بِن حنبل رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ تقویٰ [يعني پرهيزګاري] مرحبا! هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د هغې نه پس د دِجله درياب مهې کله هم اُو نه خوړو. (تذکِرۃُ الاَوْلِیاء ص۱۹۷)

**د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو**! تاسو اوليده! چه حضرتِ سيِّدُنا اِمام اَحمد بِن حنبل رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ څومره مُتَّقي او پرهيزګاره وو چه د خپل قاضي ځوئ د مال نه ئې هم پرهيز کولو. د قاضي (يعني جج) آمدني [يعني ګټه] اګر چه حرامه نه وي خو د هغوئي مکمل طور اِنصاف کول مشکِل وي، که هغوئي اِنصاف اوکړي نو بيا هم ولې چه هغوئي د حکومت نوکران وي او د هغوئي تنخواه حکومت ادا کوي او حکمران عام طور د ظُلم او زياتي نه نه شي بچ کيدلې او د هغوئي په خزانه کښې پاك رقم کيدل هم مشکِل وي ځکه چه هغوئي اکثر د ظُلم په ذريعه مال حاصلوي، لِهٰذا صرف د تقویٰ او احتياط په وجه حضرتِ سيِّدُنا

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

اِمام اَحمد بِن حنبل رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د قاضي د مال د خميرې ډوډئ اُو نه خوړله او چه بيا هغه ډوډئ دِجله درياب کښې واچولې شوه نو د هغه درياب مهي خوړل ئې هُم پريښودل چه چرې داسې مهي اُو نه خورم چه هغې هغه ډوډئ خوړلې وي!

## ﴿۳٦﴾ د اِمام اَحمد بِن حنبل کرامت

حضرتِ سيِّدُنا اِمام اَحمد بِن حَنبل رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د لوئې شان مالِك وو. منقول دي چه د يوې ښځې لاسونه او ښپې شل شو، هغې خپل ځوئ د دُعا د پاره د هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه خوا ته اوليږلو، هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د هغې د احوال اوريدو نه پس اودس اوکړو او نمونځ ئې شروع کړو، چه کله هغه ځلمې کور ته اورسيدو نو مور ئې جوړه شوې وه او پخپله راغله هغه ته ئې دروازه بيرته کړه.

(تَذْكِرَةُ الْاَوْلِياء ص ۱۹٦)

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نيکو بندګانو تعظيم [يعني ادب] کول ډير د ثواب کار دې چنانچه

## د تعظِيم بدله

يو کس د وفات کيدو نه پس چا په خوب کښې اوليدو او تپوس ئې ترې اوکړو چه، مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ ؟ يعني اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ستا سره څه سُلوك اوکړو؟ جواب ئې ورکړو چه زه اللّٰه عَزَّوَجَلَّ اوبخښلم. تپوس ئې ترې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې كولې كيږي. (طَبَرانِي)

اوكړو چه كوم يو عمل دِ په كار راغې؟ په جواب كښې ئې اووئيل: يو ځل حضرتِ سيِّدُنا اِمام اَحمد بِن حَنبل رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د درياب په غاړه اودس كولو او هم هغلته زه بر طرف ته اودس ته كښيناستم، چه كله مې په اِمام صاحب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نظر پريوتو نو د ادب په وجه كوز طرف ته راغلم. بس هم دا د "وَلِي د تعظِيم والا" عمل مې په كار راغې او زه او بخښلې شوم. (تَذْكِرَةُ الْاَوْلِياء ص١٩٦) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٣٨﴾ د سرو زرو پيزار

مشهور **مُحَدِّث** حضرتِ سيِّدُنا **مُحَمَّد** بِن خُزيمه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: كله چه حضرتِ سيِّدُنا اِمام ابُو عبدُالله **اَحمد بِن حَنبل** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه وفات شو نو زه سخت خفه شوم. يوه شپه مې خوب اوليدو چه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ډير په ناز او ادا كښې روان دې. ما عرض اوكړو چه اے ابُو عبدُالله دا څنګه چال دې؟ اوئې فرمائيل چه دا په جنَّت كښې د خادِمانو چال دې. ما عرض اوكړو، **مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ** ؟ يعني اللّٰه تعالٰى تاسو سره څه سُلوك اوكړو؟ جواب ئې راكړو، اللّٰه تَعَالٰى زه اوبخښلم، ما ته ئې تاج را په سر كړو او د **سرو زرو پيزار** ئې راپښپو كړل او

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

اوئې فرمائيل: اے اَحمد! دا هر څه په دې وجه دي چه تا قُرآن ته زما (يعني د الله) كلام اووئيلو. اللّٰهتَبَارَكَوَتَعَالٰی نور اوفرمائيل: اے اَحمد! زما نه هغه دُعا اوغواړه كومه به چه تا په دُنيا كښې غوښتله. ما عرض اوكړو چه، اے زما رب عَزَّوَجَلَّ! هر څيز........" ما صِرف دومره وئيلي وو چه ارشاد ئې اوفرمائيلو، هر څيز ستا د پاره موجود دې. په دې ما عرض اوكړو، په هر څيز ستا د قدرت په سبب. اوئې فرمائيل: تا رښتيا اووئيل. ما عرض اوكړو، يَاالله! عَزَّوَجَلَّ! زما حِساب مه اخلې بس ما اوبخښې. اوئې فرمائيل: ځه! هُم داسې مې اوكړل. بيا ئې اِرشاد اوفرمائيلو: اے اَحمد! دا جنَّت دې، دې ته داخِل شه. چه كله زه داخِل شوم نو حضرتِ سيِّدُنا سُفيان ثَوري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ هلته د مخكښې نه موجود وو. د هغوئي دوه وَزَرې وې او په هغه وَزَرو هلته د كجورې د يوې وَنې نه بلې ونې ته الوَتلو را الوَتلو او د هغوئي په ژبه جاري وو: "ټول ثناء صِفَت د الله عَزَّوَجَلَّ د پاره دي چا چه زمونږه سره كړې وعده پوره كړه اومونږه ئې د جَنَّت د زمكې وارِثان جوړ كړو، په جَنَّت كښې چه مونږه چرته غواړو د اوسيدو ځائ جوړوو، نو د عمل كوونكو اَجر ډير زيات بهتر دې" ما ترې تپوس اوكړو چه د حضرتِ سيِّدُنا عبدُ الوَهّاب وَرّاق رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ څه حال دې؟ او ئې وئيل چه زه راتلم نو هغه د نُور په سمندر كښې وو. ما ترې د حضرتِ سيِّدُنا بِشرِ

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِیمان)

حافي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د حال تپوس اوکړو نو اوئې فرمائيل: هغه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې حاضِر دې، د هغوئي مخې ته يو دسترخوان دې او رَبِّ کَرِيم جَلَّ جَلَالُہٗ هغوئي ته مُتَوَجِّه دې او فرمائي، چه اے په دُنيا کښې نه خوړلو او نه څښلو والا! په دې جهان کښې اوخوره او مزې اوکړه. (شرحُ الصُّدور ص۲۸۹) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

## ﴿۳۹﴾ د کوړې په هر ګزار د مُعافئ اِعلان

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نيك بندګان د دِين د پاره تڪليفونه تير کړي او د دُنيا نه رخصت شي نو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي ته څنګه عِزّتونه ورکوي. آو بالکل! د کروړاؤ حَنبليانو عظيم مشر حضرتِ سيِّدُنا ابُو عبدُ الله اِمام اَحمد بِن حَنبل رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د حق [يعني دِين] د پاره ډير زيات مَشَقَّتونه تير کړي دي چنانچه په يوه موقع باندې د عَبّاسي خليفه مُعتَصِم بِالله په حُکم جَلّادو د حضرتِ سيِّدُنا اِمام اَحمد بِن حَنبل رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په بربنډه شا باندې وار په وار کوړې وَرَوَل شروع کړل، په وهلو وهلو د هغوئي ملا مبارکه په وِينو سره شوه او پوستکې مبارك ترې واوښتو، په دې دوران کښې د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ پاجامه [يعني پرتوګ] شريف په ښويدو شو نو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې ئې دُعا اوکړه، "يا اللّٰه عَزَّوَجَلَّ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعنې لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

تا ته معلومه ده چه زه په حقه يم، ما د بې پردګۍ نه بچ كړې.“ اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ پاجامه شريفه نوره د ښويدو نه حِصاره شوه او بيا هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه بيهوشه شو. ”تر څو پورې چه په هوش كښې وو د كوړې په هر ګُزار به ئې فرمائيل: ”ما د مُعتَصِم قُصور معاف كړو.“ وروستو چه خلقو د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه د دې د وجې تپوس اوكړو نو اوئې فرمائيل: **مُعتَصِم بِالله** د سركارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تره مبارَك حضرتِ سيِّدُنا عَبَّاس رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ په اولاد كښې دې، ما ته د دې خبرې نه حيا راځي چه د قِيامت په ورځ چرې دا اُو نه وئيل شي چه **اَحمد بِن حَنبل** د دوارو جهانو د سردار صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تره مبارك اولاد معاف نه كړلو! (مُلَخَّصاً مَعدنِ اخلاق حِصّه ۳ ص ۳۷ تا ۳۹، دار الكتب حنفيه كراچي)

**حضرتِ** سيِّدُنا **فُضيل بِن عِياض** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: په حضرتِ سيِّدُنا اِمام اَحمد بِن حَنبل رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه باندې مسلسل اته وِيشت مياشتې قيد تير كړې شو، په دې دوران كښې به هره شپه په هغوئي كوړې وَرَوَلې شوې تر دې چه هغوئي به بيهوشه شو، په تيره تُوره به واړه واړه زخمونه وركړې شو، د پاسه به پرې اوګرځيدل. خو د هغوئي اِستِقامت مرحَبا! چه د دومره غټو غټو مصيبتونو باوجود هغوئي ثابِت قَدَمه اوسيدلو. (اَلطَّبقاتُ الكُبرىٰ ج ۱ ص ۷۹) حضرتِ علّامه حافِظ اِبنِ جَوزي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د مُحَمَّد بِن اِسمٰعِيل رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه نقل كوي،

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذی)

اِمام اَحمد بِن حَنبل رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه اتيا كوړې داسې اووهلې شو چه كه [په هغه كوړو] هاتي وهلې شوې وې نو هغه به هم چغې وهلې وې خو واه! د اِمام صبر! (مُلَخّصاً مَعدن اخلاق حِصّه۳ ص ۱۰۶، دارالكتب حنفيه كراچي)

تڑپنا اِس طرح بُلبُل کہ بال و پر نہ ہلیں
ادب ہے لازِمی شاہوں کے آستانے کا

داسې رپيږه چه بنړه نه دِ وزر اوخوزي بلبله لازمي ادب دې د دربارِ شاهي

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۴۰﴾ غل د صبر تلقِين اوكړو

چه كله د مُصِيبت په ورځو كښې هغوئ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د كوړې وهلو والا ته مخامخ كړې شو نو اللّٰه تعالیٰ د ''اَبُو الْهَيثَم عَيَّار'' نومې يو كس په ذريعه د هغوئ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه مدد اوفرمائيلو، هغه د هغوئ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه خوا ته راغلو او اوئې وئيل: ''اے اَحمد! زه فلانكې غل يم، زه د غلا اِقرار كولو د پاره اَتلّس زره كوړې اووهلې شوم خو ما اِقرار اُو نه كړو حالانكه ما ته معلومه وه چه دروغژن يم. تاسو چرې په كوړو خوړلو اُو نه يَريږئ ځكه چه تاسو خو په حق ئې. پس چه كله به هغوئ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د كوړې خوړلو په وجه په درد كښې اخته شو نو د غل خبره به ئې راياده كړه. وروستو به بيا هغوئ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه هميشه د هغه د پاره د رَحمت دُعاګانې فرمائيلې.'' (اَلطَّبقاتُ الْكُبریٰ ج۱ ص ۷۸، ۷۹)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

حضرتِ سیِّدُنا بِشر اَلحارِث رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائی: هغوئي [يعني امام احمد بِن حنبل] رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د ازميښت د پاره (د اور) په بټۍ (يعني جيل) کښې واچلولې شو او هغوئي (د اِستِقامت په وجه) سره زر جوړ شو او را اووتلو." (اَيضاً ج۱ ص۸۰)

## په وَليانو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د کرم باران

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لاره کښې راتلونکي تکليفونه په فراخه تندي برداشت کوونکو ته د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې څومره عِزَّتونه ورکولې شي.او تاسو دا هُم اوليده چه په حضرتِ سیِّدُنا بِشر حافي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ باندې هُم په دُنيا کښې د رضائے اِلٰهی د پاره د لوږې او تندې برداشت کولو او د نفس مړ کولو په وجه [په آخِرت کښې] اللّٰهتعالٰی څومره کرم او مهربانئ کولې. او زمونږه غوثِ اعظم [يعني پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به هُم په دُنيا کښې د نفس سره مقابله کوله او د خوراك څښاك نه به ئې ډډه کوله. د بغداد ولي پيرانِ پير صاحِب رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ باندې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رحمتونو په تذکِره کښې عاشِقِ رَسُول او ولئ کامِل، مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د غوثُ الاعظم پيرانِ پير صاحِب رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په دربار کښې داسې عرض کوي ــه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كوم كس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

قسمیں دیدے کے کِھلاتا ہے پِلاتا ہے تجھے
پیارا اللہ ترا چاہنے والا تیرا

په قَسَمونو په تا خوري په تا څښي دي په تا ډير زيات مهربانه ستا خورِ الله

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د داسې ښكلو ښكلو معلوماتو حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول سره خپل تړون هر وخت مضبوط ساتئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دِين و دُنيا بيشميره بَرَكتونه به حاصِل كړئ. د دعوتِ اِسلامي د مَدَني ماحول د بَرَكتونو نه ډك يوه اِيمان تازه كوونكې واقعه واورئ او خوشحاله شئ:.

## ﴿٤١﴾ د دِماغو رسولئ وركه شوه

د بَلبهار ضلع چندر پور مهاراشټر (هِند) يو اِسلامي ورور په **دعوتِ اِسلامي** كښې د خپلو شامليدو واقعه څه داسې بيان كړي ده، د ووه كالو په عمر كښې د كاڼړي لګيدو په وجه زما كڼ طرف ته ستركه زخمي شوي وه. د عِلاج كولو سره ئې ډيره ښيګړه اوكړه خو د ستركې نظر مې كم شو. د دې نه د عبرت حاصلولو په ځاىٔ زه نور په غفلت كښې پريوتم او د سندرو او ګډاګانو د محفلونو په شوق كښې اخته شوم، د ګډا د كلب د تيزو رنړاګانو په وجه زما په هغه ستركه سخت درد شو. په معائِنه كښې معلومه شوه چه په **دِماغو** كښې مې **رسولئ** شوي ده. په غټو غټو هسپتالونو كښې مې عِلاج اوكړو خو هيڅ فائِده اُو نه شوه

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

او ورسره مې ښځې هم کوڼ شو او خوراك کول هم راته مشکِل شو! زما د تکليف په وجه د کور کسان ډېر زيات پريشانه وو. په هُم هغه ورځو کښې د **دعوتِ اِسلامي** د **عاشِقانِ رسول** يوه **مَدَني قافِله** زمونږه کلي ته راغله. هغوئي **د نيکۍ** د **دعوت** ورکولو په دوران کښې زمونږ د کور ټولو نارينه کسانو ته هم په بيان کښې د شرکت کولو دعوت راکړو خو مونږه ورته د خپلې پريشانۍ عُذر بيان کړو، د **محَلّې** د جُمات نه د مُبَلِّغ د بيان آواز زمونږه کور ته هم راتلو. د دې په اوريدو زمونږه د کور ټول کسان ډېر زيات مُتاثِره شو او په "**دُرُک**" کښې کيدو والا د **سُنّتو نه ډکه اِجتِماع** ته د تللو د پاره تيّار شو. په هغه اِجتِماع کښې د سُنَّتو ډك بيان نه پس **رِقَّت انگيزه** [يعني ژړوونکي] دُعا اوشوه. د اِجتِماع نه چه بيرته راغلم او سي. ټي سکين (C.T.Scane) مې اوکړو چه ډاکټرانو رپورټ اوکتلو نو ټول حيران شو، ځکه چه په زړو ټولو رپورټونو کښې په **دِماغو کښې رسولۍ** موجوده وه او **دا پيره په سي. ټي. سکين رپورټ کښې رسولۍ بالکل غائبه وه**! د دې حيرانوونکي واقعې نه زمونږ د کور کسان دومره متاثِره شو چه هغوئي ټپله ما ته د **عمامې** [يعني پټکي] **شريف** تاج را په سر کړو.

عطائے حبیبِ خدا مَدَنی ماحول　　ہے فیضانِ غوث و رضا مَدَنی ماحول
اے بیمارِ عصیاں تُو آجا یہاں پر　　گناہوں کی دیگا دوا مَدَنی ماحول

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

سنور جائے گی آخِرت ان شاءَ اللہ
تم اپنائے رکھو سدا مَدَنی ماحول

عطا ده د حَبيبِ خُدا مَدَني ماحول ‏ دي فيضان د غوث و رضا مَدَني ماحول
د ګناهونو بيماره ته راشه دلته ‏ د ګناهونو به درکړي دَوا مدني ماحول
ښائسته به دِ شي آخرت اِن شَــآءالـلّٰـه ‏ ته خپل کړه هميشه دا مدَني ماحول

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! ‏ صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٤٢﴾ د زړونو په خبره پوهه شو

حضرت داتا ګنج بخش سيِّدُنا علي هجويري رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: مونږه درې دوستان د حضرتِ سيِّدُنا **شيخ اِبنِ عَلا** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د ملاقات د پاره "**رَمله**" نومې کلي طرف ته لاړو. په لاره کښې مو دا صَلاح اوکړه چه هر کس دِ په خپل زړه کښې څه نه څه مُراد اونيسي. ما دا مُراد اونيولو چه ما ته د حضرتِ سيِّدُنا شيخ اِبنِ عَلا رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه د حُسين بِن منصُور حَلَّاج رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه مُناجات [يعني دُعاګانې] او شِعرونه پکار دي. بل يو دا مُراد خوښ کړو چه ما ته د تورې د بيمارئ نه شِفا حاصِله شي. دريم اووئيل چه ما ته د صابوني حلوه (يعني برفي) خوړلو خواهِش دې. چه کله مونږه د هغوئي په خِدمت کښې حاضِر شو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه زما د پاره د حُسين بِن منصُور حَلَّاج رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه شِعرونه او مُناجات [يعني دُعاګانې] تيار ليکلي ساتلي وو او هغه ئې ما ته راکړل. د **بل درويش** په خيټه ئې لاس راښکلو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُ الرَّزَّاق)

هغه د **توري** د بيمارئ نه جوړ شو. **دريم ته ئې** اوفرمائيل: **صابوني حلوه** (يعني يو قِسم متهائي) د شاهي درباړونو خوراك دې خو تا لِباس د صوفيانو اغوستې دې! په دواړو کښې يو څيز اختيار کړه. (کَشفُ الْمَحجُوب ص ۳۸٤)

**د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

## ﴿٤٣﴾ آيا حُسين بِن منصور اَنَاالْحَق وئيلي وو

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په ورکړه اولِياءُاللّٰه د خلقو د **زړونو په حال خبريږي**، ځکه خو حضرتِ سيِّدُنا شيخ اِبنِ عَلا رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه بې تپوسه د حُضُور داتا ګنج بخش حضرتِ سيِّدُنا علي هجويري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه او د هغوئي د ملګرو **د زړونو مُرادونه** بيان کړل او د دوو مُرادونه ئې پوره کړل او دريم ته ئې د اِصلاح **مَدَني ګل** ورکړو. په دې حِکايت کښې د حضرتِ سيِّدُنا حُسين بِن منصُور حَلَّاج رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ذِکرِ خير هُم موجود دې. د هغوئي په باره کښې مشهور دي چه هغوئي **اَنَاالْحَق** يعني "زه حق (يعني خُدائے) يم" وئيلي وو. د دې غلط سوچ په رَد کښې زما آقا اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: حضرتِ سيِّدُنا حُسين بِن منصُور حَلَّاج رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته عوام "منصور" وائي، منصُور د هغوئي د پلار نوم وو او د هغوئي مبارك نوم **حُسين** وو.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

هغوئي [يعني سيِّدُناحُسين بِن منصُور] په اکابِرو [يعني غټو غټو] اهلِ حال کښې يو وو. د دوئي يوه خور د دوئي نه په وِلائت او معرِفت کښې ډيرې درَجې اوچته وه. هغې به د شپې په آخِره کښې ځنګل ته تشريف يوړو او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په ياد کښې به مصروفه شوه. يوه شپه د دوئي سترګې اوغړيدې چه اوئي کتل نو خور ئې نه وه، په کور کښې ئې هر ځائ اوکتله خو پيدا نه شوه، د دوئي په زړه کښې وسوسه پيدا شوه. بله شپه ورته وِيښ پاتې شو او قصداً ئې ځان په اودو کښې واچولو، هغه په خپل وخت پاځيدله او روانه شوه، دوئي ورپسې په قلاره قلاره وروستو وروستو روان شو، څه ګوري چه د آسمان نه د سرو زرو په زنځير کښې د ياقوتو جام راکوز شو او د هغې د خُلې مبارکې په برابرې اودريدو او هغې څښل شروع کړل، د دوئي نه صبر اُو نه شو چه ولې دِ د جنَّت دا نعمت (ما ته) را نکړې شي، بې اختياره ئې اووئيل: خورا! ستا دِ په اللّٰه عَزَّوَجَلَّ قَسَم وي! لږ ما له هم پريږده، هغې يو ګوټ پريښودو، دوئي اوڅښلو، چه هغه ئې څنګه اوڅښلو نو د هر کانړې بوټې او خوا و شا نه دا آواز راتلل شروع شو چه څوک د دې زيات حقدار دې چه زما په لار کښې قتل کړې شي؟ هغوئي دا وئيل شروع کړل: اَنا لَاَحَق (اَنَا. لَ. اَحَق) يعني بيشکه د ټولو نه زيات زه د دې حقدار يم. د خلقو په غوږو داسې اولګيده "اَنَاالْحَق" (يعني زه حق يم) خلقو دا د خُدائې دعوىٰ اوګڼړله او دا (يعني د خُدائې دعوىٰ کول) کُفر دې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

او څوك چه مسلمان وي او كُفر اوكړي نو مُرتد شي او د مُرتد سزا قتل دې. په (صحيح البُخاری ج۲ص۳۱۵حديث۳۰۱۷) كښې دي چه د نبيانو سردار خوږ مُحمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چه خپل دِين بدل كړي هغه قتل كړئ. (فَتَاوٰی رَضَوِيّه جِلد ۲۶، ص۴۰۰)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اِسلامي د مَدَني ماحول سره تړون او په مَدَني قافلو كښې سفر د عقائِدو او اعمالو د اِصلاح بهترينې ذريعې دي چنانچه

## ﴿۴۴﴾ زه شرابي او غل ووم

د **بمبئ** (اَلهِند) د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دې چه زه د غلط صُحبت په وجه په ډير كم عمر كښې د شرابو او جُوارئ په مصيبت كښې اخته شوې ووم، د ملغلرو او سرو زرو په سمګلِنګ [يعني غير قانوني طور د يو ښار يا ملك نه بل ځائ ته وړلو راوړلو] كښې دومره ماهر ووم چه په دې ميدان كښې د "كِنګ" [يعني بادشاه] په نوم مشهور ووم. زمونږه كور ته نِزدې به هره جُمُعه د **دعوتِ اسلامي** والا راجمع كيدل او د درس و بيان سلسله به ئې كوله، زما مور به ما ته په هغې كښې د شريك كيدو وئيل خو ما به اخوا ديخوا كول. آخِر د مور د **اِنفِرادي كوشش** په بَرَكت پكښې يو ځل شريك شوم، د مُبلِّغ د بيان كولو انداز خو مې خوښ شو خو په هيڅ هم پوهه نه شوم، په آخِره

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

کښې هغه مُبَلِّغ په ما باندې **اِنفِرادي کوشش** اوکړو او د بمبئ په علاقه **ګونډي** کښې کيدونکي د هفته واره سُنَّتو نه ډکه اِجتِماع دعوت ئې راکړو، ما اِراده اوکړه. د **اِجتِماع** په شپه دوستانو سره شراب خانې ته لاړم خو نن مې زړه [د شرابو نه] بيزاره غوندې وو، ټولو شراب را اوغوښتل خو ما د شربت بوتل را اوغوښتو. په دې باندې زما دوستانو ما ته په **حيرانتيا** اوکتل. ما اووئيل، ما ته چا د اِجتِماع دعوت راکړې دې، زه هلته وعظ [يعني بيان] اوريدو له ځم. په دې خبره زما دوستانو په بق بق اوخندل، وئيل ئې يار! دا څه د **مُحرَّم** مياشت ده! وعظونه خو په **مُحَرَّم** کښې کيږي، ستا سره به چا ټوقې کړې وي. زه هم په سوچ کښې پريوتم چه واقعي وعظونه خو په **مُحرَّم** شريف کښې کيږي خو بيا هم ما زړه مضبوط کړو، پاڅيدم او دا مې اووئيل چه که وعظ نه وو نو بيرته به راشم. بهر ته اووتم، رِکشه مې اونيوله او نيغ د **اجتِماع ځائ** ته اورسيدم، هلته کيدونکي دُعا زه ډير اوژړولم، په ژړا ژړا مې د خپلو ګناهونو نه توبه اوکړه. د اِجتِماع په آخِره کښې مُبَلِّغ په **اِنفِرادي کوشش** کښې ما ته په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه د **عاشِقانِ رَسُول** سره د **مَدَني قافِلې** مسافر جوړ شوم، په مَدَني قافِله کښې مې د کِيرې مبارکې پريښودو او عِمامه [يعني پټکې] شريف په سر کولو نِيَّت

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمَّال)

اوکړو، د جُواریانو او شرابیانو دوستانو سره مې تعلقات پرېښودل او د **دعوتِ اِسلامي** په مَدَني ماحول کښې شامِل شوم. زه د "وات" نومې یو خطرناکه بیمارۍ کښې اخته ووم او د هغې په وجه به داسې معلومیده لکه په سترګه کښې مې چه شګۍ غوندې پرته وي. ډاکټران هم د هغې په عِلاج نه پوهیدل. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د دعوتِ اِسلامي د مَدَني ماحول په بَرَکت زه د هغه تکیلف ورکوونکي مرض نه هم خلاص شوم.

چھوڑ دے نوشیاں، مت بکو گالیاں آؤ توبہ کریں قافِلے میں چلو
اے شرابی تو آ، آ جُوآری تو آ چُھوٹیں بد عادتیں قافِلے میں چلو

پرېږدۍ شراب خښل، مه کوئ نور کنزل راشئ توبه اوکړئ قافِلو کښې لاړ شئ
راشه راشه شرابي، راشه راشه جُواري بد عادت نور پرېږدۍ قافِلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قافِلو دعوت ورکوئ

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اولیده! د مُبَلِّغ دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو نه د ډک بیان او د **اِنفِرادي کوشش** په نتیجه کښې یو جُواري او شرابي توبه ګار شو، د مَدَني قافلې مسافِر جوړ شو او د دعوتِ اِسلامي په **مَدَني ماحول** کښې شامِل شو. تاسو هُم مسلسل خلقو ته په مَدَني قافِله کښې د سفر کولو دعوت ورکوئ. په دې حِکایت کښې تاسو د یو شرابي تذکِره واوریده. افسوس! په کرورونو افسوس! نن صبا د

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (ترمذی)

مسلمانانو کښې ډېر شمير مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د شرابو د نشې په ګناه کښې ګرفتار دي لِهٰذا ضِمناً د شرابو په باره کښې څه عرض کووم.

## د شرابو د ګوټ عذاب

د تاجدارِ نُبُوّت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دي: "الله عَزَّوَجَلَّ زه د ټولو جهان والؤ د پاره رحمت او هِدايت جوړ کړې راليږلې يم، زه ئې ځکه راليږلې يم چه د **سندرو غږولو سامان** او د جاهِلِيَّت کارونه ختم کړم، زما پروردګار عَزَّوَجَلَّ د خپل عِزَّت په قَسَم فرمائيلي دي: "زما څوك بنده چه د **شراب** يو ګوټ هم اوڅښي زه به په هغه باندې د هغې په شان د **جهنَّم خوټکيدلي اوبه** اوڅښم او زما څوك بنده چه زما د يَرې نه **شراب** څښل پريږدي زه به په هغه په جنَّت کښې د ښو ملګرو سره (پاکيزه شراب) اوڅښم.

(اَلْمُعْجَمُ الکَبِیر للطبرانی ج۸، ص۱۹۷، حدیث۷۸۰۴، ۷۸۰۳)

## کَلِمه ئې نصيب نه شوه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! انديښنه ده چه شرابيانو او شطرنج کولو والؤ وغيره ته د مرګ په وخت کښې کَلِمه نصيب نه شي. په دې باره کښې **دوه حِکايتونه** واورۍ.

**حضرتِ علّامه محمّد بِن اَحمد ذَهبي** رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: ﴿٤٥﴾ يو کس به د شرابيانو په صُحبت کښې کښيناستلو، چه کله د هغه د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شریف لولئ بیشکه ستاسو په ما باندې درود شریف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

مرګ وخت نزدې راغې [یعني ځنکدن ئې شو] نو چا ورته د کَلِمه شریف وئیلو تلقین اوکړو، هغه اووئیل، "ته هم اوخښه او په ما هم اوخښه." مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د کَلِمه وئیلو نه بغیر مړ شو (چه د شرابیانو د صُحبت دا حال دې نو د شرابو څښلو مصیبت به څومره زیات وي) ﴿٤٦﴾ یو شطرنج کولو والا ته د مرګ په وخت کښې د کَلِمه شریف وئیلو تلقین اوکړې شو نو هغه اووئیل، "شَاهَكَ" (یعني ستا بادشاه). دا ئې اووئیل او مړ شو. (مُلَخَّصاً کتابُ الکَبائِر ص۱۰۳)

## د شراب طِبِّي [یعني د صِحت د پاره] نُقصانات

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اِسلام چه د شرابو نشه حرامه کړې ده په دې کښې بیشمیره حِکمتونه دي، اوس کُفَّارو هم د دې نقصانات منلي دي، چنانچه د یو غیر مُسلِم مُحَقِّق [یعني تحقیق کوونکي] د تاثُراتو مطابق په شروع کښې خو د انسان بدن د شرابو د نقصانونو مقابَله کوي او شرابي ته خوندور کیفیت محسوسیږی خو ډیر زر داخِلي (یعنی د جِسم دننه) قُوَّتِ برداشت ختم شي او بیا د دې مُستقِل مُضِر اثرات پریوتل شروع شي، د شرابو د ټولو نه زیات اثر په ځیګر پریوځي او هغه اوچیدل شروع شي، په پښتوَرګو [یعني ګُردو] فالتو بوج پریوځي هغه کمزورې شي او آخِر بیکاره (FAIL) شي، د دې نه علاوه د شرابو زیات استعمال دِماغ پړسوی، په اعصابو [یعني پټو] کښې پړسوب پیدا شي او

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰی)

نتيجةً **اعصاب** كمزوري او بيا تباه شي، د شرابي په **معده** كښې پرسوب پيدا كيږي، **هډوكي** ئې نرم او ډير زيات كمزوري شي، شراب په بدن كښې موجود د **وِټامِنز** ذخِيرې تباه كوي، وِټامِن **B** او **C** بِالخصوص د دې د تباهئ نښه جوړيږي، كه د شرابو سره د تَمباكو نشه ملګرې شي نو د دې نقصانات په څو چنده زيات شي او د **هائي بلډ پريشر، سټروک** او **هارټ اټيک** ډيره زياته خطره پيدا شي، په كثرت سره شراب څښلو والا د بدن د **سټرې كيدو، سر درد، اُلټئ محسوسيدو** او د تندې په **زيات والی** كښې اخته كيږي، ډير زيات شراب څښلو سره د زړه حَرَكت او د ساه اغستو عمل اودريږی او شرابي فوراً د مرګ كندې ته كوز شي.

گر آئے شرابی مٹے ہر خرابی چڑھائے گا ایسا نشہ مَدَنی ماحول
اگر چور ڈاکو بھی آجائیں گے تو سُدھر جائیں گے گر ملا مَدَنی ماحول
نمازیں جو پڑھتے نہیں ہیں ان کو لاریب
نمازی ہے دیتا بنا مَدَنی ماحول

كه راشي شرابي، نو پريږ به دې خرابي ور به كړي داسې نشه مَدَني ماحول
كه غله او ډاكوان هم راشي نو كړي به ئې صحيح دا مَدَني ماحول
نمونځونه چه څوك نه كوي بيشكه نمونځ ګُزاره ئې جوړوي دا مَدَني ماحول

## ﴿٤٧﴾ړوند شرابي

ما ته (يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنهُ ته) ډير ښه ياد دي چه يو مست او طاقتور ځلمي به په جوړيا بازار (بابُ المدينه كراچئ) كښې مزدوري

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

کوله، هغه د ډیر طاقتور کیدو او تیزو تیزو خبرو کولو په وجه ډیر مشهور وو. بیا په هغه یو دور داسې راغې چه هغه **ړوند** شو او ډیر په خفه زړه به ئې خیرات غوښتلو. چه معلومات مې اوکړو نو معلومه شوه چه دا **شرابي** وو او یو پیره د **بیکاره شرابو** څښلو په وجه ړوند شو! ؎

کرلے توبہ اور تُومت پی شراب ہوں گے ورنہ دوجہاں تیرے خراب
جو جُوآ کھیلے، پیئے ناداں شراب قبر و حشر و نار میں پائے عذاب

ته اوکړه توبه، مه څښه شراب کنې شي به ستا دواړه جهانه خراب
چه کوي جُواري او څښې نادانه شراب په قبر و حشر کښې به تیروي عذاب

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٤٨﴾ رخت [یعني کپړه] پخپله جوړیده

**حضرتِ** سیِّدُنا شیخ احمد نَهرواني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د حضرتِ سیِّدُنا قاضي حمیدُالدِّین ناګوري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ مُرید وو. ډیر زیات باکماله اوصاحِبِ حال بُزرګ وو. حضرتِ سیِّدُنا شیخ بهاءُالدِّین زَکَرِیّا مُلتاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به ډیر کم څوك خوښولو خو د حضرتِ سیِّدُنا شیخ احمد نَهرواني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په باره کښې به ئې فرمائیل: که د شیخ احمد نَهرواني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د خپل ربّ عَزَّوَجَلَّ سره مشغولیَّت وزن کړې شي نو د لسو صوفیانو د مشغولِیَّت هُمره به وي. د هغوئې روزګار د رخت [یعني کپړې] جوړلو وو. حضرتِ سیِّدُنا شیخ نصیرُ الدِّین محمود رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه په کور کښې د رخت جوړولو په وخت به کله کله په شیخ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

احمد نَهرواني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه داسې حال راغې چه [د الله عَزَّوَجَلَّ په ياد كښې به] د ځان نه بې خبره شو خو رخت به [په كډې] بخپله جوړيدو. يوه ورځ د هغوئي پير و مُرشِد حضرتِ سيِّدُنا قاضي حميدُ الدِّين ناګوري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د مُلاقات د پاره تشريف راوړو. د رخصتيدو په وخت ورته مُرشِد[يعني پيرصاحِب] اوفرمائيل: اے اَحمد! آخِر تر څو به دا كار كوې؟ دا ئې اووئيل او تشريف ئې يوړو. شيخ احمد نَهرواني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په هغه ساعت پاڅيدلو او د كډې ميخ ئې ټينګولو چه ناڅاپه ئې لاس مبارك په كډې كښې اونښتو او مات شو. د دې واقعې نه پس شيخ احمد نَهرواني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د رخت جوړولو روزګار بالكل پريښودو او ټوله توَجُّه ئې اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ته اوګرځوله. د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه مزار مبارَك په بدايون شريف (هِند) كښې دې. (اخبار الاخيار مع مكتوبات ص٤٨) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## ﴿٤٩﴾ خربوزې والا

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** عُلَماء او اولِياء د مسلمانانو په هرقوم او هر روزګار كوونكو كښې پيدا شوي دي او د قيامته پورې به پيدا كيږي. د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ فضل د يو خاص نسل يا قوم د پاره مخصوص نه دې.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

اللّٰه عَزَّوَجَلَّ چه د چا د پاره غوارې په هغه باندې خپل رحمت اوکړي. د زمکې په سر هر وخت بيشميره اولِياءُ الله رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی موجود وي او د هم هغوئي په بَرَکت د دُنيا نِظام چليږي. چنانچه

حضرتِ سيِّدُنا شاه عبدُالعزيز مُحَدِّث دهلوي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته چا شکايت اوکړو چه حُضُور! څه وجه ده نن صبا د دِهلي اِنتِظام "ډير سُست" دې؟ اوئې فرمائيل، نن صبا د دې ځائ صاحِبِ خِدمت (يعني د دِهلي ابدال) سُست دې. تپوس ئې ترې اوکړو، څوك صاحِب دې؟ اوئې فرمائيل: فلانکې ميوو خرڅولو والا چه په فلانکې بازار کښې خَتَکې خرڅوي- هغه تپوس کوونکې صاحِب د هغوئي خوا له ورغلو او خَتَکې ئې کتې کول او څَکَل شروع کړل او ټول ئې ناخوښه کړل او ټوکرئ کښې ئې بيرته کيښودل. دومره زيات نقصان ورکوونکې ته هم هغه هيڅ اُو نه وئيل. څه موده پس څه ګوري چه اِنتِظام بالکل صحيح دې او حالات بدل شوي دي نو هُم هغه کس بيا تپوس اوکړو، چه نن صبا څوك دې؟ شاه صاحِب اوفرمائيل: يو سَقَا دې چه په چاندني چوك کښې په خلقو اوبه څښبي خو يو ګِلاس په يو چهدام (چهدام په هغه ورځو کښې د ټولو نه وړه سِيکه وه يعني د يوې پيسې څلورمه حِصَّه) اخلي. هغه کس يو چهدام يوړو هغوئي ته ئې ورکړو او اوبه ئې ترې اوغوښتې. هغوئي اوبه ورکړې هغه اوبه واړولې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

او بل ټِلاس ئې ترې اوغوښتو. هغوئي ترې تپوس اوكړو، بل چهدام درسره شته دې؟ هغه وئيل نشته. هغوئي يو پړق وركړو او ورته ئې اووئيل، د ختكو والا دِ اوګنړلم كه ښنكه؟ (سچی حکایات حِصّہ سِوُم ص ۹۷ مکتبہ جامِ پور دِھلی) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

## رُوحاني حاكِمان

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اولِياءُ اللّٰه! روحاني حاكِمان [يعني بادشاهان] وي او دا هم معلومه شوه چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په وركړه د غيب خبرې د دې اللّٰه والؤ په عِلم كښې وي. د هر وَلِي مشهوريدل او خلقو ته معلوميدل ضروري نه دي. دا حضرات د معاشرې په هره طبقه كښې وي. كله د مزدور په شكل كښې، كله د سبزئ والا او كله د ميوو خرخولو والا په شكل كښې، كله د تاجِر يا نوكر په شكل كښې او كله د چوكيدار يا كيلكار په شكل كښې غټ غټ وليان وي. هر يو هغه نه شي پيژندلې، مونږ ته يو مسلمان هم سپك ګنړل نه دي پكار. ځيني اولِيائے كرام باقاعده د "روحاني نِظام" سره مربوط (يعني رابطه كښې) وي چنانچه

## 356 اوليائے كرام

د حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ مسعُود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې چه سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "د اللّٰه تعالٰی درې سوه بندګان د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

زمکې په سر داسې دي چه د هغوئي زړونه د حضرتِ سيِّدُنا آدم صَفِـيُّ الله عَلَيْهِ السَّلَام په قلبِ اطهر دي. او د **څلويښتو** زړونه د حضرتِ سيِّدُنا مُوسٰی کليمُ الله عَلَيْهِ السَّلَام په قَلبِ اَطهر دي او د **ووه** زړونه د حضرتِ سيِّدُنا اِبراهِيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام په قَلبِ اَطهر دي او د **پينځه** زړونه د حضرتِ سيِّدُنا جِبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام په قلبِ اَطهر دي او د **درې** زړونه د حضرتِ سيِّدُنا مِيکائيل عَلَيْهِ السَّلَام په قَلبِ اَطهر دي. **يو** په هغوئي کښې داسې دې چه د هغه زړه د حضرتِ سيِّدُنا اِسرافِيل عَلَيْهِ السَّلَام په قَلبِ اَطهر دې. چه په هغوئي کښې ”يو“ وفات شي نو اللّٰهتعالٰی د هغه په ځائ د ”دريو“ نه يو مُقرّر فرمائي او که په ”درې“ کښې يو وفات شي نو اللّٰهتعالٰی د هغه په ځائ د ”پينځه“ نه يو او که د ”پينځه“ نه کوم يو وفات شي نو اللّٰهتعالٰی د هغه په ځائ د ”ووه“ نه يو او که د هغه ”ووه“ نه يو وفات شي نو اللّٰهتعالٰی د هغه په ځائ د ”څلويښتو“ نه يو او که د هغه ” څلويښتو“ حضراتو نه کوم يو وفات شي نو اللّٰهتعالٰی د هغه په ځائ د ”درې سوو“ نه يو او که د هغه ”درې سوه“ نه کوم يو وفات شي نو اللّٰهتعالٰی د هغه په ځائ د عامو خلقو نه څوک مقرر فرمائي. د هغوئي په ذريعه (يعني وَسِيله) ژوند او مرګ ورکول کيږي، باران کيږي، فصلونه راخيژي او بلاګانې [يعني مصيبتونه] لرې کيږي. د حضرتِ سَيِّدُنا اِبنِ مسعود رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

تپوس اوکړې شو، "د هغوئي په ذريعه څنګه ژوند او مرګ ورکولې کيږي؟ "اوئي فرمائيل: "هغوئي د اللّٰه‌تعالیٰ نه د اُمَّت د زياتوالي سوال کوي نو اُمَّت زيات شي او ظالِـمانو ته ښيرې کوي نو د هغوئي طاقت مات کړې شي، هغوئی دُعا کوي نو باران ورولې کيږي او زمکه د خلقو د پاره فصلونه کوي، خلق د مُختلِف قِسمه [راړوانو] مصيبتونو نه بچ کړې شي. (حِلیَۃُ الْاَولِیاء ج۱ ص۴۰ حدیث ۱۶) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

## آبدال

حضرتِ سيِّدُنا اِمام محمّد بِن علي حکِيم تِرمِذي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه د حضرتِ سيِّدُنا ابُو دَرداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې، بيشکه اَنبياء عَلَيهِمُ الصَّلٰوۃُ السَّلَام د زمکې اوتاد وو چه کله د نُبُوَّت سلسله ختمه شوه نو اللّٰه‌تعالیٰ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اُمَّت نه يو قوم د هغوئي نائِب جوړ کړو چه هغوئي ته آبدال وائي، هغه حَضَرات صرف د روژو او نمونځونو او تسبِيح و تقدِيس [يعني د ذِکرُ الله] د کَثرت په وجه د خلقو نه نه دي افضل شوي بلکه د حُسنِ اخلاق، د رښتياؤ د وَرع [يعني پرهيزګارئ] او تقویٰ، د رښتيني نِيَّت، د ټولو مسلمانانو نه د خپلې سِينې د سلامتئ، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره حِلم، صبر، دانشمندي، د کمزورئ نه بغير عاجزي او د ټولو مسلمانانو د خير غوښتو په وجه افضل شوي دي. پس

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِې په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

هغوئي د انبياء عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ السَّلَام نائِب دي. هغه داسې قوم دې چه اللّٰه تعالٰى هغوئي د خپل ذاتِ پاك د پاره مُنتخب [يعني خوښ] كړي دي او د خپل عِلم او رضا د پاره ئې خاص كړي دي. هغه **خلويښت صِدّيقان** دي، چه په هغوئي كښې **ديرش** د رَحمٰن عَزَّوَجَلَّ د خليل حضرتِ سيِّدُنا اِبراهِيم عَلَيْهِ السَّلَام د يقينِ كامِل په مِثل دي. د هغوئي په ذريعه (يعني وَسِيله) د زمكې والؤ نه بلاګانې او مصِيبتونه لرې كيږي، هُم د هغوئي په ذريعه بارانونه كيږي او رِزق وركول كيږي. په هغوئي كښې يو هله وفات كيږي چه كله اللّٰه تعالٰى د هغه د جانشينئ [يعني د هغه په ځائ د مقررولو] د پاره بل يو ته حُكم وركړې وي. هغوئي په چا لعنت نه كوي، خپلو ماتحتو ته تكلِيف نه وركوي، په هغوئي لاس نه اوچتوي [يعني نه ئې وهي]، هغوئي سپك نه ګڼړي، د ځان نه اوچتو خلقو سره حسد نه كوي، د دُنيا حِرص نه لري، د رِياكارئ خاموشي نه اختياروي، تكبُّر نه كوي او د رياكارئ عاجزي هم نه كوي.

هغوئي په خبره كولو كښې د ټولو نه ښه او د نفس په اِعتِبار د ټولو نه زيات پرهيزګار دي، سخاوت د هغوئي په فِطرت كښې شامِل دې، اَسلاف [يعني تيرو شوو بزرګانو] چه كوم نامُناسبه خيزونه پريښودي وو د هغې نه **محفوظه** اوسيدل د هغوئي صِفَت دې، د هغوئي دا صِفَت د هغوئي نه نه جُدا كيږي [يعني داسې نه كيږي] چه نن د خَشِيَّت [يعني

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاخيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا خيدل. (شُعَبُ الاِیمان)

د الله د خوف] په حالت كښې وي او صبا په غفلت كښې پراته وي بلكه هغوئي په خپل حال هميشه والي اختياروي، هغوئي د ځان او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په مينځ كښې يو خاص تَعَلُّق لري، هغوئي ته د تيزې سِيلئ هوا او شوخ اَسُونه نه شي رسيدې، د هغوئي زړونه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په خوشحالولو (يعني رضا) او شوق كښې د آسمان طرف ته اوچتيږي بيا ئې د اته وِيشتمې سيپارې د سُورَةُالمُجَادَله دا (دوه وِيشتم) آيت تِلاوت كړو.

اُولٰٓىِٕكَ حِزْبُ اللّٰهِ ؕ اَلَاۤ اِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿۲۲﴾

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: دا د الله (عَزَّوَجَلَّ) ډله ده، واوره! هُم د الله ډله كاميابه ده.

راوي وائي چه ما عرض اوكړو: ”اے اَبُو درداء رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ! څه چه تاسو بيان كړل، په دې كښې كومه خبره زما د پاره گرانه ده؟ زه به څنگه پوهه شم چه ما هغه حاصِله كړه؟“ اوئې فرمائيل: تاسو به د هغې درميانه درجې ته هله اورسئ چه كله تاسو د دُنيا [يعني د مال، دولت] سره بُغض ساتئ او چه د دُنيا سره بُغض ساتئ نو د آخرت محبَّت به ځان ته نزدې محسوسوئ او تاسو چه څومره د دُنيا نه زُهد (يعني بې رَغبتي) اختياروئ هغه هُمره به ستاسو د آخرت سره محبّت پيدا كيږي، او څومره چه تاسو د آخِرت سره محبَّت كوئ هغه هُمره

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما باندې په ورځ کښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

به د خپلې ګټې او تاوان څيزونو ته ګورئ. (نور ئې اوفرمائيل) کوم بنده چه په عِلمِ اِلٰهی کښې په رښتياؤ [د آخرت] طلب لري هغه ته د قَول و فِعل دُرُستي [يعني د خبرو او کارونو د صحيح کولو توفيق] ورکوي او په خپل حِفاظت کښې ئې اخلي. د دې تصديق د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په کتاب (قرآنِ مجيد) کښې موجود دې، بيا ئې د (څوارلسمې سيپارې د سُورَةُالنَّحل) دا آيت (نمبر۱۲۸) تِلاوت کړو.

اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا وَّ الَّذِيْنَ هُمْ مُّحْسِنُوْنَ ﴿۱۲۸﴾ (پاره ۱۴ اَلنَّحل ۱۲۸)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: بې شکه اللّٰه د هغوئې سره دې څوک چه يَرِيږې او څوک چه نيکئ کوي.“

(نور ئې اوفرمائيل:) کله چه مونږه دا (قُرآنِ مجِيد) اوکتلو نو دا مو اوليدل چه د اللّٰه‌تعالٰی د محبَّت او د هغه د رضا کولو د سوال کولو نه زيات خوند په يو څيز کښې هم نه حاصليږي. (نوادرُ الاصول لِلحكِيم الترمِذی ص۱٦۸)

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

نہ پوچھ ان خرقہ پوشوں کی عقیدت ہے تو دیکھ ان کو
ید بَیضاء لئے ہیں اپنی اپنی آستینوں میں

تپوس مه کړه د پيوندارو جامو اغوستونکو درويشانو
خپل لِستونړې کښې لري هر يو روښن لاس

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډېر نِزدې هُغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذِی)

## ﴿۵۰﴾ د اوږو طَلَبه فرياد

مشهور مُحَدِّثِينِ كرام حضرتِ سيِّدُنا اِمام طَبَراني، حضرتِ سيِّدُنا عَلَّامه اِبنُ المُقري او حضرتِ سيِّدُنا ابُو اَلشَّيخ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی درې واړو به په مدينهٔ مُنَوَّره كښې عِلمِ دِين حاصلولو. يو ځل په هغوئي باندې د لوږې ورځې راغلې. په روژه د پاسه روژه به ئې نيوله خو چه كله د لوږې سختې بالكل كمزوري كړل نو درې واړه د رَحمتِ عالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم روضهٔ انور ته حاضِر شو او فرياد ئې اوكړو، **يَا رَسُولَ الله!** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم "اَلْجُوْع!" يعني اے زمونږه آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لوږه! دا عرض ئې چه اوكړو نو سيِّدُنا اِمام طَبَراني رَحمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خو د مزارِ پُــر اَنوار په خوا كښې كښيناستلو او اوئې وئيل چه په دې در به يا مرګ راځي او يا روزي، اوس به د دې ځائ نه نه پاځم. ؎

میں ان کے در پر پڑا رہوں گا پڑے ہی رہنے سے کام ہو گا
نگاہِ رَحمت ضرور ہو گی طَعام کا انتظام ہو گا

بس په دې در كښې به پروت يمه زه نور بس هم دلته به كار كيږي زما ضرور
د رَحمت نظر به كيږي اوس په ما اِنتِظام به د طعام كيږي ضرور

حضرتِ سيِّدُنا عَلَّامه اِبنُ المُقري او حضرتِ سيِّدُنا ابُو اَلشَّيخ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی خپل د اوسيدو ځائ ته تشريف يوړو. لږ ساعت پس چا دروازه اوټكوله، چه دروازه ئې بيرته كړه نو څه ګوري چه **يو عَلَوِي**

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

**بُزرگ** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د خپلو دوو غُلامانو سره ولاړ دي او طعام ئې راوړې دي او فرمائي چه تاسو حضراتو د رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې د **لوَږې** شِکايت اوکړو نو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ اوس اوس نبئِ رَحمت، قاسِمِ نِعمَت صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما په **خوب** کښې تشريف راوړو او ما ته ئې حُکم اوکړو چه زه تاسو ته طعام راوړم. چنانچه څه چه په دې ساعت زما نه کيدې شو هغه مې حاضِر کړل، تاسو ئې قبول کړئ (تَذکِرَةُالحُفّظ ج۳ ص۱۲۱) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

ہر طرف مدینے میں بھیڑ ہے فقیروں کی
ایک دینے والا ہے کُل جہاں سُوالی ہے
هر طرف ته ګڼړه مدينه کښې د سوالګرو ده
يو دې ورکوونکې او سوالي دې ټول جهان

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په بارګاهِ رِسالت کښې فرياد اوريدلې کيږي

**خوږو خوږو اسلامي وروڼړو!** تاسو اوليده! زمونږه اَسلاف رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به د عِلمِ دِين حاصلولو د پاره څومره تکليفونه برداشت کول. هغوئې به مسلسل لوَږې تيرولې او عِلمِ دِين به ئې حاصلولو، په ډيرو زياتو کوششونو او تکليفونو ئې د تصنيفاتو او تاليفاتو [يعني مختلفو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه د جَنَّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

کتابونو] مَدَني گُلدستې تیاري کړي دي او مونږ ته ئې رارسولي دي. خو افسوس! اوس اکثر مسلمانان هغې [یعني عِلمِ دِین زده کولو] ته بالکل توَجُّه نه ورکوي. هغه بزرګان د آخرت د بهترئ په کوشش کښې وو او نن صبا د مسلمانانو اکثریت صرف دُنیاوي دولت ګټلو کښې مشغول دې. د دې حِکایت نه دا هُم ثابِته شوه چه زمونږه په بزرګانِ دِین رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی به کله سخت مشکِل وخت راغې نو د زړه په ډیر زیات اطمینان به ئې په بارګاهِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې د خپل حاجت فریاد کولو. د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې د زړه په اِخلاص شوې سوال ضرور قبلیږي. زما آقا اَعلٰی حضرت، عاشِقِ رسول مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په حدائِقِ بخشش کښې فرمائي. ؎

واللہ وہ سُن لیں گے فریاد کو پہنچیں گے
اتنا بھی تو ہو کوئی جو "آہ" کرے دل سے

وَاللّٰه هغوئي به واوري، اِمداد ته به هم راشي
چه اوکړي څوك فریاد، هغوئي ته په زخمي زړه

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاهِ رِسالت کښې شوې سوال واوریدې شو او سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فوراً د هغوئي حاجت پوره کړو او خپلو اوږو عاشقانو ته ئې طعام را اولیږلو.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

دِرِ رسول سے اے رآز کیا نہیں ملتا؟
کوئی پلٹ کے نہ خالی گیا مدینے سے
هر يو څيز ورکول کيږي په دربارِ رِسالت کښې
مدينې نه هيڅ څوك نه ځي تش لاسونه

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د عِلمِ دِين حاصولولو يوه ذريعه د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو د تربِيَّت په **مَدَني قافِلو** کښې د **عاشقانِ رسول** سره سفر هُم دې. په دې کښې د عِلم حاصلولو سره سره ډير ځله دُنياوي تکليفونه هم لرې کيږي چنانچه

## ﴿٥١﴾ هيپاټائِټِس سِي نه خلاصي

د **يو** صاحب د هيپاټائِټِس سي مرض زيات شوې وو، په کټ کښې پروت وو، ګرځيدې هم نه شو، ډاکټرانو وئيلي وو چه د ده عِلاج نه شي کيدلې. د هغه ځوئې د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَني قافِله** کښې د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره د **عاشِقانِ رَسُول** سره سفر اوکړو او د سفر په دوران کښې ئې ډيره په ژړا او زارئ د خپل **والِد صاحِب** د صحت د پاره دُعا اوکړه. چه کله د مَدَني قافِلې د سفر نه بيرته راغلو نو ډير زيات خوشحاله شو ځکه چه **والِد صاحِب** ئې جوړ شوې وو او ښه په مزه مزه ګرځيدلو.

باپ بیمار ہو، سخت بیزار ہو
پائے گا صِحّتیں، قافِلے میں چلو
واہو بابِ کرم،دُور ہوں سارے غم
پھر سے خوشیاں ملیں، قافِلے میں چلو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

که مو پلار وي بيمار، تاسو ئې ډير بې زار
صحتونه به مومئ قافلو کښ لاړ شئ
او به شي ډير کرم، لري به شي ټول غم
شي نصيب به خوشحالئ قافلو کښ لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۵۲﴾ روشن ضمير تنور والا

حضرتِ سَيِّدُنا سَهل بِن عبدُالله تُستَري رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په يوه موقع اوفرمائيل چه د بصرې فلانکې تنور والا (يعني ډوډئ پخولو والا) وَلِـيُّ الله دې. د دوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ يو مُريد د هغوئي د دِيدار په شوق کښ بصرې ته اورسيدو او په تپوس تپوس د هغه تنور والا په خِدمت کښ حاضِر شو هغوئي هغه وخت ډوډئ پخولې (پخوا به عام طور ټولو مسلمانانو کِيرې پريښودلې نو د هغه وخت د دستور مطابق) هغوئی د کيرې د وِيښتو د سوزيدلو نه د حِفاظت د پاره د مخ لاندې طرف نه نقاب راتاؤ کړې وو. هغه مُرِيد په زړه کښ اووئيل، چه که دا ولي وې نو که نقاب ئې نه وې اچولې نو هم د ده وِيښته به نه سوزيدلې. د هغې نه پس هغه د تنور والا ته سلام اوکړو او **خبرې اترې** کول ئې ورسره اوغوښتل نو هغه **روشن ضمير تنور والا** د سلام جواب ورکولو نه پس اوفرمائيل، "تا زه سپك اوکنړلم ځکه ته زما د خبرو نه فائِده

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

نه شي اخستې." دا ئې اووئيل او د خبرو کولو نه ئې اِنکار اوکړو. (اَلرِّسالَةُ القُشَيرِيه ص٣٦٣) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٥٣﴾ پټ وَلي

خوږو خوږو اسلامي وروڼو! معلومه شوه چه د وَلي کيدلو د پاره مشهورتيا، ښکلي جُبّه او د عقيدتمندو اُوګده اُوګده قطارونه لګيدل ضروري نه دي، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ چه د چا د پاره اوغواړي په هغه خپل فضل اوکړي. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خپل وَليان په بندګانو کښې پټ ساتلي دي لِهٰذا د هر نيك بنده اِحتِرام کول پکار دي، مونږ ته نه ده معلومه چه څوك پټ وَلي دې! يو ځل زه (يعني سَګِ مدينه عُفِيَ عَنهُ) د دعوتِ اِسلامي په مَدَني قافِله کښې د عاشِقانِ رَسُول سره په سفر ووم، زمونږه په ډبه کښې يو وَړ کلك نرې بې کِيرې هلك په ډير زيات ساده لِباس کښې د ټولو نه جُدا په سوچونو کښې ډوب بالکل غلي ناست وو. په يو ستيشن ګاډې اودريدو، صِرف د دوو مِنټو وقفه وه، هغه هلك په پليټ فارم کوز شو او په يو بينچ کښيناستلو. مونږه ټول د مازديګر د نمانځه په جَمعَه اودريدلو، په مُشکِله به مو يو رکعت کړې وو چه شپيلې اووهل شو، خلقو شور جوړ کړو چه ګاډې روانيږي. ټولو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

نمونځ مات کړو او د ګاډي طرف ته مو منډه کړه نو هغه **هلك** راپاڅيدو او زه ئې په اِشاره کښې اورټلم او د نمانځه کولو حُکم ئې راکړو! مونږه بيا په جَمعَه اودريدو، او حيران شو چه ګاډې په ځائ ولاړ وو او چه مونږه نمونځ اوکړو او څنګه ګاډي ته اوختلو نو ګاډې روان شو او هغه هلك په هغه **بينچ** ناست وو او په بې پرواهئ سره ئې اخوا ديخوا کتل. د دې خبرې نه ما اندازه اولګوله چه هغه به څوك "**مجذوب**" وي او هغه زمونږه د نمونځ د ختميدو پورې په خپل روحاني طاقت ګاډې حِصار کړې وو! **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## درې خيزونه په درې خيزونو کښې پټ دي

**خليفهٔ اَعلٰی حضرت**، فَقِيهِ اعظم، مولانا ابُو يُوسُف **مُحَمَّد** شريف کوټلوي رَحمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيه نقل کوي: "**اللّٰهتعالٰی درې** خيزونه په **درې** خيزونو کښې پټ ساتلي دي (۱) خپله **رضا** ئې په خپل **اِطاعَت** [يعني فرمانبردارئ] کښې او (۲) خپله **ناراضګي** ئې په خپله نافرمانئ کښې او (۳) خپل **اولِياء** ئې په خپلو بندګانو کښې پټ ساتلي دي." لِهٰذا! هر اِطاعت او هره نيکئ باندې عمل پکار دې ځکه چه معلومه نه ده هغه په کومه نيکئ راضي کيږي او د هرې ورې نه ورې بدئ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

نه بچ كيدل پكار دي، ځكه چه معلومه نه ده هغه په كومه بدئ ناراضه شي مَثَلًا د چا د لركي په يو ډكي [يعني چخچي] خِلال كول يوه ډيره معمولي خبره ده يا د يو ګاونډي په خاوره د هغه د اِجازت نه بغير لاسونه وِينځل لكه چه يوه وړه شان خبره ده خو مونږ.ته معلومه نه ده چه كيدې شي په دې بدئ كښې د اللّٰه‌تعالٰى ناراضګي پټه وي، ځكه د داسې وړو وړو خبرو نه هم بچ كيدل پكار دي.

(اخلاقُ الصّالِحين ص٥٦ مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه، بابُ المَدينه كراچى)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** په خپل زړه كښې د اولياءِ كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى اِحتِرام پيدا كولو د پاره د اوليائے كرام د بَرَكتونو نه ډك د **دعوتِ اِسلامي** د مدَني ماحول سره هر وخت خپل تعلق مضبوط ساتئ. په خپل ښار كښې كيدونكې د **دعوتِ اِسلامي** په هفته واره د سُنَّتو نه ډكه اِجتِماع كښې په پابندئ شِركت كوئ بيا اوګورئ چه تاسو څنګه په مَدَني رنګ كښې رنګ كيږئ! د ترغِيب د پاره د **دعوتِ اِسلامي** يو "مدَني سپرلي" ستاسو په خدمت كښې وړاندې كووم، چنانچه

## ﴿٥٤﴾ زما د بدمعاشئ عادت څنګه ختم شو

د **بابُ المَدينه** كراچۍ د يو اِسلامي ورورو د بيان خُلاصه ده، مستي څوانئ او ښه صِحت زه په تكبُّر كښې اخته كړې ووم، نوي نوي فيشني جامې كول، كالِج ته په تلو راتلو كښې د بس ټِكټ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

هيرول، د کلينډر په غوښتو د هغه سره بدمعاشي کول، د نيمې شپې پورې په لوفرئ کښې خپل وخت بربادول، په جُوَارئ کښې پيسې تباه کول وغيره هر قِسم گناهونو کښې نښتې ووم. مور و پلار مې په پوهه کولو پوهه کولو ستړې شوې وو، زما بدکاره د اِصلاح د پاره په دُعا کولو به زما د مور سترګې لـمدې شوې. زمونږ د علاقې يو اسلامي ورور به کله کله د **دعوتِ اِسلامي** په هفته واره اجتِماع کښې د شرکت کولو سرسري غوندې دعوت راکړو، ما به هم ځان ناغَرَضه کړو. يو ځل د اِجتِماع په ماښام هُم هغه اسلامي ورور د محبَّت په انداز کښې زما سره ډير زور اولګولو چه نن خو به تاسو ضرور ضرور اِجتِماع له ځئ، ما اِنکار کولو خو هغه نه منله او ناڅاپه ئې رِکشه اودروله او په ډيره زارئ ئې راته څه په داسې انداز کښې د تللو درخواست اوکړو چه ما اِنکار اونکړې شو او په رِکشه کښې ورسره کښيناستم او د **دعوتِ اِسلامي** وړومبي مَدَني مرکز جامِع مسجد **گلزارِ حبيب** ته اورسيدو. چه کله د دُعا د پاره رنړاګانې مړې کړې شوې نو ما دا اوګڼړل چه اِجتِماع ختمه شوه او پاڅيدم، زه څه خبر ووم چه په راتلونکې ساعت کښې زما په ژوند کښې مَدَني اِنقِلاب راتلو والا دې. خير زما هغه مُحسِن [يعني اِحسان کوونکې] اسلامي ورور د محبَّت په انداز کښې زه پوهه کړم او د تللو نه ئې حِصار کړم، زه بيرته کښيناستم. په تيَره کښې په اوچت آواز د ذِکرُاللّٰه عَزَّوَجَلَّ جذبې

زما زړه اوږقولو! قَسم په خُدائے ما په ټول ژوند کښې داسې روحانِيَّت نه ليدلې وو او نه مې اوريدلې وو. بيا چه کله رِقَّت انګيزه [يعني زړه نرمونکې] دُعا شروع شوه نو په اِجتِماع کښې د شريکو خلقو د سلګو اوازونه پورته شو، تر دې چه زما په شان د کاڼړي زړه لرونکې هم په زوره زوره اوژړل، ما د خپلو ګناهونو نه توبه اوکړه او د **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښې پوخ شامِل شوم.

تمهيں لُطف آ جائے گا زندگی کا
قريب آکے ديکهو ذرا مَدَنی ماحول
تَنزُّل کے گهرے گڑھے ميں تهے اُن کی
ترقّی کا باعِث بنا مَدَنی ماحول
يقينا مقدّر کا وہ ہے سکندر
جِسے خير سے مل گيا مَدَنی ماحول

ته به پوهه شې د خپل ژوند په خوند
نزدې راشه لږ اوګوره مَدَنې ماحول
د ذِلَّت په جورو کندو چه پراته وو د هغوئ
د ترقئ باعث جوړ شو دا مَدَنې ماحول
يقيناً د مُقَدَّر هغه کس دې سِکندر
چا ته په خير چه نصيب شو دا مَدَنې ماحول

## د دعوتِ اِسلامي وړومبنې مدَني مرکز

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! دا بيان شوې واقعه د **دعوتِ اِسلامي** د شروع شروع د ورځو ده. چه کله په ۱۴۰۱ھ کښې د **دعوتِ اسلامي** په نوم باندې مَدَني کار شروع کړې شو نو هغه وخت په بابُ المَدينه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمّال)

کښې په داسې مُناسِب ځایئ باندې د غټ جُمات ترکيب نه وو چه هلته هفته واره اِجتِماع کيدې شوې. په هغه ورځو کښې به زه (يعني سَګِ مدينه عُفِيَ عَنهُ) د عُلَماء و مَشائِخِ اهلِسُنَّت په خِدمت کښې حاضريدم او د **دعوتِ اسلامي** سره د تعاوُن درخواستونه به مې ورته وړاندې کول. ځکه چه زما سره غم وو او زما دا کوشش وو چه د مسلمانانو د عقائِدو د حِفاظت او د اعمالو او احوالو د اِصلاح د پاره په غټه پيمانه باندې مَدَني کار اوکړې شي. زما دا غم په الفاظو کښې څه په دې ډوَل بيان کيدې شي، **ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.** (اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ)

بهرحال په هم دې باره کښې د دعوتِ اسلامي د پاره د تعاوُن مَدَني درخواست وړاندې کولو د پاره د خطِيبِ پاکستان، عاشِقِ رسُول حضرتِ عَلّامه مولانا الحافِظ الشّاه محمّد شفِيع اوکاړوي صاحب رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ کور مبارك ته حاضِر شوم، ما د هغوئي په خِدمت کښې د **دعوتِ اِسلامي** په باره کښې عرض اوکړو نو ډير خوشحاله شو او د خپل دستخط سره ئې د **دعوتِ اِسلامي** په حِمايت کښې يو مکتوب [يعني نَوِشته] راکړه. د هغوئي د مَسلَكِ اَهلِسُنَّت سره محبَّت په کروړونو مرحبا! د غوښتلو نه بغير ئې د بابُ المَدينه [کراچۍ] ښار په مينځ کښې په خپل زيرِ تَولِيَت **جامع مسجد ګلزارِ حبيب** (واقع ګُلستانِ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (تِرمِذی)

اوکاړوي بابُ المَدينه کراچۍ) کښې د هفته واره سُنَّتو نه ډکه اِجتِماع کولو اِجازت راکړو. چنانچه د دعوتِ اسلامي د ټولو نه وړومبې **مَدَني مرکز جامِع مسجد گلزارِ حبيب** اوټاکلې شو. د هغوئي د ژونده پورې او د وفات نه پس هم مونږه د ډيرو کلونو پورې هلته هفته واره اِجتِماع کوله. د عاشقانِ رسول ګڼره ورځ په ورځ زياتيدله تر دې چه جامِع مسجِد گلزارِ حبيب د اِجتِماع د پاره ناکافي شو، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ اسباب جوړ کړل، ټولو اسلامي وروڼرو ډيره منده تړره اوکړه. زيات و کم پاؤ باندې دوه کروړه پاکستاني روپۍ چنده جمع کړې شوه او د (زړې) سبزۍ منډۍ خوا ته بابُ المَدينه کراچۍ کښې مو تقريباً د لس زره ګزه پلاټ واخستو او بيا نوره د کروړونو روپو په چنده عظيمُ الشّان **عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه** قائِم کړې شو چه په هغې کښې شاندار جُمات، دَ مَدَني کارونو د پاره ګڼړ شمير مکتبونه او د **جَامِعَةُ الْمَدِيْنَه** د عاليشان عِمارت په ذريعه په لکونو مسلمانان فيضانِ مدينه [يعني د مديني بَرَکتونه] حاصلوي. ؎

سنّت کی بہار آئی فیضانِ مدینہ میں
رحمت کی گھٹا چھائی فیضانِ مدینہ میں

سپرلي راغي د سُنَّت په فيضانِ مدينه کښې
وريَځې راغلې د رحمت په فيضانِ مدينه کښې

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره دُرود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

## ﴿۵۵﴾ د خطِيبِ پاکستان يو حِكايت

**خطِيبِ** پاكستان حضرت مولانا **محمّد شفِيع اوكاړوي** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ زبردست عاشِقِ رسول وو. په مدينهٔ منوَّره كښې سګِ مدينه عُفِيَ عَنهُ ته په ۱۴۱۷ھ كښې د مدينې مُنَوَّرې اوسيدونكي حاجي غُلام شبِّير صاحِب دا اِيمان تازه كوونكې واقعه بيان كړه چه "يو ځل حضرتِ سيِّد خورشِيد احمد شاه صاحِب ما ته اوفرمائيل چه يوه ورځ په مدينهٔ مُنَوَّره كښې حضرتِ خطِيبِ پاكستان مولانا **محمّد شفِيع اوكاړوي** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ زما خوا ته په ژړا ژړا تشريف راوړو او وئيل ئې چه "تاسو زما سره مواجَهَه شريف [يعني د مزار شريف مخې] ته لاړ شئ زه د سركارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه معافي غوښتل غواړم." ما ترې د وجهې تپوس اوكړو نو اوئې فرمائيل چه پرون په مسجِدُ النَّبوِيِّ الشَّرِيف عَلٰی صَاحِبِھَا الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام كښې يو بې ادبه مقرّر [يعني تقرير كوونكي] د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په مبارك شان كښې بې ادبي اوكړه، نو ما هغه اورېتو، په دې وجه خبره زياته شوه او د هغه ملګري راغلل، هغوئي په ما سختي اوكړې نو زه [په خپله بې عِزتئ] ډير خفه شوم، د شپې په خوب كښې **سركارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف راوړو او اوئې فرمائيل چه "بس زما د پاره دِ دومره سختي هم برداشت نه كړې شوه!" حضرت اوكاړوي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو یَعلٰی)

صاحِب رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ اوويئيل، چه خبره اصل کښې دا ده چه په زړه کښې مې لږه شان لوئي راغله او ما ذليله کيدل د خپل شان کمې اوګڼړو، ځکه ما ته حُضُورِ پاك صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خبرداري راکړو، لِهٰذا زه د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دربار شريف ته د خپل زړه د خيال د معافئ د پاره حاضريدل غواړم. **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

خاک ہو کر عشق میں آرام سے سونا ملا
جان کی اِکسیر ہے الفت رسولُ اللہ کی

خاورې شو په عِشق کښې نو اوده شو په آرام
آرام دې د زړونو محبَّت د پاك نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## ﴿٥٦﴾ د اِمدادِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم ايمان تازه کوونکې حِکايت

سُبْحٰنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ د عاشقانو هم څومره ښه نازونه برداشت کولې کيږي! معلومه شوه چه حُضُورِانور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو غلامانو په احوال او فِکرونو هر وخت خبردار وي او کله کله په خوب کښې تشريف راوړي د هغوئي اِصلاح او اِمداد هم کوي. په دې باره کښې يو بل ايمان تازه کوونکې حِکايت اوګورئ. چنانچه

**حضرتِ** سيِّدُنا شيخ يوسُف بِن اِسمٰعِيل نبهاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ يو حِکايت نقل کړې دې، يو خُراساني حاجي صاحِب به هر کال د حج

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَرانِي)

سعادت حاصلولو او چه کله به مدينې مُنَوَّرې ته حاضريدو نو هلته به ئې د يو **عَلَوي بُزرګ** حضرتِ سيِّدُنا طاهِر بِن يحيٰی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خِدمت کښې څه نظرانه وړاندې کوله. يوه ورځ ورته په مدينه شريف کښې يو حاسِد [يعني حسَد کوونکي] اووئيل چه ته فضول خپل مال ضائع کوې! طاهر صاحب ستاسو نظرانه په غلط ځائ کښې استعمالوي. چنانچه مسلسل **دوه کاله** هغوئي د حضرتِ سيِّدُنا طاهر رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه خِدمت اونکړو. **دريم کال** د حج د سفر د تيارئ په موقع باندې د مدينې سردار، په غيبو خبردار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُراساني حاجي په خوب کښې تشريف راوړو او څه داسې خبرداري ئې ورکړو، "په تا افسوس دې! تا د [طاهِر] د بدو غوښتو والا خلقو خبره اومنله او د **طاهِر** سره دِ ښه سُلوك کول پريښودل! د دې تَلافي اوکړه [يعني کمې پوره کړه] او آئِنده د تعلق پريښودو نه ځان ساته" چنانچه هغوئي د يو فريق خبره اوريدلو باندې د بدګُمانئ کولو په وجه سخت شرمِنده شو او چه کله مدينهٔ مُنَوَّره ته حاضِر شو نو د ټولو نه مخکښې د هغه عَلَوي بزرګ حضرتِ سيِّدُنا شيخ طاهر رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خِدمت کښې حاضِر شو. هغوئي چه څنګه اوليدلو نو ورته اوئې فرمائيل چه که ته خوب آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه وې راليږلې نو ته د راتلو د پاره هډو تيار نه وې! تا د مخالِف **يو طرفه خبره** واوريده او زما

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، څوک چه داسې کوي د قیامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړیږم. (شُعَبُ الاِیمان)

په باره کښې دِ غلط خیال قائِم کړو او خپل کریمانه [یعني د مهربانۍ] عادت دِ پریښودو تر دې چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تا ته په خوب کښې خبرداري درکړو! ”چه دا ئې واوریدل نو په خُراساني حاجي صاحِب باندې رِقَّت راغلو [یعني زړه ئې نرې شو] او عرض ئې اوکړو چه حضرت! تاسو ته دا هرڅه څنګه معلوم شو؟ اوئې فرمائیل: ما ته په وړومبي کال خبر شوې وو، په دویم کال هم تا زما طرف ته هیڅ توجُّه اونکړه نو زما زړه د غم نه ټوټې ټوټې شو. په دې باندې **جنابِ رِسالت مآب** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ما په خوب کښې کرم اوکړو او ما ته ئې دلاسه راکړه او ستا په خوب کښې ئې چه تشریف درورې وو او څه ئې درته فرمائیلې وو هغه ئې ما ته بیان کړل. خُراساني حاجي صاحب ورته ښه ډیره نذرانه وړاندې کړه، لاسونه او تندې ئې ورله ښکل کړل او په **یو طرفه خبره** ئې په خپل زړه کښې د غلط خیال قائمولو او د زړه ازارولو باعِث جوړیدو باندې د عَلَوي بزرګ رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه معافي اوغوښتله. (مُلَخَّصاً حُجَّۃُ اللّٰہِ عَلَی الْعٰلَمِین ص ۵۷۱)

**د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

نہ کیوں کرکہوں یا حبیبی اَغِثْنی
اِسی نام سے ہر مصیبت ٹلی ہے
خدا نے کیا تجھ کو آگاہ سب سے
دو عالم میں جو کچھ خَفی وجَلی ہے

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غَر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

ولې به نه وايم يَا حَبِيبِي اَغِثنِي[1] په دې نوم دې لرې شوې هر مُصيبت
خبر کړې ئې الله ته د هر څه نه دواړو جهانو کښې چه دې څه ښکاره او پټ

## د يو طرف په اوريدو فيصله کول نه دي پکار

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حِکايت نه معلومه شوه چه زمونږه خوږ خوږ آقا مَکِّي مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خپلو غُلامانو د حالاتو نه خبر وي، د غمژنو د کټ سر ته تشريف راوړي او هغوئې ته دلاسه ورکوي، او د خطا کوونکو خلقو په خوب کښې تشريف راوړي او د هغوئي اِصلاح کوي، د نيکئ دعوت رَسَوي، د ګناهونو نه د توبه کولو حُکم فرمائي، فاصِلې ختموي او د يو بل نه جُدا شوي يو ځائ کوي. خُراساني حاجي صاحِب د **چُغلئ** کوونکي په خبره يقين اوکړو او يو طرفه خيال ئې قائِم کړو په دې وجه حُضُور رَحۡمَۃٌ لِّلۡعٰلَمِیۡن صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوب کښې هغه ته خبردارې ورکړو. د دې نه مونږ ته هم درس حاصِل شو چه نه پخپله **چُغلي** کوو او نه په يو طرفه خبره اوريدو د چا په باره کښې څه خيال قائموو. کاش چه مونږه د شريعت د اِجازت نه بغير د يو مسلمان خِلاف د خبرې اوريدو عادت پريږدو نو داسې به راته اِنۡ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ د غيبتونو، **چُغلئ**، بدګُمانئ، د خلقو عيب ښکاره کولو او د زړه ازارولو په شان

[1] يعني اے په ما ګرانه زما اِمداد ته تشريف راوړئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

بې شميره د ګناهونو د كارونو او جهنَّم ته بوتلونكو كارونو نه خلاصې نصيب شي.

## چُغلي كوونكې به جنَّت ته نه ځي

د سركارِ نامدار صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې، **چُغلي** كوونكې به جنَّت ته نه ځي. (صحيح الْبُخاری ج٤ ص١١٥ حديث٦٠٥٦) په يو بل مقام كښې فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: بيشكه **چُغلي** كول او كِينه ساتل به [داسې كوونكې] دوزخ ته بوځي.

(اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب ج٣ ص٣٢٤ الحديث٥)

## عِزَّت كمولو والا خيزونه

حضرتِ سيِّدُنا مُحَمَّد بِن قَرَظِي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته عرض اوكړې شو، ياسيِّدي! عِزَّت كمولو والا كوم كوم عادتونه دي؟ اوئې فرمائيل: (١) زياتې خبرې كول (٢) راز ښكاره كول (٣) د هر چا خبره (چه د بل خِلاف وي) منل. (اِتّحاف السّادةُ المتقين ج٩ ص٣٥٢) حضرتِ سيِّدُنا حسن بصري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "څوك چه تا ته د چا **چُغلي** كوي هغه ستا خِلاف هم **چُغلي** كوي." حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: دا دې خبرې ته اِشاره ده چه **چُغلي** كوونكې ناخوښه كړې شي او د هغه د خبرې اعتِبار اُو نه كړې شي او نه هغه رښتيني اوګڼړل

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

شي. او هغه ولې ناخوښه نه کړې شي چه هغه دروغ، غِيبت، تکې، خِيانت، کِينه، حسد، مُنافَقَت او د خلقو په مينځ کښې فساد جوړول او دوکه بازي نه پرېږدي او دا د هغه خلقو نه دې څوك چه د اللّٰه تعالٰی د حُکم خِلاف ورزي کوي او خلق د يو ځائ کولو په ځائ په هغوئې کښې جُدائي او خفګان راولي او په زمکه فساد جوړوي. (اِحياءُ العُلوم ج۳ ص۱۹۳) چنانچه پينځه وِيشتمه سِيپاره کښې د سُورَةُالشُّوریٰ په آيت ۴۲ کښې اِرشادِ خُداوندي دې:

اِنَّمَا السَّبِيۡلُ عَلَى الَّذِيۡنَ يَظۡلِمُوۡنَ النَّاسَ وَ يَبۡغُوۡنَ فِي الۡاَرۡضِ بِغَيۡرِ الۡحَقِّ ؕ (سيپاره۲۵ الشُّوریٰ۴۲)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: نيول خو د هغوئې دې څوك چه په خلقو باندې ظُلم کوي او په زمکه ناحقه سرکشي خوروي.

چُغلي کوونکې هم په دې آيتِ کريمه کښې ورکړې شوي حُکم کښې داخِل دې او د دې خبرې تائِيد د اَحاديثِ مبارکه نه هم کيږي چنانچه

## د نيك بنده پيژندګلو څه ده؟

سرکارِ نامدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: بيشکه په خلقو کښې هغه خلق بَد دي د چا نه چه خلق صرف د هغوئې د شر په وجه ځان ساتي. (مؤطاامام مالِك ج۲ ص۴۰۳ حديث۱۷۱۹) د مديني د سردار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

بل فرمانِ عاليشان دې، داللّٰهتعالیٰ نيك بندګان هٰغه دي چه د هغوئي په ليدلو الله عَزَّوَجَلَّ درياد شي او د اللّٰهتعالیٰ بد بندګان هٰغه دي څوك چه چُغلي كوي، په دوستانو كښې جُدائي راولي او د نيكانو خلقو عيبونه لټوي. (مُسندِاِمام اَحمد ج٦ ص٢٩١ حديث١٨٠٢٠) يو بل ځائ كښې د سردارِ مَكَّهٔ مُكَرَّمه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دې، خبردار دروغ مخ توروي او چُغلي كول د قبر عذاب دې. (مُسنداَبِي يَعلیٰ ج٢ ص٢٧٢ حديث٧٤٠٤) حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: غِيبت [كولو]، پيغورونه وركولو، چُغلي او د بې ګناه خلقو عيبونه لټولو والا به اللّٰهتعالیٰ (د قيامت په ورځ) د سپو په شكل كښې راپاڅوي.

(اَلتَّرغِيب وَالتَّر هِيب ج٣ ص٣٢٥)

یا ربِّ محمد تو مجھے نیک بنا دے　　اَمراض گناھوں کے مِرے سارے مٹادے
میں غیبت و چغلی سے رہوں دُور ہمیشہ　　ہر خصلتِ بد سے مرا پیچھا تو چُھڑا دے
میں فالتو باتوں سے رہوں دور ہمیشہ
چُپ رہنے کا اللہ! سلیقہ تو سِکھا دے

يا رَبِّ مُحَمَّد ما نيك كړې ته
مرض د ګناهونو زما ټول لرې كړې ته
د غِيبت او د چُغلۍ نه مې اوساتې هميشه
خلاصې د هر بده عادته راكړې ته
فالتو خبرو نه، ته ما اوساتې هميشه
رازده د چُپ اوسيدلو طريقه كړې ته

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۵۷﴾ د قبر خاوند مدد اوکړو

تقريباً ووه سوه کاله پخوانئ واقِعه ده، سُلطانُ المَشائِخ حضرتِ سَيِّدُنا محبوب اِلٰهی نِظامُ الدِّين اولِياء رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: حضرت مولانا کتهيلي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ما ته بيان کړو چه په دِهلي کښې يو کال قحط راغې. په يوه موقع لوَږې سخت تنګ کړم نو ما طعام حاصِل کړو او د مسلمانانو د خير ښيګړې په جذبه کښې مې ځان سره اووئيل چه دا طعام يواځې خوړل نه دي پکار بل څوك هم د ځان سره شريك کول پکار دي. په دې کښې يو پيوند دارې جامې اغوستي يو بزرګ زما په خوا تيريدو، ما هغوئي ته د طعام دعوت ورکړو، هغوئي قبول کړو او مونږ دواړه طعام خوړلو ته کښيناستلو. ما د خبرو په دوران کښې هغه بُزرګ ته دا خبره ښکاره کړه چه زه د شلو روپو قرضدارې يم. هغوئي اوفرمائيل چه زه ئې تاسو ته درکووم. ما په زړه کښې اووئيل چه دا خو ډير غريب ښکاري، معلومه نه ده چه څنګه به ئې راکړي! چه د طعام نه فارِغ شو نو هغوئي زه د ځان سره يو جُمات ته بوتلم هلته يو مزار هُم وو، مونږه هلته حاضر شو، هغوئي د مزار شريف سر طرف اودريدلو او استِغاثه [يعني درخواست] ئې اوکړو او دوه ځله ئې خپله لښته مزار شريف ته اولګوله او اوئې وئيل: "زما

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا خيدل. (شُعَبُ الاِیمان)

دوست ته د شلو روپو ضرورت دې، تاسو ئې ورکړئ.“ بيا ئې ما ته مخ را اوګرځولو او اوئې فرمائيل: محترمه ورور ه ځه لاړ شه اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ تا ته به شل روپۍ درکړې شي. مولانا کتهيلي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه وائي چه ما د هغه بُزرګ لاس ښکل کړو او بيا د هغوئي نه رُخصت شوم د ښار طرف ته روان شوم. زه هغه وخت ډېر حيران ووم چه معلومه نه ده هغه شل روپۍ ما ته د کوم ځائ نه په لاس راځي! ما سره امانتاً يو خط وو چه هغه د يو چا کور ته رسَول وو، چنانچه ما هغه يوړو او يو ”کمالي دروازې“ ته اورسيدم. يو تُرك د خپل کور په چجَه ناست وو، هغه ما ته غږ اوکړو او خپل خادِمان ئې را اوليږل، په ډېر اِحترام ئې زه پاس بوتلم. هغه تُرك په ډېر محبَّت زما سره ملاقات اوکړو، ما ډېر کوشش اوکړو خو ما اُو نه پيژندو. هغه تُرك هُم دا يوه خبره کوله چه ولې تاسو هغه نه ئې چا چه په فلانکي ځائ کښې زما سره ډېر ښه سُلوك کړې وو؟ ما هغه ته اووئيل چه زه تاسو نه پيژنم. هغه اووئيل چه تاسو ځان ولې پټوئ! خير دې زه خو تاسو پيژنم. بيا ئې شل روپۍ راوړې او په ډېر محبَّت ئې زما په لاس کښې کيښودې.

(فوائِدُ الفُواد مجلِسِ بست و يکُم يعني ۲۱ وين مجلِس ص ۱۲۴)

**د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

# مرګ څوك وركوي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حِكايت راوي حضرتِ مَحبوبِ اِلٰهي نِظامُ الدِّين اولياء رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ دا واقعه بغير د څه اعتراض نه بيان كړه او زمونړه ايمان ئې تازه كړو چه څنګه په ظاهري ژوند كښې د اولياءُ الله نه څه څيز غوښتلې شي، هُم دغسې د هغوئې د وفات نه پس هم د هغوئې په مباركو مزاراتو حاضريدل او څه څيز غوښتل جائِز دي. دا ياد ساتئ چه په حقيقت كښې وركولو والا اللّٰه تعالٰى دې، د اولياءُ الله رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی طرف ته نِسبت مَجازاً دې. څنګه چه په حقيقت كښې بيمار ښه كولو والا اللّٰه تعالٰى دې خو مريض وائي، ډاكټر صاحب داسې دوائي راكړه چه جوړ مې كړي. دغسې په حقيقت كښې مرګ وركولو والا اللّٰه تَبَارَكَ وَتعالٰى دې خو د هغه په حُكم د دې كار ذِمّه واري د مَلَكُ المَوت حضرتِ سيِّدُنا عِزرائِيل عَلَيۡهِ السَّلَام ده څنګه چه د قُرآنِ پاك د يو وِيشتمې سيپارې د سُوۡرَةُ السَّجده په يوولسم آيتِ كريمه كښې اللّٰه تَبَارَكَ وَتعالٰى اِرشاد فرمائي:

قُلۡ يَتَوَفّٰىكُمۡ مَّلَكُ الۡمَوۡتِ الَّذِىۡ وُكِّلَ بِكُمۡ (پ۲۱ السّجده۱۱)

مفهوم ترجمۀ كنزُالاِيمان: ته اوفرمايه چه تاسو ته مرګ دركوي د مرګ فرښته كومه چه په تاسو مقرره ده.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اولِياءُ الله رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی د وفات نه پس خلقو ته په وِينبه خپل دِيدار هم كوي او خبرې هم ورسره كوي چنانچه

## ﴿۵۸﴾ حَياةُ الاَولِياء

حضرتِ سيِّدُنا شاه وَلِـيُّ الله مُحَدِّث دهلوي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي چه زما والِدِ مُحترم حضرتِ سيِّدُنا شاه عبدُ الرَّحِيم رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ به فرمائيل چه زه د حضرتِ سيِّدُنا خواجه قُطبُ الدِّين بختيار كاكي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہمزار مبارك ته حاضِر شوم. زه په دې خيال لرې اودريدم چه زه ګنهګار د دې قابِل نه يم چه دې پاك مقام ته خپل وجود نزدې كړم. په دغه وخت د هغوئي رُوح مبارك راښكاره شو او اوئې فرمائيل، مخكښې راشه! زه دوه درې قدمه ورمخكښې شوم. هغه وخت ما اوليدل چه څلورو فرښتو د آسمان د طرف نه يو تخت د هغوئي د قبر شريف خوا ته راوړو. په هغه تخت باندې حضرتِ سيِّدُنا خواجه بهاؤالدِّين نقشبند رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ تشريف فرما [يعني موجود] وو. دواړو بُزرګانو په خپل مينځ كښې د راز و نياز خبرې كولې چه هغه ما نه اوريدې. بيا فرښتو تخت پورته كړو او يوړلو. حضرتِ سيِّدُنا خواجه بختيار كاكي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بيا زما طرف ته توجُّه اوكړه او اوئې فرمائيل، "مخكښې راشه!" زه دوه درې قدمه نور ورمخكښې شوم. هم دغسې به هغوئي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

فرمائيل او زه به لږ لږ ورمخکښ کيدم تر دې چه هغوئي ته بالکل نزدې شوم. هغه وخت هغوئي اوفرمائيل، د شعر په باره کښ ته څه وائې؟ ما عرض اوکړو چه ”شِعر يو کلام دې چه کوم ښه دې هغه ښه دې او چه کوم بد دې هغه بد دې.“ اوئې فرمائيل: بَارَكَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ( يعني الله عَزَّوَجَلَّ دِ بَرَکت درکړي) د ښه آواز په باره کښ ته څه وائې؟ ما عرض اوکړو چه دا د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ فضل دې چه چا له اوغواړي عطا کوي.“ اوئې فرمائيل: بَارَكَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. بيا ئې تپوس اوکړو چه کوم ځائ دا دواړه راجمع شي يعني چه شعر هم ښه وي او آواز هم ښه وي نو بيا څه وائې؟ ما عرض اوکړو دا خو نُورٌ عَلٰی نُور [يعني د نعمَت د پاسه نِعمَت] دې اللّٰه عَزَّوَجَلَّ چه چا له اوغواړي ورعطا ئې کړي. اوئې فرمائيل: بَارَكَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. دا څه چه مونږه کوو د دې نه مخکښ نه وو، ته هم کله کله يو دوه بيته (يعني شعرونه) اوره؟ ما عرض اوکړو چه حضرت! تاسو دا خبره د بهاؤالدِّين نقشبند رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په مخکښ ولې اونکړه؟ هغوئي رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په دې دوو کښ يوه خبره اوکړه چه ادب نه وو يا مَصلَحت نه وو. (اَنفاسُ العَارِفِين ص ٤٤) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

درِ والا پہ اِک میلہ لگا ہے	عجب اس دَر کے ٹکڑوں میں مزا ہے
یہاں سے کب کوئی خالی پِھرا ہے	سخی داتا کی یہ دولت سرا ہے

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه د جَنَّت لاره هیره کړه. (طَبَرانی)

په اوچت در لګیدلي يوه ميله په قطرو کښ د دي در ده يوه مزه
نه ځي دي ځائ نه خوك تش لاسونه دا دي پاك در د پاك سخي داتا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۵۹﴾ اَعلٰی حضرت او تَره

زما آقا اَعلٰی حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ ته يو ځل چا د طعام دعوت ورکړې وو، طعام په دسترخوان خور کړې شو، تول د اَعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د طعام شروع کولو په اِنتِظار وو، اَعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د تَرِي د لوښي نه يوه ټنګره راواغسته او اوئې خوړله، بیا دويمه.......... بیا دريمه.......... چه اَعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ ته ئې اوکتل نو خلقو هم د تَرو لوښي ته لاسونه ور وړاندې کړل خو هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ ټول منع کړل او اوئې فرمائيل چه ټولې **تَرِي** به زه خورم. چنانچه هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ ټولې تَرِي ختمې کړلې. حاضر خلق ټول حيران وو چه اَعلٰی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ خو ډير کم خوراك کوي، نن ئې دومره ډيرې **تَرِي** څنګه اوخوړلې! چه خلقو ترې تپوس اوکړو نو اوئې فرمائيل چه ما وړومبۍ ټنګره اوخوړله نو هغه **تَرَخه** وه بيا دويمه او دريمه هُم **تَرَخه** وه. ځکه ما ټول منع کړل چه هسې نه خوك تَرَخه ټنګره په خُله کړي او ټُوك ئې کړي. ولې چه تَره

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاك او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

خوړل زما د خوږ خوږ آقا، مكّي مَدينې والا مصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت مبارك دي ځكه ما دا برداشت نه كړه چه دا څوك يو ځل په خُله كړي او بيا ئې تُوك كړي. **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

مجھ کو میٹھے مصطفٰے کی سنّتوں سے پیار ہے
ان شاءَ اللّٰہ دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

مِينه لرم زه د پاك نبي د خوږ سُنَّت سره
دو جهان كښې به كامياب يم د اللّٰه پاك په رحمت سره

## كجُورې او تَره خوړل سُنَّت دي

**خوږ خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! اَعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ څومره زبردست عاشِقِ رسول وو، واقعي د عاشق هُم دا شان وي چه هغه د خپل محبُوب سره نِسبت لرونكې هر يو څيز د زړه په اِخلاص خوښوي او د هغې ادب او اِحترام كوي ځكه خو اَعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوښ څيز تَرې داسې اِحتِرام اوكړو چه ترخې ترې ئې هُم اوخوړلې. حضرتِ سيِّدُنا عبدُالله بن جعفر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائي: چه ما حُضُورِ اكرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تَره د كجورو سره په خوړلو اوليدو. (صحيح مُسلِم ص ۱۱۳۰ حديث ۲۰۴۳) **مُفَسِّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي، كجوره طبعاً گرمه او خُشكه وي او تَره يخه او لـمده وي. دا دواړه چه يوځائ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

شي نو اِعتِدال راولي او فائِده کوي. حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کله خو تَره او کجورې په معده شريفه کښې يو ځائ کړي دي چه په يو وخت ئې کله کجوره خوړلي ده او کله ئې تره خوړلي ده. او کله ئې په جُوَلو کښې يو ځائ کړي دي يعني کجوره ئې په خُله مبارکه کښې کيښودې ده او ورسره ئې تَره هم يو ځائ کړي ده او دواړه ئې يو ځائ جُوَلي دي. کله کله ئې کجوره او هِندوانه هم يو ځائ خوړلي دي. کجُوره او تَره يو ځائ خوړل د صِحت د پاره ډير فائِده مند دي. اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا روايت فرمائي، (د رُخصتئ [يعني واده] نه مخکښې ډيره کمزورې ووم) زما مور به زما د چاقولو [يعني پيړولو] کوشش کولو، د دې د پاره چه حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم له مې [زر] اوليږي، چه کله يو تدبِير هم په کار رانغې نو هغوئي په ما باندې کجورې او تره يو ځائ خوړل شروع کړل او په هغې زه (لږو ورځو کښې) چاقه شوم. (سنن اِبنِ ماجه ج٤ ص٣٧ حديث٣٣٢٤) د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کجورې خو خوښې خوښې وې، تره ئې هم ډيره خوښه وه. ځيني بُزرګانِ دِين رَحِمَهُمُ اللّٰہُ تَعَالٰی د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په فاتِحه [يعني د اِيصالِ ثواب په طعام] کښې د نورو طعامونو سره کجورې او ترې او هِندوانه هم کړدي. د هغوئي د دې عمل ماخَذ (دا) ذِکر کړې شوې حديث دې. (ملخَّصاً مراة ج٦ ص٢٠، ٢١)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

## ﴿۶۰﴾ د پینځلّسو ورځو پورې به طعام نه خورم

حضرتِ سیِّدُنا اَبُو عبدُالله بِن خفِیف رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ یو ځائ کښې د طعام په دعوت کښې وو. د هغوئي یو [د الله د رضا د پاره] لوَږې تیروونکي مُرِید د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د شروع کولو نه مخکښې د طعام طرف ته لاس وړاندې کړو! په دې باندې د هغه یو پیر شریك ورور د خفګان په انداز کښې د هغه مخې ته د خوراك څه څیز کیښودو، په دې هغه پوهه شو چه ما د پیر و مُرشِد نه مخکښې طعام ته لاس وړاندې کړو نو دا مې د طعام د آدابو خِلاف ورزي اوکړه لِهٰذا خپل نفس ته د سزا ورکولو د پاره هغه اووئیل چه **د پینځلّسو ورځو پورې به هیڅ هم نه خورم** دغسې هغه د خپلې بې ادبۍ نه د توبه کولو ښکاره صورت جوړ کړو حالانکه هغه د مخکښې نه هم په لوَږه کښې اخته وو. (اَلرِّسالةُ القُشَیرِیه ص۱۷۹) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مخکښې دِ بزرګ خوراك شروع کوي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! که یو ځائ طعام خوړلو ته څوك بزرګ هم ناست وي نو ادب دا دې چه تر څو هغوئي شروع اونکړي تر

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

هٰغې دِ ئې بل څوك نه شروع كوي. ياد ساتئ د بزرګئ د پاره ډير عُمر شرط نه دې، عِلم و عمل پكار دې. لِهٰذا كه د بوډاګانو په موجودګئ كښې هم څوك ځلمې عالِم موجود وي نو مخكښې دِ هغه طعام خوړل شروع كړي. د اللّٰه والؤ انداز هُم عجيبه وي، د حضرتِ سيِّدُنا اَبُو عبدُالله بِن خفِيف رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه مُريد چه هغه پخپله هم يو لوَږې تيروونكې بزرګ وو او په بې خيالئ كښې ئې طعام ته لاس وړاندې كړې وو خو د خپل پير شريك ورور په اشاره باندې بيرته په شا شو حالانكه طعام خوړل ئې نه وو شروع كړې، طعام ته ئې صرف لاس وړاندې كړې وو بيا ئې هم په خطا كښې شوې بې ادبئ باندې د ځان د پاره عجيبه سزا تجويز كړه او د سختې لوَږې باوجود ئې نور د **پينځلّسو** ورځو پورې پخه وعده اوكړه چه هيڅ به هم نه خورم. د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نيك بندګانو ځان ته د ادب زده كولو د پاره په قِسم قِسم د عجيبه سزاګانو وركولو سلسله د پخوا نه شروع ده، چنانچه

## مخكښې ګڼ پيزار د په ښپو كولو سزا

په ''كِيميائے سعادت'' كښې دي، يو بزرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه يو ځل د سُنَّت مطابق د پيزار په ښپو كولو په ځائ په بې خيالئ كښې مخكښې ګښه ښپلئ په ښپو كړه. د دې سُنَّتو په پاتې كيدو هغه سخت خفه شو او د هغې په بدله كښې هغه د غنمو ډكې دوه بورئ خيرات كړې.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰیﷺ: خوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُالعُمّال)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو**! دا د هُم هغه حَضَراتو برَخَه وه. كاش! چه مونږ ته هم د خپلو بزرګانو په طريقو باندې د عمل كولو جذبه نصيب شي. د هُم داسې سُنّتونو او آدابو زده كولو د پاره اسلامي ورونړو ته پكار دي چه په مَدَني قافِلو كښې د عاشقانِ رسُول سره سفر خپل معمول جوړ كړي. د مَدَني قافلو هم څه بښكلي سپرلي دي چنانچه

## ﴿٦١﴾ د سفرِ مدينه سعادت نصيب شو!

د دعوتِ اسلامي د تنظِيمي تركيب مطابق ترتيب كړې شوي د ضِلع شيخوپوره د يو تحصِيل د مَدَني اِنعاماتو ذِمَّه دار چه ما (يعني سګِ مدينه) ته څه ليكلي وو د هغې خُلاصه ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په ١٤٢٤ھ كښې ما ته د عُمره شريف او د **مدينهٔ مُنَوَّره** د حاضرئ سعادت حاصِل شو، هلته مې د قُصُور (پنجاب، پاكستان) د يو قاري صاحِب سره ملاقات اوشو، هغوئ اووئيل چه زه په هم دې كال شعبانُ المُعَظَّم ١٤٢٤ھ كښې په صحرائے مدينه ملتان كښې كيدونكي د **دعوتِ اسلامي** د درې ورځو بينَ الاقوامي سُنَّتو نه ډكه اِجتِماع كښې شريك شوم، هلته د بيان په دوران كښې په **مَدَني قافلو** كښې د سفر كولو په ترغيب وركولو كښې دا اووئيل شو، "په مَدَني قافلو كښې د سفر په دوران كښې دُعاګانې اوكړئ، ستاسو چه څه خواهش وي اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه به پوره شي." دا مې چه واوريدل نو زما جذبه راپورته شوه او ما

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

سمدستي د عاشقانِ رسُول سره د درې ورځو په **مَدَني قافِله** كښې د سفر سعادت حاصِل كړو او هلته مې ډير په ژړا ژړا د **مديني مُنَوَّرې** د حاضرئ د پاره دُعاګانې اوكړې. د دُعا د قبليدو اثر داسې ښكاره شو چه زه د مَدَني قافِلې د سفر نه بيرته راغلم او د خپل معمول مطابق ماشومانو ته د سبق وئيلو د پاره د چا كور ته ورغلم. نو د كور خاوند را ته په ډيره مهربانئ اووئيل چه قاري صاحِب! **ماشآءَالله** عَزَّوَجَلَّ تاسو زمونږه بچو ته د قرآنِ پاك تعلِيم وركوئ، كه ستاسو څه خواهش وي نو مونږ ته اووائې مونږه تاسو **خوشحالول** غواړو. شروع كښې خو ما [د شرم په وجه] اِنكار اوكړو خو چه هغوئې ډيره زاري اوكړه نو ما اووئيل چه د **دِيدارِ مدينه** ارمان لرم. هغوئې ما ته فوراً د تلو راتلو خرچ راكړو او دغسې **اَلْحَمْدُ لِلّٰه** عَزَّوَجَلَّ **په مَدَني قافِله كښې د دُعا كولو په بَرَكت زما په شان ګنهګار او غريب سړي ته سمدستي د مديني منوَّرې د حاضرئ شرف نصيب شو.**

مجھ گنہگار سا انسان مدینے میں رہے
بن کے سرکار کا مہمان مدینے میں رہے

یاد آتی ہے مجھے اہلِ مدینہ کی وہ بات
زِندہ رہنا ہے تو انسان مدینے میں رہے

جان و دل چھوڑ کر یہ کہہ کے چلا ہوں اعظمؔ
آ رہا ہوں مرا سامان مدینے میں رہے

زما په شان ګنهګار انسان دِ مدينه كښې اوسي
ميلمه دِ جوړ شي د سُلطان او مدينه كښې اوسي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

ما ته رايادہ شي د اَهلِ مدينه دا خبره
که ژوندې اوسې نو انسان دِ مدينه کښې اوسي
ساه او زړه مې پرېښودل ترې راروان شوم اعظمؔ
بيرته راځمه زما سامان دِ مدينه کښې اوسي

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٦٢﴾ د وربشو مبارکو دَليَه

حضرتِ سيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزِيز رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته يوه ورځ اطلاع اوشوه چه د سپه سالار [يعني د فوځ د مشر] د پخلي د يوې ورځې خرچه زر دِرهمه ده. د دې زړه خفه کوونکي خبرې په اِطلاع هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ډېر زيات خفه شو او د هغه د اِصلاح د پاره ئې د **اِنفِرادي کوشش** کولو ذهن جوړ کړو او هغه ئې خپل کور ته د طعام خوړلو د پاره را اوبللو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه پخلي تيارولو والؤ ته حُکم اوکړو چه د ښو ښو خوراکونو سره د **وربشو مبارکو** د وړو دليه هم تياره کړئ. سپه سالار چه کله د هغوئي په دعوت حاضر شو نو خليفه رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه قصداً په طعام راغوښتلو کښې دومره ناوخته کړل چه سپه سالار د لوږې د لاسه تنګ شو. آخر دا چه **اميرُ المُؤمِنِين** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه اول د **وربشو مبارکو** د وړو دليه را اوغوښتله. ولې چه سپه سالار سخت اوږې شوې وو ځکه هغه د **وربشو مبارکو** د وړو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُ الْعُمّال)

دلیه خوړل شروع کړل، چه کله ښه ښه خوراکونه راغلل نو هغه موړ شوې وو. هوښیار خلیفه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د ښو ښو خوراکونو طرف ته اشاره اوکړه او اوئې فرمائیل چه ستاسو طعام خو اوس راغې، اوخورئ! سپه سالار انکار اوکړو او اوئې وئیل چه **محترمه**! ما خو ځان په دلیه موړ کړې دې. **امیرُ المُؤمِنِین** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ اوفرمائیل: سُبۡحٰنَ اللہ! دلیه هُم څومره ښکلې طعام دې څکه چه بنده مړوي هم او ارزانه هم دومره ده چه د یو دِرهم په دلیه لس کسان مړیږي! بیا ئې هغه ته په نصیحت کښ داسې ګُلونه وړاندې کړل، چه تاسو په دلیه هم ګُزاره کولې شئ نو آخر بیا هره ورځ په خپل ښځې زر دِرهمه ولې خرچ کوې؟ سِپه لار صاحِب! د الله عَزَّوَجَلَّ نه اویَریږئ او خپل ځان په زیات خرچ کوونکو کښ مه شاملوئ. په خپل ښځې چه کوم بې دریغه مال خرچ کوئ هغه د رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره اوړو، حاجتمندو او غریبانو ته ورکوئ. د مُتَّقِي خلیفه رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ **اِنفِرادي کوشش** د سپه سالار په زړه پوره اثر اوکړو او هغه پخه وعده اوکړه چه آینده به په طعام کښ د سادګئ خیال ساتم او په کم خرچ به ګُزاره کووم. (مغنی الواعِظِین ص۴۹۱) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

# د بې بَرَکتئ سبب، فضول خرچې

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! مونږ چه په نفس باندې څومره مزيدار خوراکونه کوو هُم هغسې به هغه نور د بهتر نه بهتر خوراکونه غواړي. نن صبا زمونږه اکثريَّت د بې بَرَکتئ شکايتونه کوي او د تنګدستئ او د پاسه د سختې ګرانئ ژړاګانې کوي، او نن صبا تقريباً هر يو دا وائي چه ”خرچې نه پوره کيږي!“ يقين اوکړئ چه نن صبا د ګرانئ، بې بَرَکتئ او تنګدستئ يو ډير غټ سبب غير ضروري خرچې هم دي. ښکاره خبره ده چه څوک د فُضُولو خرچو سلسله جاري ساتي او د اوچتو اوچتو خوراکونو، ښو ښو کورونو، بيا د هغې د ښائِسته کولو د پاره د ګران ګران سامانونو لګولو، او د ګران ګران فيشني لِباسونو شوق لري نو د دې کارونو د پاره به د ډير زيات رقم ضرورت هم وي او بيا به د ”بې بَرَکتئ“ او ”د خرچې نه پوره کيدو“ ژړاګانې هم کوي. حضرتِ سيِّدُنا اِمام جعفر صادِق رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: چا چه خپل مال په فُضُول خرچو کښې ختم کړو، او بيا وائي! اے ربّ عَزَّوَجَلَّ! ما ته نور را کړې. اللّٰہتعالٰی (داسې کس ته) فرمائي: آيا ما تا ته د ميانه روئ [يعني درميانه چليدلو] حُکم نه وو کړې؟ آيا تا زما (دا) اِرشاد نه وو اوريدلې؟

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

وَ الَّذِيْنَ اِذَآ اَنْفَقُوْا لَمْ يُسْرِفُوْا وَ لَمْ يَقْتُرُوْا وَ كَانَ بَيْنَ ذٰلِكَ قَوَامًا ﴿۶۷﴾ (پ ۱۹، الفرقان: ۶۷)

مفهوم ترجمۀ کنزُالاِيمان: او هغوئي، چه کله خرچ کوي، نو د حد نه تيريږي او نه تنګي کوي او د دې دواړو په مينځ کښې په اِعتِدال اوسي.

(مُلَخَّصاً اَحسَنُ الْوِعا لِآدابِ الدُّعا ص ۷۵)

بهرحال که د قناعت او سادګۍ سره په ارزانو خوراکونو او ساده لِباسونو ګُزاره اوکړې شي، صرف د ضرورت مطابق کورونو باندې ګُزاره اوکړې شي، [د کورونو او د ځان] بې ځايه ښائسته کولو سامانونو او دعوتونو په مُعامَله کښې په ځان پابندي اولګولې شي نو ښځيله به ګراني ختمه شي او غريبي به لاړه شي. خو د نفسِ اَمّاره د غُلامۍ خوك څه علاج اوکړي؟

## د درې کسانو دُعا قبوله نه ده

حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: درې کسان دي چه ستا ربّ (عَزَّوَجَلَّ) د هغوئي دُعا نه قبلوي (۱) يو هغه چه شړ کور ته ورکوز شي (۲) دويم هغه مسافر چه په لار کښې مقام (يعني پړاؤ) اوکړي، يعني چه د لارې نه بهر حِصار نه شي بلکه خاص په لاره کښې کوز شي [يعني پړاؤ اوکړي] (۳) دريم هغه چا چه ښځيله خپل ځاروې پريښودو، اوس د خُدائے نه دُعا کوي چه دا اودروه. (اَحسَنُ الْوِعا لِآدابِ الدُّعا ص ۷۳)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

زما آقا اَعلیٰ حضرت اِمامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِين و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې حديثِ پاك په شرح كښې فرمائي: اَقُوْلُ وَبِاللّٰهِ التَّوْفِيْق (يعني د الله عَزَّوَجَلَّ په راكړي شوي توفيق زه وايم) په ظاهره د دې نه مُراد هم دا دې چه په دې خاصّه ماده [يعني په هم دې خبره] كښې به د هغه دُعا نه قبليږي. داسې نه ده چه څوك داسې اوكړي نو مطلقاً به ګني په يو كار كښې هم د هغه دُعا نه قبليږي. او په دې [درې] كارونو كښې د دُعا نه قبليدو سبب ښكاره دې چه دا كارونه ئې د خپله لاسه كړي دي. لِهٰذا شر كور ته كوزيدو والا د دې د نقصاناتو نه خبر دې، بيا ئې كه هلته غلا اوشي يا ئې څوك لُوټ كړي يا ورته پيريان تكليف اورسوي، نو دا خبرې هغه پخپله قبولې كړې دي، اوس ولې د هغې د لرې كيدو دُعا كوي. هم دغسې چه د لار په مينځ كښې استوګنه اختيار كړي نو د هر قِسمه خلق به تيريږي، نو كه غلا ترې اوشي، يا پرې هَتي يا اس ښپه كيږدي او په تكليف شي، د شپې ورته مار [لړم] وغيره نقصان اورسوي، نو دا خو د هغه د خپلو لاسو كړه دي. نبئِ كريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: د شپې لار ته مه كوزيږئ ځكه چه اللّٰه‌تعالیٰ خپل مخلوق ته د چا د پاره چه اوغواړي په لاره د تلو اِجازت وركړي." هم د غسې خاروي پخپله پريښودل او بيا د هغې په قابو كښې د راتلو دُعا كول خو ښكاره بې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

وقوفي ده، آيا د وَاحِدِ قَهَّار جَلَّ جَلَالُهٗ امتِحان اخلي يا مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ هغه خپل محكوم [د حُكم لاندې] ګنړي! حضرتِ سيِّدُنا عِيسٰى رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته چا اووئيل چه كه د خدائے عَزَّوَجَلَّ په قدرت يقين لرې نو خپل ځان د دې غر نه ښكته اوغورزوه. هغوئي اوفرمائيل چه زه د خپل رب عَزَّوَجَلَّ امتحان نه اخلم. (اَحسَنُ الوِعا لِآدابِ الدُّعا ص ٧٣،٧٤)

## د خپلو لاسو د كړو هيڅ علاج نشته

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! فارسي مقوله ده، "خود كرده را عِلاجے نيست" يعني په خپلو لاسو ځان په مُصِيبت كښې د اچولو هيڅ علاج نشته. مَثَلًا كه څوك خپل سر ديوال ته وهي او چغې وهي چه هائے! سر مې مات شو! ما بچ كړئ! نو ښكاره خبره ده چه هغه بيوقوفه ته به هم دا وئيل شي چه خپل سر ديوال ته وهل پرېږده نو نه به ماتيږي. هم دغسې ډير نادانه انسانان چه څه په لاس ورځي خوري ئې، ښه په مړه ګېډه خوراكونه كوي او بيا د پيړوالي، غتې خيټې، قبض او بدهضمۍ په دوايانو پسې ګرځي او ډاكټرانو او حكيمانو ته په تللو ډيرې ډيرې روپۍ خرچ كوي! خو په دوايانو ئې عِلاج نه كيږي، ولې؟ ځكه چه د دې مرضونو علاج د دوئي په خپلو لاسو كښې دې. ځان دِ ډير نه مړوي، تر څو چه ښه اوږې شوي نه وي د هغې پورې دِ نه خوري، په حديثِ پاك كښې د ښودلې شوې طريقې مطابق دِ د لَوږې نه كم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

خوراك کوي. پِزّې، پراټې، د شودو پيړَوِي، کوَچ، کيکونه، پيسټريانې، بن کبابونه، برګر، سيخ کباب، سموسې، پيکوړې او نور سره کړي ځيزونه او غوړ، ميده او خواږه ځيزونه دِ کم نه کم استعمالوي. د آئِس کريمو، يخو شربتونو او يخو بوتلو نه ځان ساتل پکار دي او چائے هم زيات مه څښئ (د ضرورت مطابق په شپه او ورځ کښې دوه يا درې ځله په نِيم نِيم کپ ګُزاره کوئ) که د پان، سِګرِټ، خوشبودارې چاليه، ګُټکې [ماوه]، مين پوړئ او پان پراګونو وغيره عادت لرئ نو د هغې نه ځان خلاص کړئ. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ وزن به مو کم او خيټه به مو وړه شي او هاضمه به مو صحيح شي او د ډيرو بيمارو نه به بغير د ډاکټري عِلاج نه خلاصي اوموموئ.

## د پيړ والي يو سبب

زما په دې مَدَني مشورو که زيات نه شئ نو صرف **ځلويښت** ورځې په سختئ سره عمل اوکړئ، اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ په خپل صِحت کښې به حيرانوونکې بهترې محسوسه کړئ. مخکښې په يوه ليبارټرئ کښې "لِپډ پروفائل او شُوګر" ټيسټ کړئ او د خپل ډاکټر سره د مشورې نه پس په دې نِيَّت چه "د ښه صِحَّت په ذريعه به د عبادت د پاره قُوَّت حاصلووم" [يعني په دې نِيَّت] پرهيز شروع کړئ او د دې بَرَکتونه حاصل کړئ. ياد ساتئ د طعام نه پس اوبه څښلو سره هم بدن

www.dawateislami.net

پړسيږي، وزن ورسره زياتيږي او پيړوالې راځي. لِهٰذا د طعام نه پس کم نه کمې اوبه څښئ. خو د طعام په دوران کښې ساعت په ساعت لږې لږې اوبه څښل فائِده مند دي. بهر حال د طعام نه پس د ډيرو اوبو څښلو عادت لرونکې بدن که اوپړسيږي نو د هغې عِلاج دِ د دوائي په ځائ د خپل عادت په اِصلاح اوکړي نو هله کيدې شي

نا سمجھ بیمار کو اَمرت بھی زہر آمیز ہے
سچ یہی ہے سو دوا کی اک دوا پرہیز ہے

د شعر ترجَمه: ناپوهه بيمار له آبِ حَيات هم زهر دې، رښتيا خبره ده چه د سلو علاجو نه بهتره يوه دوا پرهيز دې.

## په خطره کښې اچوونکو د پينځلّسو خبرو مثالونه

د خپله لاسه خپل ځان په خطرو کښې اچول او بيا د هُغه خطرو نه د خپل ځان د حفاظت د پاره دعا کول نه قبليږي. په اَحسَنُ الوِعا لِآداب الدُّعا کښې پخپله خپل ځان په مُصِيبَت کښې د اچولو په باره کښې ډير بُنْکلې مِثالونه ورکړې شوي دي. مَثَلاً ﴿۱﴾ څوك چه بغير د څه سختې مجبورئ نه د شپې داسې وخت د کوره اوځي چه خلق اوده شوي وي، د ښپو ښکالو په لارو کښې بنده شوي وي په صحيح حديث کښې د دې نه منع کړې شوې دې ځکه چه په دې وخت کښې بلاګانې خوريږي (نو لکه که څوك د شپې ناوخته په شړه لار تيريږي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

او ډاکو ئې لُوټ کړي یا وریورې پیرې اونښلي نو خپل ځان دِ پخپله ملامته کوي چه ځان ئې ولې په خطره کښ اچولو!) یا ﴿۲﴾ د شپې دروازه بیرته پریږدي او یا ئې د بِسۡمِ اللّٰه وئیلو نه بغیر بنده کړي چه شیطان هغه بیرته کولې شي او چه کله بِسۡمِ اللّٰه اووائي او ښئ ښپه کور ته داخِله کړي نو شیطان چه ورسره راغلې وي هغه بَهر پاتې شي او چه بِسۡمِ اللّٰه اووائي او دروازه بنده کړي نو [شیطان] د هغې په برسیره کولو قدرت نه لري (دلته هم که بې احتیاطي اوکړې شوه او شیطان کور ته ورننوتو او نقصان ئې ورکړو نو د هغه د خپل قصور په وجه داسې اوشو نو بیا په دې مُعامَله کښ دُعا څنګه قبوله شي؟) ﴿۳﴾ که د خوراك څښاك په لوښو [کښ د خوراك، څښاك څیز موجود وي نو په هغې] کښ د بِسۡمِ اللّٰه نه لوستلو او سر نه ایښودلو په وجه بلاګاني [یعني مصیبتونه] را نازلیږي او خرابوي ئې، بیا هغه طعام او د څښلو څیزونه بیمارئ راولي (که طعام وغیره پټکښ وي او لوښې ښکاره پریښودې شي نو ناپاکه پیریان ئې استعمالوي، لِهٰذا د بې احتیاطئ کوونکې دُعا به په دې ځائ کښ هم نه قبلیږي ځکه چه د پیریانو او مرضونو نه د حِفاظت بهترینه نُسخه ښودلې شوې ده) یا ﴿٤﴾ ماشوم د ماښام په وخت کښ بَهر ته وِیستل ځکه چه په دغه وخت کښ شیطانان [یعني پیریان] خوریږي (که د ماښام او ماسخُتن په مینځ کښ مو ماشوم بهر ته اوویستلو او پیرې اونیولو نو دا ستاسو خپل قصور دې چه ولې مو ویستلې وو؟) یا ﴿٥﴾ که د طعام خوړلو نه پس د لاس وِینځلو نه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

بغير اوده شو نو شيطان ئې ختې او مَعَاذَالله د برص (يعني برَګي) باعِث جوړيږي. يا ﴿٦﴾ که په غُسل خانه کښې مِتيازې اوکړي ځکه چه د دې سره وسوسه پيدا کيږي. يا ﴿٧﴾ که پاس د چچې [يعني بَلئ] خوا ته اوده شي او د کوټې په سر چاپيره ديوال نه وي ځکه چه د غورزيدو خطره ده. يا ﴿٨﴾ که طعام د بِسۡمِ الله وئيلو نه بغير خوري ځکه چه شيطان ئې ورسره خوري او چه څومره طعام د يو څو مسلمانانو د پاره کافي وي هغه د يو کس په خوراك کښې ختم شي. يا ﴿٩﴾ چه د زمکې په سُوري کښې مِتيازې اوکړي چه هغه کله د مار وغيره خزنده کور وي يا د پيريانو کور وي او انسان ته تکليف اورسي. يا ﴿١٠﴾ که خپل يا د دوست څه څيز ئې خوښ شي او په هغې باندې د نظره کيدو نه د حفاظت دُعا: اَللّٰهُمَّ بَارِكۡ عَلَيۡهِ وَلَا تَضُرَّهٗ مَاشَآءَ اللهُ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِالله (يعني اے الله عَزَّوَجَلَّ په دې باندې بَرَکت نازل کړې، او دا د نقصان نه بچ کړې، څه چه الله عَزَّوَجَلَّ اوغوښتل هُم هغه اوشو، د الله عَزَّوَجَلَّ د مَل کيدو نه بغير په نيکئ هيڅ قدرت نشته) [دا دُعا] اونه لوَلي ځکه چه نظر حق دې، سړې قبر ته او اوښ ديګ ته رَسَوي (که چا ته دُعا ياده نه وي نو مَاشَآءَ اللهُ يا بَارَكَ الله هم وئيلې شئ. مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: که څه څيز اووينې او خوښ ئې شي نو مَاشَآءَ اللهُ يا بَارَكَ الله دِ اووائي نو نه به نظره کيږي! که د دې کَلِماتو (يعني مَاشَآءَ الله يا بَارَكَ الله) وئيلو نه بغير ورته عجيبه ښکاره شي يا د حيرانتيا الفاظ اووائي نو د نظره کيږي. (مِراٰةُ الۡمَنَاجِيۡح ج٦ ص ٢٤٤) يا

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې كولې كيږي. (طَبَرانِي)

﴿۱۱﴾ يواځې سفر كوي ځكه چه د فاسِقانو انسانانو او پيريانو نه ورته نقصان رسيږي او په هر كار كښې په تكليف كښې پريوځي يا ﴿۱۲﴾ چه په ولاړه ولاړه اوبه څښي ځكه چه دا د ځيګر د درد باعث جوړيږي (آبِ زم زم شريف او د اوداسه پاتې شوي اوبه په ولاړه څښل مُستحب دي) يا ﴿۱۳﴾ چه بيتُ الخَلاء ته د بِسۡمِ الله يا دُعا وئيلو نه بغير ننوځي ځكه چه د خَباثَت (يعني ناپاكه پيريانو) نه د نقصان رسيدو يَره ده. يا ﴿۱۴﴾ كه د فاسقانو، فاجِرانو، بد وَضعو [يعني غلطې طريقې اختيارولو والؤ]، بدمذهبو سره ناسته ولاړه كوي ځكه چه فرض كړئ كه د غلط اثر نه بچ شي نو بدناميږي خو به ضرور. يا ﴿۱۵﴾ كه د خلقو په لاره كښې يا د هغوئ د ناستې ولاړې په ځائ كښې مِتيازې كوي ځكه چه ده ته به كنزلې كيږي. (مُلَخَّصاً اَحسَنُ الوِعا لِآدابِ الدُّعا ص ۷۶، ۷۷)

## ﴿۶۳﴾ تاسو طعام د كوم ځائ نه خورئ؟

**حضرتِ** سَيِّدُنا بايزِيد بِسطامي رَحۡمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَيۡه يو جُمات ته د نمانځه د پاره تشريف يوړو، د نمانځه ختميدو نه پس ترې اِمام صاحب تپوس اوكړو، اے بايَزِيد! **تاسو طعام د كوم ځائ نه خورئ؟** هغوئ اوفرمائيل: لږ صبر اوكړه! مخكښې په تاسو پسې كړې نمونځ بيرته را اوګرځووم، ځكه چه تاسو مخلوق ته د روزئ وركولو والا په باره كښې شك لرئ، نو بيا په تاسو پسې نمونځ كول څنګه جائِز كيدې شي؟ (روض الرِّياحِين ص ۱۵۵)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذی)

د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږ بې حِسابه بخښنه اوشي.

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! حضرتِ سیِّدُنا بایَزِید بِسطامي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ ډیر غټ وَلِـیُّ الله وو. یقیناً اللهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْن عَزَّوَجَلَّ د هر چا د روزئ کفیل دې، هُم هغه ذات په ټولو خوري ښبي. اِمام صاحب چه دا تپوس اوکړو چه تاسو طعام د کوم ځائ نه خورئ؟ نو د حضرت په نِزد هغه خپله کمزوري عقیده ظاهره کړه او هغوئي خپل نمونځ را اوګرځولو، دا د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ تقویٰ وه. عُرفاً [یعني د رواج مطابق] داسې سوال او جواب خلق په خپل مینځ کښ کوي، شرعاً په دې کښ څه ګناه نشته.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿٦٤﴾ سره کړي مرغئ

د ابُو الحُسین عَلَوي بیان دې: ما یوه ورځ په خپل کور کښ فرمائِش اوکړو چه فلانکئ حلاله مرغئ د سره کولو د پاره په تنُور کښ زوړنده کړئ، زه به په مناسب وخت راشم او اُو به ئې خورم، بیا زه د حضرتِ سیِّدُنا جَعفر خُلدي رَحۡمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په خِدمت کښ د هغوئي د لیدلو د پاره حاضِر شوم، هغوئي را ته اوفرمائیل، شپه هم دلته زمونږ سره اوکړئ. خو زه د مرغئ خوړلو په سوچونو کښ ووم ځکه مې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د **الله** عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په **نبي** باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

څه بهانه اوکړه او کور ته لاړم. توده توده **سره کړي مرغۍ** چه را ته خنګه په دسترخوان کیښودې شوه. [په دغه وخت کښ] ناڅاپه یو سپې کور ته راننوتو، په هغه **سره کړي مرغۍ** ورغُوټه شو او لاړ مرغۍ ئې اوتښتوله. د هغه مرغۍ پاتي شوي ښوروا خِدمت ګارې راواغِسته او ما له راوړلو د پاره چه راروانه شوه نو لمَن ئې جتکه اوخوړله او هغه ښوروا هم ترې تویه توئ شوه. بیا سحر زه د حضرتِ سیِّدُنا جَعفر خُلدي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه په خِدمت کښې حاضِر شوم، زه ئې چه څنګه اولیدم نو اوئې فرمائیل: "څوك چه د مشائِخو د زړونو خیال نه ساتي د هغه زړه ته د تڪلیف رسَولو د پار سپې مُسلَّط کړې شي." (الرِّسالةالقشیریه۳۶۲) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطِر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** معلومه شوه چه د بزرګانو خبره پوره کول او هغوئي چه څه حُڪم اوکړي د هغې په منلو کښ خیر دې. د الله والؤ سره چالاکي او بهانې نه چلیږي. د دې حِکایت نه دا هم معلومه شوه چه اولیاءُ الله رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی ته د الله عَزَّوَجَلَّ په ورکړه د غیبو خبرې هم معلومیږي. چه د اولیائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی دا شان دې نو د صحابۂ کرام عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان به څه مقام وي او د انبیائے کرام عَلَیْهِمُ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام او بیا د نبیانو د سردار مُحَمَّدِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عَظَمت او

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

شان اندازه څوك لګولې شي! زما آقا اَعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په بارګاهِ رِسالت كښې عرض كوي ؎

سرِ عرش پر ہے تِری گزر، دلِ فرش پر ہے تِری نظر
ملکوت و ملک میں کوئی شے نہیں،وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں

(حدائقِ بخشش شریف)

**شرحِ كلامِ رضا:** **يا رَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د عرش د پاسه او په فرش يعني زمكه كښې دننه هر يو څيز تاسو ته ښكاره دې. دُنيا جهان كښې يو څيز هم داسې نشته چه تاسو صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ښكاره نه وي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿٦٥﴾ د لور د پيدا كيدو زيرې

د **الله** ربُّ العِزَّت عَزَّوَجَلَّ په مهربانئ د صحابهٔ كرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان هم د غيبو د خبرونو د ښودلو واقعات په كتابونو كښې شته دې. چنانچه د **كروړونو** مالكيانو عظيمُ المَرتبت مشر **حضرتِ** سيِّدُنا اِمام مالِك بِن اَنَس رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه خپل د حديثونو په مشهور كتاب "مؤطا اِمام مالِك" كښې فرمائي: د **حضرتِ** سيِّدُنا عُروه بِن زُبير رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دې چه **اُمُّ الْمُؤمِنِين** حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا اوفرمائيل: خليفةُ الرَّسُول حضرتِ سيِّدُنا ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ د خپل وفات په مرض كښې هغې رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا ته په **وصِيَّت** كښې اوفرمائيل: زما خوږې لُورې! د نن ورځې پورې چه زما سره كوم مال وو، هغه نن د مِيراث مال دې. ستا دوه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه دِ جَنَّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

وروڼړه (عبدُ الرَّحمٰن او محمَّد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا) او ستا دوه خویندې (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا) دي لِهٰذا تاسو زما مال د قرآن مجید دحُکم مطابق تقسیم کړئ. دا ئې چه واوریدل نو حضرتِ سیِّدَتُنا عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا عرض اوکړو، بابا جانه! زما خو صرف یوه خور "بي بي اسماء" ده، دا زما دویمه خور څوك ده؟ هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اوفرمائیل: هغه (ستا د ناسکه مور) "حبیبه بِنتِ خَارَجه" (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا) په ګیډه ده، زما په خیال هغه جینئ ده. (المُوطا اِمام مالِك ج۲ ص۲۷۰ حدیث ۱۵۰۳) د دې حدیث نه لاندې حضرتِ سَیِّدُنا عَلّامه مُحَمَّد بِن عبدُ الباقي زُرقاني رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ لیکي: چنانچه هم هغسې اوشو او جینئ پیدا شوه او د هغې نوم "اُمِّ کُلثُوم" کیښودې شو. (شرح الزُّرقانی علٰی مؤطا ج۴ ص۶۱) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## دوه کَرامتونه ثابِت شو

خورو خورو اسلامي وروڼړو! د دې حدیث مبارك په باره کښې حضرتِ عَلَّامه تاجُ الدِّین سُبکي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ لیکلي دي چه د دې حدیث نه د خلیفةُ الرَّسُول حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ دوه کرامتونه ثابِتیږي ﴿۱﴾ هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته د وفات نه مخکښې دا عِلم شوې وو چه زه به په دې مرض کښې د دُنیا نه سفر کووم، ځکه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

خو ئي په وَصِيَّت کښ دا اوفرمائيل چه "زما سره چه زما څه مال وو، هغه نن د مِيراث مال دې" ﴿٢﴾ چه کوم ماشوم پيدا شي هغه به جينئ وي. (حُجَّةُ اللهِ عَلَى الْعٰلَمِين ص ٦١٢ مركزِ اهلِسُنَّت بَرَكَاتِ رَضا گُجرات هِند)

## صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته عِلمِ غيب وو

د دې حِکايت نه دا هم معلومه شوه چه، دمَا فِي الْاَرْحَامِ (يعني څه چه د مور په خيټه کښ دي د هغې) عِلم د الله عَزَّوَجَلَّ په ورکړه حضرتِ سيِّدُنا صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ته حاصِل وو. په دې مسئَله د پوهيدلو د پاره آيتِ قُرآني او د هغې تفسِير په غور واورئ چنانچه اللّٰه تَبَارَكَ وَ تعالٰی په سيپاره ٢١ کښ د سُورة لُقمٰن په آخري آيتِ کريمه کښ ارشاد فرمائي:

وَ يَعْلَمُ مَا فِي الْاَرْحَامِ ؕ
(پ٢١، لُقمان:٣٤)

مفهوم ترجمۀ کنزالاِيمان: او (الله عَزَّوَجَلَّ) ته معلوم دي څه چه د ميندو [يعني موريانو] په خيټو کښ دي.

خليفۀ اعلٰی حضرت، مُفَسِّرِ قُرآن، حضرتِ صدرُ الافاضِل عَلَّامه مولانا مُحَمَّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خزائِنُ العِرفان (مطبوعه بمبئ) صفحه ٦٦١ کښ د دې آيتِ کريمه نه لاندې ليکي، "عِلمِ غيب د اللّٰه تعالٰی سره خاص دې او انبياء او اولياؤ ته د غيبو عِلم د اللّٰه تعالٰی په تعلِيم د مُعجزې او کرامت په طور ورکولې کيږي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

دا د دې اختِصاص (يعني مخصوص کيدو) برخِلاف نه دې او کُنړ شمير آيتونه او حديثونه په دې باندې دليل کوونکي دې. "د باران وخت او په حمل [يعني ګېډه] کښې څه دي او صبا به څوك څه کوي او چرته به مري." د دې اُمورو خبرونه په کثرت سره اولياء او انبياء ورکړې دي او د قُرآن و حديث نه ثابِت دي. حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهِيم خليلُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ته فرښتو د حضرتِ سيِّدُنا اسحٰق عَلَيْهِ السَّلَام د پيدا کيدو او حضرتِ سيِّدُنا زَکَرِيَّا عَلَيْهِ السَّلَام ته ئې د حضرتِ سيِّدُنا يحيٰ عَلَيْهِ السَّلَام د پيدا کيدو او حضرتِ سيِّدَتُنا مريم ته ئې د حضرتِ سيِّدُنا عِيسىٰ رُوحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام د پيدا کيدو خبر ورکړو نو هغه فرښتو ته هم د مخکښې نه معلوم وو چه په هغه حَمَلونو [يعني ګېډو مبارکو] کښې څه دي او هغه حَضَراتو ته هم چا ته چه فرښتو خبر ورکړو او دې ټولو ته د دې عِلم کيدل د قُرآنِ کريم نه ثابِت دي نو د آيت معنیٰ قطعاً هُم دا ده چه دالله‌تعالیٰ د ښودلو نه بغير هيڅ چا ته هم نه دي معلوم. د دې دا معنیٰ کول چه د الله‌تعالیٰ په ښودلو هم هيڅ چا ته نه دي معلوم بالکل باطِل او د سوونو حديثونو خِلاف دي.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! بيشکه اوليائے کرام هم د الله عَزَّوَجَلَّ په ورکړه د آئِنده پيدا کيدو والا اولاد خبر ورکولې شي چنانچه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

## ﴿٦٦﴾ د ځوئ پيدا کيدو زيرې

حضرتِ شاه وَلِـیُّ الله مُحَدِّث دهلوي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه زما والِدِ مُحترم حضرتِ شاه عبدُالرَّحِيم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي چه زه يو ځل د حضرتِ سيِّدُنا خواجه قُطبُ الدِّين بختيار کاکي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د مزار مبارك د زيارت د پاره لاړم. د هغوئي رُوح مبارك ظاهر شو او اوئې فرمائيل: "ستا به ځوئ پيدا کيږي، د هغه نوم قُطبُ الدِّين احمد کيږده." ولې چه ښځه مې زړه شوې وه ځکه ما دا خيال اوکړو چه د دې نه به مُراد زما د ځوئ، ځوئ يعني نمسې وي. حضرتِ سيِّدُنا خواجه قُطبُ الدِّين بختيار کاکي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه زما د زړه په دې خيال باندې فوراً خبر شو او اوئې فرمائيل: "زما دا مطلب نه دې بلکه هغه ځوئ به ستا د صُلب [يعني ملا] نه پيدا کيږي"حضرتِ شاه وَلِـیُّ الله صاحِب رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نور فرمائي، والِد صاحب يو موده پس د بلې زنانه سره نکاح اوکړه نو دا کَاتِبُ الحُروف [يعني د دې تکو ليکونکې] فقير وَلِـیُّ الله پيدا شو. په شروع کښې ورته دا واقعه ياده نه وه نو وَلِـیُّ الله نوم ئې کيښودو او چه څه موده پس وریاد شو نو بل نوم ئې (د حضرتِ سيِّدُنا خواجه قُطبُ الدِّين بختيار کاکي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د فرمان مطابق) قُطبُ الدِّين احمد کيښودو. (اَنفاسُ العارِفِين ص ٤٤)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده! د اوليائے کرامو په مزاراتو باندې د حاضرېدو او د هغوئي نه بَرَکتونه حاصلول د بزرګانو معمول وو. او دا هم معلومه شوه چه وفات شوي اوليائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى هم د الله عَزَّوَجَلَّ په ورکړه د زړونو په حالونو پوهيږي او د راتلونکي وخت خبر هم ورکوي څنګه چه خواجه قُطبُ الدِّين بختيار کاکي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه **حضرتِ شاه عبدُالرَّحِيم** رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه **ته د ځوئ د پيدا کيدو زيرې بيان کړې وو.**

يہيں پاتے ہيں سارے اپنا مطلب ہر اک کے واسطے يہ در کُھلا ہے
ميں دَردَر کيوں پھروں دُردُر سنوں کيوں مِرے آقا! مرا کيا سر پِھرا ہے!

هم دلته مومي مطلبونه ټول خپل دا در برسيره دې هر چا د پاره
زه ولې اوخورم در په در ټوکرې نه دې تاؤ شوي سر په ما آقا

## ﴿٦٧﴾ مزيدار شربت

حضرتِ سيِّدُنا صالِح مري رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه فرمائي چه ما د حضرتِ سيِّدُنا عطاء سُلَمي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيه په خِدمت کښې دوه ورځې سر په سر په غوړو او شهدو کښې ګډ کړې د سَتُّو [د وربشو د سرو کړو وړو] **مزيدار شربت** ور اوليږو، خو د دويمې ورځې شربت هغوئي بيرته را اوليږو. په دې باندې ما خپل خفګان ښکاره کړو چه تاسو زما تُحفه ولې بيرته را اوليږله؟ هغوئي اوفرمائيل: بده مه ګڼرئ، په وړومبئ ورځ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم. (کَنزُ العُمّال)

خو ما اوښنبلو خو دويمه ورځ په ښنبلو کښې ناکامه شوم، ځکه چه کله مې د ښنبلو نِيَّت اوکړو نو د ديارلسمې سيپارې د سُورهٔ اِبراهِيم ووڵسم آيت راياد شو:

يَتَجَرَّعُهٗ وَ لَا يَكَادُ يُسِيْغُهٗ وَ يَاْتِيْهِ الْمَوْتُ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ وَّ مَا هُوَ بِمَيِّتٍؕ وَ مِنْ وَّرَآىٕهٖ عَذَابٌ غَلِيْظٌ ﴿۱۷﴾ (پ۱۳، ابراهيم ۱۷)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: په مُشکِله به د هغې نه لږ لږ ګُوټ کوي او د مرګ نه د ښکته کوزولو اُمّيد به نه وي او په هغه به د هر طرف نه مرګ راځي او مړ کيږي به نه او په هغه پسې وروسته ټينګ عذاب.

**حضرتِ** سيِّدُنا صالِح مري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي، ما چه دا واوريدل نو په ژړا شوم او په زړه کښې مې اووئيل چه زه په بله دره کښې يم او تاسو په بله دره کښې. (مُلَخّصاً اِحياءُ الْعُلوم ج۳ ص۱۱٦)

## د دولسو مياشتو د عِبادت نه زياته فائده

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** زمونږه بُزرګانِ دِين به د خپل نفس د جائِزو خواهشاتو پوره کولو نه هم ځان ساتلو. کاش! چه کله زمونږه ښه څيز خوړلو يا ښه لِباس اغوستلو ته زړه اوشي او د رضائے اِلٰهی حاصلولو د پاره راته کله کله د هغې د پريښودو سعادت نصيب شي مَثَلاً چه سخته ګرمي وي او يخو شربتونو يا يخو شوملو ښنبلو ته مو زړه اوشي او يا را ته په سخته لوَږه کښې د ”سرې کړې غوښې“ د خوړلو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تعالٰی علیہ والہٖ وسلّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترځو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

خواهش وي او اسباب هم موجود وي خو کاش! چه د رضائے اِلٰهی د پاره را ته د هغې د پرېښودو توفيق نصيب شي. د نفس د خواهش د پرېښودو فائِده خو اوګورئ! حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو سُليمان رَحمةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه فرمائي: ''د نفس يو خواهِش پرېښودل د دولسو مياشتو د روژو او د شپې د عبادتونو نه زيات د زړه د پاره فائِده مند دي.'' (اِحياءُ العُلوم ج۳ ص۱۱۸) حُجَّةُ الْاِسلام حضرتِ سيِّدُنا اِمام محمّد غزالي رَحمةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه فرمائي: نفس د جائِزو خواهشاتو پوره کولو د پاره هم آزاد پرېښودل نه دی پکار او نه په هر حال کښې د هغه خبره منل پکار دي. بنده چه څومره خپل خواهش پوره کوي او د نفس په مطالبه ښه ښه خوراکونه کوي هغه ته هغه همره يَريدل هم پکار دي ځکه چه د قيامت په ورځ به کُفّارو ته وئيل شي.

اَذْهَبْتُمْ طَيِّبٰتِكُمْ فِیْ حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا ۚ

(پ۲۶، الاحقاف: ۲۰)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: تاسو د خپلې حِصَّې پاك څيزونه په خپل دُنيائي ژوند کښې فنا کړي او هغه مو استعمال کړي دي.

## د حُضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّم لوَږه مُبارکه

**خليفهٔ اعلٰحضرت**، مُفَسِّرِ قرآن **صدرُ الافاضِل** حضرتِ علّامه مولانا سيِّد محمّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحمةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيه په **خزائِنُ الْعِرفان** کښې د دې آيتِ مبارکه نه لاندې فرمائي: په دې آيت کښې اللّٰه تعالٰی کُفّار

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

ملامته کړي دي، نو رسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم او صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُم د دُنياوي خوندونو نه ډېره کول اختيار کړل. د بُخاري او مُسلِم په حديثِ پاك کښې دي، د حُضُور سيِّدِ عالم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د وَفاتِ ظاهري پورې د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اهلبَيت کله هم د وربشو د وړو ډوډۍ دوه ورځې سر په سر نه وه خوړلې. دا هم په حديث کښې دي چه پوره پوره مياشت به تيره شوه او په کور مبارك [يعني نغري] کښې به ئې اور بل نه شو، په يو څو کجورو او اوبه باندې به ئې گُزاره کوله. د حضرتِ سيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوايت دې، هغوئي [يعني فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ] فرمائي چه (اے خلقو) که ما غوښتلې نو ستاسو نه به مې ښه طعام خوړلې او ستاسو نه به مې بهتر لِباس اغوستلې خو زه خپل عيش و راحت د خپل آخِرت د پاره باقي ساتل غواړم. (خزائِنُ العِرفان ص۸۰۲)

کھانا تو دیکھو جو کی روٹی، بے چھنا آٹا روٹی بھی موٹی — وہ بھی شکم بھر روز نہ کھانا، صلی اللہ علیہ وسلم
کون و مکاں کے آقا ہو کر، دونوں جہاں کے داتا ہو کر — فاقے سے ہیں شاہِ دو عالم صلی اللہ علیہ وسلم

د شعرونو ترجَمه: (۱) د وربشو د بې چنړه وړو ډوډۍ به ئې خوړله او هغه هم په مړه ګېډه نه. (۲) د واړو جهانو آقا، د دواړو جهانو رزق تقسيموونکې، خو ټچپله به ئې لوږې تيرولې صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شریف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمّال)

## ﴿۶۸﴾ د عاشورې د خیرات بَرَکتونه

د **عاشورې** په ورځ د "رے" نومې **مُلك** قاضي صاحب له یو سوالګر راغې او عرض ئې اوکړو، زه ډیر زیات یو بې وسه او بال بچه دار سړې یم، د عاشورې د ورځې په خاطر ما له د ډوډۍ، غوښې او دوه دِرهَمو انتِظام اوکړئ. اللّٰه‌تعالٰی دِ ستاسو په عِزَّت کښې ډیر بَرَکت واچوي. قاضي صاحِب ورته اووئیل چه د ماسپښین نه پس راشه. فقِیر چه د ماسپښین نه پس راغې نو ورته ئې او وئیل چه د مازدیګر نه پس راشه. هغه د مازدیګر نه پس راغې نو بیا ئې هم هیڅ ور نکړو او تش لاس ئې رُخصت کړو. فقیر ډیر خفه شو او یو نصراني [یعني عِیسائي] له ورغلو او ورته ئې اووئیل چه د نن د مُقَدَّسې ورځې په خاطر ما ته څه راکړه. هغه تپوس اوکړو چه نن د څه ورځ ده؟ سوالګر جواب ورکړو چه نن د **عاشورې ورځ** ده او د عاشورې څه فضائِل ئې ورته بیان کړل. هغه چه واوریدل نو وئیل ئې چه تا د ډیرې بزرګې ورځې خاطر راواچولو، خپل ضرورت بیان کړئ! سوالګر هغه ته هم هغه ضرورت بیان کړو. هغه سړي ښه ډیر غنم او غوښه او شل دِرهَمه ورکړل او ورته ئې اووئیل چه دا ستا د بال بچو د پاره ما هره میاشت د دې ورځې د بزرګۍ په خاطر د ټول عُمر د پاره مُقرر کړل. د شپې قاضي صاحِب خوب اولیدو، څوك ورته وائي چه پورته اوګوره! چه بره ئې اوکتل نو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (ترمذی)

دوه عاليشان محلونه ئې اوليدل، يو د سپينو زرو او د سرو زرو د خختو وو او بل د سرو ياقوتو وو. قاضي تپوس اوکړو چه دا دواړه محلونه د چا دي؟ جواب ورکړې شو چه که تا د سوالګر ضرورت پوره کړې وې نو دا به تا ته درکړې شوي وې خو تا هغه ته د بيا بيا تکليف ورکولو باوجود هيڅ هم ور نه کړل، ځکه دا دواړه محلونه اوس د فلانکي نصراني د پاره دي. قاضي چه رابيدار شو نو ډير خفه شو. چه سحر شو نو هغه نصراني له ورغلو ورته ئې اووئيل چه پرون تا کومه "نيکي" کړې ده؟ هغه اووئيل چه ته څنګه خبر شوې ئې؟ قاضي صاحِب ورته خپل خوب بيان کړو او ورته ئې اووئيل چه زما نه يو لاك دِرهِمه واخله او پرونئ "نيکي" په ما را خرڅه کړه! نصراني اووئيل چه د ټولې دُنيا دولت راکړې نو بيا به ئې هم خرڅه نه کړم، د رَبُّ العِزَّت رَحمت او ورکړه څومره ښکلې ده. او واوره! زه مسلمانيږم او دا [کلِمه] ئې اولوستله چه: اَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) زه ګواهي ورکووم چه د الله عَزَّوَجَلَّ نه سِوا هيڅ څوك د عِبادت لائِق نشته او ګواهي ورکووم چه مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ) د هغه خاص بنده او رسول دې. (روض الرّياحين ص ١٥٢)

## د عاشورې فضائِل

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د عاشورې په ورځ يعني په لسم مُحَرَّمُ الحَرَام د حُضُور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نمسي او د حضرتِ سيِّدَتُنا فاطِمه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شریف لولئ بیشکه ستاسو په ما باندې درود شریف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِیر)

رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہَا د ځيګر ټُکړه اِمامِ عالي مُقام حضرتِ سيِّدُنا اِمام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ او د هغوئ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ ملګري د کربلا په ميدان کښ شهيد کړې شو. د عاشُورې په ورځ د دې نه علاوه هم ډير اهم واقعات پيښ شوي دي. د عاشورې ورځې ته او د **مُحَرَّمُ الـحَرام** پوره مياشتې ته په اِسلام کښ ډير زيات اَهَمِيَّت حاصِل دې. د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه پس د **مُحَرَّمُ الـحَرام** روژې د ټولو نه افضل [يعني غوره] دي. چنانچه

## د "پنجتن" د پينځه حُروفو په نِسبت پينځه اَحادِيثِ مُبارکه

﴿۱﴾ د دوارو جهانو سُلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د رَمَضان نه پس د **مُحَرَّم** روژه افضل [يعني غوره] ده او د فرضو نه پس افضل نمونځ صلوٰةُ اللَّيل (يعني د شپې نفل نمونځ) دې. (صحيح مُسلِم ص۵۹۱ حديث۱۱۶۳) ﴿۲﴾ نبئِ رَحمت، تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: د **مُحَرَّمُ الـحَرام** د هرې ورځې روژه د يوې مياشتې د روژو برابره ده. (اَلْمُعجَمُ الصَّغِير لِلطَّبَرانی ج۲ ص۷۱) ﴿۳﴾ رَحمَتِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چا چه په **مُحَرَّمُ الـحَرام** کښ درې ورځې د زيارت، جُمعې او خيالي روژه اونيوله د هغه د پاره به د دوو کالو د عِبادت ثواب ليکلې کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد ج۳ ص۴۳۸ حديث۵۱۵۱) ﴿۴﴾ د مديني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو یَعلٰی)

عاشورې د ورځې روژه نِيسئ او په دې کښې د يهوديانو مخالَفت کوئ، د دې نه مخکښې يا وروسته هم د يوې ورځې روژه نيسئ. (مُسنَدِ اِمام اَحمد ج۱ ص۵۱۸ حديث ۲۱۵۴) لِهٰذا څوک چه د لسم **مُحَرَّمُ الحَرام** روژه نيسي نو هغه ته پکار دي چه د نهم يا يوولسم تاريخ روژه هم اونيسي.

﴿۵﴾ د حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد دې: چا چه د عاشورې په ورځ په خپل کور کښې د رِزق فراخي اوکړه **اللّٰه تعالٰی** به ټول کال په هغه فراخي فرمائي.

## ټول کال د مَرَضونو نه حِفاظت

**مُفَسّرِ شَهِير حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: څوک چه د **مُحَرَّمُ الحَرام** د نهمې او **لسمې** ورځې روژې اونيسي نو ډير ثواب به مومي. د بال بچو د پاره دِ په لسم **مُحَرَّم شريف** ښه ښه خوراکونه پاخه کړي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ټول کال به ئې په کور کښې بَرَکتونه وي. بهتره ده چه **کِچړا**[1] پخه کړي او د شهيدِ کربلا حضرتِ سَيِّدُنا اِمام حُسين رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہ د اِيصالِ ثواب د پاره دِ پرې فاتِحه اولولي ډير مُجَرَّب (يعني ازمائيلې شوې) دې. په هُم دې تارِيخ چه **غُسل**

[1] په اوړ د پاسه غوښه او د چنې دال داسې وراسته پاخه کړې شي چه بالکل ليتېئ غوندې ترې جوړه شي، دې ته عوام ''حليم'' وائي خو **حَلِيم** د **الله** عَزَّوَجَلَّ صفاتي نوم دې ځکه اميرِ اَهلِسُنَّت فرمائي چه د الله عَزَّوَجَلَّ د نامه د ادب په وجه دې ته ''حليم'' نه بلکه ''کِچړا'' وئيل پکار دي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

اوکړي نو تول کال به اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ د **بيمارو** نه په امن کښ اوسي ځکه چه په دغه ورځ آبِ زم زم ټولو اوبو ته رسيږي. (تَفسِیر رُوحُ البَیان ج٤ ص١٤٢، اِسلامی زِندگی ص١٠٢) سرورِ کائِنات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: څوك چه د عاشورې په ورځ اِثمَد رانجه په **سترګو پورې کړي** [يعني اولګوي] نو د هغه سترګې به کله هم نه خُوګيږي.

(شُعَبُ الاِیمان ج٣ ص٣٦٧ حدیث٣٧٩٧)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د پاکستان خوفناکه زلزله

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ د تبليغِ قرآن و سُنَّت عالمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** په مَدَني ماحول کښ د مصيبت وهلو سره د همدردۍ کولو فِکر جوړيږي، د دې لِيك د وخته پورې د پاکستان د تاريخ د ټولو نه غټې **خوفناکې زلزلې** په باره کښ څه عرض کووم، د خيالي په ورځ رَمَضانُ الْمُبارَك ١٤٢٦ھ (2005-10-8) سحر تقريباً پاؤ کم نهه بجې د پاکستان په مشرِقي حِصّه کښ خوفناکه زلزله راغله. او په هغې کښ د خيبر پښتونخواه او کشمير يوه ډيره غټه حِصّه او د پنجاب هم څه حِصّه مُتاثِره شوه. د يو خبر مطابق په هغې کښ د دوه لکو نه زيات کسان وفات شو او صحيح خبره دا ده چه د مرو شمير چا ته معلوم دې! پوره پوره کلي، پوره پوره

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰیﷺ: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِیمان)

آبادئ او ډير ښارونه تباه و برباد او د ملبې ډيرې جوړ شو، غرونه په ختې شو او په آبادو باندې را اوغورځيدل، معلومه نه ده چه په خوشحالو او خنداګانو كښې مشغول څومره انسانان ناڅاپه په زمكه ژوندي خخ شو. هغه ټول به څوك ځنګه اوشميري! كاش! چه د ګناه كولو په وخت كښې مونږه هم دا زلزله ياده ساتو چه هسې نه په ګناه كولو كولو كښې راباندې زلزله راشي او د سترګې په رپ كښې اوچقيږو. (مونږه د الله عَزَّوَجَلَّ نه د خير سوال كوو)

## ٦١٩ ټركونه سامان

د **دعوتِ اِسلامي** اِسلامي ورونړو د زلزلې وهلو خلقو په امداد كښې پوره پوره حِصّه واخسته، تقريباً ٦١٩ ټركه سامان ئې په هغوئې كښې تقسيم كړو، په اِمدادي كارونو ئې تقريباً دولس كروړه روپۍ اولګولې. د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو د تربِيَّت څه مَدَني قافلې زلزله وهلو علاقو كښې بې دركه شوې وې خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ډير زر ژوندي او سلامت اوموندلې شو. په هغې كښې د يوې مَدَني قافِلې مَدَني سپرلې اوكورئ چنانچه

## ﴿٦٩﴾ دوه ځله د مرګ په خُله كښې

د ډرِګ كالوني مَلِير (بابُ المَدينه كراچئ) د نهه اِسلامي ورونړو د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو د تربِيَّت يوه مَدَني قافِله د سُنّتو نه ډك سفر باندې

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

وه او د قادِر آباد ”ضلع باغ“ (كشمِير) يو جُمات ته تلي وه. د **عاشِقانِ رَسُول** څه داسې بيان دې چه، ”د آرام په وقفه كښې پينځه اسلامي ورونړو آرام كولو او څلور اسلامي ورونړه د جُمات نه بَهر تلي وو. په دريم رَمَضانُ الْمُبارَك ۱۴۲۶ھ د ورځې تقريباً پاو كم نهه بجې ناڅاپه د **زلزلې** تيزې تيزې جټكې راغلې، اسلامي ورونړه اويَريدل او تقريباً د پينځه فُټه اوچت ديوال نه ئې بهر طرف ته اودنګل او د سړك طرف ته ئې منډې كړې، هر طرف نه د دماكو **خوفناكه** آوازونه راتلل. چه شا ته مو اوكتل نو يو ډير عجيبه منظر وو او هغه دا چه د دواړه طرفه نه **غرونه په آبادئ** راغورزيدلي وو، چه كله دُوره ختمه شوه نو نه هلته زمونږه هغه جُمات وو او نه كورونه وو. ټول اوچت اوچت عمارتونه د زمكې سره برابر شوي وو، هر طرف ته د قيامت علامې وې، غالِباً چه د هغه آبادئ يو اِنسان هم ژوندې نه وو پاتې شوې. **عاشقانِ رسول** په څه طريقه نزدې علاقې ”نذر آباد“ ته اورسيدل، هلته هم **زلزلې** تباهي راوستې وه، چه كله ئې لږه حوصله په ځائ شوه نو په اِمدادي كارونو كښې ئې حِصَّه واخسته، هُم هلته ئې ماښام روژه ماته كړه او د يو زلزله وهلي جُمات په پاتې حِصَّه كښې ئې د ماښام نمونځ د جَمعې سره ادا كړو، بيا چه څنګه د هغه جُمات نه اووتل نو ناڅاپه بيا يوه سخته جټكه راغله او د جُمات هغه پاتې حِصّه هم په يو درَز راپريوته

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

او اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دويم ځل **عاشِقانِ رَسُول** بچ شو. د "قومي اخبار" يو کالم نِګار دا واقعه د بيان کولو نه پس ليکلي وو چه "**دا قافِله په** ښه **نِيَّت** (يعني د نيکئ دعوت خورلو د پاره) **تلي وه** (شايد) **ځکه اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **هغوئي بچ کړل**.

زلزلہ آئے گر، آکے چھا جائے گر | صِرف حق سے ڈریں قافِلے میں چلو
زلزلہ عام تھا ہر سُو کُہرام تھا | اس سے لو عِبرتیں قافِلے میں چلو

که راشي زلزله، او هُم ډيره شي خوره | صرف حق نه يَريږئ قافلو کښ لاړ شئ
زلزله وه په هر خوا، هم ژړا وه په هر خوا | عِبرتونه تري واخلئ قافِلو کښ لاړ شئ

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۷۰﴾ د اوچې ډوډئ قطره

د خپل دور د ډير غټ عالِم حضرتِ سيِّدُنا **خليل بصري** رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په خِدمت کښ د "اَهواز" نه د اَمِير (يعني بادشاه) سُليمان بِن علي خصوصي نمائِنده حاضِر شو او عرض ئې اوکړو، د شهزادګانو د تعلِيم او تربِيَّت د پاره بادشاه تاسو شاهي دربار ته غواړي. حضرتِ سيِّدُنا **خليل بصري** رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د ډوډئ اوچه قطره ور اوښودله او جواب ئې ورکړو. "زما سره چه د کله پورې د ډوډئ دا اوچه قطره موجوده وي [تر هغې پورې] ما ته د شاهي دربار د خِدمت هيڅ حاجت نشته. (روحانی حِکایات حِصّه اوّل ص۱۰۶ رُومی پبلیکیشنز مرکز الاولیاء لاهور) **د اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

جُستُجو میں کیوں پھریں مال کی مارے مارے
ہم تو سرکار کے ٹکڑوں پہ پلا کرتے ہیں

مال پسې ګرځو ولې در په در به
د مُصطفٰی په قطرو پا يو مونږه

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د وزِير اعظم دعوت نامه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د الله عَزَّوَجَلَّ نيك بندګان به د اقتدار لرونكو نه څومره لرې اوسيدل او نن صبا كه مونږ ته د وزيرِ اعظم دعوت نامه راشي نو په زرګاؤ مصروفيات او زرګاؤ ضروري كارونه به پريږدو او كه د زر كلوميټره سفر وي هغه به هم اوكړو او ښه لِباس به واغوندو او په خوشحالئ خوشحالئ به د اسمبلي هال مخې ته اورسيږو او د ټولو نه مخكښ به په قطار كښ اودريږو! هائے د نفس غُلامي!!! بغير د سختي مجبورئ نه صرف د دنياوي فائِدو او د عِزَّت حاصلولو په خاطر په اقتِدار لرونكو او افسرانو وغيره پسې شا ته شا ته ګرځيدل، د هغوئي په دعوتونو كښ شريك كيدل، د هغوئي نه تمغې حاصلول، مَعَاذَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ د هغوئي سره تصويرونه وِيستل، بيا هغه تصويرونه سنبال ساتل، خلقو ته ښودل، هغه په فريمونو كښ لګول او په كور يا دفتر وغيره كښ زوړندول وغيره كارونو كښ تباهياني خو شته، خو په داسې كارونو كښ بَرَكتونه نه وي. خو كه د اَهم

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

دِيني فائدې د پاره يا د هغوئي د شر نه د بچ کيدلو د پاره د هغوئي خوا ته تلل پيښ شي نو هغه جُدا خبره ده ځکه چه ځوك مجبوره دې هغه معذوره دي. منقُول دي:

بِئْسَ الْفَقِیْرُ عَلٰی بَابِ الْاَمِیْرِ

(يعني په فقيرانو [يعني غريبانو] کښې هٰغه کس ډير بد دې ځوك چه د مالدارانو دروازو ته ورځي) او

نِعْمَ الْاَمِیْرُ عَلٰی بَابِ الْفَقِیْرِ

(يعني په مالدارانو کښې هٰغه کس ډير ښه دې ځوك چه د فقيرانو په در حاضريږي)

(شیطانی حِکایات ص۷۱ او ۷۲ فريد بُك ستپال مرکزُ الاولیاء لاهور)

## په دواړو جهانو کښې کاميابي

**بهرحال** د شيطان دوکه ډيره خطرناکه وي. کله کله هغه نفساني خواهشات هم سرې ته دِيني فائده ښکاره کړي او د اقتدار لرونکو دروازو ته ئې اودروي. په هم دې وجه د الله عَزَّوَجَلَّ نيك او محتاطه بندګان د هغوئي نه لرې اوسيدو کښې خير ګنړي. د نورو مال ته د کتلو په ځائ چه ځوك قَناعت [يعني په لږه صبر] اختيار کړي هغه په دواړو جهانو کښې کامياب دې. د اقتِدار لرونکو او ظالِمَانو او قاضيانو نه به اَهلُ الله [يعني الله والؤ] خومره ډېره کوله د دې اندازه د دې حِکايت نه کولې شئ چنانچه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمذی)

## ﴿۷۱﴾ د آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم په وِیښه ۷۵ ځله دِیدار

حضرتِ علّامه عبدُ الوَهّاب شعراني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه فرمائي: د حضرتِ علّامه جَلالُ الدِّین سُیُوطي اَلشَّافِعِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه یو مکتُوب [یعني خط] د هغوئي د یو ملګري شیخ عبدُالقادر شاذلي سره حضرتِ سیِّدُنا علي خَوّاص رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه اولیدو. چه هغه د هُغه کس په جواب کښ لیکلې شوې وو چا چه هغوئي ته د بادشاه خوا ته د سفارش کولو د پاره د تللو درخواست لیکلې وو. د هُغه مکتوب په جواب کښ حضرتِ علّامه جَلالُ الدِّین سُیُوطي اَلشَّافِعِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه لیکلي وو، "زما وروره اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زه تر اوسه پورې د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمتِ با بَرَکت کښ ۷۵ ځله د بیداري په حالت کښ [یعني په وِیښه] مخامخ حاضر شوې یم. که ما ته د بادشاهانو او مالدارانو خوا ته تللو کښ د نبيِّ کریم، رءُوف رَّحِیم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دیدار نه د محرومه کیدو یَره نه وې نو ضرور به قلعه ته ورغلې ووم او بادشاه ته به مې ستا سفارش کړې وې. زه د حدیثونو یو خادِم یم، کومو حدیثونه ته چه مُحَدِّثِینِ کرام په خپل تحقِیق کښ ضعیفه وئیلي دي د هغې د صحیح کولو د پاره د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طرف ته مُحتاجه یم او بیشکه د دې ګټه ستا د ذاتي ګټې نه زیاته غوره ده.

(مِیزانُ الشَّرِیعةِ الکُبریٰ ص۴۸)

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د حکومت لرونکو خوا ته په تګ را تګ کښې د رُوحانِيَّت خومره عظيم نقصان کيدې شي! په دې باره کښې يو بل حِکايت اوګورئ چه په هغې کښې د حاکِم (يعني د يو ګورنر) خوا ته د تللو په وجه رُوحانِيَّت ته د سخت نقصان رسيدلو بيان دې. چنانچه

## ﴿۷۲﴾ نعت خوان ته ولې نقصان اورسيدو

حضرتِ علّامه عبدُ الوَهّاب شعراني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د حضرتِ سيِّدُنا مُحَمَّد بِن تَرين مَدَّاحِ رسُول (يعني نعت خوان) په باره کښې مشهور دي چه هغوئي ته به په وِينښه د حضورِ اَقدس صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مخامخ دِيدار کيدلو. چه کله هغه سحر روضې مبارکې ته حاضِر شو نو حُضُورِ انور صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي سره د خپل قبر مبارك نه خبرې اوکړې. دا نعت خوان بيا په خپل هُم دې مقام باندې وو [يعني داسې به مسلسل کيدل] تر دې چه يو کس هغوئي ته درخواست اوکړو چه د ښار حاکِم [يعني حکومت لرونکي] ته زما سفارش اوکړئ. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه حاکِم له ورغلو او سفارش ئې اوکړو. هغه حاکِم هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خپل مَسنَد [يعني د ناستې په ځائ] کښينولو. د دغه وخت نه هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته د [حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د] دِيدار سلسله ختمه شوه. بيا به هغوئي هميشه د حُضُورِ اَقدس صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعنې لاس مِلاووُم). (ابنِ بشکوال)

په بارګاه کښې د دِيدار خواهش کولو خو دِيدار به ورته نه کيدو، يو پيره ئې يو شعر عرض کړو نو د لرې نه ورته ديدار اوشو، حُضُورِ اکرم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ورته ارشاد اوفرمائيلو، "د ظالِمانو په مَسنَد باندې د ناستې سره زما ديدار غوارې، د دې هيڅ لار نشته." حضرتِ سيِّدُنا علي خَوَّاص رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: بيا مونږ ته د هغه بزرګ په باره کښې څه خبر اُو نه شو چه هغوئي ته د شهنشاهِ مدينه صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار اوشو او که نه، تر دې چه هغوئي وفات شو. (مِيزانُ الشَّرِيعةِ الكُبریٰ ص۴۸) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِې زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** کوم خلق چه د ذاتي فائِدې د پاره حکومت لرونکو پسې ګرځي، که کله ورته د يو وزير يا صدر وغيره خوا ته د تللو موقع په لاس ورشي نو په هوا ورځي او حاضرېږي، که صدر تمغه ور واچوي يا ورله لاس ورکړي نو [په کور، دفتر کښې] د هغې تصويرونه زوړندوي، نورو ته ئې ښائي او هغه ډير غټ اعزاز ګڼړي د هغوئي د پاره په تير شوي حِکايت کښې ډير درس دې.

اَلْعَاقِلُ تَکْفِيْهِ الْاِشَارَةُ

يعني د عقلمند د پاره اشاره کافي ده.

کس چیز کی کمی ہے مولیٰ تری گلی میں
دنیا تری گلی میں عُقبیٰ تری گلی میں
تختِ سکندری پر وہ تھوکتے نہیں ہیں
بستر لگا ہوا ہے جن کا تری گلی میں

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هُغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلې وي. (ترمِذِی)

د څه خيز ده کمي، آقا ستا په کوڅه کښې
دُنيا ستا په کوڅه کښې، عُقبیٰ[1] ستا په کوڅه کښې
په تختِ سِکندري، ټوکي هُم نه هغوئي
د چا چه لګيدلي بِستره ستا په کوڅه کښې

## ﴿۷۳﴾ د شاهي دسترخوان مصيبت

**حضرتِ** سيِّدُنا قاضي شريك رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ډير غټ عالِم او مُحَدِّث تير شوي دې. هغوئي به اقتِدار لرونکو سره د ناستې ولاړې نه ځان ډير لرې ساتلو. يو ځل خليفهٔ بَغداد مهدي عَبَّاسي هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ خپل دربار ته اوغوښتلو او ډيره زاري ئې ورته اوکړه چه زما په درې خبرو کښې به يوه خبره ضرور اختياروئ ﴿۱﴾ د قاضي (يعني جج) عُهده قبوله کړئ يا ﴿۲﴾ زما شهزادګانو ته تعليم ورکړئ يا ﴿۳﴾ کم از کم زما سره طعام اوخورئ. د لږ ساعت سوچ او فِکر کولو نه پس ئې اوفرمائيل، ستاسو سره طعام خوړل د نورو کارونو په نِسبت آسان کار دې. چنانچه دعوت ئې قبول کړو، خليفه بخلي کوونکي ته د ښه نه ښه طعام تيارولو حُکم اوکړو. حضرتِ سيِّدُنا قاضي شريك رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بادشاه سره په **شاهي دسترخوان** باندې طعام اوخوړلو. شاهي بخلي پخوونکي د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خِدمت کښې عرض اوکړو، "حضرت!

[1] يعني د آخِرت بهترى-

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما یو ځل درود شریف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

اوس ستاسو خیر نشته! یعني اوس تاسو په شاهي جال کښ اونښتلئ د دې نه اوس کله هم خلاصې نه شئ موندلې." چنانچه هم هغسې اوشوه، د بادشاه سره د "طعام" خوړلو نه پس د شهزادګانو اُستاذ هم جوړ شو او د قاضي عُهده ئې هم قبوله کړه. (تارِیخُ الخُلَفاء ص۲۲۱) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

## په دریو کښ دوه حِصَّې دِین ئې لاړ شي

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د اربابِ اقتِدار [یعني حکومت لرونکو] او مالدارو خلقو نه لرې اوسیدو کښ خیر دې. د هغوئي دعوتونه خوړلو او تُحفې قبلولو کښ د آخِرت د پاره سختې خطرې دي ځکه چه د هغوئي د دعوتونو خوړلو او تُحفې قبلولو والا د هغوئي د خوشامندې کولو او فضول د هغوئي خبرې ته د بنې وئیلو نه بچ کیدل ډیر زیات مشکِل شي. په حدیث شریف کښ ارشاد دې: "څوك چه د یو غني (یعني مالدار) د هغه د مالدارئ په وجه تواضُع [یعني خاطر داري] اوکړي د هغه په دریو کښ دوه حِصَّې دِین لاړ شي. (کشفُ الخِفاء ج۲ ص۲۱۵ حدیث۲۴۴۲) اَعلٰی حضرت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه د دې حدیثِ پاك نه لاندې لیکي: "د دُنیاوي مال د پاره تواضُع [یعني خاطر داري] د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د پاره نه ده (ځکه) دا حرامه ده." (ذیلُ المُدَّعا لِاَحسَنِ الوِعاء ص ۱۲)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه د جَنَّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

## د خوشامندۍ غندنه

**مطلب** دا دی چه د یو دُنیادار مالدار کس د شریعت د اِجازت نه بغیر صرف د هغه د دولت په وجه د هغه تواضُع [یعني خاطر داري] کول حرام دي. افسوس په کروړونو افسوس! دا ګناه نن صبا ډیره زیاته عامه ده. ”مالدار سړی“ د عامو خلقو د پاره د امتِحان باعِث وي ځکه چه د دولت د ډیروالي په وجه د هغه یو خاص قِسم رُعب وي اکثر که هغه چا له ”یوه ټکه“ هم نه ورکوي خو بیا هم نفسیاتي طور خلق هسې فضول د هغه سره د عاجزۍ او خوشامندۍ انداز ساتي. د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه والِدِ مُحترم رئِیسُ الْمُتَکَلِّمِین حضرتِ مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل کوي، په حدیث شریف کښ راغلي دي، ”مسلمان خوشامنده کوونکی نه وي.“ او د دروغو صِفتونه کول د دې نه هم بد تر دي، ځکه چه یو خو تمَلُّق (خوشامنده)، دویم کِذب (یعني دروغ) او دریم د هغه کس نُقصان [کول دي] ځکه چه مخامخ صِفت کولو ته ئې په حدیث شریف کښ د څټ پریك کول فرمائیلي دي او اِرشاد شوې دې، ”د مدّاحانو یعني د مخامخ صِفت کوونکو په خُله کښ خاورې واچوئ، خُصُوصاً که مـمدُوح (یعني د چا چه صِفت اوکړې شي هغه) فاسِق وي، ځکه چه په حدیث کښ فرمائیلي شوي دي، ”چه کله د فاسِق مدح (یعني صِفت) کیږي، رَبِّ تَبَارَكَ وَ تعالیٰ غضب فرمائي او د رحمٰن عرش اوخوزیږي. (اَحسَنُ الوِعا لِآداب الدُّعاء ص ۱۰٤)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۷۴﴾ د مالِيده ثواب هُم حاصِل شو

**يو** بزرګ رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي چه ما خپله مرحومه ترور [يعني د پلار خور] په خوب کښې اوليده د حال تپوس مې ترې اوکړو نو اوئې وئيل: "په خيريت يم، د خپلو اعمالو پوره پوره بدله راکړې شوه تر دې چه د هغه **مالِيده** [يعني د خوږې ډوډۍ د چُو رئ] **ثواب** هم راکړې شو کومه چه ما يوه ورځ په يو غريب **خوړلې** وه. (شرحُ الصُّدُور ص ۲۷۸) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۷۵﴾ د کوَر دانه

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** تاسو اوليده! اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د چا د يوې ذرَّې همره نيکي هُم نه ضائِع کوي، په ظاهره که هر څومره معمولي څيز وي، هغه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لار کښې ورکولو باندې شرم محسوسول نه دي پکار. اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا يو ځل سوالګر ته د کوَر [يعني اَنګور] يوه دانه ورکړه. يو ليدونکي خپله حيرانتيا ښکاره کړه نو اوئې فرمائيل: د دې کوَر [يعني اَنګُور]

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

نه خو ډيرې زَرّې وتلې شي چه اللّٰه تَبَارَكَ وَتعالٰی د ديرشمې سيپارې د سُورَةُ الزِّلزال په ووم آيت کښ فرمائي:

فَمَنۡ يَّعۡمَلۡ مِثۡقَالَ ذَرَّةٍ خَيۡرًا يَّرَهٗ ﴿۷﴾ (سِيپاره۳۰، اَلزِّلزال ۷)

مفهوم ترجمهٔ كنزُالاِيمان: "نو څوك چه د يوې ذرّې هُمره نيکي کوي هغه به وِيني."

د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره په اوړې باندې مالِيده [يعني چُوري] يا هر يو حلال او پاك طعام خوړل د ډير غټ ثواب کار دې خنګه چه د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دې، چا چه په اوږې کس طعام اوخوړو تر دې چه موړ شو هغه ته به اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خپل عرش په سورې کښ ځائ ورکوي. (مکارمُ الاخلاق للطبرانی ص ۲۷۲)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ﴿۷۶﴾ په خوب کښ د دَم بَرَکت

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! په اوږو خلقو د خوړلو جذبه حاصلولو او د سُنَّتو نه ډك ژوند اختيارولو د پاره د عاشقانِ رسُول سره د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو نه ډکو مَدَني قافِلو کښ سفر کول خپل معمول جوړ کړئ. د روحاني بَرَکتونو سره سره به اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ بَدَني فائِدې هم حاصلې کړئ. چنانچه د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دې، چه زما خورئې [يعني د خور ځوئ] د اَلسر [يعني د معدې د زخم] په وجه په

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

سخت تڪليف ڪښ وو، ډاڪټران هم په علاج ڪښ ناڪامه شوي وو. هغه د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره د **عاشِقانِ رَسُول** سره په **مَدَني قافِله** ڪښ سفر اوکړو، چه بيرته راغي نو طبيعت ئې نور زيات خراب شوې وو، د هغه تڪليف ته به چا ڪتلي نه شو. هغه اووئيل چه ما دا سوچ جوړ کړې وو چه په **مَدَني قافِله** ڪښ به نه د خصوصي آرام مطالبه ڪووم او نه به پرهيزي طعام غواړم لِهٰذا چه څه به وو هغه به مې خوړل. هُغه اسلامي وروړ وائي چه ڪله زما خوړئې د شپې اوده شو نو هغه په خوب ڪښ يو د پوخ عمر والا **مُبَلِّغ دعوت اسلامي** اوليدو، هغه مُبَلِّغ اووئيل چه زه ستا نه ډير خوشحاله يم. بيا ئې په ډيره مِينه د طبيعت تپوس اوکړو نو زما خوړَئي ورته د خپلې سختې بيمارئ شکايت اوکړو. دا ئې چه واوريدل نو هغه مُبَلِّغ ورته په سِينه باندې ګوته کيښوده او دم ئې کړو. چه سحر زما خوړَئې راوِيښ شو نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مُڪمَّل طور جوړ شوې وو.

ہے شِفا ہی شِفا مرحبا! مرحبا!
آ کے خود دیکھ لیں قافِلے میں چلو
لوٹ لیں رحمتیں، خوب لیں برکتیں
خواب اچھے دِکھیں قافِلے میں چلو

ده شِفا او شِفاء، مرحبا مرحبا
راشئ تاسو اووِينئ قافِلو ڪښ لاړ شئ
اوګټئ رَحمتونه، اوګټئ بَرَڪتونه
ښه خوبونه به وِينئ قافلو ڪه لاړ شئ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو كښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

## ﴿۷۷﴾ عجيبه شهزادګۍ

د **حضرتِ** سيِّدُنا شيخ شاه كِرماني رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه شهزادګۍ چه كله د واده لائِقه شوه او د ګاونډي مُلك بادشاه د خپل يو هلك د پاره اوغوښتله نو هغوئي اِنكار اوكړو او جُمات په جُمات په نيك هلك پسې ګرځيدو. يو ځلې ئې اوليدو چه هغه په ډير ښه شان نمونځ ادا كړو او په ژړا او زارئ ئې دُعا اوكړه. شيخ د هغه نه تپوس اوكړو، آيا ستا واده شوې دې؟ هغه په جواب كښې اووئيل چه نه دې شوې. بيا ئې ترې تپوس اوكړو چه آيا نِكاح كول غواړې؟ جينئ د قرآن مجيد تلاوت كوي، د نمانځه او روژو پابندي هم كوي او نيكه هُم ده. هغه اووئيل چه ما له به چرې څوك لور راكړي! شيخ ورته اووئيل چه زه ئې دركووم دا يو څو دِرهمه واخله د يو دِرهم ډوډئ د يو دِرهم اِنګولې او د يو دِرهم خوشبو راوړه. دغسې شاه كِرماني رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه د خپلې نيكې لور نِكاح د هغه سره اوكړه. **ناوې** چه كله د **هلك** كور ته راواده شوه نو هغې اوليدل چه د اوبو په كُوزه د پاسه يوه **ډوډئ** پرته وه. هغې تپوس اوكړو چه دا ډوډئ ولې پرته ده؟ **هلك** اووئيل چه دا پرونئ پاتې شوې ډوډئ ده ما د روژه ماتې د پاره ساتلې ده. دا ئې چه واوريدل نو هغه بيرته روانه شوه. **هلك** اووئيل چه ما ته معلومه وه چه د شيخ شاه كِرماني رَحمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه شهزادګۍ زما غريب

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كَنزُ العُمّال)

انسان په كور كښ نه شي اوسيدې. **ناوې** اووئيل چه زه ستاسو د غريبئ په وجه نه، بلكه ځكه ځم چه په **رَبُّ الْعٰلَمِين** عَزَّوَجَلَّ ستاسو يقين ډير كمزورې ښكاري ځكه خو د صبا د پاره ډوډئ ساتئ، زه خو خپل پلار ته حيرانه يم چه هغوئ تاسو ته پاك خصلته او صالِحه ښځه اووئيل! **هلك** چه دا واوريدل نو ډير شرمِنده شو او هغه اووئيل چه د دې كمزورئ معافي غوارم. **ناوې** اووئيل، خپله معافي د ځان سره اوساته البته زه په داسې كور كښ نه شم پاتې كيدې چرته چه د يو وخت خوراك ساتلې كيږي، اوس به يا زه په دې كور كښ پاتې كيږم او يا دا ډوډئ. هلك فوراً هغه ډوډئ خيرات كړه او د داسې بُزرګې **شهزادګئ** په خاوند جوړيدو ئې د اللّٰه **تعالیٰ** شُكر ادا كړو. (روض الرِّياحِين ص ١٠٣) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئ رحمت وي او د هغوئ په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! تاسو اوليده! د مُتَوَكِّلِينو [يعني په الله عَزَّوَجَلَّ باندې د تَوَكُّل كوونكو] څومره ښكلي اداګانې وي. د شهزادګئ كيدو باوجو داسې زبردست **تَوَكُّل** چه د صبا د پاره ډوډئ اينښودل ئې قطعاً برداشت نه كړل! دا ټول د يقينِ كامِل سپرلي دي چه كوم الله عَزَّوَجَلَّ راباندې نن **اوخوړله** هغه صبا هم په راكولو يقيناً قادِر دې. ځناور او مرغۍ وغيره ګنې د ځان د پاره خوراك ساتي! د يو وخت

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

خوړلو نه پس د بل وخت د پاره ساتل د هغوئي په فِطرت کښې هډو شته نه دې. د چرګې تَوَکُّل ته اوګورئ، هغې ته چه اوبه کيښودې شي نو د څښلو نه پس په پيالئ ښپه کيږدي او اوبه واړوي. لکه دا چه يوه **خاموشه مُبَلِّغه** ده! او مونږ ته نصيحت کوي چه اے خلقو! د کلونو روزي درسره جمع ده بيا هم زړه نه صبريږي! او زه چه يو ځل اوڅښم نو د بيا د پاره بې فِکره شم چه چا راباندې اوس اوڅښلې هغه به ئې راباندې بيا هم اوڅښي.

## ﴿۷۸﴾ د امام بُخاري اُستاذ

د **حضرتِ** سيِّدُنا اِمام بُخاري رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه اُستاذ حضرتِ سيِّدُنا **قُبيصه** بِن عُقبه رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه سره د ملاقات د پاره يو ورځ د کوهستاني علاقې شهزاده د خپلو خادِمانو سره حاضِر شو. هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه د کور نه په راوتلو کښې ډير وخت واغستو. په دې وجه د هغه خادِمانو غږ اوکړو چه **محترمه**! ستاسو رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه دروازې ته د **مَلِكُ الجَبَل** (يعني د غر د بادشاه) شهزاده ولاړ دې او تاسو د کور نه نه را اوځئ! دا ئې چه واوريدل نو حضرتِ سيِّدُنا قُبيصه رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیۡه **د اوچې ډوډئ يو څو قطرې** راواخستې او بَهر ئې تشريف راوړو، هغه قطرې ئې هغوئي ته اوښودلې او اوئې فرمائيل، چا چه په دُنيا کښې صرف په دومره [روزئ] صبر کړې وي او راضي شوې وي د هغه د **مَلِكُ الجَبَل**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

(يعني د غر د بادشاه) سره څه کار دې؟ قسم په خُدائے عَزَّوَجَلَّ زه به د ده سره خبرې هم اونکړم. دا ئې اوفرمائيل او دروازه ئې بنده کړه. (تذكرةُ الحُفّاظ ج١ ص٢٧٤) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په قناعت کښې عِزَّت دې

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** ځوك چه سادګي اختيار کړي او په ساده خوراك او ساده لِباس باندې قناعت [يعني صبر] کوي، هغه ته نه د دولت حاجت وي او نه د دولتمندو. د مال لالچ بنه نه وي، ځوك چه په دې کښې اخته شي هغه په نقصان کښې وي، ځوك چه لالچي وي هغه کله هم نه مړيږي، هغه هر وخت د مال ګټلو په سوچونو کښې اخته وي، تر دې چه مرګ ئې راشي. چنانچه حضرتِ سيِّدُنا علیُّ الْمُرتَضٰی شيرِخُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم فرمائي: عَزَّ مَنْ قَنَعَ وَذَلَّ مَنْ طَمَعَ چا چه قناعت اوکړو هغه عِزَّت اوموندو او چا چه لالچ اوکړو هغه ذليله شو." (روحانی حِکایات حِصّه اوّل ص١٠٦، رومی پپلیکیشنز مرکزُ الاولیاء لاهور)

## دُنيا پريږده

د حضرتِ سيِّدُنا اَبُو هُريره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ بيان دې چه نبئِ رَحمت، تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما ته اوفرمائيل: اے اَبُو هُريره (رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالعُمّال)

چه کله ته ډېر اوربې شې نو په يوه ډوډۍ او د اوبو په يوه پياله باندې ګُزاره کوه او وايه چه زه دُنيا او اَهلِ **دُنيا** [يعني دُنيا والا] **پرېږدم**.

(الکامل فی ضعفاء الرجال ج٨ ص ١٨٣)

## د نورو خلقو د مال نه مايوسه شئ

د **حضرتِ** سَيِّدُنا ابو ايُّوب اَنصارِى رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې چه د ګلِـى يو سړي د سرکارِ مَدِينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خِدمَت کښې حاضِر شو او عرض ئې اوکړو، **يارَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ما ته يو **مُختصَر** وَصِيَّت اوکړئ! اوئې فرمائيل: ”چه کله نمونځ کوې نو د ژوند آخِري نمونځ (ئې ګنړه) او هيڅ کله داسې خبره مه کوه چه د هغې نه ته صبا مَعذِرت کوې او د خلقو سره چه څه دي د هغې نه نااُمِّيده شه.“

(سُنَن اِبنِ ماجه ج٤ ص ٤٥٥ حديث ٤١٧١)

## د چا مال نه اغستلو کښې خير دې

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د نورو د مال په اَسره اوسيدل چه هغه زما سره ډېر **مَحبّت** کوي، ځکه ما ته هر وخت پيشکش هم کوي او وائي چه کله ضرورت شي نو وايه. ځکه چه کله ضرورت شو نو د هغه نه به ئې اوغوارم، اِنکار به نه کوي وغيره هسې تش [يعني بيکاره] اُمِّيدونه دي ځکه چه د انسان زړه بدليږي. ياد ساتئ! چه ”ورکولو والا“ اِنسان د ”اَغِستلو والا“ نه نه مُتاثِّره کيږي البَتَّه که څوک

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (ترمِذی)

درکولو د پاره درشي او تاسو ئې قبول نه کړئ نو ضرور به مُتاثره شى. حُجَّةُ الْاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالى رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نقل کوي: عَيش د يو څو ساعتونو دې چه تير به شي او په يو څو ورځو کښې به حالت بدل شي. په خپل ژوند کښې قَناعت اِختِيار کړه، راضي به اوسيږې. او خپل خواهِش پريږده، په آزادۍ به ژوند تيروې. ډير ځله مرګ د سرو زرو، ياقوتو او د ملغلرو په وجه (د ډاکوانو په ذريعه) راځي. (اِحياءُ العُلوم ج۳ ص۲۹۸) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

## چه د هيڅ چا محتاجه نه ئې

حضرتِ سَيِّدُنا محمّد بِن واسِع رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه به اوچه ډوډۍ په اوبو کښې لَمده کړه او خوړله به ئې او فرمائيل به ئې، څوك چه په دې قَناعَت [يعني صبر] کوي هغه به د هيڅ چا نه محتاجه کيږي. (اَيضاًص۲۹۵) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

## خيټه خو يوه لويشت ده

حضرتِ سَيِّدُنا سميط بِن عجلان رَحمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: اے انسانه! ستا خيټه ډيره وړوکې يعني فقط يوه لويشت مُكَعَّب (يعني يو لويشت خلور کوټه) خو ده نو بيا هغه تا دوزخ ته ولې بوځي؟ د يو هوښيار کس نه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښ به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

تپوس اوکړې شو، ستا مال څه دې؟ هغه جواب ورکړو، په **ظاهره** کښ په ښه حالت کښ اوسيدل او په باطِن کښ ميانه روي [يعني درميانه انداز] اِختِيارول او څه چه د خلقو سره دي د هغې نه مايوسه کيدل. (اَيضاًص۲۹۸) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

**د دوارو جهانو د سردار**، زمونږ د بې وسو مددګار آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: "انسان بوډا شي او د هغه دوه خصلتونه ځوان شي د مال حِرص او د عُمر حِرص." (صحيح مُسلِم ص۵۲۱ حديث ۱۰۴۷)

## خيټه به صرف د قبر په خاورو ډکيږي

**د سرکارِ مَدِينه**، سردارِ مَکّه مُکَرَّمه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دې: "که د اِنسان د پاره د مال دوه ناوونه وي نو هغه به د دريم ناؤ خواهش کوي او د اِنسان خيټه خو **صِرف خاوره ډکولې شي** او څوك چه توبه کوي اللّٰهتَعَالٰی د هغه توبه قبلوي." (صحيح مُسلِم ص۵۲۲ حديث ۱۰۵۰)

سیٹھ جی کو فکر تھی اِک اِک کے دس دس کیجیے
موت آ پہنچی کہ مسٹر جان واپس کیجیے

**د شعر ترجَمه:** يعني د مال سره محبت لرونکې انسان د يوې يوې روپۍ نه د لسو لسو روپو جوړلو په فِکر کښ وي، چه ناڅاپه ئې مرګ راشي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰی)

## (۷۹) سل ډوډۍ

**حافِظُ** الحديث حضرتِ سَيِّدُنا حَجَّاج بَغدادی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه چه كله د عِلمِ دِين حاصِلولو د پاره په سفر روان شو نو مور صاحِبې رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْها ئې سل كُلچې (يعني خميره ډوډۍ) د خاورو په يو منګې كښې كيښودې او ورسره ئې كړې. هغوئې د لوئي مُحَدِّث حضرتِ سَيِّدُنا شبابه رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خِدمتِ بابركت كښې حاضِر شو او په عِلمِ حَديث لوستلو كښې مشغول شو. ډوډۍ خو ورله مور صاحِبې وركړې وې. هغوئې د اِنګولې بندوبست پخپله اوكړو او هغه اِنګولې هم داسې وو چه په سوونو ګلونو تيريدو هم هميشه تازه وې او بَرَكت داسې چه په هغې كښې كله هم كمې رانغې. هغه **عجيبه اِنګولې** كوم يو وو؟ [هغه وې د] د دريائے دَجله اوبه. هره ورځ به ئې يوه كُلچه [يعني ډوډۍ] د دريائے دَجله په اوبو كښې لَمدوله او خوړله به ئې. او شپه ورځ به ئې ښه په **محنت** سره سبق لوستلو. چه كله هغه سل كُلچې ختمې شوې نو **مجبوراً** ئې د اُستاذِ **محتَرم** نه رُخصَت واغستلو. (تَذكِرَةُ الحُفّاظ ج۲ ص۱۰۰) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** تاسو اوليدل! پخوانې دور كښې زمونږه عُلمائے كِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی د علمِ دِين حاصِلولو د پاره څنګه څنګه قُربانئ وركړې دي. او آه! يو د نن دور دې چه د اوسيدو او طعام د

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل کړي. (طَبَراني)

سهولتونو سره عِلمِ دِين ښودلې کيږي خو بيا هم خلق د لوستلو د پاره نه تياريږي. په عِلمِ دِين حاصِلولو کښې يقيناً د دواړو جهانونو خيرونه دي. فرض کړئ چه که په يوه مدرسه يا جامِعه کښې مو د مُستقِل داخِلې ترکيب نه شي جوړيدې نو د **دعوتِ اسلامي** په يوه **مَدَنی تربِيَّت گاه** کښې کم از کم د ٦٣ ورځو مَدَنی تربِيَّتی کورس اوکړئ. د مَدَنی تربِيَّتی کورس هم څه ښکلي سپرلي دي، چنانچه

## (٨٠) د اِلرجئ مرض مې ښه شو

د يو اسلامی ورور څه داسي بيان دې: "زما د **اِلرجئ**[1] بيماري وه په غرمو او يخنئ کښې به را ته ډير تکليف کيدو او چه کله به باران وو نو هغه وخت به زه د درد د زيات والي په وجه په ډير زيات تکليف کښې ووم. ما ته يو عاشِقِ رسُول د **دعوتِ اسلامي** په مَدَنی ماحول کښې د **مَدَنی تربِيَّتی کورس** کولو مشوره را کړه. لِهٰذا په **عالَمی مَدَنی مرکز فيضانِ مدينه بابُ المَدينه** کراچئ کښې مې په ٢٩ نومبر ٢٠٠٤ء باندې شروع کيدونکي د ٦٣ ورځو **مَدَنی تربِيَّتی کورس** کښې داخله واخسته. **زه حيران يم چه د څو څو ډاکټرانو نه د علاج کولو او د ښه ډير مال خرچ کولو باوُجود زما د اَلرجئ کومې سختې بيمارئ چه د ډيرې مودې نه د**

[1] د اِلرجئ يو قِسَم دا دې چه د موسم د مختلفو اثراتو په وجه د بدن په څه حِصَّه درد راځي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړيږم. (شُعَبُ الاِيمان)

ختميدو نوم نه اغستو هغه د عاشِقانِ رسُول په صُحبَت کښې د اوسيدو او د ٦٣ ورځو مَدَنی تربِيَّتی کورس کولو په بَرَکت لرې شوه."

دعوتِ اسلامی کی قیّوم، دونوں جہاں میں مچ جائے دھوم
اِس پہ فِدا ہو بچّہ بچّہ یا اللہ مری جھولی بھردے

د شعر ترجَمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ دعوتِ اسلامي په دُنيا کښې عام او په آخِرت کښې قبول کړې، هر يو د دې عاشق کړې، يا الله عَزَّوَجَلَّ زما مُراد پوره کړې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## تربِيَّتی کورس څه څيز دې؟

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د عاشِقانِ رسُول د صُحبتونو نه ډك د ٦٣ ورځو تربِيَّتی کورس د آخِرت د پاره دومره فائده مند دې چه په دې کښې چه څه زده کيږي د هغې د تفصيلاتو د معلوميدو نه پس به شايد چه د دِين درد لرونکې هر مُسلمان دا خواهِش کوي چه کاش! ما ته هم د ٦٣ ورځو تربِيَّتی کورس کولو سعادت حاصِل شي، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د بابُ المَدِينه [کراچئ] نه علاوه په نورو ښارونو کښې هم د تربِيَّتی کورس سِلسِلې جاري وي. په دې کښې ځينې هغه عُلوم حاصِليږي چه د هغې زده کول په هر عاقِل بالِغ مُسلمان باندې فرض دي. د عِلمِ دِين حاصلولو بيشميره فضائل دي، چنانچه د نَبِیّ مُکَرَّم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارَك دې: "چا چه (د دِين) عِلم حاصل کړو نو دا د هغه د تيرو شوو ګناهونو کفّاره شوه." (جامِع ترمِذی ج٤ ص٢٩٥ حديث ٢٦٥٧)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په ترِبيَّتي کورس کښې د اودس او غُسل نه عِلاوه د نمونځ عملي طريقه ښودلې کيږي، مړي ته د غُسل ورکولو، د کفن ور اغوستلو، د مړي د خخولو، د جنازې د نمانځه او د اختر د نمانځه ترِبيَّت حاصليږي. د **مَدَنی قاعدې** په ذريعه د صحيح مخارجو [يعني د صحيح ادائيګۍ] سره د قرآني حروفو د ادا کولو تعليم ورکول کيږي او د قرآنِ کريم د آخِري **شلو سُورتونو** د حِفظ کولو ترکيب او د **سُوْرَةُ الْمُلْك** مشق ورکولې کيږي. د قرآنِ کريم د زده کولو د فضائلو به څه وائې! چنانچه

## ماشومانو ته د ناظِرهٔ قرآن ښودلو فضيلت

د **دوارو جهانونو د سُلطان** خوږ خوږ نبی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د رحمت نه ډك فرمان دې: ”څوك چه خپل ځوئ ته ناظِرهٔ قرآن زده كړي د هغه تير شوي او راروان [تول] ګناهونه اوبخښلې شي.“ (مَجمعُ الزَّوائد ج ۷ ص ۳٤٤ حديث ۱۱۲۷۱) د **رَحمَتِ عالَم** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: څوك چه په ځوانئ كښې قرآن كريم زده كړي، قرآن د هغه په غوښه او وِينه كښې پيوست شي او څوك چه دا په بوډا والي كښې زده كړي او د هغه نه قرآن بيا بيا هيريږي او د هغې باوُجود هغه، هغه نه پريږدي نو د هغه د پاره دوه اجره دي. (كنزُ العُمّال ج ۱ ص ۲٦۷ حديث ۲۳۷۸)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

# په تربِیَّتی کورس کښې اَخلاقی تربِیَّت

په تربِیَّتی کورس کښې د **اَخلاقی** تربِیَّت په حقله په دې موضوعاتو باندې خاصه تَـوَجُّه ورکولې کیږي: (۱) رِښتیا وینا (۲) نَرمي (۳) صبر(٤) عاجِزی (٥) معاف کول او درګزر کول (٦) د خبرو کولو انداز (۷) د غِیبَت تباهیانې (۸) په کور کښې د مَدَني ماحول جوړولو طریقه وغیره. د **مَدَنی قافِلې** په جَدول باندې د عمل کولو سره د مَدَني قافِلې د تیارولو طریقه، درس، بیان، د **نیکۍ د دعوت** علاقائی دوره، او خاص طور د دعوتِ اسلامي په مَدَنی کارونو کښې ډیر اهم کار د ”**اِنفِرادی کوشش**“ انداز او د **مَدَنی اِنعاماتو** د عمَلی طریقې تعلیم ورکولې کیږي. د تربِیَّتی کورس په دوران کښې په وقفه وقفه درې څله د درې درې ورځو او د ختمیدو نه مخکښې د **دولسو ورځو** د **عاشِقانِ رسُول** په **مَدَنی قافِله** کښې د سفر کولو سعادت هم نصیب کیږي. د دولسو ورځو د مَدَنی قافِلې نه په بیرته راتلو یوه ورځ د **اِمتِحان د تَیارئ**، په دویمه ورځ **اِمتِحان** او په دریمه ورځ په **اَلوَداعی دُعا** او صلوٰۃُ سلام باندې د ٦۳ ورځو تربِیّتی کورس ختم شي. د تربِیّتی کورس چه کوم حالت بیان کړې شو د دې نه علاوه هم پکښې ډیر څه زده کیږي. او اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ د **عاشِقانِ رسُول د صُحبَت نِعمَت هم پکښې نصیب کیږي. اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ د تربِیّتی کورس په بَرَکت ډیر وران کاري**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښكُلي كړئ ځكه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

خلق نمونځ ګزاره او ښه مُسلمانان جوړ شي او رُخصت شي او په مُعاشره كښ د عِزّت مقام مومي. لِهٰذا چا ته چه موقع وي هغه له ضرور د تربِيّتى كورس په ذريعه عِلم حاصلول پكار دي. د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خوږ نبي صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عبرت نه ډك ارشاد دې: په ورځ د قِيامت به د ټولو نه زيات پښيمانه هغه كس وي چا ته چه په دُنيا كښ د (دِينى) علم حاصلولو موقع حاصله شوي وه خو هغه حاصل نه كړو او هغه كس به هم [پښيمانه] وي چا چه عِلم حاصِل كړې وو او د هغه نه په اوريدلو ترې نورو خو فائِده اوچته كړه خو هغه (په خپل علم باندې د عمل كولو په ذريعه د خپل عِلم نه) فائِده اوچته نه كړه.

(الجامع الصغير ص ٦٩ حديث ١٠٥٨)

څوك چه پوره ٦٣ ورځې نه شي وركولې هغه دِ د مَدَنى مركز سره رابطه اوكړي نو د هغوئي د لږو ورځو د پاره هم تركيب جوړيدې شي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (٨١) د يو په بدله كښ لس

د خپل دور ابدال، حضرتِ سَيِّدُنا ابو جعفر بِن خَطّاب رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي، زما په دروازه يو سوالګر غږ اوكړو، ما د خپلې بى بى نه تپوس اوكړو، ستا سره څه شته؟ جواب ئې راكړو: څلور اګـۍ دي. ما ورته اووئيل چه سوالګر ته ئې وركړه. هغوئي هغه [اګـۍ] سوالګر ته وركړې.

سوالګر اګــۍ واخستې او لاړو. لږ ساعت چه تير شو نو زما يو دوست ما له د اګو يوه ډکه ټوکرئ را اوليږله. ما د کور والؤ نه تپوس اوکړو چه په دې کښې ټولې څو اګــۍ دي؟ هغوئي اووئيل ديرش. ما اووئيل چه تا خو فقير ته څلور اګــۍ ورکړي وې دا ديرش په کوم حساب راغلې! اوئې وئيل چه ديرش اګــۍ روغې دي او لس اګــۍ ماتې دي. حضرتِ سَيِّدُنا شيخ عَلَّامه يافِعی يَمَنی رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي، ځينې حضراتو د دې حِکايت مُتَعَلِّق دا بيانوي چه سوالګر ته کومې اګــۍ ورکړې شوي وې په هغې کښې درې روغې او يوه ماته وه. ربّ تعالٰی د هرې يوې په بدله کښې لس لس عطا کړې. د روغو په بدله کښې روغې او د ماتو شوو په بدله کښې ماتې شوې. (رَوْضُ الرِّياحِين ص۱۵۱) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

**خوږو خوږو اِسلامی ورونړو!** د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رَحمَت نه قربان شم! هغه خو مسلمانانو ته په آخِرت کښې اجر ورکوي ورکوي خو کله کله ئې په دُنيا کښې هم ورکوي او کله کله چا ته په ښکاره سترګو داسې ښائي هم او دغسې د هغه حوصله زياتوي. څنګه چه تاسو اوس په دې حِکايت کښې واوريدل چه سمدستي د يو په بدله کښې لس چنده اګــۍ ورکړې شوې. اللّٰه تَعَالٰی په سيپاره ۸ سُورَةُ الاَنعَام آيت نمبر ۱۶۰ کښې ارشاد فرمائي:

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِې په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

مَنۡ جَآءَ بِالۡحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشۡرُ اَمۡثَالِهَا ۚ (پ۸، الانعام: ۱۶۰)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: څوك چه يوه نيکي راوړي نو د هغه د پاره د هغې په شان لس [نيکئ] دي.

د دې آيتِ مُبارکه لاندې صَدرُ الافاضِل حضرت علّامه سَيِّد محمّد نعيمُ الدين مراد آبادی رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: يعني د يوې نيکئ کولو والا ته د لسو نيکو جزا [ورکوله کيږي] او دا هم د آخِري حَد په طريقه نه دي بلکه اللّٰه‌تَعَالٰی چه د چا د پاره خومره غواړي د هغه نيکئ زياتوي، يوه [نيکي] ووه سوه چنده کړي يا ئې بې حسابه [بدله] عطا کړي، اصل خبره دا ده چه د نيکو ثواب صِرف په فضل باندې دې.

(خزائنُ العِرفان ص۲٤۱)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۸۲) د اِحسان بدله

حضرتِ سَيِّدُنا شيخ ابوبکر شِبلی رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه يوه ورځ د خپلو خلوېښتو مُريدانو د قافِلې سره د بَغداد شريف د ښار نه بَهر تشريف يوړلو، يو مقام ته چه اورسيدل نو هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه اوفرمائيل: اے خلقو! اللّٰه‌تَعَالٰی د خپلو بندګانو د رِزق کفيل دې، بيا هغوئي د سيپاره ۲۸ سُورةُ الطّلاق د دويم او دريم آيتِ کريمه دا حِصّه تِلاوت کړه:

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

وَ مَنۡ یَّتَّقِ اللّٰہَ یَجۡعَلۡ لَّہٗ مَخۡرَجًا ۙ﴿۲﴾ وَّ یَرۡزُقۡہُ مِنۡ حَیۡثُ لَا یَحۡتَسِبُ ؕ وَ مَنۡ یَّتَوَکَّلۡ عَلَی اللّٰہِ فَہُوَ حَسۡبُہٗ ؕ

(پ۲۸، الطلاق:۲، ۳)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: او څوك چه د الله نه اویَریږي، الله به د هغه د پاره د خلاصي لار اوباسي او هغه ته به د هُغه ځائ نه روزي ورکوي کوم ځائ چه د هغه ګمان [هم] نه وي او څوك چه په الله یقین اوکړي نو هغه د هغه د پاره کافي دي.

د دې فرمائیلو نه پس هغوئی رَحۡمَةُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ خپل مریدان هُم هغلته پریښودل او چرې ئې تشریف یوړلو. ټول مریدان د درې ورځو پورې هم هغلته اوږې پراته وو. په څلورمه ورځ حضرتِ سَیِّدُنا شیخ ابوبکر شِبلی رَحۡمَةُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ بیرته تشریف راوړلو او اوئې فرمائیل: اے خلقو! اللّٰہ تَعَالٰی بندګانو ته د رزق د لټولو اِجازت ورکړې دې. چنانچه په سیپاره ۲۹ سُورةُالْمُلك آیت نمبر۱۵ کښې ارشاد دې:

هُوَ الَّذِیۡ جَعَلَ لَکُمُ الۡاَرۡضَ ذَلُوۡلًا فَامۡشُوۡا فِیۡ مَنَاکِبِہَا وَ کُلُوۡا مِنۡ رِّزۡقِہٖ ؕ

(پ۲۹، اَلْمُلك:۱۵)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِیمان: [الله] هُم هغه دې چا چه ستاسو د پاره زمکه تابِع کړه نو د دې په لارو کښې ګرځئ او د الله (عَزَّوَجَلَّ) د رِزق نه ئې خورئ.

ځکه تاسو په خپلو کښې څوك اولیږئ، اُمِّید دې چه هغه به څه نه څه طعام راوړي. مریدانو یو غریب کس د بَغداد ښار ته اولیږلو،

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

هغه كوڅه په كوڅه ګرځيدلو، خو د رِزق په لاس راتلو څه لار پيدا نه شوه، چه سترې شو نو په يو ځائ كښې كښيناستلو، نِزدې د **يو نصراني طبيب** مَطب [يعني دُكان] وو، هغه طبيب د **نبض** [يعني د رګ د كتلو] ډير زيات ماهِر وو، صِرف د نبض په كتلو به ئې د مريض حال پخپله بنودلو. ټول چه لاړل نو هغه [نصراني طبيب] دا **درويش** هم مريض اوګڼړلو او خپلې خوا ته ئې راوبللو، د هغه نبض ئې اوكتلو بيا ئې ډوډئ او اِنګولې او حلوه راواغوښتل، هغه ته ئې وړاندې كړل او اوئې وئيل: ستا د مرض دا دارو دې. **درويش** طبيب ته اووئيل: دغه شان **څلويښت** مريضان نور هم دي. طبيب د غُلامانو په ذريعه د څلويښتو كسانو د پاره هُم هغسې طعام راواغوښتلو او د درويش سره ئې اوليږلو او پخپله هم وريسې شا ته پټ پټ روان شو. طعام چه كله د حضرتِ سَيِّدُنا شيخ ابوبكر شِبلي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خِدمت كښې حاضِر كړې شو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه **طعام له لاس ور نه وړو** او اوئې فرمائيل، دَرويشانو! په دې طعام كښې خو عجيبه راز پټ دې. طعام راوړونكي درويش ټوله قِصّه اوكړه. شيخ اوفرمائيل: يو **نصراني** [يعني عيسائي] زمونږ سره دومره ښه سُلوك اوكړو، آيا مونږ د دې د څه بدله وركولو نه بغير هُم دغسې طعام اوخورو؟ مريدانو عرض اوكړو، محترمه! مونږه غريب خلق هغه ته څه وركولې شو! حضرتِ سَيِّدُنا شيخ ابوبكر شِبلي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه اوفرمائيل: د خوراك

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمذی)

نه مخكښې خو د هغه په حقّ كښې دُعا كولې شوه! چنانچه دُعا اوكړې شوه. سمدستي د دُعا بَرَكتونه ښكاره شو، او هغه داسې چه نصراني طبيب چه پټ شوې وو او ټولې خبرې ئې اوريدلې د هغه په زړه كښې مَدَني اِنقِلاب راغلو [يعني زړه ئې بدل شو]! هغه فوراً ښځپله د حضرتِ سَيِّدُنا شيخ شِبلى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خِدمت كښې حاضِر شو، توبه ئې اوكړه او كلمۀ شهادت ئې اووئيله او مُسلمان شو او د شيخ په مُريدانو كښې شامِل شو او اوچته درَجه ئې اوموندله. (روضُ الرِّياحِين ص۸۱) د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په بركت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د وَلِي خِدمت رنګ راوړي

خوږو خوږو اسلامى ورونړو! تاسو اوليده! د اوليائے كرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى د نيكۍ د دعوت انداز څومره عجيبه وي! د هغوئې خِدمت كولو والا كله هم خالي لاس نه ځي. دا هم معلومه شوه چه څوك د يو چا سره ښه سُلوك اوكړي نو هغه ته دُعاګاني كول پكار دي. كه يو كافِر هم په چا اِحسان اوكړي نو د هغه په حقّ كښې د هِدايت دُعا كول پكار دي. د حضرتِ سَيِّدُنا شيخ شِبلى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه او د هغوئې د مريدانو دُعا قبوله شوه او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغوئې خِدمت كوونكي نَصراني طبيب ته د اِيمان دولت نصيب شو.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

دعائے ولی میں وہ تاثیر دیکھی
بدلتی ہزاروں کی تقدیر دیکھی

د شعر ترجَمه: په دُعا کښې د ولي مې دې ليدلې دا تاثِير
کړو بدل ئې د زرګاؤ خلقو تقدِير

## د يوې نوړئ په سبب درې کسان جَنَّتيان

هغه نصراني طبيب هغه کس مِسکين اوګنړلو او طعام ئې ورته وړاندې کړو او د اِيمان نِعمَت ورته حاصِل شو، نو که يو مُسلمان هم په چا مِسکين طعام اوخوري نو هغه هم د جَنَّت حقدار جوړيدې شي. چنانچه د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: يوه نوړئ ډوډئ او يو مُوټې خُرمې (يعني کجورې يا چوارې) او د دې په مِثل څه بل څيز چه په هغې مِسکين ته نفع [يعني فائِده] اورسيږي، د هغې په وجه اللّٰه تَعَالٰی درې کسان جَنَّت ته داخلوي، يو د کور خاوند چا چه حُکم ورکړو، دويمه زَوجه [يعني د هغه ښځه] چه هغه تياروي، دريم خادِم چه مِسکين ته ئې ورکوي بيا خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ثنا ده د اللّٰه تَعَالٰی د پاره چا چه زمونږه خادمان هم [محرومه] نه دې پريښودې. (اَلمُعجَمُ الاَوسط للطبرانی ج ٤ ص ٨٩ حديث ٥٣٠٩)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

په نورو د طعام خوړلو د فضيلتونو په باره کښې نور پينځه فرامِينِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوګورئ (۱) په تاسو کښې بهتر هغه دې څوك

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما دروډِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

چه په خلقو طعام خوري. (مُسندِاِمام احمد ج۹ ص۲٤۱ حديث ۲۳۹۸٤) (۲) په بخښنه واجِبولو والا كارونو كښې په نورو طعام خوړل او سلام عام كول دي. (مَكارِمِ الاخلاق لِلطّبرانی ص ۳۷۵ حديث ۱۵۸) (۳) تر څو پورې چه د بنده دسترخوان خور وي، فِرښتې په هغه باندې رَحمَتونه نازلوي. (شُعَبُ الاِيمان ج۷ ص ۹۹ حديث ۹٦۲٦) (٤) څوك چه د خپل مُسلمان ورور د لوَږې د ختميدو اِهتِمام [يعني اِنتِظام] اوكړي او په هغه باندې **طعام اوخوري** تر دې چه هغه موړ شي نو اللّٰه تَعَالٰی به هغه [اِنتِظام كوونكې] اوبخښي (مَجمَعُ الزَّوائد ج۳ ص ۳۱۹ حديث ٤۸۱۹) (۵) چا چه په اوږې كس **طعام اوخوړلو**، اللّٰه تَعَالٰی به هغه ته د عرش د سورې لاندې ځائ وركوي. (مَكارِمِ الاخلاق لِلطّبرانی ص ۳۷۳)

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغِ قرآن و سُنَّت د عالَمگير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول كښې د طعام خوړلو د سُنَّتونو او په نورو [خلقو] د طعام خوړلو د سُنَّتونو زده كولو جَذبه نصيب كيږي او بنه ډير عِلمِ دِين حاصليږي او د عاشِقانِ رسُول په بَرَكتونو ډير ځل كافِران هم مُسلمانيږي. چنانچه د اِيمان نه ډكه يوه واقعه واورئ.

## (۸۳) د مَدَنی قافِلې عجيبه مُسافِر

د باندره بمبئ (الـهِند) د يو اسلامي ورور څه داسې بيان دې: ”ما په لاره په روانه كښې د سړك په غاړه څه خلق جَمع اوليدل، چه نِزدې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

ورغلم نو يو ځلمي د يو کِتاب نه څه لوستل او خلقو ته ئې اَورَوَل، په هغه کتاب په واضِحه حُرُوفو فَيضانِ سُنَّت ليکلې شوې وو، زه هم اودريدم، په ما د هغه خبرې ډيرې ښې اولګيدې. د [درس په] ختميدو په هغوئې کښ يو کس پخپله رامخکښ شو او په ډيره مينه ئې راسره مُلاقات اوکړو او اِنفِرادي کوشش ئې راباندې شروع کړو او په ډيره زارئ ئې ما ته د درې ورځو په مَدَنی قافِله کښ د سفر کولو دعوت راکړو، ولې چه د درس الفاظو زما په زړه ډير اثر کړې وو ځکه ما بې اِختياره "آو" اووئيل او په رِښتيا رِښتيا د دعوتِ اسلامي د عاشِقانِ رسُول سره د درې ورځو د پاره د مَدَنی قافِلې مُسافِر جوړ شوم. په مَدَنی قافِله کښ ما ته هغه خوند او مزه حاصله شوه چه بيانولې ئې نه شم. آخِر دا چه هِمَّت مې اوکړو او يو مُبَلِّغ ته مې خپل راز ښکاره کړو چه زه غير مُسلمه يم. د اوسه پورې د کفر په تيرو کښ ورك ووم، ستاسو د درس، اِنفِرادی کوشش او په مَدَنی قافِله کښ ستاسو ښه اَخلاق زما ډير خوښ شو، مهرباني اوکړئ ما مُسلمان کړئ او خپل [ورور] مې [جوړ] کړئ. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ ما توبه اوکړه او کلِمه طَيِّبه مې اولوستله او مُسلمان شوم. دا د دِسمبر 2004ء واقعه ده، د مسلمانيدو او د بيان ورکولو د دې وخته يعني مارچ 2005ء پورې زما صِرف څلور مياشتې شوې دې، ما ګيره پريښودې ده، ټوله

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

ورځ مې د شنې عِمامې تاج په سر کولو معمول جوړ کړې دې او اوس د دعوتِ اسلامي د **عاشِقانِ رسول** سره د سُنّتو د تربِيَّت په مَدَنی قافِله کښې د ٦٣ ورځو د پاره مُسافِر يم."

آؤ اے عاشِقیں، مل کے تبلیغ دیں کافِروں کو کریں، قافِلے میں چلو
سنّتیں عام ہوں، عام نیک کام ہوں سب کریں کوششیں، قافِلے میں چلو

عاشِقانو! راشئ، راځئ تبليغ د دِين
كافرانو ته اوكړئ قافِلو كښې لا ړشئ
سُنَّتونه كړئ عام ، نيك كارونه كړئ عام
ټول دا كوشش اوكړئ، قافِلو كښې لا ړشئ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (٨٤) د بَغداد سوداګر

د **بَغداد** شريف يو سوداګر د اوليائے كِرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی سره ډير بُغض ساتلو. يوه ورځ حضرتِ سَيِّدُنا بشرِحافی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د جُمُعې نمونځ اداكولو نه پس فورًا د جُمات نه اووتلو، چه هغه [سوداګر] اوليدلو نو په زړه كښې ئې اووئيل اوګورئ! دے ته خلق ولي وائي! حالانكه په جُمات كښې پرې ساعت نه تيريږي ځكه خو د نمانځه نه پس فوراً بَهر اووتلو. هغه سوداګر هم دا سوچ او خبرې اوكړې او په هغوئي (رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه) پسې شا ته روان شو. حضرتِ سَيِّدُنا بشرِحافی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د يو تنور نه ډوډئ واخستله او د ښار نه بَهر طرف ته روان شو.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

سوداګر چه دا اوليدل نو نور هم غُصّه شو او اوئې وئيل: دا کس صِرف د ډوډئ د پاره د جُمات نه زر را اووتلو او اوس به د ښار نه بَهر په يو باغ کښې کښيني او خورى به ئې. سوداګر وروستو روان وو او په سوچ کښې ئې دا فِيصله اوکړه چه دا څنګه کښيني او خوراك کول شروع کړي نو زه به ترې تپوس کووم چه آيا ولي داسي وي چه د ډوډئ د پاره د جُمات نه فوراً اُوځي! چنانچه سوداګر وروستو شا ته شا ته روان وو تر دې چه حضرتِ سَيِّدُنا بشرِحافى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه يو کلي ته داخِل شو او يو جُمات ته ئې تشريف يوړلو. هلته يو بيمار سړې ملاست وو، حضرتِ سَيِّدُنا بشرِحافى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د هغه بيمار سر ته کښيناستلو او په خپلو مُبارَکو لاسو ئې په هغه ډوډئ اوخوړله. سوداګر چه دا مُعامَله اوليدله نو حيران شو. بيا د کلي د ليدلو د پاره بَهر اووتلو. لږ ساعت پس چه بيا جُمات ته راغې نو څه ګوري چه مريض خو هلته ملاست دې خو حضرتِ سَيِّدُنا بشرِحافى رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه هلته موجود نه وو. هغه د مريض نه تپوس اوکړو چه هغه چرته لاړو؟ هغه اووئيل چه **بَغداد** شريف ته ئې تشريف يوړلو. سوداګر ترې تپوس اوکړو **بَغداد** د دې ځائ نه څومره لرې دې؟ هغه اووئيل: څلويښت ميله. سوداګر په سوچ کښې پريوتو چه ما ته خو ډېره مشکله شوه چه زه په هغوئې پسې شا ته دومره لرې راغلې يم او د حيرانتيا خبره دا ده

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : خوك چه په ما د **جُمُعي** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (کنزُ العُمّال)

چه په راتلو كښې هډو پوهه نه شوم خو اوس به بيرته څنګه ځم؟ بيا هغه تپوس اوكړو چه هغوئي به بيا كله راځي؟ هغه اُووئيل را روانه جُمُعه. سوداګر مجبوراً هلته حصار شو چه كله جُمُعه راغله نو حضرتِ سَيِّدُنا بشرِحافی رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپل وخت باندې تشريف راوړو او په مريض ئې دوډئ اوخوړله. هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ هغه سوداګر ته اووئيل، ته ولې په ما پسې شا ته شا ته راغلې وې؟ سوداګر په عاجِزئ سره عرض اوكړو: جناب! زما نه غَلَطي شوي ده! اوئې فرمائيل: پاڅه او په ما پسې شا ته شا ته راځه. چنانچه هغه [سوداګر] په هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ پسې شا ته شا ته را روان شو او په لږ ساعت كښې بَغداد شريف ته را اورسيدل. د **حضرتِ سَيِّدُنا بشرِحافی** رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ **دا ژوندې كرَامت ئې چه اوليدو نو د بَغداد سوداګر د اوليائے كرامو د بُغض نه توبه اوكړه او د آئِنده د پاره د دې پاكو خلقو د زړه نه عقِيدت مند جوړ شو.** (رَوضُ الرِّیاحین ص ۱۱۸) **د اللہ عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بركت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

## خبيث ګمان په خبيث زړه كښې

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** د مُسلمان په باره كښې بدګماني حرامه ده. اعلٰی حضرت رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نقل فرمائي: "خبيث ګمان په خبيث زړه كښې پيدا كيږي." (فتاوٰی رضویه ج۲۲ ص۴۰۰) خاص طور الله والؤ ته كله هم

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

په سپك نظر نه دي كتل پكار. د دې پاكو خلقو په كارونو كښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ رضا او اخلاص وي او د دې خلقو په زړونو كښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د مخلوق درد وي او دا پاك خلق د ورځو سفر په يو ساعت كښې كوي. كله كله د **بدګمانۍ** سزا په دُنيا كښې سمدستي هم وركړې شي چنانچه

## (٨٥) د بدګمانۍ سزا

يو ځل په ډېره سخته يخنۍ كښې د حضرتِ سَيِّدُناشيخ **اَبُو الحُسَين نُورى** رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه په خِدمت كښې خدمت ګارې زَيتُونې ډوډۍ او شوده [يعني پـۍ] راوړل. هغه وخت د لاسونو تودولو د پاره نِزدې سكاره پراته وو او هغه سكاره هغوئي اړول را اړول، لاسونه ئې په سكرو تور شوي وو او طعام خوړل ئې شروع كړل، په دې دوران كښې په سكرو كښې اور را پورته شو، او شوده د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه په لاس اوبهيدل. هغې [خدمتګارې] په زړه كښې اووئيل، دا څنګه ولي دي چه د صفائي خيال نه ساتي! بيا د څه كار د پاره چه د حضرت د كور نه كله بَهر اووتله نو ناڅاپه يوې زنانه هغه اونيوله او اوئې وئيل، تا زما د **جامو پنډوكي** غلا كړې دي او هغه ئې د كوتوال خوا ته په راښكودو راښكودو بوتله. حضرتِ سَيِّدُنا **شَيخ نورى** رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندي درود شريف لولىٔ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

چه خبر شو نو کوتوالئ ته ئې د سفارش د پاره تشريف يوړلو. کوتوال اووئيل: زه دا څنګه پريږدم څکه چه په دې باندې د غلا اِلزام دې! په دې کښې يوې وِينزې هغه د **جامو پنډوکې** راوړو او حضرت هغه جامې د هغې مالِکې ته حواله کړې او زَيتونې ته ئې اوفرمائيل: آئِنده به **بدګماني** کوې چه وَلِـيُّ الله څنګه ناصفا وي! زَيتونې اووئيل: ما ته د **بدګمانئ سزا** را اورسيده د آئِنده د پاره مې توبه ده. (رَوضُ الرِّياحين ص١٣٦) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

## بدګمانی حرامه ده

**خوږو خوږو اسلامی ورونړو!** تاسو اوليدل! د بدګُمانئ سمدستي سزا ورکړې شوه که په دُنيا کښې سزا ور نه کړې شي نو بيا هم مونږ ته د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه يَريدل پکار دي څکه چه په **مُسلمان باندې بدګماني کول حرام دي**، اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نقل کوي: ”خَبِيث ګمان په خبِيث زړه کښې پيدا کيږي.“

(فتاوٰی رضويه ج٢٢ ص ٤٠٠ رضا فاؤنڈيشن مرکزُ الاولياء لاهور)

په سيپاره ١٥ سُوْرَۃُ بَنِیۡ اسرائيل آيت نمبر٣٦ کښې د اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰى د عِبرت نه ډك ارشاد دې:

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ؕ اِنَّ السَّمْعَ وَ الْبَصَرَ وَ الْفُؤَادَ كُلُّ اُولٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔوْلًا ﴿۳۶﴾

(پ ۱۵، بنی اسرائیل: ۳٦)

مفهوم ترجمة كنزُالاِيمان: او په هٰغه خبره پسې مه ورپسې کیږه د کومې چه تا ته عِلم نه وي بیشکه غوږ او سترګې او زړه د دې ټولو نه به تپوس کیږي.

په سيپاره ٢٦ سُوْرَةُ الْحُجُرات کښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ارشاد دې:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اجْتَنِبُوْا كَثِيْرًا مِّنَ الظَّنِّ ۫ اِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ اِثْمٌ

(پ ٢٦، الحُجُرات:١٢)

مفهوم ترجمة كنزُالاِيمان: اے اِيمان والو د ډيرو ګمانونو نه بچ اوسئ بيشکه ځينې ګمان ګناه شي.

په يوه موقع باندې حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په يوه خبره باندې اِرشاد اوفرمائيلو: "آيا تا د هغه زړه څيرلې وو او کتلې وو چه تا ته عِلم شوې وې." (ابوداؤد ج٣ ص ٦٣ حديث ٢٦٤٣)

نور فرمائي: صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د بدګمانئ نه ځان ساتئ ځکه چه ګمان کول د ټولو نه دروغ خبره ده. (صحيح بُخاری ج٣ ص ٤٤٦ حديث ٥١٤٣)

## (٨٦) چه څوك په ژړا اووينئ نو تاسو هم په ژړا شئ

حضرتِ سَيِّدُنا مَکحول دِمشقی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي، چه کله څوك په ژړا اووينې نو د هغه سره ته هم په ژړا شه، بدګُماني مه کوه چه دا رِياکاري کوي. يو ځل د يو ژړيدو والا مُسلمان په باره کښې ما

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکۍ ليکي. (ترمِذِی)

بدگُماني کړي وه نو د هغې په سزا کښې زه ټول کال د ژړا نه **محرومه** شوې ووم. (تَنبِيهُ المُغتَرّين ص١٢٢)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٨٧) د نهو کافِرانو اِسلام قبلول

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغِ قرآن و سُنَّت د عالَمګير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د **مَدَنی قافِلو** هم څه ښکلي سپرلي دي. د دې په بَرَکت چه څنګه د وران کارو مُسلمانانو اِصلاح کيږي دغسې کافرانو ته هم د اِسلام قبلولو سعادت نصيب کيږي، چنانچه د يو مُبَلِّغ بيان دې چه ما تقريباً پينځه کاله مخکښې د خپل کالج د کلاس يو ملګرې **کافِر استوډنټ** [يعني طالبِ علم] ته او د هغه دوستانو ته د مَکْتَبَةُ الْمَدِیْنَه نه د يٰسين شريف د تلاوت او د هغې د کَنزُالْاِيمان د ترجَمې کيسټ او د سُنَّتو نه د ډکو بيانونو يو څو کيسټې او يو څو رسالې وغيره په تُحفه کښې ورکړې وې. په 5 جنورې 2006ء کښې د **عاشقانِ رسُول** سره د سُنَّتو د تربيت په **يوه مَدَنی قافِله** کښې ما ته د **سَکرَنډ** (بابُ الاِسلام سندھ) د سفر کولو سعادت نصيب شو. هلته مې د هغه **کافِر کلاس فيلو** [يعني د کلاس ملګرې] سره مُلاقات اوشو. د هغه ټولګې هم د هغه سره وو او دا ټول پينځلّس کسان وو. ما د هغه نه د کيسټو په باره کښې تپوس اوکړو، هغه اووئيل چه د يٰسين شريف

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

تِلاوَت او د تَرجَمې اوريدلو سره ما ته دومره سکون نصيب شو چه د دې نه مخکښې راته کله هم په ژوند کښې نه وو حاصل شوې. د هغې نه پس مې دا معمول جوړ کړې دې چه په هر رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د جُمات نه بَهر کښينم او په اِسپيکر باندې په تراويح کښې کيدونکې تلاوت اورم. او ما د بيانونو کيسټې واوريدې او رِسالې مې اولوستلې، هغې زما په زړه ډير زيات اثَر کړې دې. د مُبَلِّغ وَينا ده چه ما هغه ته د اِسلام دعوت ورکړو، هغه د اِسلام نه ډير مُتاَثِّره شوې وو خو د مُسلمانيدو د پاره تيار نه وو. ما د ډير وخته پورې په هغه او د هغه په دوستانو باندې **اِنفِرادی کوشش** کولو، آخِر دا چه کاميابي نصيب شوه. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ سمدستې **نهه کافِران مسلمانان** شو او نورو اووئيل چه مونږه به سوچ کوو.

آؤ عُلَمائے دیں، بہرِ تبلیغ دیں
مل کے سارے چلیں قافِلے میں چلو
دور تاریکیاں کُفر کی ہوں میاں
آؤ کوشِش کریں قافِلے میں چلو

راشئ عُلمائے دِين، تبليغ اوکړو د دِين
په شريکه ټول راځئ قافلو کښې لاړ شئ
دا د کُفر تيَرې، تولې به شي لرې
راشئ کوشش اوکړئ قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلٰی)

## (٨٨) ثَريد او خوندوره غوښه

**حضرتِ** سَيِّدُنا شيخ عَلّامه يافِعِي يَمَنی رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: د سفر په دوران کښې زمونږه قافِله يو کِلي ته اورسيدله، يو کس د کلي والؤ نه ديګچې راوړو او په هغې کښې ئې حلوا پخه کړه او ټولو په شريکه اوخوړله. د قافلې يو کس موجود نه وو ځکه هغه اونه خوړله. د هغه سره لږ وره وو، وره ئې يوړل او په ټول کلي کښې ئې اوګرځول خو څوك پخولو والا پيدا نه شو. په دې دوران کښې ئې په لاره کښې يو نابينا کمزورې کس اوليدو، هغه د ثواب په نِيَّتِ هُغه وره هغه ته ورکړل (د دې حالت نه دا پته خوندور مطلب اغستل پکار دي لکه حِکمتِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ چه هغه ته دا اووائي چه دا وره د دې کمزورې سړي رِزق دې. او ستا رزق به مونږه په خپل کرم درکړو) د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رَحمَت نه قربان! لږ ساعت پس يو کس راغي او په ټوله قافِله کښې ئې صِرف هغه کس را اوبللو او د ځان سره ئې کور ته بوتلو او **ثَريد** [يعني په ښوروا کښې ماته شوي ډوډۍ] او **خوندوره غوښه ئې پرې اوخوړله.** (مُلَخَّصاً رَوضُ الرِّياحين ص١٥٣) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ معلومه شوه چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په لاره کښې په چا طعام خوړل کله هم نه ضائع کيږي، کله کله په دُنيا کښې هم سمدستي

د دې اَجر [يعني بدله] وركړې شي او د آخِرت د ثواب حقّ هم باقي پاتې وي.

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۸۹) غوښه او حلوا

**يو بُزُرګ** رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه فرمائي، ما په يو جُمات كښې اوليدل چه هلته يو مالدار سوداګر ناست وو او نِزدې يو فقير [يعني غريب سړي] لاس پورته كړي وو او دا دُعا ئې كوله چه، **يااِلٰهی**عَزَّوَجَلَّ! **غوښه او حلوا را باندې اوخورې!** هغه سوداګر چه واوريدل نو اوئې وئيل: "دا فقير په اصل كښې ما ته اورول غواړي. قَسم په خدائےعَزَّوَجَلَّ! كه زما نه ئې غوښتې وې نو ما به پرې خوړلې وې خو اوس ئې **پرې نه خورم**." لږ ساعت پس هغه فقير اوده شو. په دې كښې يو كس په كپړه پټ كړې **پَتنوس** راوړو او مونږه ټولو ته ئې اوكتل د هغې نه پس ئې چه هغه اوده فقير اوليدلو نو **پَتنوس** ئې كيښودو او د هغه خوا ته كښيناستو او هغه ئې راويښ كړو او په ډيره عاجِزئ ئې ورته عرض اوكړو، **غوښه او حلوا** حاضِره ده اوخورئ! فقير د هغې نه لږه اوخوړه او **پَتنوس** ئې بيرته وركړو. هغه سوداګر حيران شو او د دوډئ راوړلو والا نه ئې تپوس اوكړو چه، دا څه قِصّه ده؟ هغه اووئيل زه يو مزدور يم، د يوې مودې نه د كور كسانو د **غوښې او حلوا** خوړلو ارمان لرلو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِیمان)

خو د غَريبئ په وجه ئې نه شوه خوړلې. نن ډېرې ورځې پس راته په مزدورئ کښې يو مِثقال (يعني څلور نيمې ماشې) سره زر راکړې شو نو ځکه غوښه او حلوا تياره کړې شو، زه لږ ساعت اوده شوم، سترګې مې څه پټې شوې چه اوده قِسمَت مې راويښ شو! ما ته په خوب کښې د خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدار نصيب شو زه د خوږ حَبِيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نظارو کښې ورك ووم چه خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم راته ارشاد اوفرمائيلو: "**ستاسو په جُمات کښې يو ولي موجود دې او هغه غوښه او حلوا غواړي، ته دا غوښه او حلوا مخکښې په هغه اوخوره هغه به د خپل خواهِش مطابق اوخوري او** [او پاتې به] **بيرته درکړي او په پاتې شوي کښې به اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **بَرَکت واچوي د دې په بدله کښې به زه تا جَنَّت ته بوځم.**" چنانچه ما فوراً دا طعام راوړو او دلته حاضِر شوم. دا ئې چه واوريدل نو سوداګر اووئيل: په دې طعام باندې ستا څومره خرچه راغلې ده؟ هغه اووئيل، يو مِثقال سره زر. سوداګر اووئيل: زما نه لس مِثقاله سره زر واخله او په دې عَمَلِ خير کښې ما د يو قِيراط حِصّه دار جوړ کړه. هغه اووئيل: هيڅ كله هم نه. سوداګر اووئيل: شل مِثقاله سره زر واخله. هغه اووئيل: هيڅ كله هم نه. سوداګر اووئيل: پَنځوس مِثقاله سره زر واخله. هغه اووئيل، كه د ټولې دُنيا خزانې هم راكړې نو د رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

شوې سودا کښې به زه تا شريك نه کړم، که ستا په قِسمَت کښې دا څيز وې نو ته مخکښې کيدې شوې، خو اللّٰه تَعَالٰی خپل خاص رَحمَت کوي په هٔغه کس چا له چه اوغواړي. (رَوضُ الرِّياحين ص ١٥٣)

**د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**خوږو خوږو اسلامى ورونړو!** تاسو اوليدل! د الله والؤ دا شان دې چه هغوئي د خپل اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په خوښه چليږي او اللّٰه رَبُّ العِزَّت عَزَّوَجَلَّ د هغوئي عرض پوره کوي. او دا هم معلومه شوه چه د خپل فاني دولت په نشه کښې مَست اوسيدو والا او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ بندګانو ته سپك نظر کولو والا د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د فضل او د رسُول صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کرَم نه محرومه کيږي. او دا هم معلومه شوه چه خوږ نَبِی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل پروردګار عَزَّوَجَلَّ په عطا [يعني په ورکړه] په غيبو خبردار دې ځکه خو ئې فقير اوپيژندلو او د خپل يو غُلام قِسمَت ئې راوينښ کړو او هغه ته ئې د جَنَّت زِيرې واورلو او د خِدمت د پاره ئې را اوليږلو.

سرِ عرش پر ہے تِری گزر، دلِ فرش پر ہے تِری نظر
ملکوت و ملک میں کوئی شے، نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں

(حدائقِ بخشش شریف)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

شرحِ كلامِ رضا: يا رَسُولَ اللهِ صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د عرش د پاسه او په فرش يعنې په زمكه كښې دننه هر يو څيز تاسو ته ښكاره دې. دُنيا جهان كښې يو څيز هم داسې نشته چه تاسو صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته ښكاره نه وي.

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! دا هم معلومه شوه چه په يو مُسلمان باندې بدګماني څيني وخت په دُنيا كښې د پښيمانۍ سبب جوړيږي او شرعاً هم په مُسلمان باندې بدګماني كول حرام دي.

## (۹۰) معذوره ماشوم اوګرځيدو!

د ډاكوانو يوه ډله د لوټ مار د پاره اووتله، په دې دوران كښې ئې په يوه مُسافَر خانه [يعني سرائے] كښې شپه اوكړه او هلته ئې دا ښكاره كړه چه مونږه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د لارې مُسافِر يو او د جِهاد د پاره راوتي يو. د مُسافِر خانې مالِك نيك سړې وو هغه د رضائے اِلٰهى عَزَّوَجَلَّ حاصلولو په نِيَّت د هغوئې ښه خِدمت اوكړو. سحر هغه ډاكوان يو طرف ته روان شو، لوټ مار ئې اوكړو او ماښام بيرته هلته راغلل. تيره شپه ئې چه د مسافِرخانې د مالِك كوم څوئ په ښپو داسې معذوره ليدلې وو چه ګرځيدې نه شو هغه نن بې تكليفه ښه سم ګرځيدو! هغوئې په حيرانتيا سره د مُسافِرخانې د مالِك نه تپوس اوكړو چه، آيا دا هغه پرونې معذوره هلك نه دې؟ هغه په ډير اِحترام سره جواب وركړو، آو، دا هغه [هلك] دې، تپوس ئې اوكړو، دا څنګه جوړ شو؟

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

جواب ئې ورکړو، دا ټول ستاسو په شان د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د لارې د مُسافِرو بَرَکت دې، خبره دا ده چه تاسو کوم طعام خوړلې وو د هغې نه چه کوم پاتې شو نو مونږه ستاسو جوټه [يعني خورده] طعام د شِفا په نِيَّت په خپل معذوره ماشوم اوخوړو او په جوټه اوبو مو د هغه بدن مالش اوکړو، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ستاسو په شان د نيکو بندګانو د **جوټه طعام او جُوټه اوبو** په بَرَکت زمونږه معذوره ماشوم ته شِفا ورکړه. چه ډاکوانو دا واوريدل نو د هغوئي د سترګو نه اوښکې رواني شوې، په ژړا ژړا کښې هغوئي اووئيل، دا ټول ستا د نيك ګُمان نتيجه ده ګني مونږه سخت ګنهګار خلق يو، واوره مونږه د خدائے د لارې مُسافِر نه يو، بلکه ډاکوان يو، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دې کَرَم نوازئ زمونږه د زړونو دُنيا په بل مخ واړوله، مونږه تاسو ګواه جوړوو او توبه کوو. چنانچه هغوئ توبه اوکړه او د نيکئ لار ئې اِختيار کړه او د مرګه پورې په توبه ثابت قدم پاتې شو. (کِتابُ القَلیُوبی ص۲۰) **د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د مُسلمان په جُوټه کښې شِفا ده

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو اوليده! د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رَحمَت ځنګه سپرلي دې! دا هم معلومه شوه چه په مُسلمان باندې د نيك ګُمان

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

هم برکتونه وي. دا هم معلومه شوه چه د **مُسلمان په جُوټه کښې شِفا ده.** دا هم معلومه شوه چه د بَرَکت حاصلولو د پاره عقيده پخه ساتَل پکار دي. چه د کچه يقين والا نه وي. مثلاً که دا سوچ کوي چه معلومه نه ده چه د فُلاني بُزُرګ يا د فُلاني وَلِـيُّ الله په مزار حاضريدو به څه فائده اوشي او که نه، وغيره. نو داسي کس برکتونه نه شي حاصلولې. او د برکتونو د موندلو څه نيته نه وي معلومه. د خپل خپل تقدير خبره ده چا ته فوراً برکتونه حاصِل شي او د چا په کلونو کار نه کيږي. که کار کيږي او که نه **يك درګيرو محكم ګير** "يعنى يوه دروازه اونيسه او مضبوطه ئې اونيسه" د دې مِثال مطابق [د اولياءِ کرام په در کښې] پروت اوسيدل پکار دي.

کوئی آیا پا کے چلا گیا کوئی عُمر بھر بھی نہ پا سکا
مِرے مولیٰ تجھ سے گلہ نہیں یہ تو اپنا اپنا نصیب ہے

**د شعر ترجَمه:** څوك راغې او د راتلو سره ئې خپله حِصّه اوموندله او لاړو او چا ټول عُمر اُو نه موندله، اے زما مولیٰ ستا نه هيڅ ګيله نشته، دا خو د خپل خپل نصيب خبره ده.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (۹۱)فالج وهلې سمدستي جوړ شو

اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ د صلوٰة و سُنَّت عالـمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د رَمَضانُ المُبارَك په آخِرئ عشره

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمذی)

كښ په جُماتونو كښ د **اِجتِماعي اعتِكاف** سلسله وي چه په هغې كښ د **اِعتِكاف كوونكو** د سُنَّتو نه ډك تربِيَّت كيږي. د مُعاشرې ډير وران كاري كسان د اِعتكاف په دوران كښ د ګناهونو نه توبه كوي او د ژوند يو نوې دوَر شروع كوي. ځيني وخت د رَبِّ كائنات عَزَّوَجَلَّ په فضل و كرم اِيمان تازه كوونكي نظارې هم ښكاره شي چنانچه د رَمَضانُ المُبارَك ١٤٢٥ھ **اِجتِماعي اعتِكاف** كښ د **دعوتِ اسلامي** په **عالَمي مدَنی مركز فيضانِ مدينه بابُ المَدينه كراچۍ** كښ زيات و كم ٢٠٠٠ اعتِكاف كوونكي وو.

په هغې كښ د ضلع چكوال (پنجاب، پاكستان) د **وړه اويا** كالو سپين ګيرې حافِظ محمّد اشرف صاحِب هم په اعتِكاف كښ كښيناستلو. د **حافِظ صاحِب لاس او ژبه فالَج وهلي وو او د اوريدو طاقت ئې هم ختم شوې وو.** هغوئې ډيره مضبوطه عقيده لرله. هغوئې يو ځل په روژه ماتي كښ په ډير نيك ګمان د يو **مُبَلِّغ نه جوټه طعام واخستلو او اوئې خوړلو،** په هغه ئې ځان هم دَم كړو، بس د هغوئې **نيك ګمان** كار اوكړو، د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ رَحمَت په جوش كښ راغي او اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغه ته شِفا وركړه. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه د فالَج مرض ختم شو. هغه د زرګاؤ اسلامي وروڼړو په موجودګۍ كښ په **فيضانِ مدينه** كښ مَنچ [يعني ستيج] ته اوختلو او په ډير عقيدت ئې د خپل صحت منده كيدو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاځیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا ځیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

زِیرې واورولو، دا ښکلې خبر چه خلقو واوریدو نو په فَضاء کښې د اللّٰه اللّٰه، اللّٰه اللّٰه خوارهٔ خوارهٔ آوازونه خواره شو. په هغه ورځو کښې دا خبر ډیرو مقامي اَخبارونو هم شائع کړې وو.

دعوتِ اسلامی کی قیُّوم دونوں جہاں میں مچ جائے دُھوم
اِس پہ فدا ہو بچّہ بچّہ یا اللہ مری جھولی بھر دے

(وسائلِ بخشش ص ۱۰۹)

د شعرونو ترجَمه: (۱) یا الله عَزَّوَجَلَّ! دعوتِ اسلامي په دُنیا کښې عام او په دواړو جهانو کښې قبول کړې، (۲) یا الله عَزَّوَجَلَّ! لوئ خو څه، یو یو ماشوم هم د دې عاشِق جوړ کړې. یا الله عَزَّوَجَلَّ! زما دا دُعا قبوله کړې.

صَــلُّـوْا عَــلَـی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## سَیِّد نوکر ساتَل څنګه دي؟

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! معلومه شوه چه د عاشِقانِ رسول صُحبت هم د برکتونو نه ډک وي او د هغوئي خورده یعني جوټهٔ طعام هم د شِفا او جوړیدو سَبب دي. اعلٰی حضرت، مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه د ساداتو [یعني د سیِّدانو] د عظمت او د مسلمان د جوټهٔ طعام د برکت متعَلِّق فرمائي: "د سَیِّد زاده نه ذلیل خِدمت اخستل جائز نه دي او په داسې خِدمت باندې هغه نوکر ساتل هم ناجائز دي." په کوم خدمت کښې چه ذِلّت نه وي په هغې ئې نوکر ساتلې شي. د سَیِّد د وهلو نه دِ اُستاذ مکمّل پرهیز اوکړي. پاتې شوه د

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

مسلمان **جوټه**، هغه طعام خوړل څه ذِلّت نه دې. په حديثِ پاك كښې هغې ته شِفا وئيلې شوې ده. (كشف الخِفاء ج۱ ص ۳۸٤ حديث ۱٤۰۳)، هغه كه **سَيِّد صاحِب** اوغواړي نو هغه [جوټه طعام] دِ هغه ته په دې (يعني چه د مسلمان په جوټه كښې شِفا ده، په دې) نِيَّت ورکړې شي، په دې نِيَّت دِ ئې نه ورکوي چه خپله جوټه ورکووم. (از افادات: فتاوٰی رضويه ج۲۲ ص ۵٦۸)

## چه خُدائے ئې ساتي هغه ته څوك نقصان ورکولې شي

**حضرتِ** سَيِّدُنا على بِن حَرب رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بيان فرمائيلې دې چه زه او يو څو ځلمي د مُوصِل [درياب] په غاړه په يوه كِشتۍ كښې ناست وو، كشتۍ چه كله مينځ ته اورسيدله نو يو مهي د درياب نه راټوپ كړو او كشتۍ ته را اوغورزيدو. په خپل مينځ كښې مو مشوره اوكړه او د [مهي] پخولو د پاره مو كشتۍ يوې غاړې ته اودروله، د اور بلولو د پاره مو چه لرګي راغونډول شروع كړل نو په دې دوران كښې مو په شړه كښې يو زړه **درزوونكې منظر** اوليدو، څه ګورو چه پخوانۍ كنډرې او د پخوانو كورونو نښې دې او يو كس پروت دې چه د هغه دواړه لاسونه شا ته تړلې شوي دي او هلته يو بل كس حلال شوې پروت دې. او نزدې يو قچر ولاړ دې او په هغې سامان بار شوې دې. مونږه د تړلي شوي كس نه تپوس اوكړو [چه دا څه معامله ده]. هغه اووئيل: ما د دې حلال شوي كس قچر په كرايه اخستې وو، دې كس

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډېر نِزدې هُغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

زه دلته په دوكه راوستم او زما لاسونه ئې اوتړل او وئيل ئې چه زه تا قتل كووم. ما ورته اووئيل: "د خدائے پاك په خاطر زما د وژلو ګناه په خپل سر مه اخله. بيشكه دا ټول سامان ته واخله ما دا ستا د پاره جائز كړل، زه به هيڅ چا ته د دې ګيله نه كووم." خو هغه پخه اراده كړي وه، او زما د وژلو د پاره ئې په خپله ملا پورې تړلې شوې تِيكې نه **چاړه** راښكوده خو هغه را اُو نه وَتله په دويم ځل هغه [د چړې راوِيستلو د پاره] ډېر زور اولګولو نو هغه **چاړه د جټكې سره يو دَم راخلاصه شوه او د هغه مرئ پرې اولګيده او دغسې هغه پخپله د خپله لاسه حلال شو او په ارغنبتو ارغنبتو مړ شو.** دا مو چه واوريدل نو د هغه لاسونه مو پرانستل، او هغه كس هغه **قچر** او خپل سامان يوړو او د خپل كور طرف ته روان شو. بيا چه مونږه بيرته خپلې كشتئ له راغلو چه هغه مهې را واخلو او پوخ ئې كړو نو هغه بيرته درياب ته دنګلې وو. (رَوضُ الرِّيَاحِين ص ۱۳۹)

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! يقيناً چه خُدائے ئې ساتي هغه ته څوك **نقصان نه شي رسوَلې!** د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د كرم او بې نيازئ هم څه ښكلې شان دې! **ظالِم ډاكو** پخپله د خپله لاسه حلال شو او خپل بد انجام ته اورسيدو. او د تړلې شوې كس د آزادولو د پاره د درياب نه كشتئ ته **مهې** راټوپ كړو او د هغې د پخولو او خوړلو د خواهِش په وجه قافِله

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

غاړې ته راغله خو د هغوئي په قِسمَت کښې مهې خوړل نه ووا هغوئي خو [په اصل کښې] د ترِلي شوي مظلوم بنده د امداد د پاره راغلي وو، [دا خو] د هغه د تړلو لاسونو د خلاصولو د ثواب ګټلو او د قدرت د کرشمې دُنيا ته د ښودلو بهانه وه. ؎

جلوے ترے گلشن گلشن، سَطوَت تری صحرا صحرا
رحمت تری دریا دریا، سُبۡحٰنَ اللّٰه سُبۡحٰنَ اللّٰه (جَلَّ جلالُهٗ)

نظارې دي ستا باغونو کښې دبدبې ستا په صحرا صحرا
رَحمَت ستا دريابونو کښې سُبۡحٰنَ اللّٰه سُبۡحٰنَ اللّٰه (جَلَّ جلالُهٗ)

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۹۳) د روزۍ وسيله

په **مَسجِدُالحرام شريف** (مكّه مُكَرَّمه) کښې به يو **عابِد** (يعني عبادت ګزار کس) ټوله شپه په عِبادت کښې مشغوله اوسيدلو او د ورځې به ئې روژه نيوله، هره ورځ به ماښام يو کس هغه له دوه ډوډۍ راوړې، په هغې به ئې روژه ماته کړه او بيا به د بلې ورځې پورې په عِبادت کښې مشغوله شو. يوه ورځ د هغه په زړه کښې دا خيال راغي چه دا څنګه **تَوَكُّل** دې چه زه خو د يو انسان د ډوډۍ راکولو په ډاډ ناست يم! او د **مخلوق** په **رَزَّاق** عَزَّوَجَلَّ مې [د رِزق راکولو] يقين اونکړو، ماښام چه ډوډۍ راوړلو والا ډوډۍ راوړه نو **عابِد** [قبوله نه کړه او] بيرته ئې ورکړه. دغسې ئې درې ورځې تيرې کړې. چه کله د لوَږې د لاسه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَاني)

ډير تنګ شو نو د خپل **ربّ** عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې ئې فرياد اوکړو. د شپې ئې خوب اوليدو چه دې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې حاضر دې او اللّٰه تَعَالٰی فرمائي، ما چه د خپل بنده په ذريعه څه درليږل هغه تا ولې منع کړل؟ **عابِد** عرض اوکړو، **مولا**! زما په زړه کښې دا خيال راغې چه ستا نه سِوا مې په بل يقين کړې دې. **ربّ تعالٰی** اوفرمائيل، هغه ډوډۍ چا درليږله؟ **عابِد** عرض اوکړو، **يا اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ! هم ته راليږلو والا ئې. حُکم اوشو! چه بيا ئې زه در اوليږم نو بيرته ئې مه ليږه. په هم هغه خوب کښې ئې دا هم اوليدل چه د ډوډۍ راوړلو والا کس د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په دربار کښې حاضِر دې. اللّٰه تَعَالٰی د هغه نه تپوس اوکړو: تا عابِد له ډوډۍ وړل ولې بند کړي دي؟ هغه عرض اوکړو. اے **مالِك** و **مولٰی** عَزَّوَجَلَّ! تا ته ښه معلومه ده. بيا ئې ترې تپوس اوکړو: اے بنده! تا هغه ډوډۍ چا ته ورکولې؟ عرض ئې اوکړو: ما تا ته (يعني ستا په لاره کښې ورکولې) ارشاد اوشو، **ته خپل عمل جاري ساته، زما د طرف نه ستا د پاره د هغې په عِوض** [يعني بدله] **کښې جنَّت دې**. (رَوضُ الرِّياحِين ص ٦٧)

## كه بې غوښتلو وركړې شي نو بيا ....

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! د اللّٰه والؤ انداز څومره ښکلي وي! اللّٰه رَبُّ الْعٰلَمِين جَلَّ جلالُہٗ په عبادت ګزارو بندګانو باندې ډيرې مهربانۍ

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

کوي او د هغوئي د پاره غیبانه سببونه جوړوي. چه د نورو د مال حِرص او طمع نه لري، ورکوونکي اِحسان زباتلو والا نه وي، د چا نه ئې چه قبوله کړي د هغه د زړه د خوشحالیدو اُمّید وي، د ورکولو والا په زړه کښې د اغستلو والا په عِزّت کښې د کمي راتلو اِمکان نه وي. د اخستلو په صورت کښې د ورکولو والا او د بل لیدونکي په نظر کښې [د اغستلو والا] د هیڅ قِسمه ذلیله ګنړلو شك نه وي. غرض دا چه څه شرعي مُمانعت نه وي نو بې غوښتلو چه څه ورکړې شي هغه قبلول پکار دي. چنانچه د حضرتِ سَیِّدُنا خالِد بِن عدی جُهَنِّي رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روایت دې، ما د تاجدارِ رسالَت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه فرمان اوریدلې دې، چا ته چه د هغه د ورور په ذریعه څه څیز بې غوښتلو او بغیر د حِرص نه ور اورسي نو هغه قبلول پکار دي او بیرته ورلیږل نه دي پکار، ځکه چه هغه خو رزق دې کوم چه هغه ته اللّٰه عَزَّوَجَلَّ (د بل چا په ذریعه) رالیږلې دې. (مُسنَد امام احمد ج٦ ص٢٧٦ حدیث ١٧٩٥٨) معلومه شوه چه بغیر د سوال نه که څوك څه څیز ورکړي نو د هغې په اخستلو کښې څه باك نشته، خو چه د هٔغه څیز طرف ته هغه څه حِرص او طمع نه لري. البَتَّه که دا مالدار وي او د ورکولو والا د زړه خوشحالولو د پاره ئې واخستلو، او بیا د اخستلو نه پس هغه ته د هٔغه څیز ضرورت نه وي نو چا ته دِ ئې په تُحفه کښې ورکړي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

يا دِ ئې خيرات كړي، چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا عائِدبِن عَمْرو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دې چه د نبیِ كريم، رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عظيم دې: چا ته چه د دې رزق نه بې غوښتلو يا بغير د حِرصه څه وركړې شي نو هغه د زړه په صِدق قبلول پكار دي او كه مالدار دې نو (قبول دِ ئې كړي او) د خپل نه زيات حاجت مند ته دِ ئې اوليږي.

(مُسند امام احمد ج ٧ ص ٣٦٢ حديث ٢٦٧٣)

## تُحفه يا رِشوت

خوږو خوږو اسلامی وروڼو! په دې كښې څه شك نشته چه تُحفه قبلول سُنَّت دې خو ياد ساتئ چه د تُحفې اَخستلو او وركولو مختلف صورتونه دي، هره تُحفه قبلول هيڅ كله سُنَّت نه دي. حضرتِ سَيِّدُنا اِمام بُخاری رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په خپل ''صحيح بُخاری'' كښې باقاعده يو باب ترلې دې چه د هغې نوم دې، ''بَابُ مَنْ لَّمْ يَقْبَلِ الْهَدِيَّةَ لِعِلَّةٍ'' يعني د هغه كس په باره كښې باب، چه هغه په څه وجه تُحفه قبوله نه كړه.'' په دې باب كښې سَيِّدُنا امام بُخاری رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ تعليق[1] كړې دې، حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُ العزيز رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ فرمائيلي دي: ''د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند مُبارَك كښې خو تُحفه تُحفه وه خو نن صبا رِشوت دې.'' (صحيح بُخاری ج ٢ ص ١٧٤)

[1] يعني د سَنَد په شروع كښې ئې راوي پريښودي وي او حديث ئې بيان كړې وي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## (٩٤) د منږو تال

د دې روايت په شرح کښې حضرتِ عَلّامه بدرُالدِّين عيني حَنَفِي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د حضرتِ سَيِّدُنا فُرات بِن مُسلِم رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په سَند روايت بيانوي چه يو ځل د **حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُالعزيز** رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ ته د منږې خوړلو خواهش اوشو خو په کور کښې څه داسې څيز نه وو چه په هغې ئې منږه اخستې وې. چنانچه مونږه په سورلو سواره شو او د هغوئي سره بَهر اووتلو. د کلي طرف ته څه هلکان ولاړ وو او هغوئي د **منږو تالي** (د تُحفې وړاندې کولو د پاره) راخستې وو. حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُالعزيز رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ يو تال راپورته کړو او بوئ ئې کړو او بيا ئې بيرته ورکړو. ما د دې په باره کښې هغوئي ته عرض اوکړو نو اوئې فرمائيل: ما ته د دې حاجت نشته. ما عرض اوکړو، آيا سَيِّدُنا رَسُولُ الله صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق او سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا به تُحفې نه قبلولې؟ اِرشاد ئې اوفرمائيلو: بيشکه دا د هغوئي (رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا) د پاره **تُحفې** وې خو د هغوئي نه د وروستو حاکمانو (يا د هغوئي د نمائندګانو) د پاره **رِشوت** دې.

(عُمدةُ القارِی ج٩ ص ٤١٨)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاك او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

# خوك دِ د چا تُحفه نه اخلي

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! تاسو اوليده! **حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن عبدُالعزيز** رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ په تُحفه کښې وړاندې شوو منړو قبلولو نه اِنکار اوفرمائيلو. ځکه چه هغوئی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُ ته معلومه وه چه دا تُحفه ما ته د وخت د خليفه په حيثِيَّت راکوله کيږي که زه خليفه نه وې نو چا به ولې راکولې؟ او په دې خبره خو هر عقلمند پوهيږي چه وزيرانو، د قومي او صوبائي اسمبلۍ مِمبرانو يا نورو حکومتي افسرانو او ټاکلی شوي نمائندګانو او ججانو صاحبانو تر دې چه پوليس وغيره ته خلق تُحفې ولې ورکوي او د هغوئي د پاره په څه وجه خصوصي ميلمستيا کوي. ښکاره خبره ده يا "خو په هغوئي [خپل ناجائِزه] کارونه"کول مقصد وي يا ئې دا مقصد وي چه که آئنده چرې ضرورت پيښ شي نو په آسانۍ به ترکيب جوړ شي. په دې دواړو وجهو داسي خلقو ته تُحفه ورکول او هغوئي له خصوصي ميلمستيا کول د **رِشوت** په حُکم کښې دي او **رِشوت** ورکوونکي او اخستونکي دواړه د دوزخ حقدار دي. په داسي موقع باندې دې ته د اختر روپۍ، مټائي، د چائې شربت روپۍ يا دا وئيل چه په خوشحالۍ ئې ورکووم، يا ئې په مَحَبَّت کښې ورکووم وغيره، نو دا ښکلي ښکلي الفاظ وئيل خوك د **رِشوت** د ګناه نه نه شي بچ کولې. اګر چه که واقعی ئې په اِخلاص وړاندې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې كولې كيږي. (طَبَرانی)

كړي وي او د رِشوت يو حُكم هم پرې نه لګي نو بيا هم د داسې كسانو د خپلو ماتحتو د طرف نه تُحفه يا خُصوصي دعوت قبلول "مَظِنَّۃُ تُهمَت" يعني د تُهمَت په ځائ كښ اودريدل دي، ولې چه د سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارَك دې: "**څوك چه په اللّٰهتَعَالٰی او آخِرت باندې اِيمان لري هغه دِ د تُهمَت په ځائ كښ نه اودريږي.**" (كشف الخِفاء ج۲ ص۲۲۷ حديث ۲۴۹۹) ځكه دلته د تُهمَت د ځائ نه بچ كيدل واجب دي لِهٰذا وركول هم ناجائز او اخستل هم ناجائز دي. خو كه په عُهده باندې د لګيدو نه مخكښ ئې په خپل مينځ كښ د تُحفو وركړه راكړه او د **خصوصي دعوتونو** تركيب وو نو بيا باك نشته خو كه مخكښ كم وو او اوس [د تُحفو يا ميلمستيا] مقدار زيات كړې شو نو زياته حِصّه به ناجائزه شي. كه وركوونكې د مخكښ حالت په نِسبَت مالدار شوې وي او هغه ئې په دې وجه زيات وركوي نو په اخستلو كښ باك نشته. هُم دغه شان كه د پخوا په مقابله كښ اوس زر زر خُصوصي دعوتونه كيږي نو بيا هم ناجائز دي. كه [تُحفه] وركوونكې ذَوِالْاَرْحام يعني د وِينې په خپلوانو كښ وي نو په وركړه راكړه كښ باك نشته. (مور و پلار، ورور، خور، نيكه [يعني د پلار پلار او د مور پلار]، نيا [يعني د پلار مور او د مور مور]، ځوئ، لور، تره، ماما، ترور [يعني د پلار خور او د مور خور] وغيره مَحرَم خپلوان دي او د ترور

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

خاوند، اوښې [يعني د خور خاوند] چاچي، مامي، ورندار، د تره اولاد، د ترور اولاد وغيره په مَحرمو خپلوانو کښې شامِل نه دي) مَثَلاً ځوئ يا وراره جج دې هغه ته پلار يا تره تُحفه ورکړه يا ئې خصوصي دعوت ورکړو نو قبلول جائز دي. خو فرض کړه د پلار مُقدّمه د جج ځوئ په عدالت کښې روانه ده نو اوس ”د تُهمَت د ځائ“ په وجه ناجائزه ده. بيان شوي احکام صِرف د حُکومتي خلقو د پاره نه دي بلکه د هر سماجي، سياسي او مذهبي مشر او قائد د پاره هم دي. تر دې چه **د دعوتِ اسلامي د ټولو تنظيمي مجلسونو ټول نګرانان او ذِمّه واران هم د خپل ماتحتو تُحفه يا خُصوصی دعوت نه شي قبلولې.** وړوکې ذِمّه وار د خپل غټ ذِمّه دار [تُحفه يا دعوت] قبلولې شي. مَثَلاً د دعوتِ اسلامي د مرکزي مَجلِسِ شوریٰ رکن ئې د نګرانِ شوریٰ نه قبلولې شي خو د نورو دعوتِ اسلامي والؤ نه ئې نه شي قبلولې او نګرانِ شوریٰ د خپل يو ماتحت دعوتِ اسلامي والا نه تُحفه نه شي اخستلې. مُدَرِّس [د جامِعې يا مدرسې اُستاذ] د خپلو شاګردانو نه يا د هغه د سرپرست نه د شريعت د اجازت نه بغير تُحفه نه شي اخستلې. خو د تعليم حاصلولو نه فارغه کيدو نه پس که شاګرد تُحفه يا **خُصوصي دعوت** اوکړي نو قبلولې ئې شي. هغه عُلماء او مشائخ چا ته چه خلق د هغوئي د عِلم و فضل د تعظيم په وجه نذرانې ورکوي او هغوئي ئې

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

قبلوي هم، او خلق په هغوئي باندې د رِشوت تُهمَت هم نه لګوي چنانچه د داسي خلقو د پاره تُحفه قبلول د تُهمَت د ګمان نه د خارج کیدو په وجه جائز دي.

خوږو خوږو اسلامی وروڼړو! د تُحفي او رِشوت مُتعَلِّق اهم سوالونه او جوابونه حاضر دي. که کیدې شي نو دا [سوالونه] کم نه کم درې ځله په غور اولولئ یا ئې [د چا نه] واورئ.

سُوال: آیا تُحفه قبلول سُنَّت نه دي؟

جواب: بیشکه تُحفه قبلول سُنّت دي خو د دې مُختلِف صورتونه دي چنانچه حضرتِ عَلّامه بدرُالدِّین عینی حنفی رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "د حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا فرمان مُبارَك "د تُحفي په خپل مینځ کښې بدلون کوئ مَحَبَّت به مو زیاتیږی."

(مجمعُ الزَّوائد ج٤ ص٢٦٠ حدیث ٦٧١٦)

د هغه کس په حقّ کښې دې څوك چه په مُسلمانانو باندې عُهده دار نه وي جوړ شوې او څوك چه په مُسلمانانو باندې عُهده دار جوړ کړې شوې وي لکه قاضي یا والي نو اوس هغه له د تُحفه قبلولو نه بچ کیدل ضروري دي خُصوصاً هغه [خلق] چا ته چه مخکښې تُحفي نه ورکولې شوې ځکه چه د هغه د پاره اوس دا د رِشوت او د ناپاکئ د قِسم نه دي. (البِنایَة شرحُ الهدایة ج٨ ص٢٤٤)

www.dawateislami.net

# عارضي طور اسكوټر اخستل

سُوال: عُهديدار د خپل ماتحت نه بطور قرض څه رقم يا عارضي طور د اِستعمال د پاره موټر، اسكوټر يا سائيكل وغيره اخستې شي او كه نه؟ او دا هم ارشاد اوفرمائي چه د خپل ماتحت نه څه څيز په حِيله كولو ارزان اخستې شي او كه نه؟

جواب: **عهديداران** د خپل ما تحت نه نه قرض اخستې شي. نه ورسره د عُرف او عادت نه علاوه اخستل خرڅول كولې شي. كه ماتحت ورته پخپله پيشكش كوي نو بيا ئې هم نه شي اخستې. چنانچه حضرتِ عَلّامه شامي رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "**عهده دار له چه د چا، چا تُحفه قبلول حرام دي د هغوئي نه نه قرض** [اخستې شي] **او نه څه بل څيز عاريةً** (يعني د څه وخت د پاره څه څيز) **غوښتل هم حرام دي.**"

(رَدُّالمُحتار على الدُّرِّ المُختار ج ٨ ص ٤٨)

سُوال: آيا د تُحفو په باره كښې اعلٰى حضرت رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه هم څه رِهنمائي فرمائيلي ده؟

جواب: اعلٰى حضرت، امام احمد رضا خان رَحمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "زه وائم، د دې مِثال د ګلي او هنرمندو وغيرهم د خانانو [او مَلكانانو] په شان دي چا ته چه په خپلو ماتحتو باندې مشري او غَلبه حاصِله وي ځكه چه د دې خانانو د شر د يَرې يا د رواج په وجه هغوئي ته تُحفې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډير نِزدې هٔغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلې وي. (تِرمِذی)

ورکولې کيږي.“ (فتاوٰی رضویه ج۱۹ ص٤٤٦) معلومه شوه چه د تُحفو قبلولو مُمَانعت صِرف د حُکومتي عهدې دارانو د پاره نه دې بلکه د هر هغه کس د پاره هم دې څوك چه د خپلې عُهدې يا دبدبې په وجه خلقو ته د نفعې يا نُقصان رسولو قُدرت لري.

## د دعوتونو دوه قِسمونه

سُوال: ”خصوصي دعوت“ څه ته وائي؟

جواب: خصوصي دعوت يعني هغه دعوت کوم چه د يو خاص کس د پاره تاکلې شوې وي چه که هغه د راتلو نه انکار اوکړي نو هغه دعوت هدو اُو نه شي.

سُوال: او د ”عُمومی دعوت“ مطلب هم ارشاد اوفرمائي!

جواب: عُمومی دعوت يعني هغه دعوت کوم چه د يو خاص کس د پاره نه وي [يعني داسې نه وي چه] که فُلانې نه راتللې نو هغه دعوت به هدو کيدلې نه. [بلکه عام دعوت وي، د يو خاص کس د راتلو د پاره نه وي]

سُوال: که ماتحت عهديدار ته خُصُوصي دعوت ورکړي او د يوولسمې شريفې [يا د بل څه خيرات] نِيَّت ئې هم کړې وي نو آيا بيا به هم ناجائزه وي؟

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

**جواب:** آو. ځکه چه دا معلومه خبره ده چه که عهديدار د شريك کيدو نه اِنکار اوکړي نو د يوولسمي شريفې نياز [يعني خيرات] به نه کيږي. خو که د نياز کولو وخت ئې مقرر کړې وي او په هغې کښې عهديدار ته هم دعوت ورکړي او دا يقيني خبره وي چه که هغه راځي او که نه راځي د نياز سِلسله به کيږي نو داسې دعوت جائز دې ځکه چه دې ته "عُمومي دعوت" وائي. البَتّه که په عُمومي دعوت کښې عهديدار ته د نورو خلقو په مقابَله کښې خوندور طعامونه کيښودې شي نو ناجائزه دي مَثَلاً عامو ميلمنو ته د تنور ډوډئ او د غوا د غوښې اِنګولې ورکړې شي او د عهديدار په خِدمت کښې شِيرمال [يعني په شودو کښې د اَغَښتو شوو وړو نرمه ډوډئ] او د چيلئ قورمه حاضره کړې شي نو داسې کول ناجائز دي.

**سُوال:** د افسر نه د هغه ماتحت تُحفه قبلولې شي او که نه؟

**جواب:** قبلولې ئې شي. د اعلٰی حضرت، امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ جاري کړې شوې دا مُبارکه فتوٰی کم از کم درې ځله په غور اولولئ يا [ئې د بل نه] واورئ نو اِنۡ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د تُحفې او د رِشوت په فرق به پوهه شئ چه خوك د چا، چا نه تُحفه قبلولې شي او د چا، چا نه ئې نه شي [قبلولې]. چنانچه امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي:

"خوك چه پخپله [ذاتي طور] يا د حاکم د طرف نه د خه قِسمه قَهَر و

تَسَلُّط (يعني غلبه) لري چه د هغې په وجه په خلقو د هغه څه دباؤ وي اګرچه هغه فِيْ نَفْسِهٖ (يعني ذاتی طور) په هغوئي باندې ظُلم او زياتې نه کوي، دباؤ هم پرې نه اچوي اګر که هغه د څه فيصلې کولو يا نه کولو اِختيار هم نه لري لکه کوتوال، تانه دار، جَمعَدار يا په زميندارو باندې [د حاکِم د طرف نه مقرر عُهده لرونکې] زميندار، د کلي نمبردار، پټواري، تر دې چه په جرګو [خپلې] جګړې حل کولو والا قومونو يا د پيشو [يعني قِسم قِسم کارونو] د پاره د هغوئي مَلکان [يا د جرګې مشران]، دې ټولو ته د هيڅ قِسمه تُحفې اخستلو يا د خاص دعوت (يعني خُصوصي دعوت چه هغه د هغه د پاره خاص اېښودې شوې وي، او که هغه شريك نه شي نو دعوت نه شي کيدې) د قبلولو اصلاً (يعني بالکل) اِجازت نشته خو په درې صورتونو کښې، اوّل افسر (يعنې د خپل ځان نه لوئ عهديدار) طرف نه چه په هغه د هغه دباؤ نشته او چه نه هلته دا خيال کيدې شي د هغه د طرف نه دا هَدِيَّه يا دعوت په خپلو مُعامَلاتو کښې د رعايت حاصلولو د پاره دې. دويم د داسې کس د طرف نه چا چه د هغه د مَنصَب (يعني عُهدې) نه مخکښې هم هغه ته تُحفه ورکوله يا به ئې ورله دعوت کولو په شرط د دې چه اوس هم په هغه مِقدار وي، ګني زيات والې به روا (يعني جائز) نه وي. مَثَلاً مخکښې به چه په تُحفه او دعوت کښې د کوم قِيمت څيز وو اوس د هغې نه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (اِبنِ سنی)

ګران (يعني قِيمتي) وي يا په شمير کښې زيات شوې وي يا اوس زر زر ورکول کيږي ځکه چه په دې ټولو صورتونو کښې زيات والې موجود دې او جواز مفقُود [يعني د جائز کيدو صورت پکښې نشته] خو که د هغه کس مال د مخکښې نه د دې زيات والي په نِسبَت زيات شوې وي (يعني ورکوونکې اوس نور مالدار شوې وي) چه د هغې نه دا معلوميږي چه دا زيات والې د هغه کس د منصَب (يعني عُهدې) په وجه نه دې بلکه [د ورکوونکي] د خپل دولت د زياتوالي په وجه دې. **دريم** د خپلو نِزدې محارِمو نه [تُحفه قبلولې شي] ، لکه مور و پلار، خور، ورور، (خو) د تره د ځوئ، د ماما د ځوئ، د ترور د ځوئ [يعني د پلار د خور د ځوئ او د مور د خور د ځوئ] نه ئې نه شي قبلولې ځکه چه دا محارِم نه دي اګرچه عُرفاً [يعني د رواج مطابق] هغوئي ته هم ورونړه وائي.'' نور فرمائي: ''بيا چه کوم کوم ځائ [تُحفه او دعوت قبلول] منع دي د هغې بُنياد صِرف د تُهمَت او د رعايت د يَرې په وجه دې، حقيقةً د رعايت وجود ضروري (يعني لازمي) نه دې چه ګڼي د هغه په خپل عمل کښې څه بدليدل نه راتلل يا د هغه د اِخلاص د عادت نه [د مخکښې نه د خلقو] خبريدل به چرې جائز کيدو ته فائده ورکړي. د دُنيا کارونه په اُمِّيد روان دي، چه دې دعوت او تُحفې قبلوي نو ضرور خيال پيدا کيږي چه کيدې شي چه اوس په دې ځل پرې څه اثر

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

اوکړي ځکه چه د هسې [يعني مُفت] مال ورکولو اثر مُجرَّب [يعني د تجربې نه ثابِت] او ليدلې شوې دې، چه په هغه ځل اُو نه شوه په دې ځل به اوشي، که په دې ځل اُو نه شوه نو بيا به پرې کله [اثر] اوشي.
او دا حِيله چه د هغه تُحفه او دعوت قبلول د انسانی اخلاقو د لحاظ په وجه دي، د مَنصب په لحاظ نه دي، د دې رد خو پخپله خوږ آقا صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلې دې، چه کله ئې يو صاحِب د زکوٰة راغوندولو د پاره مُقَرَّر کړلو او اوئې اوليږلو، هغوئي د زکوٰة مال حاضر کړو او څه مال ئې جُدا کړو چه دا ما ته راکړې شوې دې. اوئې فرمائيل، د خپلې مور په کور کښې به ناست وې او کتلې به دِ وې چه اوس درته څومره تُحفې درکولې شي! يعني دا تُحفې صِرف د دې منصب په وجه دي که په کور کښې ناست وې نو څوک به راتلې او درکولې به ئې؟" (صحيح مُسلم ص ۱۰۱۹ حديث ۱۸۳۲ ، فتاوی رضويه ج۱۸ ص ۱۷۰ ، ۱۷۱)

**سُوال:** که شاګِرد خپل اُستاذ ته تُحفه وړاندې کړي نو قبوله ئې کړي او که نه؟

**جواب:** قرآنِ پاك يا درسِ نظامي يا د نورو علمونو ښودلو والؤ ته هم د طالبِ علم د طرف نه ورکړې شوو تُحفو قبلولو کښې د ډير زيات اِحتياط ضرورت دې ځکه چه مُدَرِّس هم د ځينې مُسلمانانو (مَثَلاً د طالبِ علمانو) په کارونو باندې "والي" (يعني حکمران) دې. د عهده

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

دار په وضاحت کښې حضرتِ علّامه شامي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: " او په عهده دارانو کښې د بازارونو او ښارونو عهده دار، د اوقاف مُعامَلات چلولو والا او هر هغه کس شامِل دي ځوك چه په يو داسي مُعامله کښې عهده دار وي چه هغه د مُسلمانانو سره مُتَعَلِّق وي." (رَدُّالمُحتار ج٨ ص٥٠) د **ذِکر شوي** عبارت په رنړا کښې اُستاذ هم يو قِسم عهده دار دې ځکه چه د طلباء په مدرسه کښې داخِله برقراره ساتل اکثر د اُستاذ په لاس کښې وي، اُستاذ هغه په غير حاضرئ يا بدنظمئ باندې د درَجې [يعني جماعت، کلاس] نه ويستلې شي، بلکه ځيني وخت ئې داخله هم منسوخ کولې شي يا ئې د منسوخ کولو سِفارش کولې شي. دغه شان د اِمتحانونو په پرچو کښې کيدونکي سوالونه د وخت نه مخکښې ښودل، د امتحانونو په نتيجو کښې ښې نمبرې ورکول يا ناکامه [يعني فيل] کول هم د اُستاذ په لاس کښې وي. ډير طالبِ عِلمان داسې هم وي چه په هغوئې کښې د علم حاصلولو شوق کم وي او په بداخلاقئ او بد نظمئ کښې مخکښې مخکښې وي، ځکه هغوئې د خپل تعليمي صلاحيتونو په وجه اُستاذ نه شي خوشحاله کولې نو په دې وجه ورته هغوئې کله تُحفې وړاندې کوي او کله پرې دعوتونه خوري د دې د پاره چه نه هغوئې د مدرسې نه اُوباسي او نه ناکامه [يعني فيل] کړې شي. لِهٰذا اُستاذانو له پکار دي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډېر زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

چه د داسې طالبِ علمانو تُحفې او دعوتونه نه قبلوي او که دا معلومه شي چه دا تُحفه يا دعوت خاص د دې د پاره شوې دې چه د ذِکر کړې شوې قِسم طالبِ علمانو کار اوشي او دا واقعي د هغوئي کار کولې شي يا د کار کولو ذريعه جوړيدې شي نو بيا ئې قبلول حرام او دوزخ ته بوتلونکې کار دې. په "شامی" کښې دي، "دغه شان چه عالِم ته کله د سِفارش يا د ظُلم لرې کولو د پاره تُحفه ورکړې شي نو دا **رِشوت** دې. کوم حُکم چه د مُدَرِّس بيان کړې شو هغه د هر **مُنتَظِم** [يعني د جامعې يا د مدرسې د ناظم يا د سکول، کالج وغيره د هيډماسټر هم] دې که هغه د يوې ادارې وي، يا د جَماعت وي، که هغه خالِص مَذهبي جماعت وي او که سياسي، ځکه چه په څه نه څه اعتبار دوئي هم د مسلمانانو په ډېرو کارونو باندې عُهده دار وي او د دوئي د قَلم په حرکت کولو يا ژبه خوزولو ډېرو خلقو ته فائده او نُقصان رسيږي لهٰذا دې خلقو ته هم په تُحفه او دعوت قبلولو کښې د ډېر زيات اِحتياط ضرورت دې." (رَدُّالمُحتار ج۹ ص۶۰۷)

## د تُحفه بيرته ورکولو دوه حِکايتونه

(۱) د حُجَّةُ الْاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه منقول دي، حضرتِ سَيِّدُنا شقِيق بلخی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ما حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَوری رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته د تُحفې په طور رَخت [يعني کپړه]

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

وړاندې كړه نو هغوئې ما ته بيرته راكړه، ما عرض اوكړو، يا سَيِّدى! زه خو ستاسو شاګرد نه يم، اوئې فرمائيل: ما ته معلومه ده خو ستاسو ورور زما نه حديثِ پاك اوريدلې دې، زه دا يَره لرم چه چرې زما زړه ستا د ورور د پاره د نورو په نِسبت زيات نرم نه شي.

(حِليةُ الاولياء ج۷ ص ۳ حديث ۹۳۰۲)

**(۲)** يو ځل د حضرتِ سَيِّدُنا سُفيان ثَورى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د دوست ځوئ حاضر شو او لږه نذرانه [يعني تُحفه] ئې [هغوئې ته] وړاندې كړه، قبوله ئې كړه. خو لږ ساعت پس ئې هغه را اوبللو او په ډيره زارئ ئې د هغه تُحفه بيرته وركړه. دا ځكه چه د هغوئې دوستي د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د پاره وه نو ځكه هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اويَريدلو چه دا تُحفه چرې د فِيْ سَبِيْلِ الله عَزَّوَجَلَّ دوستئ عِوض [يعني بدله] نه شي! د هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرزند [يعني ځوئ] سَيِّدُنا مُبارَك رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي، ما عرض اوكړو چه باباجانه! دا تاسو څه اوكړو! چه يو ځل مو اغستې وه نو زمونږه د پاره به مو ايښودې وې! اوئې فرمائيل: اے مُبارَك! ته خو به ئې په خوشحالئ خوشحالئ اِستِعمال كړې خو د قِيامت په ورځ به زما نه تپوس كيږي. (اِحياءُ العُلوم ج۳ ص ۴۰۸)

**سُوال:** كه يو عُهديدار ته يو ما تحت د مديني شريفې كجورې يا آبِ زم زم شريف وړاندې كړي نو اخستې ئې شي او كه نه؟

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

**جواب:** قبوله دِ ئې كړي ځكه چه په دې كښې د رِشوت د تُهمَت اِمكان نشته، د دې نه علاوه رِسالې، د بيانونو كيسټې وغيره تبليغي مواد يا د نعلين شريف كارډ، ارزاني تسبيح يا د دوه، درې روپو والا قلم وغيره په قبلولو كښې باك نشته ځكه چه دا هُغسې تُحفې نه دي چه د تُهمَت گمان پرې اوشي. د دې نه علاوه د حج يا د مدينې د سفر يا د واده يا د ماشوم د پيدائش په موقع باندې د تُحفو وركولو رواج دې، داسې تُحفې هم عُهديدار د خپل ماتحت نه اخستې شي. خو كه د عُرف [يعني د رواج] نه زياته تُحفه ئې وركړه نو نه ئې شي اخستې مَثَلاً د ۱۰۰ روپو وركولو عُرف [يعني رواج] دې او هغه د ۵۰۰ يا د ۱۲۰۰ روپو [وغيره] تُحفه وركړه يا ئې هم داسې د [رواج نه د ډيرو] نوټونو سِهرا ورپه غاړه كړه نو د تُهمَت د گمان په وجه به ناجائزه شي.[1]

خوږو خوږو اسلامی ورونړو! د تبليغِ قرآن و سُنَّت د عالَمگير غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د **مَدَني ماحول** سره هر دَم تړون ساتئ، او د سُنَّتو دَ تربيت په **مدَني قافلو** كښې دَ عاشقانِ رسول سره د سفر كولو سعادت حاصلوئ نو اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ ډير احكامِ شريعت زده

[1] د دې حُكمونو د تفصيلي معلوماتو حاصلولو د پاره د مكتبةُ المَدينه د طرف نه جاري شوي د مدَني مُذاكرې د ۷۱ نه ۷۴ نمبر پورې **كيسټې** واورئ. مجلس مَكتبةُ المَدينه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

کول به مو نصيب کيږي. په **مَدَني قافله** کښې د سفر کولو جَذبه زياتولو د پاره د يوې **مَدَني قافلې** يو **مَدَني سپرلې** واورئ چنانچه

## (٩٥) ژوندي خخ شو

د **يو** اسلامي ورور څه داسې بيان دې چه د **دعوتِ اسلامي** د دولسو **عاشقانِ رسول** دسُنَّتو دَ تربِيَّت **مَدَني قافِله** د کشمير د ضلع "**باغ**" د علاقه نِندرائي په جامِع مسجِد نندرائي کښې موجوده وه. په ٣ **رَمَضانُ المُبارَك** ١٤٢٦ھ د جدول مطابق د سحر د آرام د **مختصرې** وقفې نه پس د "مَدَنی مشورې" وخت شوې وو، د اَميرِ قافِله په حُکم اته اسلامي ورونړه پاڅيدلي وو او تياري ئې کوله او مونږ څلور اسلامي ورونړه د سُستئ په وجه د جُمات سره نِزدې په مدرسه کښې خپل د اوده کيدو په ځائ کښې پراته وو چه ناڅاپه داسې محسوسه شوه لکه څوک چه په ريل ګاډي کښې اوده وې او جټکې خورې، مونږه په وارخطائې زر زر راپاڅيدُو، هر څيز او زمکه په زوره زوره ړقيدل، مونږه يو دم منډه کړه خو آه! ناڅاپه فرش اوشليدو او مونږه پرمخ راپريوتو، مونږه لا پاڅيدلي نه وو چه **چَت** او ديوالونو يو دَرَز اوکړو او په مونږه راپريوتل، هر طرف ته تکه توره تيره شوه، مونږ نه يو دوه خطا شو، او آه! آه! آه! مونږه څلور واړه **ژوندي خخ شو**! مونږه په اوچت آواز کَلِمه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (كَنزُالْعُمَّال)

شريف لوستل شروع کړل او په چغو چغو مو ژړل، په ظاهره مو د **ژوندي** پاتې کيدو څه اُمّيد نه وو، لاس او ښپې مو وهلې چه نا څاپه د يو اسلامي ورور د ښپې په خوزولو يو ګټ لرې شو او رنړا شوه، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه يو يو په هغه سُوري راوتلو او ټول بهر ته راوتلو کښ کامياب شو. د **اَمِيرِ قافِله** د فوراً اِطاعت [يعني فرمانبرداریٔ] په بَرَکت د **مدَنی قافِلې** اته **عاشِقانِ رسول** زمونږ نه **مخکښ** په آسانیٔ صحيح سلامت د جُمات نه بَهر وتلي وو.

زلزلے سے اماں، دے گا ربِّ جہاں | سب دعائیں کریں، قافلے میں چلو
ہوں بپا زلزلے، گرچہ آندھی چلے | صبر کرتے رہیں، قافلے میں چلو

زلزلې نه امان، در به کړي ربِّ جهان | ټول دُعا ډيره کویٔ، قافِلو کښ لاړ شئ
که راشي زلزلې، هم که راشي سِيلئ | صبر ډير ډير کویٔ، قافِلو کښ لاړ شئ

## د اِطاعت نه کولو نتيجه

د دې نه معلومه شوه چه د **مدَنی قافلې په جدول د عمل کولو** په **بَرَکت هغه اته اسلامي ورونړو ته هيڅ تکليف اُو نه** رسيدو هغوئي په آسانیٔ اووتل او هغه خلور اسلامي ورونړه کوم چه د سُستیٔ په وجه ډيرې په ډيرې اووښتل او پراته وو هغوئي د لږ ساعت د پاره په اِجتماعی قبر کښ ژوندي ښخ شو خو آخِر هغوئي هم د **مدَنی قافِلې** په بَرَکت بَهر ته وتلو کښ کامياب شو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (ترمذی)

اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی داسي ښکاره کوي چه څوك خو د مرګ خُلې ته اورسي او بالکل بچ شي او ځيني څوك که په زرګاؤ قلعو کښې پټ شي خو مرګ ور اورسيږي، د مرګ نه څوك هډو تښتيدي نه شي، چنانچه اللّٰه تَبَارَكَ وَتَعَالٰی په سيپاره ۲۸ سُوْرَةُ الْجُمُعَه آيت نمبر ۸ کښې ارشاد فرمائي:

قُلْ اِنَّ الْمَوْتَ الَّذِیْ تَفِرُّوْنَ مِنْهُ فَاِنَّهٗ مُلٰقِیْكُمْ

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: ته اوفرمايه هغه مرګ د کوم نه چه تاسو تښتئ هغه به ضرور تاسو ته در رسيږي.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۹۶) عقلمند بادشاه

د مِصر عقلمند بادشاه احمد بِن طُولون يوه ورځ په يوه شړه کښې د خپلو ملګرو سره طعام خوړلو، د هغه نظر په يو فقير باندې پريوتو چه هغه زړې شليدلي جامې اغوستي وې، بادشاه يوه ډوډئ، يو سُور کړې چرګ، د غوښې يوه ټکړه او فالوده د غُلام په لاس ور اوليږله. غُلام بيرته راغې او اوئې وئيل، بادشاه بلا دِ واخلم! په طعام ليدلو هغه څه خوشحالي ښکاره نه کړه. بادشاه چه دا خبره واوريدله نو هغه ئې خوا ته را اوغوښتو. چه هغه راغې نو بادشاه ترې يو څو تپوسونه اوکړل، هغه په ډيره ښه طريقه د هغې جوابونه ورکړل او په هغه د شاهي

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهُ عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذی)

دبدبې هيڅ اثر اُو نه شو. **عقلمند** بادشاه ناڅاپه اووئيل. ته **جاسوس** معلوميږې! بادشاه دا اووئيل او کوږې وهلو والا ئې را اوغوښتلو، هغه ئې چه څنګه اوليدو نو هغه فقير اقرار اوکړو چه واقعي زه **جاسوس** يم. دا واقعه ئې چه اوليدله نو چا بادشاه ته اووئيل. بادشاه بلا دِ واخلم! تاسو خو لکه چه جادو اوکړو! عقلمند بادشاه اووئيل، هيڅ جادو مې نه دې کړې، ما هغه په خپله اندازه اونيوو څکه چه خوراك دومره خوندور وو چه که چا په مړه خيټه خوراك کړې وې نو د هغه به هم ورته په خُله کښې اوبه راشي او خوراك ته به ئې زړه اوشي او دې په ښکاره دومره په بده ورځ اخته دې او د دې باوُجود ده دې خوراك ته څه توَجُّه اُو نه کړه. بله دا چه عام سړې شاهي رُعب او دبدبه اووِيني نو په لړزان شي خو ده ډيره په آزادئ خبرې کولې څکه راته اندازه اوشوه چه دا جاسوس دې. (څکه چه د جاسوس په مخصوصه طريقه باندې تربِيَّت کيږې) (حياةُالحَيوانِ الکبرٰی ج١ ص ٤٥٩)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (٩٧) د اِبنِ طولون په قبر کښې حال

خوږو خوږو اسلامی وروڼړو! اَحمَد بِن طولون ډير عقلمند، انصاف خوښوونکې، بهادر، عاجِزي کوونکې، خوش اَخلاقه، عِلم دوست او سخي بادشاه تير شوې دې. دا حافِظِ قرآن وو او ډير په ښکلي آواز

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بېشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

كښې به ئې تِلاوت كولو خو ظالِم هم د اوّلې درجې وو، د هغه توره به د وِينې توئيولو د پاره هر وخت د تِيكي [يعني قاش] نه بَهر وه. وائي چه هغه چه ځومره خلق وژلي دي او څوك چه د هغه په قيد كښې مړه شوي دي د هغوئي شمير زيات و كم اتَلَّس زره وو! د هغه د مرګ نه پس به يو كس هره ورځ د هغه د قبر خوا ته تِلاوت كولو. يوه ورځ هغه كس په خوب كښې بادشاه احمَد بِن طُولون اوليدو، او هغه اووئيل: زما د قبر خوا ته قرآن مه لوله! هغه ترې تپوس اوكړو، چه ولې؟ ابنِ طولون جواب وركړو، چه كله يو آيت زما په خوا تيرېږي، نو ما له په سر يو ګُزار راكړې شي او تپوس رانه كيږي چه، آيا تا دا آيت نه وو اوريدلې؟ (حياةُ الحيوانِ الكبرٰی ج١ ص ٤٦٠)

آه! آه! آه! د ظُلم انجام څومره خطرناك دې! د حكمرانانو د ظُلم او زياتي نه بچ كيدل ډير زيات مشكل دي. لِهٰذا د حُكومتونو او وزارتونو عُهدې وغيره چه په ظاهره ډيرې ښكلې ښكاري د دې نه خاص طور په دې زمانه كښې په لرې اوسيدلو كښې فائده ده. دا هم معلومه شوه چه حافظِ قرآن له په قرآن باندې عمل هم كول ضروري دي. اللّٰه تعالٰی دِ زمونږه او په عذابِ قبر كښې د اخته ګنهګارانو مسلمانانو او د ټول اُمّت بخښنه اوكړي.

اٰمين بِجاهِ النَّبِيِّ الْاَمين صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانی)

## (۹۸) د بخښنې د دُعا كولو والا بخښنه اوشوه

خوږو خوږو اسلامى ورونړو! مونږ له د ټولو مُسلمانانو د پاره د بخښنې دُعاګانې كول پكار دي، په دې كښې زمونږه ځپله هم خير دې چه د ځومره مسلمانانو د پاره د بخښنې دُعاګانې كوو د هغې په شمير به مونږ ته نيكۍ نصيب كيږي، ځنكه چه **حُضُورِ انوَر** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: ”ځوك چه د ټولو مومِنانو نارينو او زنانو د پاره بخښنه غواړي، اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره د هر مومِن نارينه او مؤمِنه زنانه په بدله كښې يوه نيكي ليكي.“ (الجامع الصغير ص ۵۱۳ حديث ۸۴۱۹) بهرحال كه مونږه د نورو خير غواړو نو إِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ زمونږه سره به هم ښيګړه كيږي. چنانچه حضرتِ علّامه عبدُالرَّحمٰن صفّوري رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه نقل كوي، چه د يو بُزُرګ رَحْمَةُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْه د وفات نه پس چا هغه په خوب كښې اوليدلو نو تپوس ئې ترې اوكړو، **مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟** يعني اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ستا سره څه مُعامَله اوفرمائيله؟ هغوئي اووئيل: اللّٰه عَزَّوَجَلَّ زما بخښنه اوفرمائيله او د فُلانكي صاحِب د محل خوا ته ئې ما ته محل راعطا كړې دې حالانكه زه د هغه نه زيات عبادت ګزار ووم خو بيا هم هغه زما نه وړاندې شو ځكه چه په هغه كښې يو خاص عادت وو كوم چه په ما كښې نه وو او هغه دا چه هغه به دا دُعا غوښتله يا

اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د تيرشوو، موجوده او راروانو ټولو مسلمانانو بخښنه اوفرمائي. (نُزهَةُ المَجالِس ج۲ ص ۳)

الٰہی واسِطہ پیارے کا سب کی مغفرت فرما
عذابِ نار سے ہم کو خدایا خوف آتا ہے
په خاطر د خوږ نبي، اِلٰهي ته اوبخښې ټول
هائے! يَريږو مونږ عذاب د جَهَنَّم نه ربه

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## (۹۹) د اوياؤ ورځو زوړ مړې

اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د تبليغِ قرآن و سُنَّت د عالَمګير غير سياسي تحريك دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د مُسلمانانو د غمخوارئ جَذبه او د دُنيا او آخِرت د بَرَکتونو د راغونډولو موقع په لاس راځي. د دعوتِ اسلامي په مَدَني ماحول کښې د لکونو [خلقو] وران کارونه سميرې، دعوتِ اسلامي د اهلِ حقّ يو ښکلې مَدَني تحريك دې، راځئ چه د ايمان تازه کولو د پاره تاسو ته د دعوتِ اسلامي د مَدَني ماحول د بَرَکت عظيمُ الشَّان مَدَني سپرلې واورووم، په دريم رَمَضانُ المُبارَك ۱۴۲۶ ھ(05-10-8ء) د خيالي په ورځ د پاکستان په مشرقي حصّه کښې خوفناکه زلزله راغله او په هغې کښې په لکونو کسان وفات شوي وو په هغې کښې د مُظَفَّر آباد (کشمير) د ”ميراتسوليان“ د علاقې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

اوسيدونكي د نُولَّسو كالو **نسرين عطاريه** بنتِ غلام مُرسلِين چه هغه به د دعوتِ اسلامي په هفته واره د سُنَّتو نه ډكه اِجتماع كښې شريكه كيدله، **شهيده** شوي وه، د مرحومې والِد او د كور نورو كسانو په ٨ ذُوالقعدةُ الحرام ١٤٢٦ھ(05-12-10ء) د كل په شپه تقريباً لس **بجې په څه وجه قبر اوسپړدو، يو دم د خوشبويانو داسې وَږمې راغلې چه دِماغ ورسره روښانه كيدل! د شهادت د اوياؤ ورځو تيريدو باوُجود د نَسرين عطّاريه كفن سلامت او بدن بالكل تروتازه وو! د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په بَرَكت دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

عطائے حبیبِ خدا مَدَنی ماحول
ہے فیضانِ غوث و رضا مَدَنی ماحول
سلامت رہے یا خدا مَدَنی ماحول
بچے نظرِ بد سے سدا مَدَنی ماحول
اے اسلامی بہنو! تمہارے لئے بھی
سُنو! ہے بہُت کام کا مَدَنی ماحول
تمہیں سنّتوں اور پردے کے احکام
یہ تعلیم فرمائے گا مَدَنی ماحول
سنور جائیگی آخرت ان شاءَ اللّٰہ
تم اپنائے رکھو سدا مَدَنی ماحول

عطا ده د حبيبِ خُدا مَدَني ماحول
دې فيضان د غوث و رضا مَدَني ماحول
سلامت دِ وي يا خُدا مَدَني ماحول
بچ دِ وي د بد نظره دا مَدَني ماحول
واورئ اے اِسلامي خويندو ستاسو دپاره
هُم ډير د كار دې دا مَدَني ماحول
تاسو ته به د سُنَّتو او د پردې د اَحكامو
دركړي تعلِيم دا مَدَني ماحول
ښكلې به دِ شي آخِرت اِن شآءَ الله
ته خپل كړه هميشه دا مَدَني ماحول

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بیشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول یم. (جَمعُ الجَوامِع)

**یارَبِّ مُصطفٰی** عَزَّوَجَلَّ! مونږ ته د **خوږ خوږ آقا** صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم، **د انبیائے کرام** عَلَیْهِمُ السَّلَام، **صحابهٔ کرام، اَهلِ بیت اَطهار او اولیائے عظام** رښتیني مَحَبَّت را نصیب کړې، مونږ د هغوئي په نقشِ قدم روان کړې او د هغوئي په بَرَکت مونږ ته د ایمان سلامتیا او په دوارو جهانو کښې امن و امان را عطا کړې زمونږه بخښنه اوکړې او زمونږه بې حسابه په جنَّتُ الفردوس کښې داخل کړې او هلته د خپل خوږ مدَنی حبِیب صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **ګاونډ را عطا کړې.**

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوْبُوْا اِلَی اللہ اَسْتَغْفِرُ اللہ
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

.....

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# خوفناك زلزله

از شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

په ۳ **رَمَضانُ المُبارَك ۱۴۲۶ھ** تقريباً د ورځې پاؤ كم نهه بجې په اسلام آباد، خيبر پښتونخواه او كشمير كښې خوفناكه زلزله راغله وائي چه د هغې په نتيجه كښې تقريباً دوه لكه خلق مړه شوي وو او د زخميانو او مالي نقصان خو څه اندازه نه شي كيدې. په دې كښې د تبليغِ قرآن و سُنَّت عالَمګير د غير سياسي تحريك **دعوتِ اسلامي** د **عاشِقانِ رسول** د سُنَّتو د تربيَّت يو څو **مَدَني قافِلې** هم بې دَرَكه شوي وې خو اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي ډير زر ژوندي او سلامت پيدا شو، په دې كښې د درې **مَدَني قافِلو** سره پيښو شوو د رَحمَت نه ډكو مُعاملاتو **مَدَني سپرلي** واورئ:

## (۱) د "يارَسولَ اللّٰه" ليكلو بَرَكت

د **لانډهي** بابُ المدينه كراچۍ د وه‌ه اِسلامي ورونړو د يوې مياشتې د يوې **مَدَني قافِلې** څه داسې بيان دې چه زمونږه مَدَني قافِله د **عَبّاس پور** تحصِيل نكر بالا كشمِير په جامِع مسجِد غوثيه كښې موجوده وه، په ۳ رَمَضانُ المُبارك ۱۴۲۶ھ (مطابق 05-10-8) د سحر او اِشراق د نمانځه وغيره نه پس د جَدوَل مطابق عاشِقانِ رسُول آرام كولو چه ناڅاپه په زبردسته جټكه ټول وارخطا راپاڅيدل، د دوئي د فِكر سميدلو نه مخكښې درز دروز جوړ شو او د جُمات ديوالونه ماتيدل

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کیږي. (طَبَرانی)

شروع شو، خو د **يا رَسُولَ الله** د نعرې نه زمونږه ځانونه قُربان شه! د جُمات د جُنوبي دیوال هغه حِصّه په کوم دیوال چه **يا رَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **لیکلې شوې وو هغه د لویدلو نه بچ شو او چَت په هغې کوږ ټینګ شو.** او دغسې اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه په لړ خه کښې بچ شو او ژوندي او سلامت بَهر ته وتلو کښې کامیاب شو. هر طرف ته کورونه وران شوي وو او د زخمیانو د چغو او فریادونو آوازونه راتلل، ځائ په ځائ خلق د ملبې نه لاندې پراته وو، ډیر مړه شوي وو او ډیر په آخري سلګو وو. مونږه د خلقو سره په اِمدادي کار کښې شامِل شو او د جُمات خوا ته د یو کورد ملبې نه لاندې **د یو نِیم کال دیوې ماشومې** ژوندئ راوِیستلو کښې کامیاب شو. چه څومره کیدې شوه د شهیدانو په جنازو او کفن دفن کښې مو حِصّه واخسته. اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زمونږه د دې کوششونو په وجه د تباهئ سره د مخامخ کیدو باوجود د هغه ځائ د مسلمانانو د **دعوتِ اِسلامي** سره محبَّت د لیدو قابِل وو.

## (۲) دوه ځله د مرګ په خُله کښې

د شاه فیصل کالونئ او مَلِیر (بابُ الـمَدینه کراچئ) د نهه اِسلامي ورونړو د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو د تربِیَّت یوه مَدَنِي قافِله د سُنَّتو نه ډک سفر باندې وه او د قادِر آباد ”ضلع باغ“ (کشمِیر) یو جُمات ته تلې وه. د **عاشِقانِ رَسُول** څه داسې بیان دې چه، ”د آرام په وقفه کښې پینځه اسلامي ورونړو آرام کولو او څلور اسلامي ورونړه د جُمات نه بَهر تلي وو. په دریم رَمَضانُ الْمُبارَك ۱٤۲٦ھ د ورځې تقریباً پاؤ کم نهه بجې ناڅاپه د **زلزلې** تیزې تیزې جټکې راغلې، اسلامي ورونړه اویَریدل او تقریباً د پینځه فُټه اوچت دیوال نه ئې بهر طرف ته اودنګل او د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښې زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذِی)

سړك طرف ته ئې منډې کړې، هر طرف نه د دماکو **خوفناکه** آوازونه راتلل. چه شا ته مو اوکتل نو يو ډېر عجيبه منظر وو او هغه دا چه د دواړه طرفه نه **غرونه په آبادئ** راغورزيدلي وو، چه کله دُوره ختمه شوه نو نه هلته زمونږه هغه جُمات وو او نه کورونه وو. ټول اوچت اوچت عمارتونه د زمکې سره برابر شوي وو، هر طرف ته د قيامت عَلامې وې، غالِباً چه د هغه آبادئ يو اِنسان هم ژوندې نه وو پاتې شوې. **عاشقانِ رسول** په څه طريقه نزدې علاقې ”نذر آباد“ ته اورسيدل، هلته هم **زلزلې** تباهي راوستې وه، چه کله ئې لږه حوصله په ځائ شوه نو په اِمدادي کارونو کښې ئې حِصّه واخسته، هُم هلته ئې ماښام روژه ماته کړه او د يو زلزله وهلي جُمات په پاتې حِصَّه کښې ئې د ماښام نمونځ د جَمعې سره ادا کړو، بيا چه څنګه د هغه جُمات نه اووتل نو ناڅاپه بيا يوه سخته جټکه راغله او د جُمات هغه پاتې حِصّه هم په يو درَز راپريوته او اَلْحَمْدُ لِلّٰه عَزَّوَجَلَّ دويم ځل **عاشِقانِ رَسُول** بچ شو. د ”قومي اخبار“ يو کالم نِګار دا واقعه د بيان کولو نه پس ليکلي وو چه ”**دا قافِله په ښه نِيَّت** (يعني د نيکئ دعوت خورلو د پاره) تلې وه (شايد) **ځکه اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ **هغوئ بچ کړل**.

## (۳) ژوندې خخ شو

د **يو** اسلامي ورور څه داسې بيان دې چه د **دعوتِ اسلامي** د دولسو **عاشقانِ رسول** دسُنَّتو دَ تربِيَّت **مَدَني قافله** د کشمير د ضلع ”باغ“ د علاقه نِندرائي په جامِع مسجِد نِندرائي کښې موجوده وه. په ۳ **رَمَضانُ المُبارَك** ۱۴۲۶ھ د جدول مطابق د سحر د آرام د مختصرې وقفې نه پس د ”مَدَنی مشورې“ وخت شوې وو، د اَميرِ قافِله په حُکم اته اسلامي ورونړه پاځيدلي وو او تياري ئې کوله او

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

مونږه څلور اسلامي وروڼه د سُستئ په وجه د جُمات سره نِزدې په مدرسه کښې خپل د اوده کیدو په ځائ کښې پراته وو چه ناڅاپه داسې محسوسه شوه لکه څوك چه په ریل ګاډي کښې اوده وي او جټکې خوري، مونږه په وارخطائي زر زر راپاڅیدو، هر څیز او زمکه په زوره زوره رږیدله، مونږه یو دم منډه کړه خو آه! ناڅاپه فرش اوشلیدو او مونږه پرمخ راپریوتو، مونږه لا پاڅیدلي نه وو چه چَت او دیوالونو یو درَز اوکړو او په مونږه راپریوتل، هر طرف ته تکه توره تیره شوه، زمونږ نه یو دوه خطا شو، او آه! آه! آه! مونږه څلور واړه ژوندې خخ شو! مونږه په اوچت آواز کَلِمه شریف لوستل شروع کړل او په چغو چغو مو ژړل، په ظاهره مو د ژوندي پاتي کیدو څه اُمِّید نه وو، لاس او ښپې مو وهلې چه ناڅاپه د یو اسلامي ورور د ښپې په خوزولو یو کټ لرې شو او رڼرا شوه، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ مونږه یو یو په هغه سُوري راوتلو او ټول بَهر ته راوتلو کښې کامیاب شو. د اَمیرِ قافِله د فوراً اِطاعت [یعني فرمانبرداریٔ] په بَرَکت د مدَنی قافِلې اته عاشِقانِ رسول زمونږ نه مخکښې په آسانئ صحیح سلامت د جُمات نه بَهر وتلي وو.

زلزلے سے اماں، پائیں گے بے گُماں
چل پڑیں مت ڈریں، قافلے میں چلو

زلزلې نه امان، به مومئ بي ګمانه،
مه یریږئ راځئ، قافِلو کښې لا ړشئ

([دا پرچئ] د دعوتِ اِسلامي د اِدارې مَکْتَبَۃُالْمَدِیْنَه او د هغې د ټولو شاخونو نه هدیَّةً حاصِله کړئ)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووم). (ابنِ بشكوال)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# مَدَنى مُذاكَره

د طعام متعلق ډير ضروري معلوماتو او

هداياتو باندې مُشتمِل زړه پورې سوالونه او

جوابونه د لوستلو د پاره..

مخكښې پاڼړې اولولئ...

پيشكش: مجلسِ مَدَني مُذاكَره

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلې وي. (تِرمِذی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# سوالونه او جوابونه

دا صفحې د طعام خوړلو او څښلو والؤ يعني د ټولو د پاره يو شان فائده مندې دي. لِهٰذا که شيطٰن هر څومره ناراستې دروليٍ خو دا پوره اولولئ. په جُمات او كور وغيره كښې د دې درس هم جاري كړئ او د ثواب خزانه اوګټئ.

## د دُرُود شريف فضيلت

د خوږ آقا مَكِّي مَدَنی مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارَك دې: چا چه په كِتاب كښې په ما دُرُودِ پاك اوليكلو، نو تر څو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرِښتې به د هغه د پاره مسلسل بخښنه غواړي. (المُعجَمُ الاوسط ج١ ص ٤٩٧ حديث ١٨٣٥)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

١٩ رَبِيعُ الاوّل شريف ١٤٢٣ھ د خيالي په شپه د دعوتِ اسلامي د مدرسو او د جامعاتو (د بابُ المَدينه) د باورچيانو [يعني د ځلي پخوونكو] او د هغوئي د ناظِمانو مدَني مشوره شوې وه.[1] ډير طالبِ عِلمان هم پكښې شريك شوي وو. د معمول مطابق د تلاوت او نعت شريف

[1] د مدَنی مشورې په خبرو كښې د ضرورت مطابق د ترميم او د نورو ملفوظاتو په اِضافه دا رساله ډيره جامع او ښكلې جوړه كړې شوې ده.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

نه پس اَميرِ اَهلِسُنَّت، **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډير **مدَني ګلونه** اِرشاد فرمائيلي وو. او د عادت مطابق ئي وخت په وخت ! د صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! د ښکلو نعرو لګولو په ذريعه حاضرو خلقو ته د دُرُود شريف لوستلو د سعادت موقعې هم ورکړي وې. هغوئي تولو ته د جُمات په اولني صف کښې د تکبيرِ اولٰی سره **هر نمونځ** د جَمعې سره د ادا کولو، په **هفته واره د سُنَّتو نه ډکه اِجتِماع** کښې د اوّل نه د آخِره پوري د شريك کيدلو، هره مياشت په **مَدَني قافِله** کښې د دري ورځو د سفر کولو او هره مياشت د **مدَني اِنعاماتو** رساله د جمع کولو تاکيد هم فرمائيلي وو.

## خوراك په ناپ را اخلئ

**سُوال:** **خوراك د ضائع کولو نه د بچ کولو څه طريقه ده؟**

**جواب:** طعام په ناپ پخوئ او په ناپ ئي تقسيموئ. مثلاً د ۹۲ طلباؤ د پاره برياني [يعني وريژې او غوښه يو ځائ] پخول دي، ځکه چه يو کلو وريژي عام طور د اته کسانو د خوراك د پاره کافي وي نو د دولسو کلو وريژو بِرياني پخه کړئ. تولو ته په تالي کښې دومره دومره طعام ور اچوئ چه ماره کيږي هم او خوراك تري پاتي کيږي هم نه. دغه شان به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ ډير سهولت هُم وي او طعام به هم د ضائع کيدو نه بچ شي. د صحيح اندازه لګولو نه بغير که طعام پوخ کړې

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هیر کړل هغه د جَنَّت لاره هیره کړه. (طَبَرَانِي)

شي نو یا خو به کم شي او یا به ډیر زیات پاتې شي. که پاتي شوي بِریاني په دویم ځل ګرمه کړې شي نو په خوند کښې ئې کمي راځي.

## شپږ لکه قیدیان!

**سُوال: طعام د کله نه خرابیدل شروع شوي دي؟**

**جواب:** د بنـی اسرائیلو د زمانې نه. د دې تفصیلي واقعه عرض کووم. په دریائے نیل کښې د **فرعون** د غرق کیدو نه پس د **اللّٰه** عَزَّوَجَلَّ په حُکم حضرتِ سَیِّدُنا **موسٰی کلیمُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام **شپږ لکه** بنـی اسرائیل د ځان سره کړل او د قومِ عمالقه سره د جِهاد کولو د پاره د **بَیْتُ الْمُقَدَّس** طرف ته روان شو. چه کله [**بَیْتُ الْمُقَدَّس** ته] نِزدې اورسیدل نو د هغوئې قوم نافرماني اوکړه او د جنګ کولو نه ئې انکار اوکړو او تر دې پورې ئې اووئیل چه تاسو او ستاسو **ربّ** عَزَّوَجَلَّ دِ د دې طاقتور قوم سره جنګ اوکړي. حضرتِ سَیِّدُنا **موسٰی کلیمُ الله** عَلَیْہِ السَّلَام په دې خفه شو. هغه شپږ لکه کسان په نهه کوسه (یعني ووه ویشت زره ګزه) پلن او دیرش میله اوږد میدان کښې د **خلوینبتو کالو** د پاره قید کړې شو. ټوله ورځ به ئې سفر اوکړو، ماښام به په هم هغه ځائ کښې وو د کوم ځائ نه به چه روان شوي وو. د دې ځنګل نوم تِیه کیښودې شو. تِیه یعني د " د لار د خطا کیدو او د خوار و زار ګرځیدو ځائ."

(ماخوذ از تفسیرِ نعیمی ج۲ ص۳۳۶ تا ۳۵۱)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقیق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

# مَــنّ و سَــلْوٰی

په روحُ البیان کښې دي. چه کله حضرتِ سَیِّدُنا **موسٰی کلیمُ الله** عَلَیْهِ السَّلَام د شپږ لکه بنـی اسرائیلو سره د تِیْه په میدان کښې مقیم وو نو **اللّٰهتَعَالٰی** د هغوئي د خوراك د پاره د آسمان نه دوه طعامونه نازل کړل. د یو نوم ''**مَــنّ**'' او د بل نوم ''**سَــلْوٰی**'' وو. **مَــنّ** بالکل سپین د شَهدو [یعني د ګبین] په شان یوه حلوا وه یا د سپین رنګ شَهد وو چه هره ورځ به د آسمان نه د باران په شان را وریدل او **سَــلْوٰی** پاخه شوي مرږان وو او هغه به د جُنوبي هوا سره د آسمان نه رانازلیدل.

## د خوراك خرابیدو وجه

د **مَنّ و سَلْوٰی** په باره کښې حضرتِ سَیِّدُنا **موسٰی کلیمُ الله** عَلَیْهِ السَّلَام ته حُـکـم شوې وو چه [چه خلقو ته اووایه چه] تاسو دا هره ورځ خورئ او د صبا د پاره ئې هیڅ کله هم مه ساتئ. خو په عقیده کمزوري خلق اوېریدل چه که چرې په کومه ورځ **مَـنّ و سَلْوٰی** نازل نه شي نو مونږه خو به په دې **شـړ** میدان کښې د لوږې نه مړه شو. ''چنانچه هغوئي څه [خوراك] د صبا د پاره پټ کیښودو نو د نبـی (عَلَیْهِ السَّلَام) د نافرمانئ په وجه داسې مصیبت راغې چه د صبا د پاره ئې څه ساتلې وو هغه ټول سخا شو او د آئِنده د پاره د هغې نازلیدل بند شو. (تفسیر روحُ البیان ج۱ ص۱۴۲)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

ځکه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ خوږ حَبِيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي چه: که بنـی اسرائیل نه وې نو نه به طعام کله خرابیدلو او نه به غوښه سخا کیدلې. (صحيح مسلم ص ٧٧٥ حديث ١٤٧٠) معلومه شوه! چه د طعام خرابیدل او د غوښې سخا کیدل د هُم هغه تاریخ نه شروع شوي دي. ګني نه به د هغې نه مخکښې خوراك خرابیدو او نه به غوښه سخا کیدله.

## دولس چينې اوبهيدلې

تاسو اوليده چه! د نبـی عَلَیْہِ السَّلَام نافرمانئ بنـی اسرائیل ځومره په تباهئ کښې اخته کړل! د تِیَه په میدان کښې د قید کیدو په وخت کښې چه د چا عُمر شل کاله وو هغه ټول په دې موده کښې هُم هلته وفات شو. حضرتِ سَیِّدُنا موسٰی کليمُ الله عَلَیْہِ السَّلَام هم هلته اوسیدلو لِهٰذا د هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام په بَرَکت مَـنّ و سَـلوٰی نازل شوي وو. هغوئي عَلَیْہِ السَّلَام په خپل هَمسا شریفه کاڼړي اووهلو نو د هغې نه دولس چينې جاري شوې چه د هغې نه به بنـی اسرائیلو اوبه څښلې او پرې لامبل به ئې، د دې قید په دوران کښې چه کومې جامې د هغوئي په بدن وې هغه نه خیرنیدلې، نه زړیدلې او نه شلیدې، د هغوئي نوکان او ویښته به نه غټیدل ځکه به هغوئي ته د وِیښتو وړولو ضرورت نه پیښیدو، د شپې به یوه ستن رانښکاره کیدله او هغې به رڼا کوله، داسې اوګڼړئ چه هغې به د "راډ" کار کولو. د ورځې به نرئ نرئ وريَځ په هغوئي سورې کړې وو،

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

د هغوئي کره به چه کوم ماشوم پيدا کيدو د هغه په بدن به قُدرتي د نوکانو جامې وې او هغه به د هغه د غټيدو سره غټيدلې. په دې قيد کښې دا ټول نِعمتونه هغوئي ته د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رسول حضرتِ سَيِّدُنا **موسٰی كليمُ الله** عَلَيْهِ السَّلَام په بَرَکت حاصل شوي وو.

(ماخوذ از رُوحُ المَعانی فی تفسیر القرآن والسبعِ المَثانی حصّه ٦ ص ٣٨٣)

## د نوکر نفلونه ادا کول څنګه دي؟

د دې قرآني واقعې نه دا هم معلومه شوه چه د ګناهونو او نافرمانو په وجه په دُنيا کښې هم تکليفونه راځي. **بخلي کوونکي اسلامي ورونړه دِ** هم مهرباني اوکړي او خپله ذِمه واري دِ مُکمله پوره کوي. نن صبا ځيني نوکران د مَدَني ذِهن نه لرلو په وجه ډيوټي پوره نه کوي، مقرر کړې شوې کار قصداً نه پوره کوي او مزدوري پوره اخلي او دغسې خپل رزق خرابوي. **ياد ساتئ! نوکر د ډيوټئ [يعني د کار] په وخت کښې د [کار د] مالِك د اِجازت نه بغير نفلونه هُم نه شي ادا کولې.** که د کمزورئ په وجه په کار کښې کوتاهي [يعني سُستي] راځي نو بغير د اِجازت نه نفلي روژه هم نه شي نيولې. (رَدُّالمُحتار ج٩ ص٩٧) خو د فرض نمونځ د جُمعې نه او د رَمَضانُ المُبارَك د روژو نه مالِك هم د منع کولو اختيار نه لري، که هغه ئې منع کوي نو بيا دِ هم نه منع کيږي [يعني پينځه وخته نمونځ دِ کوي او فرض روژه دِ نيسي].

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

## تاسو د يوې يوې دانې اَمانتدار ئې

سُوال: آيا د جامعة المَدينه د مطبخ (يعني د پخلي د ځائ) باورچي [يعني پخلي کوونکې] اَمين [يعني امانتدار] وي؟

جواب: آو بالکل . که قصداً ئې د راشن يوه دانه هم بې ځايه اولګوله نو په آخِرت کښې به جواب ورکوي. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ مونږ ته د هر قِسمه امانت د حِفاظت کولو توفيق راکړي او د خيانت نه دِ مونږه په حِفاظت کښې اوساتي. د **خيانت** عذاب ډير زيات درد ناك دې. چنانچه حُجَّةُ الْاِسلام حضرت سَيِّدُنا اِمام محمّد غزالی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "**مُکاشَفَةُ القُلُوب**" کښې نقل کوي،

## د خِيانت خوفناك عذاب

په ورځ د قِيامَت به يو کس د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې پيش کړې شي. ارشاد به اوشي، آيا تا د فُلاني کس **امانت** بيرته ورکړې وو؟ عرض به اوکړي: "نه" حُکم به اوشي او فرښته به هغه جَهَنَّم ته روان کړي. هلته به د جَهَنَّم په ويخ کښې هغه "امانت" پروت اووينې، او هغه کس به د هغه امانت طرف ته غورزيدل شروع شي تر دې چه اويا کاله پس به هلته اورسيږي او هغه امانت به راواخلي او پورته به راخيژي چه کله د جَهَنَّم غاړې ته را اورسيږي نو ښپه به ئې اوښوئيږي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په ما باندې درود پاك اوليکلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

او بيا به د جَهَنَّم وِيخ ته اولويږي، هُم دغه شان به هغه لويږي او راخيژي تر دې چه د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په شفاعت به په هغه د رَبُّ الْعٰلَمِين عَزَّوَجَلَّ رَحمَت اوشي او د امانت مالِك به د هغه نه راضي شي. (مُکَاشَفَةُ الْقُلُوب ص ٤٤، ٤٥)

## په مدرسو کښې د طعام ضائع کيدو وجه

**هغوئي** (يعني اَميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه) د باورچيانو [يعني پخلي کوونڪو] اسلامي وروڼړو نه تپوس اوکړو، دا اووائې چه په هوټلو کښې خوراك زيات ضائع کيږي که په مدرسو کښې؟ جواب ورکړې شو، په مدرسو کښې. په دې باندې هغوئي اوفرمائيل، اصل خبره دا ده چه د هوټل والا د خپل جيب نه روپۍ خرچ کيږي، هغه د دې نه ګټه هم کوي ځکه هغه د طعام د پخولو سخته نګراني کوي او د کفايت شعارۍ [يعني کمې خرچې] نه کار اخلي. پاتې شوې مدرسې، نو دا د خلقو په چندو چليږي، نه د انتِظام کوونڪو د جيب نه پيسې ځي او نه د باورچي [د جيب نه]، په دې وجه سخته بې احتياطي کيږي، ځيني وخت خو د صَدَقې حلال راوړې شوې پوره پوره چيلې د لاپرواهۍ په وجه اخوا ديخوا ايښودې پاتې شي، خراب شي او آخِر غوزار کړې شي! آه! آه! آه! د مسلمانانو چندې دومره په بې دردۍ ضائع کول مو چرې په آخِرت کښې ګير نه کړي. د مدرسو، جامعاتو او

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

د ټولو مذهبي سماجي ادارو ذِمّه داران دِ ياد ساتي چه! په ورځ د قِيامت به د ذرې ذرې حِساب اخستې شي. اللّٰهتَعَالٰی په سيپاره ۳۰ سُوْرَةُالزِّلزال آيت نمبر ۷ او ۸ کښې ارشاد فرمائي:

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ﴿۷﴾ وَ مَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ﴿۸﴾

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: نو څوك چه يوه ذره نيکی اوکړي هغه به اووينې او څوك چه يوه ذره بدي اوکړي هغه به اووينې.

## په فريزر کښې د خوراك اېښودلو طريقه

**سُوال: د غوښې او د طعام د محفوظ ساتلو يو څو مدَني ګلونه عِنايت کړئ؟**

جواب: د دې خبرې هم خيال ساتئ چه "ډيپ فريزر" صحيح کار کوي که نه، په ګرمئ کښې کله کله [د بجلئ د] وولټيج د کميدو په صورت کښې يخوالې کم شي او د خوراك د خرابيدو يره وي، په داسې موقع باندې د خوراك څښاك څيزونه بَهر په ښکاره هوا کښې خواره کړي هم اېښودې شئ. غوښه چه په ښکاره هوا کښې داسې زوړنده کړې شي چه ديوال ته نه لګې نو هم د ډيره وخته پورې تازه پاتې کيدې شي. چه کله هم پوخ شوې طعام يا اِنګولې په فريزر کښې ګږدئ نو د لوښې نه سر ضرور لرې کوئ چه يخ والې دننه ور اورسي. په وړو لوښو، تالې يا د پلاسټك په وړوکو پوټو کښې اېښودل مناسب وي، د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

خوراك نه ډكې د غټې پتيلې مينځ ته د يخوالي نه رسيدو په وجه د طعام د خرابيدو انديښنه وي. خصوصاً كِچړا [يعني چه غوښه او د چڼې دال داسې وراسته پاخه كړې شي چه بالكل ليتې غوندې ترې جوړه شي] او پخو شوو دالو كښې د زيات احتياط ضرورت دې ګني دا زر خرابيږي. دغه شان هغه اِنګولې چه تماټر يا تراوه څيزونه پكښې په زيات مقدار كښې كړې وي د هغې هم د زر خرابيدو امكان وي.

## اُومه غوښه به د ډيرو ورځو پورې نه خرابيږي

**سُوال: څه داسې طريقه اوښائې چه اُومه غوښه د ډيرو ورځو پورې نه خرابيږي؟**

**جواب:** اُومه غوښه كه په غټ لوښي يا ټوكرئ كښې په فريزر كښې كيښودې شي نو مينځ ته د كم يخ والي رسيدو په وجه د هغې د خرابيدو قوي انديښنه وي، لهٰذا د دې د حِفاظت په طريقه ځان ښه پوهه كړئ. اوّل د ټوكرئ په ويخ كښې [ميده] واوره واچوئ په هغې باندې غوښه كيږدئ بيا په هغې د پاسه واوره واچوئ او بيا پرې د پاسه غوښه كيږدئ او بيا ئې په فريزر كښې كيږدئ. دغه شان به لاندې باندې او دننه هرطرف ته يخ والې ور اورسيږي او اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د ډيرو ورځو پورې به غوښه نه خرابيږی.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : چا چه په ما باندې یو ځل دُرُود شریف اولوستو اللہ عَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را لیږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نیکۍ لیکي. (ترمذی)

## که بریاني خرابه شي نو څه پرې اوکړو

سُوال: د طعام د خرابیدو څه نښې دي؟

جواب: د طعام او اِنګولي د خرابیدو نښې دا دي چه ترُش [یعني ترِیو] بوئ کوي او که د ښوروا والا اِنګولي وي نو د پاسه پرې زګ راشي. که پُـلاؤ بریاني یا قورمه خرابیدل شروع شي نو په شروع کښې په هغې کښې تراوه [یعني ترُش] او نرم خیزونه سخاکیدل شروع شي لِهٰذا پوتې ترې راټول کړئ، اوئې وینځئ او استعمال ئې کړئ. د کوم [اِنګولي] غوښه چه نه وي سخا شوي نو داسې انګولې او پلاؤ وغیره قصداً مه غورزوئ.

## سخا شوي غوښه خوړل حرام دي

سُوال:چه غوښه سخا شي نو څه پرې اوکړو ؟

جواب: هغه اوغورزوئ ځکه چه صَدرُ الشَّرِیعَه بَدرُالطَّرِیقَه حضرت عَلَّامَه مَولانا مُفتِی مُحَمَّد اَمجَد عَلِـی اَعظَمِـی رَحمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْهِ فرمائي. کومه غوښه چه سخا شي او خراب بوئي کوئي، هغه خوړل حرام دي اګرچه ناپاکه نه ده. (بهارِ شریعت ج۱۶ حِصّه ۲ ص ۳۹۵)

## د ورانو شوو شودو [یعني پئیو] استِعمال

سُوال: وران شوي شوده څنګه استِعمال کړې شي؟

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

**جواب:** د ورانو شوو شودو استعمال خو ډير آسان دې، شَهد يا چيني پکښې واچوئ او په اور ئې کيږدئ د هغې اوبه به اوچې شي او پيروې به ئې پاتې شي، هغه ډير خوندور وي.

## د سبزيانو [بناسپتي] غوړي

**سُوال:** آيا د سبزيانو [بناسپتي] غوړي خوړلې شو؟

**جواب:** د دې خوراك جائز دې خو اکثر پکښې ګډُون [يعني مِلاوټ] شوې وي په دې سبب د صِحَّت د پاره نقصاني وي. نن صبا عام طور د خلقو خيټې خرابې وي د دې يوه وجه د غير معياري [يعني بيکاره] سبزيانو غوړي هم دي. که سوچه غوړي نه وي نو کوکنګ آئل [يعني د اِنګولي تيل] استعمالوئ. کارن آئل [يعني د جُوارو تيل] د هغې نه بهتر او د تېولو نه بهتر "زَيت" يعني د خونانو تيل دي.

## د بوډا والي د آسانتيا د پاره

**سُوال: څه داسې فائده مند احتياط اِرشاد کړئ چه د غوړو او تيلو د استعمال سره مو صِحت ته نقصان نه رسيږي؟**

**جواب:** غوړي، تيل او د هر قِسمه غوړ والې په هضم کيدو کښې وخت اخلي او د دې زيات استِعمال د بيمارو او د بدن د پيړ والي سبب جوړيږي. لِهٰذا که د ځوانئ نه د غوړو، تيلو، ميدې او د چينئ په استِعمال کښې کمې شروع کړې شي نو د ژوندې پاتې کيدو په صورت کښې به مو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلٰی)

**په بوډا والي كښې** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ **صِحَّت ښه وي.** زما مدَني مشوره ده چه تاسو په طعام پخولو كښې چه څومره تيل مصاله مالګه او مرچكي وغيره اچوئ، نو په بې فِكرئ سره د دې ټولو مقدار نيم كړئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د دې فائدې به تاسو پخپله اووينئ. البتّه مريض ته پكار دي چه هغه د ډاكټر په مشوره عمل اوكړي.

## بغير د تيلو نه د پخولو طريقه

سُوال: **آيا د غوړو او تيلو نه بغير هم طعام پخيدې شي؟**

جواب: **ولې نه.** ځيني اِنګولي د غوړو او تيلو نه بغير هم پخيدې شي مثلاً ويشيدلي وريژي، كِچړې، لاوند [كړي]، دال وغيره. د چاق چيلي په غوښه او د غوا ښيې پخولو كښې د تيلو اچولو ضرورت نه وي ځكه چه په هغې كښې موجود غوړ والې وِيلي كيږي او هغه د تيلو كار وركوي، د دې طريقه دا ده چه ډير شې ښه مصاله ميده كړئ، بيشكه د خپلې خوښې سبزيانې هم ورسره ميده كړئ، بيا د هغې نه تِينګ انګولې پوخ كړئ.

د ضرورت مطابق پكښې اوبه، ماسته، مرچكې او ګرمه مصاله هم واچوئ. يو څو ځله پخولو نه پس به مو ورسره پخپله لاس عادت واخلي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ

www.dawateislami.net

## د كټر د نالۍ حِفاظت

**سُوال: د مطبخ [یعني د پخلي د ځاۍ] د صفائي په باره كښې یو څو مدَنی ګلونه بیان كړئ؟**

جواب: د **مطبخ** [یعني د پخلي د ځاۍ] صفائي ساتل ډیر ضروري دي. د فرش او دیوالونو داغونه صفا كوئ. د خوراك ذَرّات اخوا دیخوا خواره پراته وي او سخا كیږي او د جراثیمو د پیدا كیدو سبب ګرځي. لِهٰذا په پابندۍ سره د جراثیمو ختمولو دوایاني شیندل ضروري دي. د دې خبرې هیشه خیال ساتئ چه ښوروا، هډوكي او د هیڅ قِسمه غوړوالي نالۍ ته لاړ نه شي ګني كټر ډكیدې شي، لِهٰذا د لوښو وینځلو نه مخكښې په هغې كښې موجودې مصالې او غوړوالي په بوسو وغیره صفا كړئ او علیحده ډبې ته ئې واچوئ.

## شكې او سپګۍ

**سُوال: په وریژو كښې كله كله سپګۍ او واړه كانړي هم پاخه شي كه دا په تیرواته كښې اوخوړې شي نو؟**

جواب: د پخولو نه مخكښې د وریژو او دالو وغیره نه خاوره، شكې او سپګۍ صفا كړئ. یاد ساتئ! خاوره د نقصان د حده پورې خوړل حرام دي، او كه قصداً چا یوه سپګۍ اوخوړه نو حرام او ګناه ده. كه سپګۍ د خوراك سره پخې شوې نو هغه ترې لرې كړئ او طعام اوخورئ. كه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود كثرت كوئ، ځوك چه داسې كوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت كوونكې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

په پخلې كښې د سستئ په سبب ئې قصداً شګې وغيره پرېښودې او د هغې په وجه خوړلو والؤ ته تكيلف رسيږي نو صفائي كول چه د كوم پخلې والا په ذِمه وارئ كښې شامِل وو هغه به ګنهګار وي.

## ثابت پښتوَرګي په اِنګولي كښې مه اچوئ

**سُوال:** د څاروي كټ كيدو په وخت كښې چه كومه وِينه اوځي د هغې څه حكم دې؟ آيا ثابت پښتوَرګې په اِنګولي كښې پخولې شي؟

**جواب:** د غوښې په پخولو كښې د ډير زيات اِحتياط ضرورت دې. "دَمِ مَسۡفُوۡح" يعني د حلاليدو په وخت كښې وتلې وِينه ناپاكه ده او د هغې خوراك حرام دې. لِهٰذا غوښه ښه وينځئ څكه چه كه چرې داسې وِينه وي چه اووِينځلې شي او د هغې اثر ختم شي. ثابت پښتورګي [يعني ګردې] په انګولي كښې مه اچوئ هغه څيرئ او ښې ئې وينځئ.

**سُوال:** تورې او پښتورګې خوړل څنګه دې؟

**جواب:** جائز دې. خو زمونږه خوږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به دا دواړه څيزونه خوړل نه خوښول. چنانچه دوه احاديثِ مُبارَكه اوګورئ، (۱) سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پښتورګې [يعني ګُردې] (خوړل) نه خوښول څكه چه هغه ورو بَولو ته نِزدې وي. (مُلَخَّصاً كنزُ العُمال ج۷ص۴۱ حديث۱۸۲۱۲) (۲) د نَبِي كريم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تورې (د خوړلو) نه نفرت وو خو هغه ئې حرام كړې نه دې. (مُلَخَّصاً اِتّحاف السادةُ المُتّقين ج۸ ص ۲۴۳)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليكي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

**سُوال:** نو آيا مونږ له تورې او پښتورګي خوړل نه دي پكار؟

**جواب:** عِشق خو هم دا دې چه نه ئې خورو. خو كه څوك ئې اوخوري نو هغه ته هيڅ كله هم بد مه وائې ځكه چه د دې خوړل حلال دي څنګه چه د حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمر رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا نه روايت دې چه حُضُورِ انوَر صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زمونږه د پاره دوه مړه ځناور او دوه وِينې حلالې دي. دوه مړه ځناور مهې او ملخ او دوه وِينې اِينه او تورې دي. (مُسند امام احمد بِن حنبل ج ٢ ص ٤١٥ حديث ٥٧٢٧)

**سُوال:** آيا يو مهې هم حرام نه دې؟

**جواب:** مهي كه د وژلو نه بغير پخپله مړ شي او د اوبو د پاسه پړمخې شي نو هغه حرام دې. مهي كه چا اووهلو او هغه مړ شو او بيا پړمخې شو نو هغه حرام نه دې. (دُرِّمُختار و رَدُّالمُحتار ج ٩ ص ٤٤٥)

## هوائي مهي

د **مهي** په باره كښې يو **عجيبه ښكلې حِكايت** واورئ اِنۡ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ ستاسو په معلوماتو كښې به اِضافه اوشي، چنانچه يو ځل خليفه هارونُ الرَّشيد خپل ښكاري باز په هوا كښې والوځولو، په الوتو الوتو هغه د نظر نه غائب شو او لږ ساعت پس ئې په پنجه كښې يو (هوائي) **مهي** نيولې وو او راكوز شو. خليفه ډير حيران شو، هغه د زبردست عالِم حضرتِ سَيِّدُنا مقاتل رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ په خدمت كښې د فتوٰى تپوس اوكړو،

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشكه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

اوئې فرمائيل ستاسو جَدِّ اَمجد [يعني مشر نِيكه] حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا فرمائي، "په هوا كښې قِسم قِسم مخلوق اوسيږي چه په هغې كښې ځيني د سپين رنګ ځناور هم وي چه هغه د مهي په شان بچي راوړي، د هغې لاسونه وي خو وزر ئې نه وي." د دې نه پس حضرتِ سَيِّدُنا مقاتل رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د هغې د خوړلو اجازت وركړو نو د هغه ځناور احترام اوكړې شو[يعني اوخوړلې شو]. (حَيَاةُ الحَيَوان الكبرٰى ج١ ص١٥٧)

## مهي په لږ مقدار كښې خوړل پكار دي

حضرتِ اِمام بُرهانُ الدِّين اِبراهيم زرنوجي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي، د حكيم جالينوس وَينا ده چه په انار كښې ډيرې فائِدې دي او په مهي كښې ډير زيات نقصانونه. خو لږ شان مهي خوړل د ډير شي انارو نه بهتر دي. (تَعليمُ المُتَعَلِّم طريقُ التَعَلُّم ص ٤٢)

## جالينوس څوك وو؟

سُوال: **جالينوس څوك وو؟**

جواب: د **جالينوس** اصلي نوم "كلاډيسن كيلن" وو. دا زمونږه د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دُنيا ته د تشريف راوړلو نه هم مخكښې تير شوې دې. په ١٣١ء كښې پيدا شوې وو او په ٢٠١ء كښې وفات شوې وو. د قديم [يعني پخواني] **يونان** ډير ماهِر طبيب وو او د طِب په فَن كښې ئې د يونان ټول طبيبان شا ته پريښودي وو. د يونان طبابت ډير مشهور

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

دې دا کس دومره ماهر منلې کيږي چه نن اَتَلَّس سوه کاله پس هم په دُنيا کښې د هغه نوم دې.

## د حلال شوي ځاروي ۲۲ منع شوي څيزونه

سُوال: د **حلال ځاروي** هغه کوم څيزونه دي چه خوړل ئې نه دي پکار؟

جواب: د هم دغسې يو سوال په جواب کښې **اعلٰی حضرت** امام احمَد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ فرمائي: د حلال ځاروي ټول څيزونه حلال دي خو ځيني حرام يا ممنوع مکروه دي: (۱)د رګونو وِينه (۲) تريخې (۳) د وړو بَولو پوکنړۍ (يعني مثانه) (۴، ۵) د نر او د ښځې نښې [يعني د وړو بولو ځائ چه د هغې نه معلومات کيږي چه دا نر دې او که ښځه] (۶) هګۍ (۷) ستغونه [يعني غُوټې] (۸) حرام مغز [يعني د ملا د تير مَغز] (۹) د څټ دوه پټې چه د اوګو پورې **راغلې** وي (۱۰) د اِينې وِينه (۱۱) د توري وِينه (۱۲) د غوښې وِينه چه د حلاليدو نه پس د غوښې نه بهيږي (۱۳) د زړه وِينه (۱۴) د تريخې زِيَړې اوبه (۱۵) د پوزې لـمدوالې چه اکثر په ګډو کښې زيات وي (۱۶) د غټو بَولو ځائ (۱۷) لرې (۱۸) کولـمې (۱۹) نُطفه [يعني مادهٔ مُنَوِّيه] (۲۰) هغه نطفه چه وِينه جوړه شوې وي (۲۱) هغه [نطفه] چه د غوښې بوټۍ جوړه شوې وي (۲۲) هغه چه پوره ځاروې جوړ شوې وي او مړ پيدا شي يا بې حلالې [يعني بې ذبح] مړ شي. (فتاوٰی رضويه ج۲۰ ص۲۴۰، ۲۴۱)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په کثرت سره درود لولئ ځکه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې کولې کيږي. (طَبَرانی)

**پوهه** قصّاب ځينې ځينې ممنوعه څيزونه لرې کوي خو د ځينې څيزونو هغوئي ته هم معلومات نه وي يا بې اِحتياطي کوي. لِهٰذا نن صبا چه د لاعِلمئ په وجه کوم څيزونه په اِنګولي کښې پخيږي او خوړلې کيږي په هغې کښې د يو څو څيزونو د ښودلو کوشش کووم.

## وِينه

د **حلالولو** په وخت کښې چه کومه وِينه اوځي هغې ته "دَمِ مَسۡفُوح" وائي. دا ناپاکه وي او د دې خوړل **حرام** دي. د حلالولو نه پس چه کومه وِينه په غوښه کښې پاتي شي مَثَلاً د مرئ په کټ شوي حِصّه باندې، په زړه کښې دننه، په اِينه او توري کښې، او په غوښه کښې دننه وړوکو وړوکو رګونو کښې [پاتي شوي وِينه]. دا اګرچه ناپاکه نه وي خو د دې وِينې خوړل هم **منع** دي. لِهٰذا د پخولو نه مخکښې ئې صفا کړئ. په غوښه کښې په ډيرو ځائيونه کښې په ورو ورو رګونو کښې وِينه وي د هغې خيال ساتل ډير مشکِل وي. د پخيدو نه پس هغه رګونه د تور مزي په شان شي. خاص طور په دِماغو، په سر او ښپو او د چرګې د پتون او د وزرو وغيره په غوښه کښې نرې تور تارونه ښکاره کيږي د خوراك په وخت کښې ترې هغه لرې کوئ. **د چرګې زړه هم روغ مه پخوئ، په اوګدو ئې څلور ځايه څيرئ او د هغې نه وِينه اوّل ښه صفا لرې کوئ.**

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذی)

## حرام مغز

**دا** د سپین مزي په شان وي او دا د دماغو نه شروع کيږي او په څَټ کښ دننه تير شوې وي او د ملا د تير په هډوکي کښ د آخِره پورې تلې وي. ماهر قصّاب د څټ او د ملا د تِير هډوکي په مينځ ولاړ کټ کړي او حرام مغز ترې را اوباسي او غوزار ئې کړي. خو ډير ځل د بې احتياطئ په وجه لږ ډير پاتې هُم شي. او په اِنګولې يا بريانئ وغيره کښ پاخه هم شي. چنانچه د څَټ، او د ملا غوښه وينځلو په وخت کښ حرام مغز لټوئ او ترې اوباسئ ئې. دا د چرګې او د نورو مرغو په څَټ او د ملا په تير کښ هم وي، د ېخولو نه مخکښ د هغې ويستل ډير زيات مشکل وي لِهٰذا هغه د خوړلو په وخت کښ ويستل پکار دي.

## پَـتـــي

د څَټ د مضبوطيا د پاره د هغې دواړو طرفونو ته د زِيړ رنګ دوه اوګدې اوګدې پټـــې وي او دا د اوګو پورې راغلې وي. د دې پټو خوړل منع دي. د غوا [يعني غټ مال] او چيلئ [يعني واړه مال] پټې خو په آسانئ ښکاري خو د چرګې او مرغو د څټ پټې په آسانه نه ښکاري. د خوړلو په وخت کښ ئې ګورئ يا د يو معلومات لرونکي نه تپوس کوئ او لرې کوئ ئې.

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاځيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِیمان)

## ستغونه [يعني غُوټې]

په څَټ باندې، په مرئ کښې، او ځيني ځائ کښې په وازګه وغيره کښې ورې يا غټې چرته سرې او چرته د خرِ رنګ غونډې غونډې غوټې وي هغې ته په عربئ کښې غَدَّه او په پښتو کښې ستغونه [يا غوټې] وائي. دا هم مه خورئ، د ډخولو نه مخکښې ئې ګورئ او لرې کوئ ئې. که په پخه شوې غوښه کښې ښکاره شي نو هُم ترې لرې کوئ ئې.

## هــګـــئ

هګو ته خُصيه، فوطه يا بيضه هم وائي. د دې خوړل مکروهِ تحريمي دي، دا په غوئي، چيلې وغيره پورې ښکاره وي. د چرګ خيټه چه اوشلولې شي او کولــمې ترې لرې کړې شي نو د خيټې دننه طرف ته دوه سپينې ورې ورې د تُخم په شان دانې ښکاره شي دا [د چرګ] هــګـــئ دي. دا ترې لرې کړئ. افسوس! د مسلمانانو په ځيني هوټلو کښې د زړه او اِينې نه علاوه د غوئي او چيلې هــګـــئ هم په تبخې سرې کولې او خرخولې شي، غالِباً د هوټل په ژبه کښې دې ډِش ته [په اُردو کښې] ''کَٹا کَٹ'' وئيلې کيږي. شايد دې ته ''کَٹا کَٹ'' په دې وجه وائي چه د ګاك په مخکښې زړه يا هــګـــئ وغيره چه سرې کوي نو په تبخې ئې کيږدي او په رمبې ئې په تيزه تيزه وهي او کټ کوي د هغې نه د ''کَٹا کَٹ'' آواز پيدا کيږي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

## لَړې

په لَړي كښې ګندګي پرته وي د دې خوراك مكروهِ تحريمي دې خو د مسلمانانو يو شمير دي چه نن صبا ئې ښه په شوق خوري.

## د مَـمنُوعه څيزونو معلومات به څنګه كيږي؟

سُوال: د بيان شوو مـمنوعه څيزونو تفصيلات به څنګه معلوم شي؟

جواب: ټولو باورچيانو [يعني پخلي كوونكو] بلكه ټولو اسلامي ورونړو ته پكار دي چه هغه د حلال كړې شوي ځاروي د ممنوعه څيزونو د معلوماتو حاصلولو د پاره د **فتاوٰی رضويه** د جلد ۲۰ ص ۲۳٤ نه ۲٤۱ پورې ضرور مطالعه اوكړي. كه پوهه پرې نه شي نو د عُلمائے كرام نه دِ تپوس اوكړي. يقيناً لوستل ئې فائده مند دي خو ورسره ورسره چه **تجربه** هم لري نو ډيره به ښه وي.

## د بيلمانځه د لاس ډوډۍ خوړل څنګه دي؟

سُوال: **څيني خلق د بيلمانځه د لاس ډوډۍ نه خوري زمونږه څيني باورچيان [يعني پخلي كوونكي] كله كله په نمانځه كښې سُستي هم كوي دوئې ته نصيحت اوكړي؟**

جواب: د بيلمانځه د لاس ډوډۍ خوړل جائز دي. بيا هم كه پرهيزګاره خلق د بيلمانځه د اصلاح د پاره زَجراً [يعني د هغه د ملامته كولو د پاره]

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډېر نِزدې هُغه وي چا چه په دُنيا کښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (ترمِذی)

د هغه د لاس ډوډۍ اُو نه خوري نو باك نشته. باقي دا وخت چه دلته كوم **باورچيان** [يعني پخلي كوونكي] اسلامي ورونړه جمع شوي دي د دوئي تعلُّق خو د اسلامي مدرسو سره دې، اكثر مدرسې د جُمات سره مُتَّصِلې [يعني لګېدلي] وي. دې باورچيانو ته خو د فرض نمونځونو سره سره د اوَّابين، تَهَجُّد او اِشراق و څاښت نفلونه هم پرېښودل نه دي پكار ځكه چه زمونږ د طرف نه د ډيوټۍ په دوران كښې په دې نفلونو باندې هيڅ پابندي نشته. ياد ساتئ! فرض نمونځ نه **باورچي** ته مُعاف دې نه د هغه اِمداد **كوونكي** ته او نه **ډوډۍ پخولو والا** ته معاف دې. ځنګه چه د اذان نه مخكښې د دُرُود شريف آواز واورئ. تاكيد دې چه فوراً چوله بندوئ او د تكبيرِ اُولٰى سره د جَمعې د نمونځ ادا كولو د پاره د جُمات د اولني صف حاصلولو د پاره روانيږئ. د **خيرخواه**[1] اسلامي ورونړو په خدمت كښې عرض دې چه هغوئي ځنګه نور طلباء د نمانځه د پاره راپاخوي او جُمات ته ئې رسوي دغه شان دِ مطبخ [يعني د پخلي ځائ] ته هم ورځي او په هغوئي دِ چوله بندوي او د نمانځه د پاره دِ ئې بوځي.

---

[1] د نمونځونو د پاره طلباء د جُمات صفونو ته د رسولو او د درس و بيان په دوران كښې خلق مُبَلِّغ ته د نِزدې كښېنولو په خدمت باندې مقرر اسلامي ورونړو ته د دعوتِ اسلامي په مدَني ماحول كښې خيرخواه وئيل كيږي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الـلّٰـه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

## د دين د طالب علمانو خدمت نيك بختي ده

سُوال: آيا باورچيان [يعني پخلي كوونكي] اسلامي وروڼړه خوش نصيبه نه دي چه هغوئي ته د دِين د طالبِ علمانو د خدمت سعادت حاصل دې؟

جواب: ولې نه. واقعی خوږو باورچيانو! تاسو ډير زيات خوش نصيبه ئې چه د حِفظِ قرآن او د علمِ دين په طلب كښې مشغول اوسيدونكي هُغه طلباء چه په هغوئي ډير زيات رحمتونه را وريږي ستاسو د لاسو [پوخ كړي] طعام خوري د دين د طالِبِ علم مقام ډير اوچت او لوئي وي. حضرتِ سَيِّدُنا ابودرداء رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ به چه كله كوم يو د دِين طالبِ علم اوليدلو نو"مرحبا پخير راغلئ" به ئې ورته وئيل اوفرمائيل به ئې چه رسُولُ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ستاسو په باره كښې (د نيك سلوك كولو) خاص وَصِيَّت فرمائيلې دې. (سُنن دارمی ج۱ ص۱۱۱ حدیث ۳۴۸) يقيناً خاص طور ځلمي طالبِ علمان ډير قابِلِ رَشك دي چه دا عُمر عام طور د لوبو ټوقو وي خو دوئي د خپلې ځوانئ سپرلې د عِلمِ دِين د پاره وقف كړې دې.

## ياالله د طلباء په بركت ما اوبخښې

سُوال: د جامعاتُ المَدِينه د طَلَباء په باره كښې ستاسو څه جَذبات دي؟

جواب: زه د دعوتِ اسلامي د جامِعاتو او مدرسو د طَلَباء سره ډيره مينه كووم او د هغوئي په خاطر د خپل ځان د پاره د بخښني دُعا كووم. اګرچه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير كړل هغه د جَنَّت لاره هيره كړه. (طَبَرَانِي)

په دې کښې ځيني شرارتيان هم وي خو آخِر ماشومان دي! ماشومان که هر څومره وران وي خو مور و پلار ته ګران وي. د ځيني طلباءُ د شرارت په وجه ټولو طالبِ علمانو ته بد نه شي وئيلې. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زمونږه طلباء د پينځه وخته نمونځ نه علاوه نور نفلونه هم کوي. اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زمونږه کثير شمير طلباء د صلوٰةُ التَّوبه، تَهَجُّد او اِشراق و څاښت د نمونځونو اهتِمام هم کوي. په زرګاؤ طلباء د **مدَنی انعاماتو** رسالې هم ډکوي او [خپل ذِمّه دار ته ئې] جمع کوي، بيشميره طلباء په **مدَنی قافِلو** کښې سفر کوي، ډير داسې دي چه د مدرسو او جامِعاتو په خوا و شا کښې د **دعوتِ اسلامي** د مدَنی کارونو ذِمّه دار ټاکلي شوي دي او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي بيشميره جُماتونه آباد کړي دي او په هغې کښې مَدَني کارونه کوي. اَللّٰهُمَّ زِدْ فَزِدْ ثُمَّ زِدْ يعني اے اللّٰه! [دوئي] زيات کړې، نور ئې زيات کړې او بيا ئې [نور] زيات کړې.

## د شکايت کولو طريقه

سُوال: **باورچي اسلامي ورونړه د طلباؤ شکايتونو ته اَهَمِّيَّت نه ورکوي.**

**جواب:** اوګورئ! باورچي هم عِزَّتِ لري، د چا په زړه کښې چه څه راځي او هغه وخت بې وخته د باورچي غوړونه خوري نو په هغه هم بده لګيدې شي، ښکاره خبره ده چه يو يا دوه باورچيان د يوې پوره جامعې يا مدرسې ټول طلباء نه شي مُطمئن کولې. **خوږو طالبِ علمانو!**

تاسو هم ياد ساتئ چه د بيا بيا شكايت كولو سره د شكايت كوونكي عِزّت او اثر ختميږي. لِهٰذا شكايت يو ځل خو په نرمئ او صحيح انداز كښې كول پكار دي بلكه كه د ليك په ذريعه وي نو ډيره به ښه وي، تجربه هم دا ده چه په داسې مُعامَلاتو كښې د "وينا" په مقابَله كښې "ليك" ډير اثر لري. ولې چه د اكثرو طلباؤ ذِهن پوخ نه وي او دوئي به عام طور د خبرې جوړلو په ځاې خبره ورانوي! ځكه دِ يو طالبِ علم هم د باورچي خوا ته د شكايت كولو د پاره نه ځي. چا ته چه څه شكايت وي هغه دِ د ليك په صورت كښې د خپلې **جامعةُ المَدينه** يا **مدرسةُ المَدينه** د مطبخ ذِمّه دار اسلامي ورور ته ورانديې كوي. (د اَميرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په دې خبرو باندې باورچي اسلامي ورونړو ډير اطمينان ښكاره كړو)

## كه په پخولو كښې طعام اوسوزي نو د هغې ذِمَّه وار څوك؟

سُوال: **كه باورچي [يعني پخلي كوونكې] طعام اوسوزوي نو آيا هغه ته مُعاف ده؟**

جواب: نه. ولې چه باورچي اُجرت [يعني مزدوري] اخلي او پخلې كوي هغه د دې ذِمّه وار دې. فقهائے كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: "كه باورچي طعام خراب كړو يا ئې اوسوزولو يا ئې كچه راكوز كړو نو هغه به د طعام تاوان (يعني چه څومره نقصان شوې وي هغه) ادا كوي."

(دُرِّمُختار مع رَدُّالمُحتار ج۹ ص ۲۲)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

دلته دِ ذِمّه داران غور اوكړي چه كه باورچي تاوان ور نه كړو نو د قوم د چندې په باره كښې تاسو "غوړونه" نه شئ كنړولې. كه دا ستاسو ذاتي رقم وي نو شايد چه يوه يوه پائي به مو ترې وُصولولې. لِهٰذا د دې وقف د روپو د نُقصان تاوان به بهرحال ادا كوئ. يعني د طعام خرابيدو په سبب چه د څومره روپو نقصان شوې وي هغه ادا كول به ضروري وي. "څه خير دې د آئنده د پاره به خيال كوي" په دې خبره خلاصې نه شئ موندلې بلكه تير شوې ټول حِساب به هم خلاصول غواړي.

## د تنور ډوډئ او د خوراك سوډا

**سُوال: د تنور په ډوډئ كښې كله كله د خوراك سوډا زياته شي، آيا دا نقصان وركوونكې خو نه ده؟**

**جواب:** په هر څيز كښې ميانه روي ضروري ده. ښكاره خبره ده چه په ډوډئ كښې سوډا زياته شي نو د ډوډئ خوند به خراب شي او زياته سوډا استِعمالول وجود وِيلې كوي.

**سُوال: د چنړو خوټكولو څه طريقه ده؟**

**جواب:** چه كله چنړې خوټكوئ نو بهتره دا ده چه تقريباً اَته گينټې ئې په اوبو كښې پستې كړئ او د هغې د نرمولو او زر پخولو د پاره د خوراك سوډا هم ور اچولې شئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

## د سختې غوښې نرمولو طريقه

**سُوال: د زاړه څاروي د غوښې د نرمولو څه طريقه ده؟**

**جواب:** د **زوړ څاروي** د سختې غوښې پخولو په وخت کښې که کچه **پَاپِيته** ور واچولې شي نو هغه به زر پخه شي. په سيخ کښې د سره کولو د پاره د پوټو په مصاله کښې هم کچه **پَاپِيته** استعماليږي. په هوټلو کښې چه خلق په خوند خوند **نِهاري** [يعني يو قِسم د غوښې تيښگ اِنگولې] خوري، په هغې کښې عُموماً د اوښ، يا د زړې غوا يا د زړې ميښې يا د ګانړئ او د پټې د کاره وتلې زاړه غوئې غوښه وي. دا د **پَاپِيتې** کمال دې چه هغه د موم په شان نرمه کړي او د خوړلو قابِله ئې کړي. د دې نه علاوه چيني، د پودينې ډنډرې او چاليه هم د غوښې نرمولو په کار راځي. د ډير وخته پورې په اور ايښودو سره هم غوښه نرميږي. چه کله اِنگولې يا پلاؤ وغيره پخوئ نو د چرګې وغيره د غوښې واړه پوټې پکښې اچوئ چه د دننه پورې صحيح پخيږي. خو که په غټ کړي يا ديګ کښې غټې ټکړې واچولې شي نو د ضرورت مطابق د ګرمائِش رسيدو په صورت کښې پخيږي. زما مدَني مشوره ده چه په هر اِنګولې کښې د تَبَرُّك [يعني برکت] په طور لږ کدُّو شريف د اچولو هم معمول جوړ کړئ. په غوښه کښې د سبزئ اچولو يوه فائده دا هم ده چه د دې سره د غوښې ځينې بد اثرات لږ کيږي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډیر زیات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرهِیب)

## هغه غوښه چه نه پخیږي

سُوال: کومه غوښه چه په هیڅ صورت نه پخیږي د هغې څه عِلاج دې؟

جواب: د هغې هیڅ عِلاج نشته. اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي، خُنثٰی [یعني هیجړا] چه په هغې کښې د نر او ښځې دواړه نښې وي، په دواړو ځائیونو یو شان مِتیازې کوي، څه وجه د ترجیح نه وي [یعني څه داسې وجه نه لري چه هغې ته صرف "نر" یا صرف "ښځه" اووئیل شي]، د هغې غوښه په هیڅ طریقه نه پخیږي. هسې په ذبحِ شرعي به حلال شي،که څوك ئې کچه خوري نو خوري دِ ئې [دلته مطلب کچه غوښه خوړلو ته جائِز وئیل نه دي، مطلب دا دې چه هغه په هیڅ شان نه پخیږي]. د هغې قُرباني جائز نه ده. (مُلَخَّصاً فتاوٰی رضویه ج۲۰ ص۲۵۵)

## د ښې غوښې نښې

سُوال: د ښې غوښې څه نښې دي؟

جواب: د زوړ څاروي غوښه سره وي، او د ځوان څاروي غوښه خړه وي او په دې کښې عام طور وازګه کمه وي. خړه غوښه ډیره ښه وي. د کور د پاره آخري پاتې شوي غوښه اخستل فائده مند کیدې شي ځکه چه خرخولو والا وازګې او هډوکې زر زر په تول کښې اوچلوي او دغسې په آخرئ پاتې شوي غوښه کښې پسته غوښه زیاته وي! د سبزیانو او میوو مُعامَله د دې نه مُختلِفه ده ځکه چه تازه او ښې [سبزیانې او

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

ميوې] زر زر خرڅيږي او په آخِره كښې خرابه او سخا شوي پاتې كيږي. په دې معنو به دا مقوله صحيح وي چه ”سبزيانې او ميوې په شروع كښې او غوښه په آخِره كښې اخلئ.“

## په څاروو ظُلم

**سُوال: آيا كوم يو صحابي به هم د غوښې كاروبار كولو؟**

جواب: آو، حضرتِ سَيِّدُنا عَمْرو بِن عاص او حضرتِ سَيِّدُنا زُبير رَضِیَ اللّٰہ تَعَالٰی عَنْہُمَا به د غوښې كاروبار كولو. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ هر غوښې خرڅولو والا د هغه صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان په لار روان كړي. نن صبا په دې كاروبار كښې ډير ګناهونه كيږي. د غوښې حاصلولو د پاره غټ شوې بې زبانه څاروي عموماً د شروع نه په ظُلم د ”حلالولو ځائ“ ته رسولې كيږي. بيشكه ذَبح كول جائز دي خو نن صبا په دې جائز كار كښې بې آسرې څاروو ته دومره بې ځايه تكليفونه وركولې كيږي چه زړه ورسره سخت خفه كيږي.

**سُوال: د څاروي د حلالولو هغه احتياطونه اِرشاد كړئ چه په هغې كښې هغه ته كم نه كم تكليف رسيږي؟**

جواب: غوا وغيره د راغورزولو نه مخكښې دِ د قبلې د طرف تعَيُّن اوكړې شي، د څملولو نه پس خاص طور په كاړِيزه زمكه باندې په راښكودو راښكودو د هغه مخ قبلې ته كولو كښې بې زبانه څاروي ته ډير

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : په ما باندې درود شريف لولئ الله عَزَّوَجَلَّ به په تاسو رحمت را ليږي. (ابن عدي)

تڪليف رسيږي. په ذَبح کولو کښې چه څلور رګونه کټ شي يا کم از کم درې رګونه کټ شي. دومره زيات ئې مه غوڅوئ چه چاړه ئې د څَټ هډوکي ته اورسيږي، دا بې وجه تڪليف ورکول دي او بيا چه د څاروي نه مُکمّل طور ساه نه وي ختلې تر هٰغې مه د هغه ښپې کټ کوئ او مه ترې څرمن اوباسئ، بهر حال د حلالولو نه پس چه تر څو پورې ترې روح نه وي وَتلې چاړه خو پريږده بلکه په کټ شوي مرئ ورته لاس هم مه وهئ، غور اوکړئ، چه ستاسو په زخم باندې څوك لاس يا ګوتې وهي نو تڪليف به درته محسوسيږي که نه؟ ځيني خلق د غوا نه زر "ساه وِيستلو" د پاره د حلالولو نه پس ئې د مرئ نه څرمن لرې کړي او چاړه ورننباسي او د زړه رګونه ئې کټ کوي، هُم دغسې د چيلې حلالولو نه فوراً پس د غريب څَټ مات کړي، په بې زبانه [څاروو] باندې دا قِسم قِسم ظُلمونه کول نه دي پکار. د چا نه چه کيدې شي د هغه د پاره ضروري دي چه څاروي ته بې وجه تڪليف رسولو والا منع کړي. په بهارِشريعت جلد٣ حصّه ١٦ ص ٢٥٩ کښې دي: "په څاروي باندې ظُلم کول په ذِمّي[1] کافِر باندې د ظُلم کولو نه بد دي او په ذِمّي کافِر باندې ظُلم

[1]هٰغه کافر چه مسلمان بادشاه ته د خپلو اوسيدو جَزِيه [يعني ټيکس] ادا کوي. (اوس په دُنيا کښې ټول کافِر حَربي دي)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه كښې به لس نيكۍ ليكي. (ترمذی)

كول په مُسلمان باندې د ظُلم كولو نه هم بد دي. ځكه چه د ځاروي د اللّٰهعَزَّوَجَلَّ نه سِوا بل څوك مددګار نشته هغه غريب به د دې ظُلم نه څوك خلاصوي."

**سُوال: د حلاليدو والا ځاروي تماشا كتل څنګه دي؟**

**جواب:** د بې زبانه ځاروي حلاليدل د تماشا جوړولو په ځائ په هغه رحم كول پكار دي. او دا سوچ كول پكار دي چه كه د ده په ځائ زه **حلاليدلې** نو زما به څه حالت وو! د حلالولو په وخت په ځاروي باندې رحم كول د **ثواب كار** دې. څنګه چه يو صحابى رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت كښې عرض اوكړو، **يارَسُولَ الله** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم "ما ته په چيلۍ حلالولو كښې [په هغې] رحم راځي. اوئې فرمائيل: كه په هغې رحم كوې نو اللّٰهعَزَّوَجَلَّ به هم په تا رحم فرمائي." (مُستَدرَك لِلحاكِم ج٥ ص ٣٢٧ حديث ٧٦٣٦)

په دې حَديثِ پاك كښې خو په جائزه طريقه حلالولو كښې [په ځاروي] باندې د رحم كولو ذِكر دې نو چه كله په بې زبانه ځاروي باندې ظُلم كيږي څنګه چه عرض [يعني سوال] شوې دې، د هغه ځاروي [د حلاليدلو نه] تماشا جوړول څنګه دي؟ ښكاره خبره ده كه كيدې شي نو ظالم پوهه كړئ او د ظُلم نه ئې منع كړئ كه دا نه شئ كولې نو په زړه كښې ئې بد اوګنړئ او د هغه ځائ نه لرې شئ. بلكه چه كله ځاروي حلاليږي نو بې ضرورته د هغې طرف ته د كتلو نه

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جامِعُ الصَّغِير)

ډېره کول پکار دي. د هغې نه چاپيره کيدل، د هغه د رمباړو او ښپو ټکولو نه مزې اخستل، په بق بق خنداګانې کول، او د هغې نه تماشا جوړول سراسر د غفلت نښه ده. **د چيلۍ احترام کول پکار دي ځکه** چه په حديثِ پاك کښې دي، **د چيلۍ** [يعني بيزې] **عِزَّت کوئ**، او د **هغې نه خاورې ښندېئ ځکه چه هغه جَنَّتي ځاروې دې.**

(الجامِعُ الصَّغير ج۱ ص ۸۸ حديث ۱٤۲۱)

## اوښ د درې ځائيه نه حلالول څنګه دي؟

**سُوال: نن صبا اوښ د درې ځائيه نه حلاليږي دا د کومه حده پورې صحيح دي؟**

**جواب:** اوښ د درې ځائيه نه حلالول زياتې دي د يوځائ نه حلالول کافي دي بلکه اوښ **نَحر** کول سُنَّت دي. د حلق [يعني مرئ] په آخري حِصّه کښې د نيزې (يا د تيرې خوکې والا چاړه) د ننباسلو په ذريعه رګونه کټ کولو ته **نَحر** وائي. (بهارِ شريعت جلد۳ حصّه۱۵ ص ۳۱۲) د **نَحر** کولو نه پس ورته بيا نور په مرئ د **چړې** راښکلو يعني د حلالولو ضرورت نشته.

## د اوښ سر د اوسپنې په لښته وهل!

اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ مونږ ټولو ته بيا بيا د **حج** او د **مدينې ديدار** نصيب کړي. او په **مِنٰی شريف**[1] کښې دِ راته د قُربانۍ سعادت راکړي. آه! د

[1] د حج قُرباني په مِنٰی شريف کښې کول سُنَّت دي خو نن صبا د "حلالولو ځائ" په مُزدلفه کښې دي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو د پاره پاكي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

حج (۱٤۲۲هـ) په ورځو كښې هلته داسې يروونكي نظارې ليدلې شوي دي چه د رحم دل انسان ورسره زړه خُوګ شي! آه! په بې وسه غريب اوښ باندې ظُلم! يو د اوچتې وَنې والا تور حبشي به د اوسپنې يوه وزنداره لښته په دواړو لاسو پورته كړه او په ډيره تُندئ به ئې د بې خبره ولاړ اوښ سر له په زوره راخلاصه كړه چه د هغې په وجه به په هغه غريب [اوښ] باندې سر اوګرځيدو او په برړيدو برړيدو به راغوزار شو، بيا به يو څو قصّابانو هغه اونيولو او درې ځائيه به ئې حلال كړو. په ځينې ځينې ځائ كښې دا هم ليدلې شوي وو چه اوّل به ئې ولاړ اوښ نَحر كړو، د هغه نه به وِينې د فوارې په شان دارې وهلې او هغه به د يَرې نه د تښتيدو كوشش كولو نو د هغه سر به ئې د اوسپنې په لښته په زوره اووهلو او هغه بې وسه غريب به د درد په وجه په برړيدو برړيدو په زمكه راپريوتو، او بيا به ئې درې ځائيه حلال كړو. دا دردناك منظر ما پخپله نه وو ليدلې، د ۱٤۲۲هـ د چل مدينه قافلې د طرف نه د قُربانئ كولو د پاره "د حلالولو ځائ" ته تللو والا اسلامي ورونړو ما ته د ستر ګو ليدلې حال اورولې وو.

## د غوښې خرخولو والؤ د پاره احتياطونه

سُوال: د غوښې خرخولو والؤ د پاره څه مدَنی ګلونه بيان كړئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَرانِي)

جواب: اکثر د غوښې خرڅولو والا نن صبا د ډېرو غَلَطو په وجه په ګناهونو کښې اخته کيږي او خپل رزق خرابوي. په هغه ګناهونو کښې څه دا چه د برف خانې نه راوِيستلې زړه غوښه د تازه په نوم خرڅول، د زاړه غوئي يا د زړې ميښې يا د زوړ ساندا غوښې ته د سخوندر غوښه وئيل يا د زړې غوا يا د سخې په ورون پورې د سخئ واړه واړه تې نښلول او په دوکه خرڅول، د کومو هډوکو او پړيمانو چه د غورزولو عُرف [يعني رواج] دې هغه په دوکه په وزن کښې شاملول، غوښه يا قِيمه د تول نه بغير صِرف په اندازه د تول په نوم ورکول، (مثلاً چا نيم پاؤ قيمه اوغوښتله نو په موټې کښې ئې راواخستله او بغير د وزن نه ئې د نيم پاؤ په طور ورکړه) وغيره ګناه حرام او دوزخ ته بوتلونکې کارونه دي.

## په اندازه سره د تول کولو مُمَانَعَت

**سُوال: اوس تاسو قيمه په اندازه باندې د تول کولو نه منع اوفرمائيله. دا خو ډېره مشکِله ده ځکه چه نن صبا ډېر څيزونه په اندازه باندې د تللو عُرف (يعني رواج) دې نو آيا اخستلو والا هم ګنهګار دي؟**

جواب: آو. که د تول په نوم ئې په اندازه واخستو نو د اخستو والا هم ګنهګار دي. د دې نه د بچ کيدو يوه طريقه دا هم ده چه کوم څيزونه د تول په نوم بغير د تول نه نن صبا ورکولې شي هغه تاسو د تول په

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : كله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

نوم مه اخلئ بلکه د هغې قِيمت وائې، مثلاً ما له د پينځۀ روپو ماسته راکړه يا د دولسو روپو قيمه راکړه. اوس ئې که هغه هر څنګه ورکړي، دواړه د ګناه نه بچ شو.

## د قيمې بازارې سموسې

**سُوال: آيا بغير د وِينځلو نه قِيمه خوړلې شي؟**

**جواب:** چه تر څو پورې د نَجاست [يعني د ګنده کيدو] علم نه وي بغير د وِينځلو نه په خوړلو کښې باك نشته خو اِحتِياط په دې کښې دې چه اووِينځلې شي. د بازار او د دعوتونو خوندورې سموسې خوړلو والا دِ په تَوَجُّه سره واورې. عام طور سموسې جوړولو والا قِيمه نه وِينځي. هغوئې وائې چه قِيمه او وِينځلې شي نو د کباب سموسې خوند کميږي! په قِيمه کښې کله څه څه وي دا هم واورئ! د غوا د **لرې** نه پوستکې لرې کړې او د هغې سره يو ځائ تورې بلکه مَعَاذَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ کله خو پرم شوې وِينه په مشين کښې واچوې او ميده ئې کړې نو دغسې د سپين لرې د قيمې رنګ د غوښې په شان ګُلابي شي. کله کله د سموسې والا د هغې سره يو ځائ د ضرورت مطابق ادرك او اُوګه وغيره هم ميده کړې نو بيا خو د هغه قيمې د وِينځلو سوال نه پيدا کيږي، او بيا په هم هغه قِيمه کښې مرچکې او مصاله واچولې شي او سره کړې شي او د هغې نه سموسې جوړوې او خرڅوې ئې. په هوټلو

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

کښې هم د دغسې قيمې د اِنګولې انديښنه وي. د ګنده کباب سموسو والؤ نه پکوړې وغيره هم مه اخلئ ځکه چه کړې يو وي او تيل هم هغه د ګنده قيمې والا وي. خير زه دا نه وائم چه مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ هر غوښې خرخولو والا داسې کوي يا خدا نخواسته هر کباب سموسې والا ناپاکه قِيمه استِعمالوي. يقيناً د خالِصې غوښې قِيمه هم پيدا کيږي. د عرض کولو مقصد مې دا دې چه قِيمه يا کباب سموسې د قابِلِ اِطمِينان مسلمان نه اخستل پکار دي او کوم مسلمانان چه داسې ناپاکه حرکتونه کوي هغوئې له توبه کول پکار دي.

## مړې شوې چرګې

نن صبا د بديانتئ دور دې. **وائې چه کله په چرګانو کښې تَغې** [يعني وبا] خوره شي نو د غلط ذِهن لرلو والا خلق د مړو شوو چرګو غوښه هم د سيخ کباب والؤ او هوټلو والؤ ته په دوکه ورکوي!

## مَرګ ته نِزدې چيلئ د حلالولو احکام

سُوال: **که بيماره چيلئ مرګ ته نِزدې شي نو آيا هغه حلالولې شي؟**

**جواب:** آو. خو په دې سِلسله کښې د يو څو خبرو خيال ساتئ، بيماره چيلئ چه کله حلاله کړې شي او د هغې خُله صرف اوخوزي هغه حرکت دا دې چه خُله ئې بيرته کړه نو حرامه ده او که بنده ئې کړه نو حلاله ده، که سترګې ئې اوغړولې نو حرامه ده او که بندې

www.dawateislami.net

ئې كړې نو حلاله ده، كه ښېې ئې اوغزولې نو حرامه ده او كه راغونډې ئې كړې نو حلاله ده، كه ويښته ئې زكه نه شو نو حرامه ده او كه زكه شو نو حلاله ده.يعني كه په صحيح معنو د هغې د ژوندي كيدو علم نه وي نو د دې نښو نه دِ كار واخستې شي.او كه يقيني طور ئې ژوندي كيدل معلوم وي نو د دې خبرو خيال دِ نه ساتلې شي. بهرحال څاروې به حلال ګڼړلې شي. (فتاوٰی عالمگیری ج٥ ص٢٨٦)

## كه د حلالولو په وخت كښې ترې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم اخستل هير شو نو؟

**سُوال:** كه مُسلمان بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم اووئيله او څاروې ئې ذبح كړو نو آيا څاروې حلال شو؟ كه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم اخستل ئې هير شو نو څه حُكم دې؟

**جواب:** آو. حلال شو. د حلالولو په وخت د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم اخستل ضروري دي. خو بهتره دا ده چه بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُ اَكْبَرْ اووائي. د "عربئ نه عِلاوه ئې كه په بله ژبه كښې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم واخستلو بيا به هم څاروې حلال شي." (فتاوٰی عالمگیری ج٥ ص٢٨٦) كه د حلالولو په وخت كښې ترې د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نوم اخستل هير شو نو بيا هم څاروې حلال دې. خو كه قصداً ئې [د الله نوم] وا نه اخستلو نو حرام به شي. تفصيلي احكام په بهارِ شريعت حصه ١٥ كښې اولولئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (ترمِذی)

# هډوكي خوړلې شي كه نه؟

**سُوال:** آيا د حلال شوي څاروي هډوكي هم خوړلې شي؟

**جواب:** آو. اعلیٰ حضرت امام احمد رضاخان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ”د ذبح شوي حلال څاروي په هډوكو [خوړلو] كښ هيڅ قِسمه منع نشته تر څو چه د هغې په خوړلو كښ نُقصان نه وي.“ (فتاوٰی رضویه جَدِید ج۲۰ ص۳۴۰) خاص طور سپين نرم هډوكي [يعني كرَچې] چه د پلاستك په شان لچكداره وي، هغه اكثر نرم او مزيدار وي. د څاروو د خيټې د پردې سره نِزدې د نرم هډوكي پښتۍ، د چارئ د پلن هډوكي سره لګيدلې سپين پلن هډوكي هم نرم وي، د ساه نلكئ چه په عربئ كښ ورته ”حُلقوم“ [او په پښتو كښ ورته ”تُوړ تُوړې“] وائي او دا د سګي سره لګيدلې وي دا په اوګدو ښيرل او صفا كول پكار دي. د سينې غوښه پخولو نه پس چه په هغې كښ كوم سپين نرم هډوكي [يعني كرَچې] وي هغه هم خوړې شي. ورسره تور هډوكي وي چه كرَېندي او مزيدار او د طاقت نه ډك وي. تقريباً چه د ټولو ځوانو څاروو تور هډوكي كرېندي وي هغه ښه جووئ او په آخِره كښ چه كومه اوچه چورا پاتې شي هغه ټوك كړئ. كوم هډوكي چه نه خوړل كيږي يا نه جوول كيږي د هغې د ماتې شوي حِصّې چوپل خوند هم كوي او طاقت هم پكښ وي. لِهٰذا تر څو پورې چه ترې خوند را اوځي د

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : كوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِكر او په نبي باندې د درود شريف لوستلو نه بغير پاڅيدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څيدل. (شُعَبُ الاِيمان)

اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د نِعمَت نه فائده حاصله كړئ او د هغې نه پس ئې په دسترخوان كيږدى.

سُوال: په اومه غوښه كښې خو مو تور هډوكي كله نه دې ليدلي!

جواب: په اومه غوښه كښې چه كوم هډوكي بالكل سره وي هغه چه پاخه شي نو تور شي بلكه وِينه هم چه كله ښه پخه شي نو توره شي!

## د هډوكو په ذريعه د عِلاج مَدَني ګلونه

سُوال: د هډوكو څه فائدې هم بيان كړئ ؟

جواب: هډوكي هم د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نِعمَت دې او په دې كښې هم طاقت اينښودې شوې دې كوم خلق چه د خپل كور د پاره بغير د هډوكو نه غوښه اخلي هغوئي د خپل ځان سره سره د كور خلق هم د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د يو نِعمَت نه محرومه كوي. يقيناً اللّٰه عَزَّوَجَلَّ يو څيز هم بيكاره نه دې جوړ كړې. هډوكي د غِذا سره سره د دوائي كار هم كوي. طبيبان ځيني مريضانو ته د هډوكو د يخني څښلو مشوره وركوي. بلكه شايد چه په تاسو كښې به اكثرو څښلي هم وي. البته د خالصې غوښې يخني به چا هم نه وي څښلي! هډوكي ډير اَهَم دي، په طِبِّ [يعني ډاكټري] طريقه باندې د هډوكو نه د حاصل شوې عرق [يعني اوبو] ستنې هم مريضانو ته لګي. د غوا ښكر چه ميده كړې شي او په خوراك كښې ګډ كړې شي او هغه څوك ئې اوخوري په چا چه په هره څلورمه

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې په ورځ کښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه کووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشکوال)

ورځ تبه راځې نو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په اِذن به ورته شِفاء حاصِله شي. د غوا وِيښته چه اوسوزولې شي او په اوبو کښې ګډ کړې شي او هغه اوبه اوڅښلې شي نو د غاښونو درد به ختم شي. (حياةُالحيوان الکبرٰی ج١ ص٢١٩) کوتره چه يوه حلاله مرغۍ ده د هغې هډوکي چه اوسوزولې شي او په زخم پورې کړې شي نو د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په فضل به زخم جوړ شي.

(عجآئبُ الحيوانات ص ١٤٧)

## د چرګې د غوښې فائدې

سُوال: **د چرګې د غوښې هم څه فائدې بيان کړئ.**

جواب: د **چرګې** د غوښې خوړلو سره حافظه [يعني ياد داشت] مضبوطيږي. او دا د خيټې د درد د پاره هم فائده منده ده. بهتره دا ده چه کورنۍ چرګه اوخوړې شي. کورنۍ چرګه اخستل نن صبا آسان نه دي ځکه چه د پولټرې فارم وړوکو چرګو او ورو هګو ته رنګ ورکړې شي او نن صبا ئې د "کورنو" [هګو او چرګو] په نوم خرڅوي. د کورنۍ چرګې نښه دا ده چه نرۍ وي او د هغې جڅوره وړوکي وي. او د پولټرې فارم والا [چرګې]غټې او د غوښو نه ډکې وي.

## د چرګ هډوکي خوړل څنګه؟

سُوال: **آيا د چرګ هډوکي خوړلې شي؟**

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د قِیامت په ورځ به په خلقو کښې ما ته ډیر نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنیا کښې په ما باندې زیات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

جواب: آو جي. زما تقریباً د وړوکوالي نه معمول دې چه کله هم د چرګې غوښه خورم نو د هغې سپین نرم هډوکي [یعني کرَچي] خورم. خو په عوامو کښې مشهور دي چه د چرګې هډوکي خوړل نقصان ورکوي. ما د یو غِذائیاتو د ماهِر طبیب نه چه هغوئي د غذاګانو د خاصِیّتونو په باره کښې کتاب هم لیکلې دې د چرګانو د هډوکو د نقصان په باره کښې تپوس اوکړو نو هغوئي جواب راکړو چه د دې د خوراك کولو په وجه د هیڅ قِسمه نُقصان نه کیږي.

وَاللّٰہُ وَرَسُوْلُہٗ اَعْلَم عَزَّوَجَلَّ وصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د مهي هډوکي خوړې شي او که نه؟

سُوال: د مهي هډوکي خوړې شي او که نه؟

جواب: خوړې شي. د مهي هډوکي عموماً سخت وي آو نه خوړل شي. خو د ځیني مهیانو هډوکي کړیندي او نَرَم وي. مَثَلاً د سَمُندر پاپلیټ او سُرمئي مهي وغیره هډوکي نرم او خوندور وي. هغه ښه جووئ که تیرول ئې نه غواړئ نو ښه ئې چویئ او پاتې شوي چورا تُوك کړئ.

## د مهي پوستکې خوړل څنګه؟

سُوال: آیا د مهي پوستکې خوړې شي یا نه؟

جواب: خوړې شي. عام طورخلق د مهي پوستکې د مخکښې نه اوباسي او یا ئې د پخولو نه پس اوباسي او غوزار ئې کړي. داسي مه کوئ

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مُسلِم)

كه څه مجبوري نه وي نو د مهي پوستكې هم خوړل پكار دي. د ځينو مهيانو [پوستكي] خو ډير خوندور دي.

## د كوئي كبر خوړل او خرڅول

سُوال: د كوئي كبر خوړل څنګه دي؟

جواب: حرام دي. د مهي نه سِوا د درياب هر خزنده خوړل حرام دي. كوئي كبر خرڅول هم ناجائز دي. فقهائے كرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى فرمائي: د مهي نه سِوا د اوبو ټول خزنده، چيندخې، كوئي كبر وغيره او حَشَراتُ الْاَرْض (يعني په زمكه ګرځيدو والا خزنده مثلاً مچ، ميږې) مږه، منږك، چرمښكئ، كربوړې، سمسيره، مار او لړم [وغيره] خرڅول، اخستل ناجائزه دي. (فتح القدير ج٦ ص٥٨)

## كه اِنګولې اوسوزي نو څه پرې اوكړو؟

سُوال: كه اِنګولې اوسوزي نو د هغې څه حل اوښائې؟

جواب: د بره بره نه ترې پوټې او مصاله اوباسئ، په بله پتيله كښې تيل واچوئ او پياز پكښې سره كړئ، بيا پكښې دا پوټې او مصاله وغيره واچوئ او نيمه پيالئ شوده [يعني پئ] پكښې واچوئ. د شودو اچولو سره به اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د سوزيدو بوئ ختم شي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير کړل هغه د جَنَّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

## هاضِمه به څنګه صحيح شي؟

**سُوال:** **د هاضِمې د صحيح کولو څه طريقه ده؟**

**جواب:** په خوراك څښاك کښې اِحتِياط کول پکار دي. په هر وخت خوراك څښاك کولو معده خرابيږي او هاضِمه تباه کيږي، تر څو چه لوَږه نه وي راغلې [يعني بنده اوږې شوې نه وي] د هغه وخته پورې خوراك کول سُنَّت نه دي. چه کله هم طعام خورئ نو خيټه درې حِصّې کول پکار دي، يوه حِصّه د خوراك، يوه حِصّه د اوبو، او يوه حِصّه د هوا د پاره. د طعام خوړلو نه پس د يوې نيمې نه دوه ګينټو پورې اوده کيدل نه دي پکار، غوښه کمه او د سبزيانو او شنو ميوو استِعمال زيات کول پکار دي، که کيدې شي نو هره ورځ يوه ګينټه ګڼي کم نه کم نيمه ګينټه پياده ګرځيدل پکار دي. د شپې طعام خوړلو نه پس کم نه کم يو نيم سل قدمه ګرځيدل پکار دي. د بدهضمۍ هغه بيمارۍ چه يوه دوائې هم پرې اثر نه کوي هغه به اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ صحيح شي. اِنْ شَآءَاللہ عَزَّوَجَلَّ تاسو به د اتيا فيصده مرضونو نه په امان کښې شئ چه په هغې کښې د زړه دوره، فالج او لَقوه [يعني د خُلې کږيدل]، دماغي مرضونه، د لاسو ښپو او د بدن درد، د ژبې او د مرۍ بيمارۍ، د خُلې پخيدل، د سينې او سګې مرضونه، د سينې سوزيدل، شوګر، د بلډ پريشر زياتيدل، د ځيګر [يعني اِينې] او د تريخې مرضونه وغيره شامِل دي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

## د بدهضمئ دوه مَدَنی علاجونه

(۱) چا ته چه د بدهَضمئ شِکايت وي او هغه دا آيتِ کريمه لولي او خپل لاس پرې دموي او پخپله خيټه ئې راښکاږي او په دې دم کړې طعام وغيره خوري نو اِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ د بدهَضمئ شکايت به ئې ختم شي. اللّٰه تَبَارَكَ وتَعَالٰی په سيپاره ۲۹ سُوْرَةُ الْمُرْسَلٰت ۴۳ او ۴۴ نمبر آيتِ کريمه کښې ارشاد فرمائي:

كُلُوْا وَ اشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِی الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۴۴﴾ (پ۲۹، الْمُرْسَلٰت: ۴۳، ۴۴)

مفهوم ترجمهٔ کنزُالاِيمان: خورئ او څښئ ښه په مره خيټه، د خپلو اعمالو بدله، بيشکه نيکانو ته مونږه هُم داسې بدله ورکوو.

(۲) اِمام کمالُ الدِّين دَمِيرى رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د څيني عُلماؤ نه نقل کوي: چا چه طعام زيات اوخوړلو او د بدهضمئ يره لري هغه دِ په خپله خيټه باندې لاس راښکلو راښکلو سره درې ځله دا لولي:

اَللَّيْلَةُ لَيْلَةُ عِيْدِیْ يَا كِرْشِیْ وَرَضِیَ اللهُ عَنْ سَيِّدِیْ اَبِیْ عَبْدِ اللهِ الْقَرَشِیْ

ترجمه: اے زما معدې نن شپه زما د اختر شپه ده او اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ راضي شي زمونږه د سردار حضرت ابو عبدُالله قرشي[1] نه. (او که د ورځې وخت وي نو د اَللَّيْلَةُ لَيْلَةُ عِيْدِیْ په ځائ دِ اَلْيَوْمُ يَوْمُ عِيْدِیْ اووائي. (حياةُ الحيوانِ الکبرٰی ج۱ ص۴۶۰)

---

[1] سَيِّدى ابو عبدُالله قَرَشى هاشمي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د مِصر په لويو اوليائے کرامو کښې يو دې، د غوثِ پاك [يعني پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په زمانه کښې د شپارسو

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب كيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

## د قبض طِبّي علاج

د بد هَضمئ ډير علاجونه دي، په هغې كښې څه دا دي. كه (۱) قبض ئې وي نو يو يا دوه وخته دِ لوَړه اِختيار كړي اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د خيټې بوج به ئې كم شي او معده به ئې په آرام هم شي. (۲) په مُناسب مقدار كښې دِ پاپيته اوخوری. (۳) يوه يا درې قاشوغې د اِسپغولو سَت دِ د اوبو سره اِستعمال كړي كه په دې كار اُو نه شي نو د ضرورت مطابق دِ د دې مقدار زيات كړي. كه اكثر ئې قبض وي نو په هفته كښې دِ ئې يو دوه ځله استعمالوي (٤) ميده شوې هريړه نيمه قاشوغه د اوده كيدو په وخت كښې د اوبو سره خورئ كه كيدې شي نو كم از كم د خلورو مياشتو پورې ئې هره ورځ استِعمالوئ اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ د قَبض سره سره د ډيرو زياتو بيمارو بلكه د ياد داشتو د پاره هم فائده مند دې.

## چه طالبِ علمان خوراك نه غورزوي د دې حل

سُوال: طلباء اكثر د طعام خوړلو په وخت كښې د خوراك ذرې ډيرې زياتې غورزوي د دې څه حل ارشاد كړئ؟

---

اُولَّسو كالو وو. په شپږمه ذوالحجه ۵۹۹ھ كښې په بيتُ المُقَدَّس كښې وفات شوې وو.
(فتاوٰی افريقه ص ۱۷۷)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزَّاق)

**جواب:** صِرف طلباء نه، بلکه دا بلا نن صبا عامه ده. په زرګونو او لکونو کښې به چرې يو خوش نصيبه مُسلمان داسې وي چه هغه به د خوراك د ذرو ضائع کولو نه بچ اوسي! طلباؤ ته په خوراك کولو کښې دا اِحتياط کول پکار دي چه د خوراك يوه ذره هم ضائع نه شي. منتظمين [يعني انتِظام کوونکي] دِ هم دا خبره په ذِهن کښې ساتي چه مدرسې د وقف په مال چليږي، د دې خبرې خيال دِ ساتي چه د خوراك يوه يوه ذره طلباء اوخوري. د طعام خوړلو په وخت کښې دِ څئيني طلباء ګرځي او باقاعده "خيرخواهي" دِ کوي[1]، طلباؤ ته دِ د خوراك څښاك سُنَّتونه ښائي، د خوراك کولو نِيَّتونه دِ هم ورته ښائي، د طعام دُعاګانې دِ هم ورته وائي، د وريژو او ډوډئ کومې ذرې چه په دسترخوان لويدلې وي هغه دِ په نرمئ سره په هغوئي را اوچتوي او پرې خوري دِ ئې.

## د ډوډئ راماتولو طريقه

**سُوال:** د ډوډئ راماتولو طريقه را اوښائي؟

**جواب:** ډوډئ په ګڅ لاس کښې نيول او په ښي لاس ماتول سُنَّت دي. د ډوډئ ذرې په دسترخوان باندې د لويدو نه د بچ کولو طريقه دا ده چه دا عادت جوړ کړئ چه کله د ډوډئ يا ډبل روټي نه نوَړئ

[1] د دعوتِ اسلامي په جامعاتو و مدرسو کښې د دې کارونو د پاره د مجلسونو ترکيب شته دي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښې ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِیب وَالتَّرھِیب)

راماتوئ نو لاسونه د اِنګولي د لوښي د پاسه نيسئ داسې کولو سره به ټولې ذرې په لوښي کښې لويږي. هم دا اِحتياط په سموسو، پيټس، بِسکټ، نان ختائ [چه يو قِسم بِسکټ وي] او هره هٰغه غذا کښې کوئ د کومو ذرې چه د ماتولو سره لويږي. مناسب دا دي چه تر څو پورې د يوې ډوډئ ټکړې اُو نه خوړلې شي د هغې پورې بله ډوډئ ماتول نه دي پکار.

## د پاتي شوو ډوډو د استِعمالولو طريقه

**سُوال: کومې ډوډئ يا د هغې ټکړې چه پاتې شي په هغې څه اوکړو؟**

**جواب:** د مدرسو د چندې روپۍ د مدرسو په کارونو کښې خرچ کول پکار دي، لِهٰذا پاتي شوي ډوډئ او د هغې ټکړې بې اِجازَتِ شرعي په بل يو مصرف کښې استِعمالول نه دي پکار. هغه په فريزر کښې کېږدئ يا ئې په هوا کښې خوروئ او په دويمه يا دريمه ورځ ئې په انګولي کښې اچوئ او په هغې کښې ئې پخوئ. اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ ډير خوندور طعام به ترې جوړيږي. د طعام په وخت کښې ئې لږ لږ تقسيموئ، اِنْ شَآءَاللّٰہ عَزَّوَجَلَّ طلباء به ئې په شوق خوري.

## په دسترخوان باندې لويدلي داني

**سُوال: په دسترخوان باندې لويدلو [د وريژو] دانو [او د ډوډئ په ريزو] وغيره باندې څه اوکړو؟**

www.dawateislami.net

**جواب:** هغه راغونډوئ او خورئ ئې.په كورونو كښ پاتې شوې خوراك او د هغې ذرّې چه د غورزولو په ځائ په غواګانو، مرغو، چرګانو يا پيشوګانو باندې اوخورې شي نو په دې طريقه د اِسراف د ګناه نه بچ كيدل كيدې شي.

## د طعام نِيَّت څنګه اوكړو؟

**سُوال:** تاسو د طعام د نِيَّت په باره كښ اوفرمائيل نو د خوراك نِيَّت څنګه كيدې شي؟

**جواب:** مُسلمان ته په هرمباح كار كښ ښه ښه نِيَّتونه كول پكار دي. اِنْ شَآءَاللهُ عَزَّوَجَلَّ په هر هر ښه نِيَّت باندې به ثواب حاصليږي. دغه شان د خوراك د پاره دا نِيَّت په زړه كښ حاضِر پكار وي چه د عِبادت د پاره د قُوَّت حاصلولو د پاره ئې خورم. خو دا نِيَّت به صرف په هغه صورت كښ صحيح وي چه ځان پوره موړ نه كړي. د ډير خوراك كولو سره د عِبادت د پاره قُوَّت حاصلول خو لا پريږده بلكه نوره سستي راځي. (د خوراك د نورو نِيَّتونو فهرست د [دې باب آدابِ طعام د صفحه ۷ نه ۹ پورې اوګورئ)

## د چائے اِحتياطونه

**سُوال:** د چائے احتياطونه بيان كړئ؟

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ما باندې درود پاك اوليكلو ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَانِي)

**جواب:** چائے د پښتورګو [يعني د ګردو] او د وړو بَولو د مريض د پاره نقصاني دي. د دې استعمال كم پكار دې. چائے ښخول ډيره خواري غواړي ګني دا صحيح نه ښخيږي. د دې د پاره ښه شوده [يعني ښه پےئ] او د چائے بهترينې پاڼړې پكار دي. پاڼړې، چيني، د هغې لوښي پيالۍ، چنړ وغيره ټول د مطبخ (يعني د باورچي خانې) نه دومره لرې اېښودل پكار دي چه د طعام ښخولو لُوګې هم ورته نه رسيږي، يو ځل چه په كوم لوښي كښې چائے پوخ كړې شي نو كه بيا په هغې كښې فوراً بيا ښخول وي نو هغه وينځل پكار دي، د چائے لوښي هم د ټولو نه جُدا وينځل پكار دي، د چائے ډبه ښه بنده ساتئ ګني د هغې خوشبو به ضائع كيږي، د ښخيدو نه پس ئې زر خښئ، د بيا تودولو سره د دې خوند بدليږي. د چائے د پاسه چه كوم پيروې راشي هغه لرې كوئ. وائي چه: "كه د چائے د سلو پيالو پيروې په پيشو اوخوړې شي نو د هغې په زهرو به هغه مړشي."

## د چائے ښخولو طريقه

**سُوال:** د چائے ښخولو طريقه هم بيان كړئ؟

**جواب:** كه "دودھ پتی" [يعني خالِص د شودو] چائے خښئ نو پےئ ښه ګرم كړئ په دې دوران كښې **چيني** هم ور واچوئ. بيا په خوټكيدلو پئيو كښې دومره د چائے پاڼړې واچوئ چه رنګ ئې زِيَړ شي. دوه درې ځله

جوش ورکړئ او قاشوغه پکښ تاوهئ بيا ئې را کوز کړئ او چڼړ ئې کړئ او اِستعمال ئې کړئ. که د اوبو چائے پخوئ نو بيا هم په اوبو کښ د ضرورت مطابق شوده او چيني د مخکښ نه واچوئ او بنه ئې پاخه کړئ د هغې نه پس پکښ پاڼړې واچوئ او په بيان شوي طريقه باندې عمل اوکړئ. که طبيعت مو خوښوي نو واړه لاچيان هم پکښ اچولې شئ.

## په چائے کښ شَهد اچولې شي او که نه؟

**سُوال:** آيا په چائے کښ شَهد اچولې شي؟

**جواب:** اچولې شي بلکه که څوك د وَس خاوند وي نو هغه دِ پکښ د چينئ په ځائ شَهد اچوي عام طور خلق پکښ ډيره چيني اچوي او ډير زيات خوږ چائے خښي، داسي چائے په زيات مقدار کښ څښل ډير سخت نُقصان ورکوونکې دې او د دې سره په وِينه کښ د شُوګر د مِقدار د زياتيدو مرض پيدا کيدې شي. د يخو بوتلو او آئيس کريمو شوقين هم عام طور د شوګر مريضان شي. په يو يخ بوتل کښ تقريباً ووه قاشوغې چيني وي او آئيس کريم خو پوره "شوګر بم" دې!

وَاللّٰہُ وَرَسُوْلُہٗ اَعْلَم عَزَّوَجَلَّ وصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم که تاسو په چائے کښ شهد نه شئ اچولې نو د عام مقدار په نيمه پکښ چيني اچوئ.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمُعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

# د غاښونو د صفائي عمل

**سُوال: چائے څښلو سره غاښونه زِيړيږي، د دې څه حل [اوښائې]؟**

**جواب:** د چائے څښلو نه يو څو منټه پس په پيالئ کښې لږې اوبه اچوئ او ښې ئې ړقوئ، بيا ئې په خُله کښې تاووئ راتاووئ او څښئ ئې. هم دغسې دوه درې ځله کوئ. تر دې چه د پيالئ نه د چائے اثر ختم شي. دا ځکه کول پکار دي چه د چائے يو څاڅکې هم ضائع نه شي، پيالئ به هم اووِينځله شي او غاښونه به هم نه زِيړيږي. که د خُلې پاکولو اوبه څښل نه غواړئ نو توك ئې کړئ. د يو څو منټو نه پس د داسې کولو مې ځکه عرض اوکړو چه د تود چائے نه فوراً پس د يخو اوبو استعمال د غاښونو د پاره نقصاني دې. د چائے څښلو نه فوراً پس چه پيالئ کښې کومې اوبه اچوئ او څښئ ئې د هغې مقدار لږ پکار دې. که د هر خوراك کولو نه پس دا عمل کوئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ صفائي به هم کيږي او د ورو د مرضونو نه به مو حِفاظت هم کيږي. نن صبا د غاښونو نه د وِينې راتلو شکايت ډير عام دې د دې يوه وجه دا هم ده چه د خوراك ذَرې په ورو کښې دننه جمع شي او د کانړي په شان سختې شي او دغسې بيا د مسواك کولو، طعام خوړلو او څه څيز جوولو وغيره سره وِينې کيږي. که د هر څيز خوړلو نه پس په خُله کښې د اوبو تاوهلو والا عمل کوئ نو اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د غاښونو

www.dawateislami.net

د صفائۍ سره سره به مو د غاښونو د وِينې كيدو د شكايت وغيره مرضونو نه هم حِفاظت كيږي. د ډير زيات خوراك كولو سره عام طور خيټه خرابيږي او ورسره د مختلفو مرضونو سره سره د ځيني خلقو د ورو وِيني كيدو شكايت هم پيدا كيږي. كه تاسو خوراك درميانه كوئ نو اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ تاسو به حيران شئ چه د كلونو پخوانو بيمارو لري كيدو سره سره به د ورو وِيني كيدل هم بند شي. ګڼي تجربه هم دا ده چه د دوايانو سره صِرف د لږې مودې پورې فائده اوشي او بيا مرض بيرته را اوګرځي!

## د زِيړو غاښونو صفائي

**سُوال: د چا چه غاښونه زيړ شوي وي هغه څه اوكړي؟**

**جواب:** په ښه صحيح طريقه دِ مِسواك كوي. مالګه او د خوراك سوډا دواړه په برابر برابر وزن كښې ګډ كړئ او په غاښونو ئې په داسې اِحتياط مږئ چه ورو ته نه لګي. اِنْ شَآءَاللهعَزَّوَجَلَّ غاښونه به مو ښه صفا شي. خو دا عمل ډيرې ورځې مسلسل مه كوئ. د چا چه وريځ كمزورې وي، يا د هغه وريځ وِيني كيږي نو هغه دِ دا عمل نه كوي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد
تُوْبُوْا اِلَی الله اَسْتَغْفِرُ الله
صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شريف لولئ بيشکه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

# که تاسو صِحَّت مند اوسيدل غواړئ نو

په هر طعام، انګولي کښې تيل مصاله د معمول نه نيمه او په چائے کښې چيني هم د نيمې اچولو تاکيد دې. اِنْ شَآءَ الله عَزَّوَجَلَّ د دې سره به مو صِحَّت بهتر وي او د اسلامي تعليم د حاصلولو په مدَني مقصد حاصلولو کښې به درته سهولت وي. په کوروونو کښې هم د طعام تيارولو د پاره د دې جدول نه فائده اخستې شي.

## د دعوتِ اسلامي د جامعاتُ المَدينه د پاره د طعام جدول

| ورځ | سحر | غرمه | ماښام |
|---|---|---|---|
| **جمعه** | چائے پاپے | دال غوښه او ډوډئ | دال پالك، ډوډئ او چائے |
| **خيالي** | کابلئ چنړې، چائے او ډوډئ | سپينې وريژې/ غوښه پلاؤ | ګډه وَډه سبزي (آلو، کدو شريف، او خوړ کدو، ټيپر) |
| **اتوار** | کابلئ چنړې، چائے او ډوډئ | کدو شريف، دال او ډوډئ | سبزى ډوډئ او چائے |
| **ګل شريف** | کابلئ چنړې، چائے او ډوډئ | دال او ډوډئ | برياني [يعني غوښه او وريژې] او چائے |
| **نهي** | چائے پاپے/ چائے ډوډئ | ګډه وَډه سبزى او ډوډئ | کدو شريف، دال او ډوډئ او چائے |
| **چار شنبه** | کابلئ چنړې، چائے او ډوډئ | لاوند او وريژې/ دال او وريژې | کدو شريف، آلو او ډوډئ او چائے |
| **زيارت** | د آلو انګولې، ډوډئ | د وربشو مباركو دليه/ آلو غوښه | لوبيا، ډوډئ او چائے |

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بیشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

صَــلُّــوْا عَــلَى الْــحَــبِــيْــب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُـحَـمَّد

مكتُوبِ عَطّار دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه [د عطّار خط] په نوم

د شهزادهٔ عطار دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه

دا د صِحَّت د حِفاظت د مدَنی ګلونو

هغه ښکلې ګلدسته ده چه د دې مُطابِق

عمل کولو والا به اِنۡ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ

د طبيبانو نه حاجتمند کيږي....

پاڼره واړوئ......

# زړه مې باغ باغ شي

حضرتِ سَیِّدُنا ابوهُریره رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُ فرمائي،

ما عرض اوکړو: يارَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! چه کله زه تاسو وينم

نو زما زړه [د خوشحالئ نه] باغ باغ شي، او سترګې مې يخې شي،

(آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم!) ما ته د هر څيز معلومات راکړئ! ارشاد ئې

اوفرمائيلو: "هر څيز د اوبو نه جوړ شوي دي،" ما عرض اوکړو، په

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې د **جُمْعې** په ورځ ۲۰۰ ځله دُرُود شريف اولوستل د هغه د دوو سوو کالو ګناهونه به مُعاف شي. (کَنزُالْعُمَّال)

**هغه څيز باندې مې خبر کړئ چه د هغې په خپلولو [يعني چه په هغې د عمل کولو په ذريعه] زه جَنَّت حاصِل کړم. اوئې فرمائيل: "په خلقو طعام خوره او سلام خور [يعني عام] کړه او صِلهٔ رِحمي [يعني د خپلوانو سره ښه سُلوك] کوه او د شپې (نفلي) نمونځ ادا کوه چه کله خلق اوده وي، ته به په سلامتيا جَنَّت ته داخل شې."**

(مُسند امام احمد ج ۳ ص ۱۷٤ حديث ۷۹۱۹)

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم د سګِ مدينه محمد الياس عطّار قادری رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د طرف نه د مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي زما د خوږ خوږ خوئ الحاج ابو اُسَيد احمد عُبيدِ رضا عطّاری مدَنی په خِدمَت کښې د کربلائے مُعَلّٰی په کوخو کښې تاؤ شوې، د امامِ عالی مقام د مزار ګنبد او مينارہ ښکلوونکې، د ماهِ مُحَرَّم الحرام د برَکتونو نه ډك خوشګوار او خوشبو دار سلام،

اَلسَّلَامُ عَلَيۡکُمۡ وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَکَاتُه

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ عَلٰی کُلِّ حَالٍ

په حديثِ پاك کښې دي، حضرتِ سَيِّدُنا جرير بن عبدُالله رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡہُ فرمائي: "ما د حُضُورِ اکرَم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه په دې خبره بيعت اوکړو چه نمونځ به قائموو او زکوٰة به ادا کوو او د عامو مسلمانانو **خير خواهي** به کوو (يعني خير به ئې غواړو)" (صحيح مُسلِم ص ٤٨ حديث ۹۷)

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې يو ځل دُرُود شريف اولوستو اللّٰهعَزَّوَجَلَّ به په هغه باندې لس رَحمتونه را ليږي او د هغه په اعمال نامه کښې به لس نيکئ ليکي. (تِرمِذِی)

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ خپل ځان د مسلمانانو په خيرخواهانو کښې د شاملولو او د ثواب ګټلو په پاکه جَذبه د دُعا سره سره د صِحَّت مند اوسيدو د پاره يو څو **مَدَني ګلونه** تاسو ته وړاندې کووم. که صرف د دُنيا د بنائِست نه د مزو اخستلو د پاره د تندُرُست اوسيدو خواهِش لرئ نو مکتوب [يعني خط] لوستل په هم دې ځائ پريږدئ او که د ښه صِحَّت په ذريعه د عبادت او د سُنَّتو د خدمت کولو د پاره د قُوَّت حاصلولو ذِهن لرئ نو د ثواب ګټلو په غرض ښه ښه نيتونه اوکړئ، دُرُود شريف اولولئ او دا مکتُوب [يعني خط] مکمل اولولئ:

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اللّٰه رَبُّ العِزَّت عَزَّوَجَلَّ دِ زما، ستاسو، د ټول خاندان او د ټول اُمَّت بخښنه اوکړي او مونږ ته دِ د صِحَّت او عافِيَّت سره د **دعوتِ اسلامي** په **مَدَنی ماحول** کښې د اوسيدو او د اسلام د خدمت کولو استِقامت را نصيب کړي. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دِ زمونږه بدني بيمارئ لرې کړي او مونږه دِ بِيمارِ مدينه [يعني د مديني عاشقان] جوړ کړي.

اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د **دعوتِ اسلامي** د **مَدَنی کارونو** د پاره ما ته ستاسو ضرورت دې. برائے کَرَم! د صِحَّت په مُعامَله کښې غفلت مه کوئ ځکه چه کله کله معمولي کريدل هم په زياتيدو زياتيدو د جوَر زخم جوړ يدو، بيا د ناسُور او آخِر د مرګ سبب جوړيدې شي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په کثرت سره دُرود شریف لولئ بېشکه ستاسو په ما باندې درود شریف لوستل ستاسو د ګناهونو د پاره بخښنه ده. (جَامِعُ الصَّغِير)

**لیدلي کتلي** خبره ده چه کوم ځائ دوایانې کار نه کوي هلته په پرهیز کولو حیرانوونکي نتیجې را خیژي! نوي جامې چه یوځل هم اووِینځلې شي نو بیا په هغې کښې نه د مخکښې په شان چمك پاتې وي او نه ئې هُغه قیمت پاتې وي. د دوایانو په ذریعه عِلاج کولو سره د صِحَّت موندلو نه پس د انسان بدن داسې شي لکه د "وِینځلې شوې جامې". لِهٰذا که کیدې شي نو د دوایانو په ځائ عِلاج بِالغِذا [یعني د خوراك په ذریعه عِلاج] او د پرهیز په ذریعه کار چلول عقلمندي ده ځکه چه د دوایانو **مَنفی** [یعني غلط] **اثرات** هم وي.

نا سمجھ بیمار کو اَمرت بھی زہر آمیز ہے
سچ یہی ہے سو دَوا کی اِک دوا پرہیز ہے

**د شعر ترجَمه:** د ناپوهه بیمار د پاره آبِ حیات هم د زَهرو په شان دې، رښتیا خبره هم دا ده چه د سلو دوایانو نه بهتره یوه دوا پرهیز ده.

## د طعام په باره کښې د تولو د پاره مشوره

په هر طعام کښې د تیلو، مالګې، د مرچکې او د ګرمې مصالې مقدار په اندازه نه بلکه په ناپ د خپل کور د معمول د استعمال نه نیم کړئ، په خوراك کښې د سبزیانو استِعمال زیات کړئ، د غوښې اِنګولې په هفته کښې صِرف دوه ځله او هغه هم په لږ مقدار کښې خورئ، که په کور کښې اکثر غوښه پخیږي نو کوشش کوئ چه صرف

www.dawateislami.net

د يو وړوكي پوټي خوړلو عادت جوړ كړئ، تر څو چه ښه نه ئې اوږې شوې تر هغې خوراك مه كوئ، په خُله كښې ئې ښه ميده كوئ د غاښونو كار د كولمو نه مه اخلئ او چه لږه لوَږه پاتي وي نو لاس اودروئ، د ځان مړولو عادت ختم كړئ، د چينئ والا د ميوو جوسونه مه استِعمالوئ، د ميدې، غوړ او د چينئ والا خوراكونه ډير كم كوئ، د آئسكريمو، يخو بوتلو، سره كړي خوراكونو، د ديګونو او بازار كښې پخو شوو خوراكونو، ټافيانو، كوكو چاكليټونو، سګريټ څښلو، پان، چاليه، ګټكا، خوشبودارو سُپارو، تمباكو، مين پوړئ او د پان پراګ وغيره [د استِعمال] نه ځان ساتئ. كه چائے څښل غواړئ نو په شپه او ورځ كښې دوه يا درې ځله نيم كپ او په هغې كښې د چينئ په ځائ شهد ګډوئ، د مجبورئ په صورت كښې چيني د ضرورت نه په نيم مقدار كښې اچوئ. خواږه خوراكونه په شهد كښې جوړوئ كه د دې طاقت نه لرئ نو چيني د كور د معمول نه فقط څلورمه حِصّه اچوئ. د ډير زيات خوږ چائے، او د خوږو خوږو خوراكونو او د يخو بوتلو د شوق لرونكو د شوګر د بيمارئ نه بچ كيدل ډير ګران دي. (د شوګر او د بلډ پريشر د كميدو زياتيدو مريضان يا د نورو مرضونو والا دِ د ډاكټر په هدايت باندې عمل كوي) هره ورځ يوه ګينټه او كه نه شي كيدې نو نيمه ګينټه پياده ګرځئ. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ستاسو به د Lipid

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې د دُرود شريف کثرت کوئ بيشکه دا ستاسو د پاره پاکي ده. (اَبُو يَعلیٰ)

profile د نارمل کيدو سره د بدن وزن هم برابر وي، خيټه به مو نه غټيږي، معده به مو صحيح وي، ډير مرضونه به مو لرې شي او کوم چه موجود وي په هغې کښې به اکثر اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ بِکُلّه صحيح شي. اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ تاسو به په عبادت او د دِين د خدمت په **مدَنی کارونو** کښې تُندي محسوسوئ. اګرچه دا خبرې د نفس د پاره ډيرې ګرانې [يعني مُشکِلې] دي خو چه عادت مو جوړ شي نو اِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ بيا به آساني شي. دا **ياد ساتئ!** چه د خوراك خوند صرف د حلق د آخِرې پورې وي. چه خنګه نوړئ [د مرئ نه] ښکته کوزه شي نو د وربشو مبارکو اوچه ډوډئ او د غوړو ډکه بِرياني [يعني غوښه او وريژې] هر څه يو شان شي. بيا د وربشو مبارکو اوچه ډوډئ ژوند ښه ښکلې کړي او د غوړو برياني ډاکټرانو ته رسَوَل کوي! (د بدن د پيړ والي په صورت کښې چه کله د وزن کميدو عمل شروع شي نو د ځيني چا عارضي طور يورِك ايسډ زياتيږي. آخِر دا چه بِکُلّه نارمل شي بيا هم اِحتياطاً په هغه ورځو کښې هره يوه نيمه مياشت پس د دې ټسټ کوئ. د زياتو اوبو څښلو سره غير ضروري يورِك ايسډ اوځي)

## په ورځ کښې دوه ځله خوراك کوئ

که **کيدې** شي نو په ورځ کښې د درې ځله په ځائ دوه ځله خوراك کوئ، د ثواب په نِيَّت **د خيټې قُفلِ مدينه** لګوئ او دواړه ځله چه ښه

www.dawateislami.net

اوړي شئ نو بيا خوراك كوئ، او بيا چه څه لوَږه پاتې وي نو د خوراك نه بس كوئ. [د دوارو وختو] په مينځ كښ د هيڅ قِسمه بازاري څيزونه مه خورئ، كه اوړي شئ نو يوه منړه يا بله يوه لړه شنه ميوه خورئ، اګرچه عام طور شنه ميوه وزن زياتوي خو د دې فائدې بيشميره دي. خو كه د چا په وِينه كښ د شُوګر يا د ټرائي ګليسرائډز مقدار زيات وي هغه دِ خوږو شنو ميوو، اوچو ميوو او د بادي سبزيانو يعني هغه سبزيانې كومې چه په زمكه كښ پيدا كيږي مَثَلاً د ګاځرې، مولئ، آلو، شكرقند، چقندر وغيره نه پرهيز كوي او د ډاكټر په هدايت دِ عمل كوي. كاش! چه د رضائے اِلٰهی عَزَّوَجَلَّ د پاره د صومِ داؤدی (يعني هره دويمه ورځ د روژه نيولو) عادت جوړ كړئ نو ورسره ورسره به د خوراك ځنباك ډير مسائل حل شي.

## د وِينې ټيستونه اوكړئ

اګرچه د يو حده پورې د دې څيزونو انساني بدن ته ضرورت وي خو د دې زياتوالې نقصاني دې لِهٰذا د اسلامي ورونړو او اسلامي خويندو د پاره د وِينې دا ټيستونه كول مُناسِب دي:

(١) **لِپډ پروفائل** [LIPID PROFILE] (په دې كښ كوليسټرول هم شامِل دې د دې ټيسټ د پاره د دولسو نه د څوارلسو ګينټو پورې په نَهَره اوسيدل ضروري دي)

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي الله عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غَر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

**(۲) ګلوکوز:** (که په نَهَره د نارمل نه زيات وي نو د مرېې هم [ټيسټ] اوکړئ)

**(۳) يورِك اَيسِډ**

**(٤) SERUM CREATININE** (په پښتوَرګو [يعني ګُردو] کښې که د څه قِسمه خرابي وي يا ئې د فيل کيدو خطره شروع شوي وي نو د دې په ذريعه معلوميدې شي او په وخت د علاج ترکيب جوړيدې شي د دې خيال ساتل ډير ضروري دي ځکه چه نن صبا زمونږ په مُلك کښې د ګُردو فيل کيدو واقعات ورځ په ورځ زياتيږي)

که د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د رضا د پاره روژه اونيولې شي نو د مازديګر د نمانځه نه پس دا بره ذِکر شوي ټول ټيسټونه کيدې شي. ګني د شپې زر خوراك اوکړئ او سحر د ناشته کولو نه مخکښې ټيسټونه اوکړئ.

**نوټ:** رپورټ ډاکټر ته اوښائې. صِحَّت مند ته هر شپږ مياشتې پس او مريض ته د ډاکټر د هِدايت مطابق دا ټيسټونه او د دې نه علاوه چه د کومو هغه مشوره ورکړي ضرور ضرور کول پکار دي. په دې سوچ ټيسټ نه کول چه که "څه پکښې را اوځي" نو د علاج او د پرهيز پريشانئ به راپيښې شي دا عقلمندي نه ده ځکه چه د بيمارئ د طرف نه لاپرواه کيدل د مسئلې حل نه دې.

**ياد ساتئ!** په ظاهِره ښه صِحَّت مند ښکاره کيدو والا ځلمي وغيره چه [ناڅاپه] د زړه د دورې په سبب مړه کيږي د هغې يو لوئي سبب د "لِپډ پروفائل" زياتيدل هم دي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

# د کوليسټرول مريضان دِ د دې خوراکونو نه پرهيز کوي

﴿۱﴾ د هر قِسم غوړ والې نه ﴿۲﴾ د غوړو او د ېخلي په تيلو کښې د جوړو شوو خيزونو نه ﴿۳﴾ د اګئ د زيړو نه ﴿٤﴾ د مالګين خيزونو او ﴿۵﴾ د بيکرئ د اکثرو خيزونو نه ﴿٦﴾ د غوا [ميښې يعني د غټې] غوښې نه ﴿۷﴾ د پِزّې نه [دا د ورو، غوښې، سبزئ، او غوړو خيزونو نه جوړيږي] ﴿۸﴾ د پراټې نه ﴿۹﴾ په غوړو [يا تيلو] کښې سره کړو شوو خوراکونو مثلاً په غوړو يا تيلو کښې پخې شوې اګئ نه، کباب، سموسو نه، پيکوړو وغيره نه ﴿۱۰﴾ د پيروې نه ﴿۱۱﴾ د کوَچو نه ﴿۱۲﴾ د آئسکريم وغيره نه. (زيات غوړ والې براهِ راست زړه ته نقصان رسوي لِهٰذا نوره د ډاکټر سره مشوره اوکړئ)

د چرګ غوښه يا مهې او په لږ مقدار کښې د کارن آئل [يعني د جُوارو تيلو] خوړلو کښې باك نشته، که ډاکټر مشوره درکړې نو د چيلې د غوښې نه چه وازګه لرې کړئ نو هغه هم خوړې شئ. د يو طِبِّـی تحقيق مطابق "زَيت" يعني د زيتون [يعني د ښونه] تيل د کوليسټرولو د مريض د پاره فائده مند دي ځکه چه هغه فالتو ګنده کوليسټرول د وِينې نه لرې کوي.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

په وِينه کښې د ټرائي ګليسرائډز (TRAGLYCERIDES) د زياتيدو په صورت کښې د ذِکر کړې شوو خيزونو نه علاوه د خوږو خيزونو نه او د جِينګې[1] د خوړلو نه هم ځان ساتل پکار دي.

## يورِك اَيسِډ

يورِك اَيسِډ که د نارمل نه زيات وي نو د ځرمنې د مرضونو او د جوړونو د درد پيدا کيدو نه علاوه پښتورګو [يعني ګُردو] او دِماغ ته نقصان رسيدې شي تر دې چه ډيره موده پس مَعَاذَاللهُ عَزَّوَجَلَّ د اينې د کينسر سبب هم جوړيدې شي.

د يو طِبِّـي تحقيق مطابق په وِينه کښې يورِك ايسِډ په هغه خوراکونو زياتيږي په کومو کښې چه د پيورين مقدار زيات وي. د الکوحل (والا دواياني) او د وړو بَولو راوستلو دوايانو استِعمال او د بدن پيڅ والې هم د يورِك اَيسِډ د زياتيدو سببونه دي.

## د يورِك اَيسِډ د مريض د پاره پرهيز

د ټولو قِسمونو غوښې او د هغې نه جوړو شوو خيزونو نه، د غوښې د يخنۍ نه، د مهي نه، د جِينګې نه، د مسورو او د هغې د دالو

[1] دا د چينجي په شان د مهي يو قِسم وي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې په كثرت سره درود لولئ ځكه چه ستاسو دُرود ما ته وړاندې كولې كيږي. (طَبَرانی)

نه، پلې، مټر، پالك، ګوبې وغيره نه دِ پرهيز اوكړې ځكه چه په دې څيزونو كښې د پيورين (purine) مقدار زيات وي.

## كم پيورين والا خوراكونه

شوده [يعني پـئ] او د هغې نه جوړ شوي څيزونه، اګئ، چيني، غنم او د هغې نه جوړ شوي څيزونه، ارارَوټ[1]، ساګودانه، غوړي، مارِ جِرين (د كوَچو په شان څيزونه) شنې ميوې او د هغې جوس، سلاد، د څينو نه علاوه ټولې سبزيانې، ټماټر، يخې بوتلې وغيره.

د څيني ډاكټرانو وَينا ده چه د يورِك اَيسِډ د مريضانو د پاره د غوا غوښه ډيره نقصاني ده. بيا د دې نه كمه د چيلئ بيا د چرګ او مهې.

## د اوبو په ذريعه د يورِك اَيسِډ علاج

په يوه شپه ورځ كښې خلويښت ګلاسه اوبه څښئ. بيشكه كه اوبه مرئ ته را اورسي او خيټه ښه ډكه شي نو هم تاسو مه يريږئ، ډير زر به د وړو بَولو په ذريعه بَهر اووځي او اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په يوه ورځ كښې به فائده اوشي. مَثَلاً د يورِك اَيسِډ نارمل رينج د ۳ نه ۷ پورې وي او ستاسو زيات شي ۸ ته اورسيږي نو په پوره ورځ او شپه

[1] د يو قِسم خوراك چه د يوې ونې د جرړې نه حاصليږي او د ماشومانو او مريضانو د پاره په شودو كښې ګډولې كيږي.

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د هغه کس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخکښ زما ذِکر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمذی)

کښ ٤٠ ګلاسه اوبه څښلو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ۷ ته راکوز شي. چه نور د يوې يا دوو ورځو پورې ئې اوڅښئ نو د هرې ورځې "١" کميدو په حساب به اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ کمې راځي. د زياتو اوبو څښلو سره به عارضي طور واره بَول زيات درځي. د دې سره به د معدې، کولـمو، ګُردو او مثاني وغيره ښه صفائي اوشي او اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ورسره ورسره به ډيرې نقصاني مادې هم خارجې شي. د اوبو په ذريعه د علاج په ورځ طعام وغيره خوړلو کښ څه باك نشته. خو دا طِبّـی اُصول ياد ساتئ چه د طعام خوړلو نه فوراً پس د اوبو څښلو سره بدن پړسيږي [يعني پيړيږي]! لِهٰذا د طعام خوړلو نه يوه يا دوه ګينټې پس اوبه څښل پکار دي. (د يو ماهرډاکټر سره مشوره اوکړئ)

**مدَني مشوره:** [دا مکتوب] په خپله ډائرئ کښ اونښلوئ، د خپل کور کسان او نور اسلامي ورونړه جمع کوئ او دا مکتوب ورته اوروئ، د ذِکر شوي تيسټونو کولو مشوره ورته ورکړئ او د ضرورت مطابق د دې مکتوب کاپياني خلقو ته وړاندې کړئ او ثواب اوګټئ. که لوستلې مو وي نو بيا هم ټول اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې يو ځل بيا د فيضانِ سُنَّت باب **"د خيټې قُفلِ مدينه"** د صفحه ۷۹ نه ۱۲۸ پورې اولولئ. وَالسَّلام مَعَ الْاِکْرام

٢٢ محرم الحرام ١٤٢٧ھ

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم خلق چه د خپل مجلِس نه د الله عَزَّوَجَلَّ د ذِکر او په نبي باندې د درود شریف لوستلو نه بغیر پاڅیدل نو هغه د بدبوداره مُردار نه پا څیدل. (شُعَبُ الاِیمان)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# حاجي مشتاق عَطّاري

## د دُرود شریف فضیلت

حُضُورِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: "کوم کس چه د جُمُعې په ورځ په ما سل ځله دُرُود شریف اولولي، چه کله هغه د قِیامت په ورځ راشي نو د هغه سره به یو داسې نُور وي چه که هغه په ټول مخلوق کښې تقسیم کړې شي نو د ټولو د پاره به پوره شي."

(حلیةُ الاولیاء ج۸ ص ۴۹ حدیث ۱۱۳۴۱)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د خوږ آقا محمد مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **نعت خوان**، د صحابهٔ کرام او د اهلِ بیت ستائنه کوونکې او د باغِ عطار خوشبوداره ګل، مُبَلِّغِ دعوتِ اسلامي الحاج ابوعُبید قاري **محمد مشتاق احمد عطاري** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ بِن مولانا اخلاق احمد غالِباً د اتوار په ورځ په ۱۸ رَمَضانُ الْمُبارَك ۱۳۸۶ھ (بمطابق 67 .1 .1ء) په بَنو (خیبر پختونخواه، پاکستان) کښې پیدا شوې وو، لږه موده پس په سردار آباد (فیصل آباد، پاکستان) کښې هم اوسیدلې وو او د هغې نه پس ئې په **باب المَدینه کراچۍ** کښې مستقل اوسیدل اختیار کړل ☼ په مدینه مسجد

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

(اورنګي ټاؤن بابُ المَدينه كراچۍ) كښې د ډيرو كلونو پورې امام وو ☼ د ۱۹۹۵ء نه د وفاته پورې په **جامع مسجد كنزالايمان** (بابري چوك بابُ المَدينه كراچۍ) كښې اِمام و خطيب وو. ☼ د قرآنِ پاك اته سيپارې ئې حفظ [يعني زباني يادې] كړي وې ☼ ډير ښه قاري وو ☼ د درسِ نظامي څلور درَجې ئې وئيلې وې خو ديني معلومات ورته د يو پوهه عالِمِ دين نه كم نه وو ☼ په اِكاؤنټ ډِپارټمنټ كښې د سِينئر آډيټر په حيثِيَّت ډير كلونه سركارى مُلازِم وو ☼ په جامعةُ المَدينه (سبز ماركيټ بابُ المَدينه كراچۍ) كښې به ئې [طَلَباء ته] د انګلش درجه لوستله ☼ اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئې ته څلور ځله د حج او د **مديني مُنَوَّرې** د حاضرۍ سعادت نصيب شوې وو.

اگرچہ دولتِ دنیا مِری سب چھین لی جائے
مِرے دل سے نہ ہرگز یا نبی تیری وِلا نکلے
د دنيا دولت دِ ټول زما نه لاړ شي
لاړ دِ نه شي زما د زړه نه محبّت د خوږ نبي (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم)

## حاجي مشتاق عطاري په مدَني ماحول كښې

د **دعوتِ اسلامي** په **مدَني ماحول** كښې د راتلو نه مخكښې هم **حاجي مشتاق** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه اَلْحَمْدُلِلّٰه مذهبي ذِهن لرلو، ګِيره ئې په مخ وه او خوش آوازه ځلمې نعت خوان وو. په **دعوتِ اسلامي** كښې د شامِليدو واقعه هغوئې ما ته (يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ ته) څه داسې بيان كړې وه

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: خوك چه په ما باندې په ورځ كښې پنځوس ځله درودِ پاك اولولي د قِيامت په ورځ به زه د هغه سره مُصافَحَه كووم (يعني لاس مِلاووُم). (ابنِ بشكوال)

چه ”كله زه په وړومبي ځل هفته واره سُنَّتو نه ډكه **اِجتِماع** كښې د حاضِرئ د پاره د **دعوتِ اسلامي اولني مركز جامع مسجد گلزارِ حبيب** ته راغلم نو د اجتماع نه پس ټول خلق خوريدل شروع شو نو زه هم روان شوم، په دې كښې يو باشرع عمامې [يعني د پټكـې] والا اسلامي ورور را **مخكښې** شو او زما سره ئې مصافحه اوكړه [يعني لاس ئې راسره مِلاؤ كړو]، د هغوئي د ملاقات انداز زما ډير خوښ شو، په ډيره مينه ئې راباندې **اِنفرادي كوشش** اوكړو او ستاسو (يعني د سگِ مدينه عُفِیَ عَنْہُ) سره ئې زما مُلاقات اوكړو. زه ډير مُتاَثِّره شوم او اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ د **دعوتِ اسلامي** په **مدَني ماحول** كښې شامِل شوم.

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## حاجي مشتاق نگرانِ شورٰى جوړ شو

اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ **حاجى محمد مشتاق** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته اللّٰه عَزَّوَجَلَّ ډير خوږ آواز وركړې وو، د ذِكرونعت په غټو غټو اجتِماعاتو كښې به ئې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په نعتونه اورولو **عاشقان رسول** ژړول، ډير ښه مُبَلِّغ هم وو، د مَدَني كارونو جذبه ئې هم ډيره زياته وه. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ هغوئي ته ډيره ترقي وركړه، په جنورى 2000 كښې د ښار د ټولو نگرانانو په منظورئ د بابُ المَدينه كراچئ نگران جوړ شو او هم په هغه كال په اكتوبر كښې د **دعوتِ اسلامي** د مركزي **مجلسِ شُورٰى** نگران جوړ شو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د قِيامت په ورځ به په خلقو كښې ما ته ډير نِزدې هٰغه وي چا چه په دُنيا كښې په ما باندې زيات درودِ پاك لوستلي وي. (تِرمِذی)

رضا پر رب کی راضی ہیں تمہارے ہم بھکاری ہیں
ہماری آخِرت بہتر بنا دو یا رسول اللہ

**د شعر ترجَمه:** يا رسولَ الله ﷺ مونږه د ربّ عَزَّوَجَلَّ په رضا باندې راضي يو او ستاسو د در سوالګر يو زمونږه آخرت ښه کړئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## آقا ﷺ خپل مُشتاق سينې مباركې سره اولګولو

د حاجی **محمد مشتاق عطاری** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د وفات نه يو څو مياشتې مخکښې ما ته (يعني سګِ مدينه عُفِيَ عَنۡهُ ته) يو اسلامي ورور يو خط راليږلې وو، په هغې كښې هغوئي په قَسَم خپله واقعه څه داسې ليكلي وه چه: ما په خوب كښې خپل ځان د [خوږ آقا ﷺ د] **مباركو جالو** مخې ته اوليدلو. په جالئ مباركه كښې چه كوم درې سورې جوړ شوي دي، په هغې كښې چه ما په يو سورې كښې اوكتل نو يو زړه راښكونكې منظر مې اوليدو. څه وينم چه **سركارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف فرما دې او ورسره شيخَينِ كريمين يعني حضرتِ سَيّدُنا ابوبكر صِدّيق او حضرتِ سَيّدُنا عمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡہُمَا هم په خدمت كښې حاضر دي. په دې كښې **حاجي محمد مشتاق عطاري** رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **په خِدمت كښې حاضِر شو، سركارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **حاجي مشتاق عطاري د سينې مبارَكې سره اولګولو او بيا ئې څه ارشاد اوفرمائيلو خو هغه ما ته ياد نه دي.** بيا مې سترګې اوغړيدې.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما يو ځل درود شريف اولوستو اللّٰه عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازِل فرمائي. (مُسلِم)

آپ کے قدموں سے لگ کر موت کی یا مصطفٰے
آرزو کب آئیگی بَر بیکس و مجبور کی

ستاسو په قدمونو كښې د مرګ يا مُصطفٰی
كله به پوره شي دا ارمان د دې بې وسه او مجبوره

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سركار ﷺ په دربار كښې د حاجي مشتاق اِنتِظار

**حاجي مشتاق** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه په هغه ورځو كښې سخت بيمار وو، ما د هغوئي په باره كښې د ليدونكي خوب د ايمان نه ډك مكتُوب [يعني خط چه د هغې واقعه مخكښې بيان شوه] د هغوئي د زړه خوشحالولو د پاره هغوئي ته وړاندې كړو. زما نيك ګمان دې چه په **حاجي مشتاق عطاري** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه باندې د **خوږ آقا** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خاص نظرِ كرم وو، [اوس د هغوئي په باره كښې ليدونكې يو بل ايمان تازه كوونكې خوب واورئ] چنانچه يو اسلامي ورور ما ته څه داسې ليكلي وو، اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ د نهې په شپه ما دا ايمان تازه كوونكې خوب اوليدو چه په **مسجدِ نَبَوی شريف** كښې **سركارِ مدينه** صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم موجود دې او ګير چاپيره ورته انبيائے كرام عَلَيْهِمُ السَّلَام، خلفائے راشدين، حسَنَين كريمَين او بيشميره اوليائے كرام رِضْوَانُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْهِم اَجْمَعِيْن حاضِر دې. هر طرف ته خاموشي خوره وه، په دې كښې خوږ آقا مكِّي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درودِ پاك لوستل هير کړل هغه د جَنَّت لاره هيره کړه. (طَبَرَانِي)

مَدَني مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرتِ سَیِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ طرف ته متوجه شو، شونډو مبارکو ئي حرکت اوکړو، او څه داسي ئې اوفرمائيل: (اے ابوبکر!) **محمد مشتاق عطّاري راتلو والا دې زه به د هغه سره مصافحه کووم، ته هم ورسره مصافحه اوکړه، هغوئي به دلته راشي او مونږ ته به نعتونه اوروي.**" بيا زما سترګې اوغړيدلې. چه کله ورځ شوه نو خبر راغې چه نن په **۲۹ شعبانُ المُعَظَّم ١٤٢٣ھ**(بمطابق 5.11.2002ء) سحر د پاؤ باندې اته او اته نيمو بجو د مينځه **حاجي مشتاق عطاري** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ وفات شوې دې.

اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّاۤ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ ۝

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

لب پر نعتِ نبی کا نغمہ کل بھی تھا اور آج بھی ہے
پیارے نبی سے میرا رِشتہ کل بھی تھا اور آج بھی ہے

**د شعر ترجمه:** په ژبه مو د نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم د نعت نغمه پرون هم وه او نن هم ده
د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم سره زمونږه خپلولي پرون هم وه او نن هم ده

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د دې ايمان تازه کوونکي خوب نه دا نيك ګُمان قائميږي چه مرحوم حاجي مشتاق رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د بارګاهِ رِسالت مقبول [يعني قبول شوې] نعت خوان وو.ځکه خو [د هغوئي په باره کښې د هغوئي] د وفات نه يو څو ګينټې مخکښې د هغوئي د راتلو د انتِظار کولو او د هغوئي نه د نعتونو اوريدلو زيرې واوروليې شو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا كښې چه زما ذِكر اوشو او هغه په ما درودِ پاک او نه لوستو تحقيق هغه بدبخته شو. (ابنِ سنی)

یہی آرزو ہو جو سُرخرو، ملے دو جہان کی آبرو
میں کہوں غلام ہوں آپ کا، وہ کہیں کہ ہم کو قبول ہے

دا مې ارمان دې چه شم كامياب په دواړو جهانو
چه زه وايم غُلام يم ستاسو، هغوئي وائي قبول ئې

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حاجي مشتاق جنازه

په **نشتر پارك** (باب المَدينه كراچۍ) كښې د مرحوم جنازه ادا كړې شوه.

عاشق کا جنازہ ہے ذرا دھوم سے نکلے
محبوب کی گلیوں سے ذرا گھوم کے نکلے

**د شعر ترجمه:** د عاشق جنازه ده ښه په جوش ئې اوباسئ، او د محبوب په كوڅو كښې ئې ښه تاو راتاو كړئ

زه (سګِ مدينه عُفِیَ عَنْہُ) د غټو غټو حضراتو په جنازو كښې حاضر شوې يم خو د دې نه مخكښې مې كله د چا په جنازه كښې د خلقو دومره ګڼړه نه وه ليدلې كومه چه د **حاجي محمد مشتاق** رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په جنازه كښې وه. ډيرې زړه نرموونكې نظارې كتلې شوې، په غمِ مشتاق كښې اسلامي وروڼړه ډير ډير ژړيدل. د ژړا نه ډك آوازونه راتلل او د خلقو د سترګو نه اوښكې بهيدلې او ډير د خفګان نه ډك ماحول كښې مرحوم په صحرائے مدينه (ټول پلازه باب المَدينه كراچۍ) كښې خاورو ته اوسپارلې شو.

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما باندې لس ځله سحر او لس ځله ماښام دُرودِ پاک اولوستل د قِيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت نصيب کيږي. (مَجمَعُ الزَّوَائِد)

شہا عطّار کا پیارا ہے یہ مشتاق عطّاری
یہی مژدہ اسے تم بھی سنا دو یا رسولَ اللہ
شها عطّار ته ډير ګران دې دا مُشتاق عطّاري
واوروئ تاسو هُم هغه ته زيرې يا رسُولَ الله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د ايصالِ ثواب انبار

د دعوتِ اسلامي په عالمي مَدَنی مرکز فيضانِ مدينه (بابُ المَدينه کراچۍ) کښې د **مرحوم دريمه** اوشوه او په هغې کښې ګڼړ شمير اسلامي وروڼه شريك شوي وو. د **حاجي مشتاق عطاری** رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په دريمه کښې د مختلفو ښارونو نه چه د **ايصالِ ثواب** کومې ډالۍ [يعني تُحفې] راغلي وې د هغې **اجمالي فهرست** دا دې: (۱) قرآنِ پاك ۱۳۹۱۹ (۲) **مختلفې سيپارې** ۵۶۱۳ (۳) سورۀ يٰسين ۱۰۳۸ (٤) سورۃُ المُلك ۱۱٤۰ (۵) سورۀ رحمٰن ۱۶۵ (٦) سورۀ مُزَّمِّل ۱۰ (۷) آية الكرسى ۳۳۵۹۲ (۸) **جدا جدا سورتونه** ۹۳۱۸۶ (۹) **دُرُود شريف** ۱۳۸۸۸۰۸۷ (۱۰) كلمهٔ طَيِّبه ۳٤۸٤۰۰ (۱۰) مختلف تسبيحات ۳۵۷۲۰۰

الٰہی ! موت آئے گنبدِ خَضرا کے سائے میں
مدینے میں جنازہ دھوم سے عطّار کا نکلے
اِلٰهي راکړې مرګ د ګُنبَدِ خضرا په سورې کښې
چه جنازه اوځي په ډير شوق د عطّار مدينه کښې

فرمانِ مُصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک اُو نه لوستو هغه جفا اوکړه. (عَبدُالرَّزّاق)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حاجي مشتاق د کردار ځرکونه

یو اسلامي وروور د خپلو تجرباتو او مشاهداتو په رنړا کښې د الحاج قاري ابو عُبید **محمد مشتاق عطاری** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په باره کښې خپل تاَثُّرات لیکلي راکړي وو هغه څه داسي دي. ☼ په کومو ورځو کښې چه **حاجي مشتاق** رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په **اورنګي ټاؤن** (بابُ المَدینه کراچۍ) کښې اوسیدلواو د دعوتِ اسلامي علاقائي نګران وو، زه هم تقریباً شپږ کاله هلته اوسیدلي ووم ☼ ما هغوئي په **غیبت** کولو او په **غصّه** کښې د چا په رټلو کله هم نه وو لیدلي ☼ چه په خپل مینځ کښې به د غټي نه غټه څه جګړه یا تنظیمي مسئله پیښه شوه نو په **حکمتِ عملۍ** سره به ئي په خندا خندا خبرو خبرو کښې حل کړه ☼ چا به چه هر څومره زړه ازاروونکي خبره اوکړه نو په هغي باندي غصّه کیدل خو پریږده کله مو د هغوئي په تندي څه ګونجه هم نه وه لیدلي ☼ چه کله به ئي چا له څه وخت ورکړو نو حتَّی الامکان به ئي د هغي پابندي کوله ☼ ډیر ځله لیدلي شوي دي چه کله به ورته چا په **اِجتماعِ ذِکر و نعت** کښې د نعت شریف وئیلو د شرکت د پاره یا د نکاح لوستلو د پاره د سورلۍ پیشکش کولو نو انکار به ئي اوکړو او دا به ئي اووئیل چه زما سره اسکوټر شته دي اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښ چه زما ذِکر اوشو او هغه په ما دُرودِ پاک او نه لوستو هغه په خلقو کښ ډير زيات شُوم دې. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب)

هغې به حاضر شم بس ما ته پته اوښائې ☼ د **تلو راتلو كرايه** غوښتل خو پريږده كه چا به ورته ځپله وړاندې كړه نو بيا به ئې هم اكثر په مُسكا بيرته وركړه ☼ **19.12.1996**ء كښ زما **نكاح** وه زما په درخواست ئې د **جنج** سره لانډې قائد آباد ته تشريف راوړو، **نكاح** ئې هم اولوستله او **سهرا** ئې هم اووئيله. چه بيرته تللو نو زمونږ د كور كسانو ورته ډيره زارې اوكړه چه تاسو به د **واده په ګاډې** كښ كور ته اورسوو يا به درله ټيكسې اوكړو خو اوئې نه منله او په ډيره عاجزئ ئې د لانډې قائد آباد نه د اورنګي ټاؤن پورې اوږد سفر د عامې لارې په بس كښ اوكړو.

حضرتِ مشتاق عطّاری سے ہم کو پیار ہے
اِنْ شَآءَ اللّٰہ دو جہاں میں اپنا بیڑا پار ہے

**د شعر ترجمه:** د حضرت مشتاق عطاري سره زمونږ مينه ده اِنْ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ په دواړه جهانه كښ به مو بيړئ پوريوځي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مشتاق په دربار كښ مراد پوره شو

اَلْحَمْدُلِلّٰہ عَزَّوَجَلَّ په **صحرائے مدينه** بابُ المَدينه كراچۍ كښ **دربارِ مشتاق** [يعني د هغوئې مزار شريف] ته ډير خلق حاضريږي، اسلامي وروڼړه د لرې لرې نه راځي او بركتونه حاصلوي. چنانچه يو اسلامي

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما د **جُمُعې** په ورځ درود شريف لولي زه به د قِيامت په ورځ د هغه شفاعت كووم. (كنزُ العُمّال)

ورور څه داسې لِيك راكړو، زما د كور والا اُمِّيد ووو. د ليبارټرئ د رپورټ مطابق جينئ پيدا كيدو والا وه خو ما د "ځوئ" ارمان لرلو ځكه چه يوه لور مي د مخكښ نه په كور كښ موجوده وه. زه صحرائے مدينه ته لاړم او د حاجي مشتاق رَحمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ مزار ته حاضر شوم او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ په بارګاه كښ مي دُعا اوكړه. د ډاكټر رپورټ غلط ثابت شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه زمونړه په كور كښ د سپوږمئ په شان **مدَنى ماشوم** پيدا شو.

مصطفیٰ کا ہے جو بھی دیوانہ
اُس پہ رحمت مُدام ہوتی ہے

چه څوك عاشق د مُصطفٰى وي رحمت وريږي په هغه مُدام

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ګنده اثرات لري شو

د يو اسلامي ورور بيان دې، په ما ګنده [يعني د خبيثو پيريانو] اثرات وو. د خپلي حلقې د اسلامي ورونړو سره په صحرائے مدينه كښ دربارِ مشتاق ته حاضر شوم او دُعا مي اوغوښتله، داسې محسوسه شوه چه زه چا اونيولم لږ ساعت پس هغه حالت لري شو او اَلْحَمْدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ زما طبيعت ښه شو.

سُن لو ہر ایک نیک شخصیّت قابلِ اِحترام ہوتی ہے

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : چا چه په کتاب کښ په ما باندې درود پاك اوليكلو ترخو پورې چه زما نوم په هغې کښ وي فرښتې به د هغه دپاره بخښنه غواړي. (طَبَرَاني)

د شعر ترجمه: واورئ هر يو نيك كس د اِحتِرام قابِلِ وي يارَبِّ مصطفٰی عَزَّوَجَلَّ!

زما او د حاجي مشتاق عطاري رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ او د دعوتِ اسلامي والا اسلامي ورونړو او خويندو او د ټول اُمَّتِ مسلمه بخښنه اوكړې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِين صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

تُوۡبُوۡا اِلَى الله اَسۡتَغۡفِرُ الله

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د خوراك په ذريعه د عِلاج منظوم مَدَني ګلونه

جہاں تک کام چلتا ہو غذا سے　　وہاں تک چاہئے بچنا دوا سے
اگر تجھ کو لگے جاڑوں میں سردی　　تو اِستِعمال کر انڈے کی زردی
جو ہو محسوس مِعدے میں گِرانی　　تو چکھ لے سَونف یا اَدرک کا پانی
اگر خوں کم بنے بلغم زیادہ　　تو کھا گاجر، چنے، شلغم زیادہ
جو بد ہضمی میں تو چاہے افاقہ　　تو کر لے ایک یا دو وقت فاقہ
جو پیچش ہے تو پیچ اِس طرح کس لے　　ملا کر دودھ میں لیموں کا رس لے
جگر کے بل پہ ہے انسان جیتا　　اگر ضُعفِ جگر ہے، کھا پپیتا
جگر میں ہو اگر گرمی، دَہی کھا　　اگر آنتوں میں خشکی ہے، تو گھی کھا
تھکن سے ہوں اگر عَضَلات ڈھیلے　　تو فوراً دودھ گرما گرم پی لے
جو طاقت میں کمی ہوتی ہے محسوس　　تو پھر ملتانی مِصری کی ڈلی چوس
زیادہ گر دماغی ہے ترا کام　　تو کھایا کر ملا کر شہد بادام
اگر ہو دل کی کمزوری کا اِحساس　　مُرَبّہ آملہ کھا، اور اَنَنّاس
جو دُکھتا ہے گلا، نزلے کے مارے　　تو کر نمکین پانی سے غَرارے
اگر ہے درد سے دانتوں کے بے کل　　تو انگلی سے مَسُوڑوں پر نمک مل
شفا چاہے اگر کھانسی سے جلدی　　تو پی لے دودھ میں تھوڑی سی ہلدی
جو کانوں میں اگر تکلیف ہووے　　تو سرسوں تیل پھاہے سے نچوڑے
جو ٹائی فائڈ سے چاہے رِہائی　　بدل پانی کے گنّا چوس بھائی
ذِیابَیطس اگر تجھ کو جو مارے　　تو جامن تازہ کھا، اور لے نظارے
تُو چشتی، نقشبندی، قادری ہے　　تُو حنفی، شافعی یا مالکی ہے
تو آ جا سنتوں کے اجتماع میں　　ہو نفعِ دین و دنیا کی متاع میں

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰیﷺ: چاچه په ما باندې لس ځله دُرودِ پاك اولوستل الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه سل رحمتونه نازل كړي. (طَبَراني)

اگر ہو تیرے دل پہ غم کی یلغار
تو مَدَنی قافلوں میں کر سفر یار
جو ہے دل فکرِ دنیا سے پریشاں
تو کر یادِ خدا سے دل کو شاداں
اگر آفت کوئی آجائے تجھ پر
تو دل سے یارسولَ اللہ کہا کر
دُرودِ پاک تُو ہر دم پڑھا کر
سبھی امراض کی اِس سے دوا کر
تُو حُبِّ اٰل واصحابِ نبی سے
دل آباد کر مت ڈر کسی سے

(دا كلام د سګِ مدينه نه دې البتّه په آخري ووه شعرونو كښ مې تصرُّف او اِضافه كړې ده)

چه تر شو مو كار چليرې په غِذا
وروره بچ اوسئ تر هغې له دوا
كه په جمې كښ ته اووهلې يخنئ
زما وروره زير استعمال كړه د اګئ
اَو كه چرې شي خرابه ستا معده
د كارِو او يا د سُونړ اوبه اوڅښه
كه بلغم وي زيات او جوړيږي كمه وِينه
نو خوره زيات تيپر، ګاځره او چنړه په مِينه
كه غواړې چه بد هضمي دِ شي جوړه
نو مه خوره يو دوه وخته طعام اے وروره
كه پيچش دِ طبيعت كړې ډير كړه وړ
نو اوڅښه شوده او نيمبو دواړه ګډه وړ
د ځيګر په طاقت ژوندي وي اِنسان
دې لپاره اوخوره پاپيته عِلاج دې ډير آسان
اوخوره ماسته كه لرې د ځيګر كرمې

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د جُمعې په شپه او د جُمعې په ورځ په ما باندې د دُرُود کثرت کوئ، خوك چه داسې کوي د قيامت په ورځ به زه د هغه شفاعت کوونکې او ګواه جوړېږم. (شُعَبُ الاِيمان)

د کولـمو خُشکۍ له اوخوره ته غوړې
که له سترې دِ وي سست تول اندامونه
فوراً اوکړه له تَودو شودو ګوټونه
که طاقت کښې ته محسوس کړې ډير کمې
ورورہ اوچوپه په مزه مزه ته قندِ مُلتاني
د دِماغو کار که کړې سحر ، ماښام
نو خوره شهدو سره ګډ وَړِ ته بادام
که د زړه د کمزورۍ لرې اِحساس ته
مربّه د آملې خوره او انَنَاس ته
که خُوګيرې دِ مرئ او تنګ کړې ئې نزلې
د مالګينو اوبو اوکړه غړ غړې
که تنګ کړې ئې ته درد د غاښو
نو په ګوټه مالګه اومږه په ورو
زر به شي ته د ټوخي نه صِحت مند
اوخښه شودو کښې لږ شان ګُورګَمن
که په غوږ باندې دِ درد وي زما وررہ
پکښې واچو د شړشمو تيل بيا ګوره
که ميعادې تبې نه غواړې ته شِفا
ته بدلې کړه اوبه، او ګنې هُم ډير جُووا
که شُوګر دِ وي زيات شوې زما وروره
اوخوره تازه جامن او بيا ئې اثر ګوره
که ته ئې چشتي، نقشبندي يا قادِري

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما باندې يو ځل دُرُود اولولي اللہ عَزَّوَجَلَّ د هغه د پاره يو قِيراط اجر ليکي او قِيراط د اُحُد د غر هُمره دې. (عَبدُالرَّزّاق)

او که ئې ته حَنَفي، شافِعي، يا مالِکي
ته شريك شه د سُنّتو نه په ډکه اجتماع کښ
اُو به ګټې فائدې ته په دِين او په دُنيا کښ
که ګير شوې ئې ته په غَم، پريشانو کښ
کوه ته ډير ډير سفر په مَدَني قافلو کښ
که دِ زړه وي پريشانه د دُنيا په غم او فِکر
ورورہ ته کوه ډير زيات د اللہ ذِکر
که آفت راشي چرې ناڅاپه په تا
لګوه ته د زړه نه نعره د يا رسُولَ اللہ
ته هر وخت دُرود کړه خپله وظيفه
دي کښ ده د هر مَرَضه نه شِفا
په محبَّت د اهلِبيت او د نبي د صحابه
کړه آباد زړه مه يَريږه د هيڅ چا

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : کله چه تاسو په رسولانو دُرُود لولئ نو په ما باندې ئې هم لولئ، بيشکه زه د ټولو جهانونو د رب رسول يم. (جَمعُ الجَوامِع)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

از شيخِ طريقت اَميرِ اَهلِسُنّت، بانئ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلياس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه

# بيتُ الخَلاء ته د تللو ٤١ نِيَّتونه

فرمانِ مصطفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم : ”د مسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دي“ (طَبرانی مُعجم کَبِیر حديث ٥٩٤٢ ج٦ ص١٨٥ دار احياء التراث العربي بيروت)

(١) په ننوتلو کښ به د ګڅي ښپې مخکښ کولو او (٢) په راوتلو کښ به د ښئ ښپې را مخکښ کولو په سُنّتو باندې عمل کووم (٣،٤) دواړه ځل به يعني د ننوتلو نه مخکښ او د راوتلو نه پس به سُنَّت دُعاګاني لوَلم (٥) صرف د تيَري په حالت کښ ادا نِيَّت کوئ چه د پاکئ د پاره د مدد حاصلولو په نِيَّت به رنړا بلووم (٦) د فارِغ کيدو نه فوراً پس به د اِصراف نه د بچ کيدو په نِيَّت رنړا مړه کووم (٧) په دې حديثِ پاك ” اَلطَّهُوْرُ شَطْرُ الْاِیْمَان (مُسلِم ج١ ص١١٨) ترجَمه: پاکي د اِيمان نه ده“ باندې به عمل کووم او ښپې به د ګندګئ نه د ساتلو د پاره چپلې په ښپو کووم (٨) د په ښپو کولو وخت کښ به د ښئ ښپې نه او (٩) د وِيستلو په وخت کښ به د ګڅي ښپې نه د شروع کولو په سُنَّت عمل کووم (١٠) اِستِقبالِ قِبله (يعني د قبلې طرف ته مخ کولو) او (١١) اِستِبدارِ قِبله (يعني قبلې ته شا کولو) نه به ځان ساتم (١٢) چه زمکې ته نِزدې شم نو (١٣) فقط د ضروت مطابق ستر به ښکاره کووم. هم دغسې (١٤) د فارِغ کيدو نه پس به د پاځيدو نه مخکښ ستر پټووم (١٥) څه چه خارجيږي هغې ته به نه ګورم (١٦) د مِتيازو د څاڅکو نه به ځان ساتم (١٧) د حياء په وجه به سر ښکته ساتم (١٨) ضرورتاً به سترګې پټووم (١٩) بې ضرورته به شرم ګاه ته د کتلو او (٢٠) د لاس

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم : د هغه كس پوزه دِ په خاورو خړه شي چه د چا په مخكښ زما ذِكر اوشي او هغه په ما درودِ پاك او نه لولي. (تِرمِذی)

لګولو نه ځان ساتم (۲۱) په ګڅ لاس كښې به لُوټه نِيسم او په ګڅ لاس به ئې پاكووم او (۲۲) په اوبو باندې د استنجا كولو وخت كښې به هُم صرف ګڅ لاس شرم ګاه ته لګووم (۲۳) په شرعي مسائِلو به غور نه كووم (ځكه چه محرومي ده) (۲٤) چه ستر مې ښكاره وي نو خبرې اترې به نه كووم (۲٥) په مِتيازو وغيره كښې به لا ړې نه توكم (۲٦) اَو نه به پـكښې پوزه سونړِ كووم (۲۷) كه فوراً مې په هُم هغه حمام كښې اودس نه كولو نو د طهارت [يعني پاكئ حاصلولو] والا حديث باندې به عمل كووم او دواړه لاسونه به وِينځم (۲۸) او چه څه اووتل په هغې به اوبه اړووم (د مِتيازو كولو نه پس كه هر يو كس يوه لوټه اوبه اړوي نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ په بد بوئي او د جراثِيمو په پيدا كيدو كښې به كمې راځي، د غټو بولو كولو نه پس هم چه كله يوه يا نيمه لوټه اوبه كافي وي نو د فلش ټينك نه اوبه نه دي بهيول پـكار ځكه چه هغه ډيرې لوټې اوبه وي) (۲۹) په اوبو باندې د اِستِنجا كولو نه پس به د ښپو د ګِيټو [يعني پړكو] والا حصّې په احتياط سره وِينځم (ځكه چه په داسې موقع باندې عام طور ګِيټو [يعني پړكو] ته د ګنده اوبو څاڅكي كيږي) (۳۰) چه فارغ شم نو زر به اوځم. (۳۱) د اذان په دوران كښې به اِستِنجاخانې ته نه ځم.

## عوامي استنجاءخانې ته چه ځئ نو دا نِيَّتونه هم اوكړئ

(۳۲) كه قطار اوګډ وو نو صبر به كووم (۳۳) د خپل وار اِنتِظار به كووم (۳٤) د چا حق به نه وهم (۳٥) كه چا ته زما نه زيات حاجت وو او د جَمعې د تللو يا د نمانځه د قضا كيدو انديښنه نه وي نو اِيثار [يعني قُرباني] به وركووم (۳٦) چه څومره كيدې شوه نو د رش په وخت كښې به په رش كښې د اضافې كولو نه د ځان ساتلو او په مسلمانانو باندې د بوج نه جوړيدو په نِيَّت به استنجاء خانې ته نه ورځم (۳۷) په ديوالونو وغيره به هيڅ هم نه ليـكم (۳۸) هلته جوړ شوو د ګنده تصويرونو په كتلو او (۳۹) د بې حياء ليكونو په لوستلو به خپلې سترګې په ورځ د قيامت د ځان

www.dawateislami.net

فرمَانِ مُصطَفٰی صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په دُرود لوستو خپل مجلِسونه ښکُلي کړئ ځکه چه ستاسو دُرُود لوستل به د قيامت په ورځ ستاسو د پاره نُور وي. (فِردَوسُ الاَخبَار)

خِلاف ګواه نه جوړووم (٤٠) كه څوك پكښې د مخكښې نه موجود وو نو ساعت په ساعت دروازه ډبولو باندې به هغه ته تكليف نه وركووم (٤١) كه زه دننه ووم او چا راپسې ساعت په ساعت دروازه ډبوله نو صبر به كووم.

## د اوداسه ۱۷ نيَّتونه

(١) بې اودسې به لرې كووم (د اَحنافو په نِزد به د نِيَّت نه بغير هم اودس اوشي خو ثواب به نه كيږي) (٢) د چا چه اودس وي او دوباره اودس كوي نو دا نِيَّت دِ اوكړي چه د ثواب د پاره به اودس د پاسه اودس كووم (٣) بِسْمِ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰه به وايم (٤) مِسواك به كووم (٥) د اوبو اِسراف به نه كووم (٦) د فرائِضو (٧) سُنَّتو او (٨) مُستحباتو خيال به ساتم (٩) د مكروهاتو نه به ځان ساتم (١٠) د اوداسه په اندامونو به لــمدوالې باقې پرېږدم (١١) د اوداسه د اوبو د څاڅكو نه به د جُمات فرش بچ ساتم (١٢) د اودس نه پس به دُعا لوَلم (دُعا دا ده: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِيْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ. ترجمه: يا الله عَزَّوَجَلَّ ما په كثرت سره توبه كوونكو كښې شامِل كړې او ما په پاكِيزه خلقو كښې شامِل كړې.) (١٣) د آسمان طرف ته به ګورم او كَلِمه شهادت او (١٤) سُورَةُ الْقَدْر به لوَلم (١٥) (كه مكروه وخت نه وو نو) تَحِيَّةُ الْوضُو به ادا كووم (١٦) باطِنې اودس به هم كووم (يعني چه څنګه مې د اوبو په ذريعه د ښكاره اندامونو خيرې لرې كړې دي، هم دغسې به د توبه په ذريعه د ګناهونو ګندګې وِينځم او آئِنده به د ګناهونو نه دبچ كيدو پخه وعده كووم)

مَدَني مشور: دا پرچې په خپله دائِرې كښې اونښلوئ

www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نيك او مونځ ګزاره جوړيدو دَ پاره

هر زيارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تيروئ ❁ د سُنَّتو د تربِيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښې د عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د دري ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِينه**" په ذرِيعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په وړومبي تاريخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنيا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښې سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ

www.dawateislami.net

MC 1286


فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net